**جواب**: دَمحلې په جومات کی دوهمه جمعه مکروه ده. قال المحقق الشامی: ولنا انه عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ کان خرج لیصل بین قوم فعاد الی المسجد وقد صلی اهل المسجد فرجع الی منزله فجمع اهله وصلی بهم ولو جاز ذلك لما اختاروا الصلوة فی بیته علی الجماعة

---

([1]). فلاتجب (الجماعة) علی مریض الخ ولاعلی من حال بینه وبینها مطر الخ وخوف علی ماله اومن عزیم اوظالم (درمختار) یخافه علی نفسه اوماله (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الامام ج ۱ ص **۵۱۹**، ط.س. ج۱ ص**۵۵۵**). ظفیر

([2]). وقال المرأة اذا صلت مع زوجها فی البیت ان کان قدمها بحذاء قدم الزوج لا تجوز صلاتهما بالجماعة وان کان قدماها خلف قدم الزوج جازت صلاتهما الخ. لو اقتدت به متاخرة عنه بقدمها صحت صلاتهما (رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص **۵۳۵**، ط.س. ج۱ ص **۵۷۲**). ظفیر

([3]). ردالمحتار باب مایفسد الصلوة الخ مطلب فی احکام المسجد ج ۱ ص **۶۱۹**، ط.س. ج۱ ص۶۶۱. ظفیر

([4]). البحرالرائق. باب الامامة ج ۱ ص **۳۶۵**، ط.س. ج۱ ص **۳۴۵** . ظفیر

في المسجد ولان فی الاطلاق هکذا تقلیل الجماعة معنًی فانهم لا یجتمعون اذا علموا انها لاتفوتهم ؒ ومثله فی البدائع وغیره. ومقتضی هذا الاستدلال کراهة التکرار فی مسجد المحلة ولو بدون اذان یؤیده مافی الظهیریة لودخل جماعة المسجد بعد ما صلی فیه اهله یصلون وحدانا وهوظاهر الروایة. ([1])

ددی روایت څخه دکراهت صحیح اوراجح کیدل معلومه سوه. ولی چی داظاهر الروایة دی. نودامام ابویوسفؒ روایت به دظاهر الروایة په مقابله کی معمول بها نه وی، اوبله دا چی کله په کراهت اوعدم کراهت کی تعارض راسی نوترجیح کراهت ته وی. کما بین فی موضعه. اوددی مسئلی زیات تحقیق دی دحضرت مولانا رشید احمد گنگوهی قدس سرہ رساله (القطوف الدانیه فی کراهیة الجماعة الثانیة) کی وکتل سی.

**سوال**: <u>**دځای دتنګوالی په وجه چی دریم سړی ځان ته لمونځ ادا کړی. نوځه حکم دی؟**</u>

(**۵۲۰**) یوسړی ځان ته په جومات کی یامیدان کی فرض لمونځ ادا کوی اودهغه سره یو مقتدی هم دی. دادواړه په داسی لوړ ځای کی دی. چی که چیری ددوی سره دریم سړی اقتداء وکړی اوورسره ودریږی. نودپریوتلو بیره ده، په داسی حالت کی دغه دریم سړی لړ اخوا ته سو اوجلا یی لمونځ کول شروع کړه. دده لمونځ به صحیح سی اوکه نه؟

**جواب**: دغه دریم سړی پکاردی چی هغه دی هم ددغه امام اقتداء وکړی که څه هم دمذکوره ضرورت په وجه وروسته جلا ودریږی. اوکه وی نه کړه ځان ته یی لمونځ وکی نوبیا هم صحیح سو. ([2])

**سوال**: <u>**په ډیر لوی بازار کی چی جومات یووی نوهغه وخت دی څه وکړی؟**</u> (**۵۲۱**) که چیری بازار دیو میل په مقدار کی لوی وی اوپه هغه کی جومات صرف یووی نوآیا دبازار پر ټولو خلګو باندی په جمعی سره لمونځ کول ضروری دی اوکه صرف دجومات پر چار چاپیره خلګو باندی.

**جواب**: پرټولو باندی په جمعی سره لمونځ کول سنت مؤکد دی خوچاته چی څه عذر داسی وی لکه ناجوړی یاباران یاسخته یخنی وغیره نوهغوی ته جمعه پریښوول درست دی. ([3]) درمختار، فقط

**سوال**: <u>**چی جومات پریږدی اومتصل جمعه وکړی نوڅنګه ده؟**</u> (**۵۲۲**) آیاپه دائمی طور سره

---

([1]). رد المحتار باب الامامة مطلب تکرار الجماعة ج۱ ص **۵۱۲** ، ط.س. ج۱ ص**۵۵۳**. ظفیر

([2]). وفی الفتح لو اقتدٰی واحد باٰخر فجاء ثالث. یجذب المقتدی الخ مقتضاه ان الثالث یقتدی متاخرا ومقتضی القول بتقدم الامام انه یقوم بجنب المقتدی الاول والذی یظهر انه ینبغی للمقتدی التاخر اذا جاء ثالث الخ وهذا کله عند الامکان والا تعین الممکن. (رد المحتار باب الامامه ج ۱ ص **۵۳۱**، ط.س. ج۱ ص **۵۶۸**). ظفیر (باقی)

جومات پریښوول اودهغه څخه پرځو لاسه فاصله باندی په خپل کورکی باقاعده دجمعی انتظام کول جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: داجائزنه دی اودجومات جمعه پریښوول په دائمی طور سره معصیت دی. او اصرار پردی باندی فسق دی. قال فی الاجناس لا تقبل شهادته ([1]). شامی. فقط

**په څومره مقتدیانو دَجمعی ثواب ورکول کیږی؟** **سوال**: (۵۲۳) دجمعی ثواب په څومره کسانو سره حاصلیږی. که صرف یوسړی دامام سره وی، نوبیابه هم ثواب وی اوکه نه؟

(۵۲۴) مقتدیان به دامام څخه په څومره فاصله باندی دریږی؟

**جواب**: (۱) که یومقتدی دامام سره وی نوجمعه به وسی اودجمعی ثواب به ورکول سی.

(۲) مقتدیان دی امام څخه په دومره فاصله باندی ودریږی چی بی تکلفه دهغوی سجده وسی. فقط

**دوارداتو په وجه چی څوک پرقرآئت اوتشهد باندی قادرنه وی هغه څه وکړی؟** **سوال**:

(۵۲۵) ما قولکم رحمکم الله فی رجل استولی علیه الواردات حتی لَم یقدر علی القرآءة والتشهد وخرج کلمة هل من مزید، یا الله اکبر، یا لا اله الا الله، من فمه بلا اختیار منه وامام الناس یصلی بالجماعة یَجب علیه الدخول فی صلوتهم بالجماعة او یَجب علیه الانحراف عن الجماعة عسی ان یجد وقتا یؤدی الصلوة بقرآئة تشهد ؟

**جواب**: یجب علیه الدخول فی الجماعة قال علیه الصلاة والسلام اذا اقیمت الصلاة فلا صلاة الا المکتوبة، وقال علیه الصلاة والسلام فعلیك بالجماعة فانما یاکل الذئب القاصیة، الحدیث، فالشیطان ذئب الانسان یسوّل له ویصدّه عن ذکر الله والمسابقة الی الخیرات، فالواردات المقبولة ما تدعوه الی اتباع السنة السنیة لا ما تمنعه عن القربات فلا ینحرف عن الجماعة ویجتهد بقدر الوسع ان یزیل تلك الواردات یاتی باوراد الصلوة فما فوت بالاختیار لا یؤاخذ به. فقط والله تعالی اعلم

**مسلمان ښځی په جمعه کی شریکیدی سی اوکه نه؟** **سوال**: (۵۲۶) مسلمان ښځیان په جومات کی په جمع سره لمونځ اداکولی سی اوکه نه ؟ اودجومات په تالابو باندی اودس اودس کولی سی اوکه نه؟

---

([3]). وفی البدائع تعجب الجماعة عن الرجال العقلاء البالغین الاحرارالقادرین علی الصلوة بالجماعة من غیرحرج الخ وتسقط الجماعة بلا عذر حتی لاتجب علی المریض الخ والصحیح انها تسقط بالمطر والطین والبرد الشدید والظلمة الشدیدة کذا فی التبیین. (عالمگیری مصری الباب الخامس فی الامامة ج ۱ ص ۷۷، ط. ماجدیه ج ۱ ص ۸۲....۸۳). ظفیر

([1]). رد المحتار. باب الامامة ج ۱ ص ۵۱۸. ط.س. ج ۱ ص ۵۵۴. ظفیر

**جواب**: مسلمان بنگیان په جومات کی په جمعی سره لمونځ ادا کولی سی، او دجومات په تالابو باندی اودس کولی سی (۱) فقط، (جومات ته دراتللو په وخت کی دومره خیال دی کوی چی صفا سُتره اوپاکه جامه یی پربدن باندی وی. چی په هغه کی نه پلیتی وی اونه بدبویی. اودا دهرچا دپاره ضروری ده. والله اعلم. ظفیر)

**ددوهمی جمعی دکراهت دلائل**: **سوال**: (۵۲۷) ددوهمی جمعی دکراهت څه دلیل دی؟

**جواب**: دمقلدینو دپاره اقوال دفقهاوو اوائمه وو په طور ددلیل کافی دی. نوکله چی ظاهر الروایة عند الحنفیة کراهت ددوهمی جمعی دمحلی په جومات کی دی څنگه چی په شامی کی منقول دی نوددی څخه زیات دمقلدینودپاره هیڅ حجت نسته. په شامی کی منقول دی: ومقتضی هذا الاستدلال کراهة التکرار فی مسجد المحلة ولو بدون الاذان ویؤیده ما فی الظهیریة لودخل جماعة المسجد بعد ما صلی فیه اهله ویصلون وحدانًا وهو ظاهرالروایة (۲). الخ اوددی څخه څه مخکی مذکوردی چی:

ثم قال فی الاستدلال علی الامام الشافعی النافی الکراهة ما نصه ولنا انه علیه الصلاة والسلام کان خرج لیصلح بین قوم فعاد الی المسجد وقد صلی فیه اهل المسجد فرجع الی منزله فجمع اهله وصلی بهم ولو جاز ذلك لما اختار الصلاة فی بیته عن الجماعة فی المسجد ولان فی الاطلاق (ای فی تجویز الجماعة الثانیة) هکذا تقلیل الجماعة معنًی فانهم لا تفوتهم (۳).

نودحضور ﷺ دفعل څخه او دفقهاوو دتصریح څخه دمحلې په جومات کی ددوهمی جمعی کراهت ثابت سو. په دی صورة کی که چیری بعضی روایات دجوازهم وی نواول خو جواز دکراهت سره هم جمع کیږی نوهلته به جواز مع الکراهة مراد وی، غایت داچی کراهت تنزیهی به وی. بهر حال دوهمه جمعه دکراهتِ تحریمی یاتنزیهی څخه خالی نه ده. اوبله داچی کم ځای په کراهت اوعدمی کراهت کی تعارض راسی نو کراهت ته ترجیح ورکول کیږی. لان دفع المضار اولی من جلب المنافع. همدامضامین دی، کم چی حضرت مولانا گنگوهی قدس سرہٗ په خپله رساله (کراهت جماعت ثانیه) کی بیان فرمایلی دی اوپه هغه کی یی دحدیث اوفقهی دهغه روایت جواب ورکړی دی، دکم څخه چی جواز

---

(۱). دنورومسلمانانو لمونځ گذاروپه شان دوی هم دی اوڅنگه چی پرنورو عاقلو بالغو مسلمانانو باندی دجمعی شرکت واجب دی، پردوی باندی هم واجب دی. تجب الجماعة علی الرجال العقلاء البالغین الاحرار القادرین علی الصلوة بالجماعة من غیر حرج. (عالمگیری مصری باب خامس ج ۱ ص ۷۷، ط. ماجدیه ج۱ ص ۸۲).

(۲). رد المحتار، للعلامة الشامی، باب الامامة ج ۱ ص ۵۱۲، ط.س. ج ۱ ص ۵۵۳. ظفیر (۳). ایضًا. ظفیر

مفهومیږي. حضرت مولانا محمد قاسم صاحب نانوتوی قدس سرہ په دی باره کی یوه فیصله کوونکی خبره ارشاد فرمایلی ده. هغوی فرمایلی دی، چی ددوهمی جمعی په عدم جواز کی یودلیل ماته ظاهرسو. اویوحضرت مولانا احمد علی محدث سهارنپوری قدس سرہ ته، ځوك چی دحضرت مولانا نانوتوی" استاذ دی. کم دلیل چی حضرت مولانا نانوتوی" ته معلوم سو. هغه دَصلوة خوف قصه ده چی باوجود دداسی اړدوړ چی دجنگ موقعه ده بیا هم یوه جمعه وسوه. اودلمانځه ګذارو دوی ډلی کړل سوې، او دومره حرکات اوتګ راتګ په لمانځه کی دننه جآئز کړل سو خو ددوهمی جمعی اجازت ونه سو حالانکه دا آسانه وه چی یوه امام یوې ډلی ته پوره لمونځ ورکړی وای اوبل امام دَهغه څخه وروسته دوهمی ډلی ته پوره لمونځ په جمعی سره ورکړی وای. اووی فرمایل چی دا دلیل ظاهِرتَرْ دی، اوچونکی دالمونځ دَحضور ﷺ دزمانی سره خاص نه وو بلکی اوس هم ددغه ډول کولو حکم دی نونه سی ویل کیدی چی دا ددی دپاره وه چی ټولوته دهغه ﷺ داقتداء فضیلت حاصل سی. اوکم دلیل چی حضرت مولانا احمد علی قدس سرہ فرمایلی دی هغه دقیق دی. مولانا احمد علی صاحب" فرمایلی دی چی دامسئله ده چی په کم جومات کی یووار دجمعی لمونځ سوی وی نوپه هغه جومات کی بیا دجمعی جماعت درست نه دی. همدارنګه په شامی (۱) وغیره کی تصریح ده چی دجمع څخه وروسته دی دَجامع مسجد دروازې بندی سی هسی نه چی بیا یوڅو سړی راسی اودوهمه جمعه وکړی. نوددی په وجهه کی مو چی غوروکی چی ددی عدم جواز څه وجه ده. حالانکی شرائط دجمع ټول علی حالها موجود دی. مصرهم دی، اذن عام هم سته، لمونځ ګذار هم موجود دی په یو ښارکی تعدد دجمعی هم برابر دی. بیاڅه وجه ده چی دوباره دجمع جماعت په یوجومات کی صحیح نه وی نوددی څخه ماسوا هیڅ وجه نسته چی دجمع دپاره جماعت هم شرط دی. نومعلومه سوه چی جماعت ثانیه جماعتِ مشروعه نه دی اوکله چی هغه جماعت معتبر نه سو نویو شرط دجمعی فوت سو. نومعلومه سوه چی جماعت ثانیه په یوجومات کی صحیح نه دی. وهو کما قال رحمه الله. فقط

**جمعه پرېښوول: سوال**: (۵۲۸) که چیری یو سړی ددوو کالو څخه په جومات کی متواتر اذان کوی داذان څخه یوه ګنټه مخکی جومات ته راتلل، داذان په شوق سره یې دجومات مسافرو ته ډوډی ورکول، دَجومات دَتیلو اوبتیۍ، لوټې، ځینې وغیره اهتمام کول، دَجومات دامام سره هرقسمه امداد کول وغیره، دادَخیر کارونه یی داذان دَشوق په وجه

(۱). والظاهر انه یغلق ایضًا بعداقامة الجمعة لئلایجتمع فیه احدبعدها. (ردالمحتار باب الجمعة ج ۱ ص ۷۷۲، ط. س. ج ۲ ص ۱۵۷). ظفیر

کول. که چیری یو سړی دی دآذان کولو څخه بندکړی اوپه دغه وجه سره هغه مذکوره بالا کارونه پریږدی نو شرعًا څه حکم دی؟ مؤذن جومات ته راتلل هم پریښی دی په خپل کور کی لمونځ کوی.

**جواب**: داذان کولو ثواب په حدیثونوکی ډیر زیات وارد سوی دی په دی شرط چی اذان پروخت باندی اوپه صحیح طریقی سره کوی. لیکن داذان څخه زیات ثواب په جمعی سره دلمانځه کولو دی. اوددی تاکید ډیر زیات دی. نوکه چیری مؤذن مذکور په څه وجهی سره خلګو داذان کولو څخه بندکړی وی نوهغه ته جائزنه دی چی په جومات کی په جمع سره لمونځ کول هم پریږدی، داډیر بددی. (١) البته که چیری هغه مؤذن اذان صحیح کوی اوپه وخت باندی یی کوی اولوجه الله یی کوی اوپه دی شوق کی یی نور دخیر کارونه هم کول اودَجومات هرقسم خبرګیری یی کوله نوبی وجهی هغه دَاذان څخه بندول بددی. دمحلی اودَجومات خلګو ته پکاردی چی هغه دی دَاذان کولو څخه نه بندوی. لیکن که چیری په څه وجهی سره هغوی بندکړی وی نودغه مؤذن ته داګنل پکاردی چی په موجب دَحدیث شریف: انما الاعمال بالنیات، هغه ته به دَنیك نیت ثواب ورکول کیږی اوجمعه اونور دخیر کارونه پریښوول نه دی پکار. ولی چی دادکم فهمی خبره ده چی که چیری دثواب یوکار په هغه بندسو نونور کارونه دَثواب اوضروری امور شرعیه یعنی جماعت وغیره هم پریږدی. فقط

**جذامی دی دجمع دشرکت دپاره جومات ته نه راځی**: **سوال**: (۵۲۹) دَجذام مرض متعدی ناجوړی ده اوکه نه؟ که چیری جذامی سړی دجمعی سره لمونځ اداکول غواړی اوخلګ دَهغه څخه نفرت کوی، ددی مجبوری په حالت کی هغه ته په خپل کورکی لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟ اودجمعی پریښوولو ګناه به دَچا پرذمه وی. اوداچی مشهوره ده چی جذامی ته ډوډی په نیزې باندی دورکولو حکم دی. ددی څه اصل دی؟

**جواب**: دجذامی دپاره حکم هم دغه دی چی هغه دی جومات ته نه راځی. اوپه جمعه کی دی نه شریکیږی اوپه کور کی دی لمونځ کوی. نودَجمعی په ترك کولوکی پرهغه باندی هیڅ ګناه نسته بلکه هغه ته حکم هم دغه دی اوپه جمعه کی شریکیدل دهغه دپاره مکروه دی اوګناه ده. درمختار (٢) . فقط

---

(١). وَالْجَمَاعَةُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ لِلرِّجَالِ وَقِيلَ وَاجِبَةٌ وَعَلَيْهِ الْعَامَّةُ (در مختار) قال فی شرح المنیة والاحکام تدل علی الوجوب من ان تارکها بلا عذر یعذر وترد شهادته ویاثم الجیران بالسکوت عنه ﷺ (ردالمحتار. باب الامامة ج ١ ص ٥٢٠ ، ط.س. ج ١ ص **٥٥٧**). ظفیر غفرله.

(٢). ویمنع منه ای المسجد وکذا کل مؤذن (در مختار) وکذالك القصاب والسمك والمجذوم والابرص اولی =

**پہ یوجومات کی دوہ اذانہ اودوی جمعی جائز دی اوکہ نہ؟ سوال**: (۵۳۰) کہ چیری پہ یو جومات کی امام حنفی وی اودخہ زمانی څخہ دغیر مقلدینو دډلی یو سړی ھلتہ لمونځ کول شروع کړی. اوآمین بالجهر وغیرہ کوی اوموجودہ امام کلہ کلہ دصحیح معنٰی پہ خیال وظیفہ (شیئًا للہ) وایی. ددی دپارہ غیر مقلدینو ھغہ مشرک وګرزوی اوپہ ھغہ پسی لمونځ کول یی پریښوول. خبرہ تردی ورسیدہ چی پہ دغہ جومات کی دوہ اذانہ او دوې جمعی کیږی. داسی کول شرعًا جائزدی اوکہ نہ؟ اوزوړ امام تہ مشرک ویل څہ حکم لری.

**جواب**: دوہ اذانہ اودوی جمع کول پہ یوجومات کی جائزنہ دی (۱) اومذکور امام مشرک نہ دی، ھغہ تہ مشرك ویل غلط دی. البتہ وظیفہ: شیئًا للہ دغہ امام تہ پریښوول پکار دی، ځکہ چی داوظیفہ جائز نہ دہ. (۲) اوامام تہ دداسی مشتبہ امورو څخہ احتراز کول پکار دی. فقط

**چی صرف ماشومان مقتدیان وی نوھم جمعہ کیږی: سوال**: (۵۳۱) کلہ چی بالغ مقتدیان پیدانہ سی نوصرف دماشومانو پہ مقتدیانو جوړیدلو سرہ بہ دجمعی ثواب ورکول کیږی اوکہ نہ؟

**جواب**: کہ چیری مقتدی بالغ ھیڅوك نہ وی نوصرف دماشومانو پہ مقتدیان جوړولو سرہ بہ دجمعی ثواب ورکول سی. (۳) فقط

**څوك چی اذان آوری بیاھم جومات تہ نہ راځی دھغہ لمونځ صحیح کیږی اوکہ نہ؟ سوال**: (۵۳۲) کہ چیری دمحلی یوسړی اذان اوری اوجومات تہ نہ راځی اوپہ جمع کی نہ شریکیږی پہ کورکی لمونځ کوی نودھغہ دپارہ څہ حکم دی اودَھغہ لمونځ کیږی اوکہ نہ؟ **جواب**: پہ جمعی سرہ لمونځ کول واجب دی ددی پریښوونکی فاسق دی. دَمحلی خلګوتہ پکاردی چی ھغہ تہ پہ جمعی سرہ دلمانځہ کولو تاکید وکړی کنہ ھغوی بہ ھم ګنهګار وی قصداً جمعہ پریښوونکی تہ سزا ورکول کیږی او دھغہ شاھدی معتبرہ نہ دہ (۴) لیکن دھغہ لمونځ صحیح کیږی دقضا راګرزولو ضرورت یی نستہ. (۵) فقط

---

= بالالحاق (ردالمحتار. باب ما یفسد الصلوۃ وما یکرہ مطلب فی احکام المسجدج ۱ ص ۲۱۹، ط.س. ج ۱ ص ۲۲۱). ظفیر

(۱). اھل المسجد اذا صلوا باذان وجماعۃ یکرہ تکرار الاذان والجماعۃ فیہ (عالمگیری. الباب الثانی فی الاذان ج ۱ ص ۵۱ ، ط. ماجدیہ ج ۱ ص ۵۴). ظفیر

(۲). وګوری مائۃ مسائل دحضرت شاہ اسحٰق ډهلوی".

(۳). وتحصیل فضیلۃ الجماعۃ بصلوتہ مع واحد (ای من الصبیان) الا فی الجمعۃ فلا تصح بثلاثۃ منهم. (الاشباہ والنظائر احکام الصبیان ص ۴۸۰). ظفیر

(پاتہ حواشی پہ آیندہ صفحہ کی وګورئ)

**<u>په کور کی دښځو سره جمعه ادهغه ثواب</u>**: **سوال**: (۵۳۳) په کور کی دښځو سره جمعه کول جائز دی اوکه نه؟ دبهشتی زیور په حصه کی دی چی سړی ته صرف دښځو امامت په داسی ځای کی مکروه تحریمی دی کم ځای چی هیڅ یوسړی نه وی، نه څوك محرمه ښځه لکه مور خوروی، که چیری څوك سړی یامحرمه ښځه وی نوبیا مکروهه نه ده. که بعضی څوك داسی جمعه سنت وګڼی اودخپلی بی بی یامحرمی سره جمعه وکړی نو دجمعی ترك کولو دوعید څخه خلاصیدی سی اوکه نه؟ اوکه چیری په کور کی جمعه سنت وی نوپه یوحدیث کی چی داسبابو اوکورونو سوزولو اراده چی رسول الله ﷺ فرمایلی وه، داولی ده؟ غرض داچی بعضی خلګ په کورکی جمع سنت موکده ګڼی اواداء کوی یې نوڅه حکم دی؟

**جواب**: دښځو ځان ته جمعه مکروه تحریمی ده. لهٰذا ښځی دی جمعه نه کوی یعنی په داسی شان چی امام هم ښځه وی داسی جمعه دی نه کوی.

ویکره تحریماً جماعة النساء الخ کما تکره امامة الرجل لهن فی بیت لیس معه رجل غیره ولامحرم منه کاخته وزوجته (١) ﷺ ترجمه: ددی هم هغه ده کمه چی دبهشتی زیور حصه ١١ څخه یی مسئله نقل کړیده، پس داهم صحیح ده. نوکه چیری په جومات کی جمع ونه سی نوپه داسی کولو سره دترك جماعت عذاب څخه خلاصیدی سی. الغرض اصل دادی چی جومات ته دی ځی اوپه جمعه کی دی شریکیږی. که چیری کله اتفاقًا په جومات کی جمعه نه ونیسی نوپه کورکی دی ښځی اوماشومان شامل کړی، اوجمع دی وکړی څنګه چی په درمختارکی دی. اودحدیث احراقِ بیوت څخه ثابتیږی چی سړیوته بغیر دعذره په کورکی جمعه کول نه دی پکار، بلکه جومات ته دی راځی، اوپه جمع کی دی شریکیږی اوکه چیری کله په اتفاق سره جمعه نه وسوه نوپه صورة مذکوره سره دی په کورکی جمعه وکړی. دانه چی دَجومات جمعه پریښوول اودکورونو کی جمعه کول سنت دی. داسی نه

---

(٤). فتسن اوتجب ثمرته تظهر فی الاثم بترکها مرة علی الرجال العقلاء البالغین الاحرار القادرین علی الصلاة بالجماعة من غیر حرج ولو فاتته ندب طلبها فی مسجد اخر الا المسجد الحرام ونحوه (در مختار) قال فی النهر الا ان هٰذا یقتضی الاتفاق علی ان ترکهامرة بلاعذر یعزر وترد شهادته ویاثم الجیران بالسکون عنه (رد المحتار. باب الامامة ص ۵۲۰، ۵۲۱ ج ١ ، ط.س. ج١ ص۵۵۴، ۵۵۵). ظفیر

(۵). په دی سلسله کی دا حدیث مشهور دی، لاصلوة لجار المسجد الا فی المسجد. دَجومات دخوا اوشا اوسیدونکی که بغیر دَشرعی عذر څخه په جمعی سره لمونځ نه ادا کوی نودهغه لمونځ اداکیږی. داپه طور دتهدید (زورنی) دی. بیا داحدیث ضعیف هم دی. ددی دپاره وګوری شرح سفر السعادة، خاتمه ص ۵۳۵ والله اعلم ، ظفیر

(١). الدرالمختار هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۸ ج ١ وص ۵۲۹ ، ط. س. ج ١ ص ۵۷۵. ظفیر

ده. دغه رکم شامي داواقعه ليکلي ده چي يووار حضرت نبي ﷺ په يوقوم کي دصلح کولو دپاره تشريف وړی وو چي جومات ته راغلی نوجمعه سوی وه. هغه وخت هغویٌ په خپل کور کي اهل اوعيال راجمع کړل اوپه جمعي سره يي لمونځ ادا وفرمايي (۱) ددی څخه داهم ثابته سوه چي په کور کي جمع کول په داسي حالت کي دي چي په جومات کي جمع ونه ونيسي. فقط

**دامام دعداوت په وجه جمعه ترک کول نه دي پکار**: **سوال**: (۵۳۴) مؤذن دچاچي دااعتراض دی. چي دپيش امام زما سره عداوت دی. په همدی وجه په امام پسي لمونځ نه کوی، هميشه ځان ته لمونځ کوی، دهغه لمونځ صحيح کيږی اوکه نه؟ اودهغه اذان مکروه دی اوکه نه؟

**جواب**: داعذر دجمعي پريښوولو شرعًا خطا اوغلط دی اودجمعي پريښوولو عادت جوړول اوهميشه جمعه ترك کول موجب دفسق اومعصيت دی اودفاسق اذان مکروه دی. اودهغه اعاده مستحب ده. ويعاد اذان جنب الخ درمختار. زادالقهستاني والفاجر والراکب والقاعد الخ شامي (۲).

(که څه هم دهغه لمونځ کم چي ځانته کوی جائز کيږی، خودجمعي دثواب څخه محرومه پاته کيږی. اودجمعي دپريښوولو په وجه ګنهګار دی. ظفير)

**ددين علم ښوولو وخت کي جمعه پريښوول درست دي اوکه نه؟** **سوال**: (۵۳۵) که چيری زيد ددين دعلم درس ورکوی نودماخستن جمعه ترك کيږی. په دی صورة کي څه حکم دی.

**جواب**: په درمختارکي منقول دی چي دفقهي دعلم په حاصلولو اومطالعه کي مشغوله کيدل بعضو علماوو دجمعي ترك کولو عذر ګرزولی دی يعني من جمله دهغه عذرونو څخه دکمو په وجهي سره چي ترك جماعت احيانًا وسی نوهيڅ حرج نسته. مشغولتيا دعلم فقهي ده. ليکن که په جمعي ترك کولو باندی هميشه والي کوی نومعذوره نه دی، بلکي واجب التعزير دی. (۳)

---

(۱). حديث احراق دادی: عن ابی هريرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ والذي نفسي بيده لقد هممت أن آمر بحطب فيحطب ثم آمر بالصلاة فيؤذن لها ثم آمر رجلا فيؤم الناس ثم أخالف إلى رجال. وفي رواية: لا يشهدون الصلاة فأحرق عليهم بيوتهم الخ رواه البخاري ولمسلم نحوه (مشکوٰة باب الجماعت وفضلها فصل اول ص ۹۵). ظفير
ولنا انه عليه الصلاة والسلام کان خرج ليصلح بين قوم فعاد الى المسجد وقدصلى اهل المسجدفرجع الى منزله فجمع اهله وصلى، ولو جاز ذلك لما اختار الصلوة فى بيته على الجماعة فى المسجد الخ (ردالمحتار باب الامامة ج ۱ ص ۵۱۸، ط.س. ج۱ ص ۵۵۳). ظفير

(۲). رد المحتار باب الاذان ج ۱ ص ۳۲۵ ، ط. س. ج ۱ ص ۳۹۳. ظفير

(۳). فلاتجب (الجماعة) على مريض الخ وکذا اشتغاله بالفقه لابغيره کذا جزم به الباقاني تبعا للبهنسي اى الا اذا=

**ددوهمی جمعی دجواز دپاره دامام او مؤذن دعدمی تعیین شرط او دهغه حیثیت: سوال**: (۵۳۲) فقهاوو چی دافرمایلی دی چی جماعتِ ثانی په جومات قارعة الطریق (دلاری دغاړی مسجد) کی جائز دی اوددی یی داتعریف کړی دی، چی کم ځای امام اومؤذن معین نه وی. ددی تعریف پربنا باندی به نن صبا په اکثرو ځایونو کی هیڅ یوداسی جومات راونه وزی چی څوك امام اومؤذن معین نه وی، لهٰذا جماعتِ ثانی به ګرسره جائز نه وی. اوپه اکثرو کلیوکی امام اومؤذن معتین نه وی نو ددی تعریف څخه لازمیږی چی هلته دی په هرجومات کی دوهمه جمعه جائزوی. ماته داشبهه ده چی داتعریف هغه ډول تعریف خوبه نه وی لکه څنګه چی دمصر تعریف دی. چی دخپلی زمانی په اعتبار سره یې فقهاوو تعریف وکی.

**جواب**: داقاعده کلیه دفقهاوو ده چی په کم جمات کی امام اومؤذن مقرروی هلته دوهمه جمعه مکروه ده برابره خبره ده که هغه دښار جوماتونه وی اوکه دکلیو. پس اشکال هیڅ نسته. دهمدی قاعدی مطابق دی عمل وسی. (۱) فقط

**په یو جمات کی دوی جمعی: سوال**: (۵۳۷) دلته جومات ته دروژه مات دپاره ډوډی راوړل کیږی. دماښام داذان سره روژه ماته کړی اوخوراك شروع کړی چی په هغه کی اکثره خلګ خولاندی کښینی اوروژه ماته کړی. داذان کیدلو څخه وروسته دلسو دقیقو وقفی څخه وروسته جمعه دریږی. اوبعضی حضرات پرچت باندی روژه ماته کړی. هر لمونځ ګذار په اطمینان سره دروژه مات څخه فارغه سی او په جمع کی شامل سی. خو

---

= واظب تکاسلا فلا یعذر ویعزر ولو باخذ المال یعنی بحبسه عنه مدة ولا تقبل شهادته (الدر المختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۰ ، ط. س. ج ۱ ص **۵۵۵**). ظفیر

(۱). ویکره تکرار الجماعة باذان واقامة فی مسجد محلة لا فی مسجد طریق اومسجد لا امام له ولا یؤذن (درمختار) قوله یکره تحریمًا لقول الکافی لا یجوز والمجمع لا یباح، وشرح الجامع الصغیر انه بدعة کما فی رسالة السندی ☾ ، قوله باذان ؎ عبارته فی الخزائن اجمع مما هنا ونصها: ویکره تکرار الجماعة فی مسجد محلة باذان واقامة الا اذا صلی بهما فیه او لا غیر اهله او اهله بمخافة الاذان ولو کرر اهله بدونها اوکان مسجد طریق جاز اجماعًا کما فی مسجد لیس له امام ولا مؤذن ویصلی والناس فیه فوجا ؎ والمراد بمسجد المحلة ما له امام وجماعة معلومون ؎ ومقتضی هذا الاستدلال کراهة التکرار فی مسجد المحلة ولو بدون الاذان (رد المحتار باب الامامة مطلب فی تکرار الجماعة فی المسجد ج۱ ص**۵۱۲**، ط.س. ج۱ ص**۵۵۲**) الا فی مسجد علی طریق فلاباس بذلك) (در مختار) هو مالیس له امام وموذن، راتب (رد المحتار باب الاذان ج۱ ص ۳۲۷، ط.س. ج۱ ص **۳۹۵**). ظفیر

===

☾ رسالة السندی، دعلامه سندی رحمه الله دارساله په عربی ژبه کی اوترننه پوری مخطوطه وه، موږ ته یې یوه نسخه په لاس راغله او دفتاوی دهمدې جلد په پای کی به انشآء الله دتحقیق اوتعلیق سره وړاندی کړل سی. محمد احمد الحقانی

دچت والا حضرات په جمعه کی نه شاملیږی. کله چی لاندی جمعه تیره سی نودچت والا حضرات دوهمه جمعه کوی. داجائز دی اوکه نه؟

**جواب**: ښه داده چی په اوله جمعه کی شامل سی اودجمع کیدلو په وخت کی دی په خوراك اوچښاك کی نه مشغولیږی. اِلاَّ بضرورة. اولاندی خلګو ته داپکاردی چی لږ نوره وقفه وکړی دپاره ددی چی ټول خلګ په اطمینان سره څه خوراك وکړی او په جمعه کی شامل سی. ([1]) فقط

**دیوه لمونځ ګذار انتظار څنګه دی؟ سوال**: (۵۳۸) یوسړی دی چی دهغه دشپی اوورځی اکثره حصه په جومات کی تیریږی، که چیری کله کله هغه دلمانځه په وخت کی دجومات څخه دباندی خپله رانه سی (اوپه جومات کی لمونځ دګړی په حساب سره پرمقرر وخت باندی کیږی) اوټول خلګ جومات ته راغلل اودلمانځه مقرروخت هم سونوآیا ددغه سړی داذان څخه ماسوا دوهم وار بیا خبرول پکاردی اوکه نه؟ اودهغه په انتظار کی په جمعه کی تاخیر کول درست دی اوکه نه؟ اوپه دی تاخیر سره به په جمعه کی څه قسم کراهت رازی اوکه نه؟

**جواب**: په دوباره خبرولوکی په صورة مذکوره کی هیڅ حرج نسته. اوکه چیری دهغه یا دبل چاپه وجهی سره په جمعه کی دومره اندازه تاخیر وسی چی وخت مکروه نه سی او نورو لمونځ ګذاروته تکلیف نه وی نوپه دی کی هم هیڅ حرج نسته. ([2])

**که دجمعی په وخت کی څوک سنت کوی نوامام یی انتظار وکی اوکه نه؟ سوال**: (۵۳۹) دماپښین لمونځ پردوی بجی کیږی. دوو بجوته دری منټه پاته وه چی یوسړی دماپښین دسنتو نیت وتړی. په دریم رکعات کی دوی بجی سوی. په دی صورة کی آیا امام ته ددومره تاخیر کولو اجازه سته اوکه نه چی هغه سړی څلور رکعاته پوره کړی؟

**جواب**: دغومره اجازه سته. ([3])

**دعذر په وجه دجمعی پریښوولو ګنجائش سته اوکه نه؟ سوال**: (۵۴۰) دزید دکورسره متصل یوجومات دی چی په هغه کی پنځه وخته اذان کیږی اوبعضی وخت په جومات کی دښکنځلو کولو نوبت هم راسی دجمعی قائمونکی خلګ دجومات داحترام مطلق خیال نه کوی. زید تعلیم یافته دمسائلو څخه خبردی. لیکن جومات ته په جمعی سره

---

([1]). ویکره تکرار الجماعة ﷺ فی مسجد محلة (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارباب الامامة ج۱ ص۵۱۲، ط.س. ج۱ ص۵۵۲). ظفیر

([2]). والتثویب حسنٌ عندالمتاخرین ﷺ وینتظر المؤذن الناس الخ عالمګیریه ج ۱ ص ۵۴، ط. ماجدیه ج۱ ص۵۲.

([3]). ایضًا (مخکنی حواله).

دلمونځ ادا کولو دپاره نه ځی. دزید دطرفه څخه په وخت داعتراض داجواب ورکول کیږی. چی چونکی دجومات داحترام اوآدابو خیال نه ساتل کیږی اویو دتفریح ځای یی مقرر کړی دی. په پوهولو سره هم خلک دخپلو حرکتونو څخه نه منع کیږی. په دی وجه زه په کور کی لمونځ کول ښه ګنم. بعضی خلک وایی چی جمع پریښوونکی ته دخپلی مورسره دزنا کولو دومره ګناه ورکول کیږی آیا داصحیح ده؟ یا دداسی سړی ګرسره لمونځ نه کیږی؟

**جواب**: دزید نیت که چیری خالص وی اوپه حقیقت کی هغه دمذکوره وجوهو په وجه لمونځ په کور کی کوی نوممکنه ده چی عند الله دجماعت دمؤاخذی څخه خلاص سی. په هرحال احتیاط په همدی کی دی چی په جومات کی په جمع سره لمونځ کوی. اودبعضو خلکو داوینا چی دجمعی پریښوولو ګناه داسی ده لکه چی دخپلی مور سره زنا وکړی نو داغلطه ده. بی عذره جمعه پریښوونکی ګنهګاریږی اولمونځ یی صحیح کیږی. اوکه چیری یوصحیح عذر وی یا امام مبتدع اوفاسق وی نوبیا به په جمعی پریښولو سره نه ګنهګاریږی. که څه هم په جمع کی شرکت ښه دی. (١) فقط

**جائز نه دی**: **سوال**: (۵۴۱) یو سړی دډیری مودی راهیسی دجومات امام دی. هیڅ کار خلافِ شریعت نه کوی نوکم سړی چی په دغه امام پسی لمونځ نه کوی په سبب دتکبر چی زه ددی عالم امام څخه ښه یم، علم خو زما زیات نه دی، خوزما اعمال دمسجد دامام څخه ښه دی یعنی ماتحیة المسجد هیڅکله نه دی پریښی، اوامام څوواره پریښی دی. اوزه نوافل زیات اداء کوم، نودغه سړی جمعه پریږدی اوځانته لمونځ کوی؟

**جواب**: مذکوره سړی ته جمعه ترك کول په وجه مذکوره سره درست نه دی اوعذر دهغه غلط دی اوپه شامی کی دی چی بغیر عذره جمعه ترك کونکی ته به سزا ورکول کیږی. اودهغه شاهدی مردود ده: کما نقل عن شرح المنية والاحكام تدل على الوجوب من ان تاركها بلا عذر يعزر وترد شهادته (٢) الخ. فقط

**دښځو دلمانځه دپاره عید ګاه ته تلل؟** **سوال**: (۵۴۲) ښځو ته دسړیو په شان عیدګاه ته دلمانځه دپاره تلل درست دی اوکه نه؟

---

(١). فتسن او تجب ؎ على الرجال العقلاء البالغين الاحرار القادرين على الصلاة بالجماعة من غير حرج (در مختار) فبالحرج يرتفع الاثم ويرخص فى تركها ؎ فى نور الايضاح وانقطع عن الجماعة العذر من اعذارها وكانت نيته حضورها يصحل له ثوابها صلى خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة (در مختار) افاد ان الصلاة خلفهما اولى من الانفراد. ردالمحتار. باب الامامة ج١ ص ۵١٨، ط.س. ج١ ص ۵۵۴. ظفير

(٢). رد المحتار، باب الامامة ج ١ ص ۵١٢، ط. س. ج ١ ص ۵۵٢. ظفير

**جواب**: په دی زمانه کی بلکه دډیر مخکی څخه دښځو په جمعه کی دشریکیدلو دپاره جومات اوعیدگاه ته تلل ممنوع اومکروه دی. دصحابه وو ﷺ په زمانه کی دامنع سوی وه. کما ورد فی الاحادیث (۱) په درمختار کی دی: ویکره حضورهن الجماعة ولو لجمعة وعید ووعظ. الخ (۲)

**ازواج مطهرات به په جمع کی شریکیدلی اوکه نه؟ سوال**: (۵۴۳) ازواجو مطهراتو رضی الله عنهن او دخواصو صحابه وو ﷺ مستوراتو به پنځه وخته په جماعت اوجمعی اواخترونو کی شرکت کوی اوکه نه؟

**جواب**: درسول الله ﷺ په زمانه کی به ښځی په پنجگانه لمونځ اوجمعی اواخترونو کی حاضریدلی خوداسی نه لکه څنگه چی به سړی په پابندی سره حاضریدل اودحجاب آیت دنازلیدلو څخه وروسته په دی کی زیاته تنگی وسوه حتّی چی حضرت عمر ﷺ ښځی په جومات کی دلمونځ کولو څخه بندی کړی نوښځو دحضرت عائشی رضی الله عنها په خدمت کی شکایت وکی چی رسول الله ﷺ اجازه فرمایلی ده، اوعمر ﷺ یی منع کوی نوحضرت عائشی رضی الله عنها دښځو حمایت ونه کی بلکی دحضرت عمر ﷺ تائید یی وفرمایی. او وی فرمایل چی که چیری رسول الله ﷺ دښځودحالت مشاهده فرمایلی وای کم چی اوس ددوی حالت دی نوضرور به یی دوی منع فرمایلی وای. (۳) فقط

**په دوهمه جمعه کی شرکت وسی اوکه نه؟ سوال**: (۵۴۴) دوهمه جمعه مکروه ده، که چیری بنده دمحلی جومات ته ورسیږی اودوهمه جمعه تیاره وی یاولاړه وی نوشریك سی یابل جومات ته چیری چی دجمعی سره دشریکیدلو گمان وی ولاړ سی ؟

**جواب**: بل جومات ته دی ولاړسی. یاکه کیدی سی نودنورو خلگو سره دی په بل یو ځای کی جمعه وکړی. (۴) فقط

---

(۱). وگوری مسلم شریف باب خروج النساء الی المساجد ج ۱ ص ۱۸۳. ومشکوٰۃ باب الجماعة.

(۲) الدر المختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ج۱ ص ۵۲۹ ،ط. س. ج ۱ ص ۵۶۶. ظفیر

(۳). عن عمرة بنت عبدالرحمٰن انها سمعت عائشة زوج النبی ﷺ تقول لو ان رسول الله ﷺ رای ما احدث النساء لمنعهن المسجد کمامنعت نساءبنی اسرائیل قال فقلت لعمرة انساء بنی اسرائیل صنعن المسجد قالت نعم (مسلم باب خروج النساء الی المساجد ج۱ ص۱۸۳).

(٤). وَإِذَا فَاتَتْهُ الْجَمَاعَةُ لا يَجِبُ عَلَيْه الطلبُ فِي مَسْجِدِ آخَرَ بِلاَ خِلاَف بَيْنَ أَصْحَابِنَا لَكِنْ إِنْ أَتَى مَسْجِداً آخَرَ لِيُصَلِيَ بِهِمْ مَعَ الْجَمَاعَةِ فَحَسَنٌ وَإِنْ صَلى فِي مَسْجِدِ حَيِّهِ فَحَسَنٌ وَذَكَرَ الْقُدُورِيُّ أَنَّهُ يَجْمَعُ فِي أَهْلِهِ وَيُصَلِّي بِهِمْ. (عالمگیری مصری. فصل فی الامامة ص ۷۷ ج۱، ط. ماجدیه ج۱ ص ۸۲، ۸۳). ظفیر

**دتکبیر اولی وخت دکم ځای څخه ترکم ځای پوری دی؟** **سوال**: (۵۴۵) دتکبیر اولی ثواب تر کله پوری وی؟ **جواب**: داولنی رکعات ترركوع پوری دشامليدلوسره به دتکبیر اولی ثواب حاصل سی. کمافی الشامی:وقیل بادراك الركعة الاولی وهذا اوسع وهوالصحیح. ([1]) شامی ص ۳۵۳، جلد اول.

**داعادې په جمعه کی په شریکیدلو سره فرض کولي سی اوکه نه؟** **سوال**: (۵۴۶) که چیری لمونځ دجمعی سره اداء سو اوپه لمانځه کی څه داسی غلطی وسوه چی په هغې سره دلمانځه داعادی ضرورت سو. اوس چی کم لمونځ دوباره کول کیږی په هغه کی نوی لمونځ ګذار شریکیدلی سی اوخپل لمونځ اداء کولی سی اوکه نه ؟

**جواب**: که چیری په مخکی وارکی لمونځ بالکل نه وو سوی مثلاً باطل سوی وو نود نوو لمونځ ګذارو لمونځ داعادی په وخت کی اداء سو. اوکه چیری دیوواجب په ترك سره دلمانځه اعاده واجب وه نودنوو لمونځ ګذارو لمونځ به نه صحیح کیږی. ([2]) فقط

**په کم ځای کی چی امام اومؤذن متعین نه وی هلته دوهمه جمعه جائز ده اوکه نه؟** **سوال**: (۵۴۷) ددی ځای په جوماتونوکی عمومًا نه خودجمعی دلمانځه وختونه مقرر دی نه امام اومؤذن. صرف دمابنام په وخت کی څه سړی راسی نو په دی جوماتونو کی دوهمه جمعه جائز ده اوکه نه ؟

**جواب**: په داسی جمات کی په کم کی چی امام اومؤذن اوجماعت مُعیّن نه وی نودوهمه جمعه جائز ده. ([3]) فقط

**دبدعتیانو په مخالفت سره به دمخکی امام په جماعت کی هیڅ فرق نه راځی:** **سوال**: (۵۴۸) که چیری یوسړی دپنځلسو یاشلو کالو راهیسی په یوجمات کی امام وی بعضی خلګ ددغه امام سره دنفسانیت په غرض یادعقائدو داختلاف په وجه دغه امام ایستل غواړی حالانکه امام متبع سنت دی، اودغه ډله دبدعتیانو څخه وی اوماسوا ددغه ډلی څخه نور ټول مقتدیان په امام رضامند وی او دبدعتیانو ډله دضد په وجه یوهم خیال امام ودروی اودمخکنی امام په ځای باندی جمعه کوی، وروسته دهغه څخه مخکنی

---

([1]). ردالمحتار. باب صفة الصلوة مطلب فی وقت ادراك فضيلة الافتتاح ج۱ ص۴۹۱، ط.س. ج۱ ص۵۲۲.ظفير

([2]). والمختار انه جابر للاول لان الفرض لايتكرر (درمختار) ای الفعل الثانی جابر للاول بمنزلة الجبر بسجود السهود وبالاول يخرج عن العهدة وان كان علی وجه الكراهة علی الاصح كذا فی شرح الاكمل علی اصول البزدوی. (ردالمحتار باب صفة الصلوة مطلب واجبات الصلوة ج۱ ص۴۲۲، ط.س. ج۱ ص ۴۵۷). ظفير

([3]). ويكره تكرار الجماعة باذان واقامة فی مسجد محلة لا فی مسجد طريق اومسجد لا امام له ولا مؤذن (الدر المختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۱۲ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۲). ظفير

امام جمعه ورکوی نودمخکی امام لمونځ درست وی اوکه نه؟ که چیری په یو وخت کی نوی امام اوزوړ امام په جهری قرآئت سره جمع کوی نوکم لمونځ صحیح کیږی اوکم نه ؟

**جواب**: دامام سابق جماعت بغیر کراهته درست دی، هغه جماعت ثانیه نه دی بلکه دبی اتفاقی گناه دبدعتیانو پردغه فرقی باندی ده، اودهغوی پرامام باندی ده اودهغوی جمع معتبره نه ده او ددواړو جمعو په یووخت کیدلوکی هم گناه ده، پرنوی امام اوبدعتیانو مقتدیانو باندی ده. دزوړ امام په جمعه کی هیڅ کراهت نسته. (۱) فقط

**دوهمه جمعه جائزه ده او که نه او دجمعی کیدلو ځخه وروسته په جومات کی جلا جلا لمونځ ښه دی یاپه کورکی په جمعی سره؟**

**سوال**: (**۵۴۹**) په جومات کی دوهمه جمعه کول جائزدی اوکه نه؟ اودجمعی کیدلو ځخه وروسته ځان ځان ته په جومات کی لمونځ ادا کول ښه دی اوکه په ځنگل یاکورکی په جمعی سره اداء کول ښه دی؟ اوپه ځنگل یا په کورکی اذان اوتکبیر ویل ښه دی اوکه نه؟ او دجومات پرچت باندی یادجومات په تالابو باندی یاکمه کوټگۍ چی دجومات ځخه دباندی ده په هغه کی دوهمه جمعه کول جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: په کور یا ځنگل کی په جمعی سره لمونځ کول ښه دی. په ځنگل یاکور کی اذان اوتکبیر ویل ښه دی. صرف تکبیر ویل هم کافی دی. که په کورکی کوی نو ددغه محلی په جومات کی چی کم اذان سوی دی هم هغه کافی دی صرف تکبیر دی ووایی. دفرش په مینځ کی چی کم تالاب دی یا دجومات بام اوچت، داټول دجومات په حکم کی دی. هغه کوټه گۍ وغیره چی دباندی ده په هغه کی دوهمه جمعه جائزده. (۲) فقط

**دامام راتللو ځخه مخکی چی کم سړی لمونځ وکی هغه دجمعی په حکم کی نه دی**:

**سوال**: (**۵۵۰**) دیوجومات امام دسهار په وخت کی ناوخته راځی. یو مقتدی وختی راځی اوهغه په لمانځه کی په جهر سره قرآئة وایی اویو جاهل لمونځ گذار ددغه مقتدی سره نه شاملیږی بلکی دامام انتظار کوی دافعل دهغه جائز دی اوکه نه؟

---

(۱). ولوصلى بعض اهل المسجد باقامة وجماعة ثم دخل المؤذن والامام وبقية الجماعة فالجماعة المستحبة لهم والكراهة للاولى كذافى المضمرات، عالمگیری مصری باب ثانی فی الاذان ص**۵۱** ج۱، ط ماجدیه ج۱ ص**۵۴**). ظفیر

(۲). قال عليه الصلاة والسلام صلوة الجماعة تفضل صلوة الفذ بسبع وعشرين درجة، مشكوة ص **۹۵** ثم لهما سنة للصلوات الخمس اداءً اوقضاءً اذا صليت بجماعة، کبیری ص **۳۵۷**، وَلَا يُكْرَهُ تَرْكُهُمَا لِمَنْ يُصَلِّي فِي الْمِصْرِ إذَا وُجِدَ فِي الْمَحَلَةِ وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الْوَاحِدِ وَالْجَمَاعَةِ. وَالافضَلُ أَنْ يُصَلِّيَ بِالأَذَانِ وَالإِقَامَةِ وَإِذَا لَمْ يُؤَذِنْ فِى تِلْكَ الْمَحَلَةِ يُكْرَهُ لَهُ تَرْكُهُمَا وَلَوْ تَرَكَ الْأَذَانَ وَحْدَهُ لا يُكْرَهُ وَلَوْ تَرَكَ الإِقَامَةَ يُكْرَهُ وَيُكْرَهُ لِلْمُسَافِرِ تَرْكُهُمَا وَإِنْ كَانَ وَحْدَهُ وَلَوْ تَرَكَ الإِقَامَةَ أَجزَأَهُ وَلَكِنَّهُ يُكْرَهُ فَإِنْ أَذَّنَ وَأَقَامَ فَهُوَ حَسَنٌ. عالمگیری ص **۵۲** مطبوعه هند، ماجدیه ج۱ ص**۵۴**.

**جواب**: جماعتِ اولی هم هغه وی کم چی دمحلی امام دمحلی دخلکو سره اداء کوی نو دغه جاهل لمونځ گذار ته دمحلی دامام دجمعی انتظار کول پکاردی. ([1]) فقط

**مقرر امام چی دمقتدی نه راتلو په وجه ځانته لمونځ وکړی نوڅه حکم دی؟** **سوال**: (**۵۵۱**) یوجومات چی دآبادی څخه پرفاصله باندی دی، اوپه دی وجه په دغه جومات کی اکثره جمعه نه کیږی نوآیا پرخالد باندی (چی مقررامام دی) په دی صورة کی هلته لمونځ کول سره دجمعی پرترك کولو څه گناه خوبه نه وی؟

**جواب**: په دی صورة کی دجمعی ترك کولوگناه پر خالد باندی نسته بلکی کله چی څوك رانه سی نوخالد دی داذان او اقامت کولو څخه وروسته ځان ته لمونځ کوی، په دی کی به دجمعی ثواب هغه ته حاصلیږی، اودجومات حق به هم اداء کیږی. ([2]) فقط

**دیوی جمعی په وخت کی بله جمعه جائز ده اوکه نه؟** **سوال**: (**۵۵۲**) په جومات کی کله چی داهلِ حدیثو جمع کیږی اولمونځ هم جهری وی په دغه وخت کی حنفیانو ته بله جمعه کول جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: غیر مقلد امام جوړول نه دی پکار، اوکه جوړ سو نولمونځ په هغه پسی صحیح دی خواحتمال دکراهت اوفساد سته. بیله جمعه په همدغه جومات کی نه دی کول پکار، که چیری بیله جمعه کوی نوبل ځای دی وکړی. ([3]) فقط

**چاته چی جمعه ورپیدا نه سوه هغه دی کم ځای لمونځ وکړی؟** **سوال**: (**۵۵۳**) کم منفرد ته چی لمونځ دجمعی سره ورپیدانه سوهغه ته په جمات کی خپل فرض کول ښه دی اوکه په کورکی؟

**جواب**: که چیری دجومات څخه دباندی جمعه کیدی سی نوداښه ده. ([1]) کنی دفرائضو دپاره جومات ښه دی. فی روایة انس ان اصحاب رسول الله ﷺ کانوا اذافاتتهم الجماعة فی المسجد صلوا فی المسجد فرادی. ([2]) الخ شامی.

---

([1]). لوصلی بعض اهل المسجدباقامة وجماعة ثم دخل المؤذن والامام وبقیة الجماعة فالجماعة المستحبة لهم والکراهة للاولی. (عالمگیری مصری. باب الاذان ص **۵۱** ج ۱، ط: ماجدیه ج۱ ص**۵۴**).

([2]). بل فی الخانیة لولم یکن لمسجد منزله مؤذن فانه یذهب الیه ویؤذن فیه ویصلی ولوکان وحده لان له حقا علیه فیؤدیه (رد المحتار. باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها، مطلب فی احکام المسجد ص ۲۱۷ ج ۱، ط.س. ج۱ ص **۲۵۹**). ظفیر

([3]). په اصل کی دمتعین امام دجمعی اعتبار دی: ولوصلی بعض اهل المسجد باقامة وجماعة ثم دخل المؤذن والامام وبقیة الجماعة فالجماعة المستحبة لهم والکراهة للاولی کذافی المضمرات (عالمگیری مصری باب ثانی اذان ص **۵۱** ج ۱ ط: ماجدیه ج۱ ص**۵۴**)

(ددوهم څل ۱ او ۲ حاشیه په ورپسی صفحه کی وگورئ)

**دچا ځخه چی په امن او امان کی دخلل یافساد اندیښنه وی، هغه دجمعی ځخه بندول ځنګه دی؟ سوال**: (۵۵۴) که چیری دیوه لمانځه ګذار په ذریعه په حفظ اوامن کی خلل واقع کیږی اودشر اوفساد اندیښنه وی یاعامو لمونځ ګذاروته یو قسم تکلیف اواذیت رسیږی، نوداسی سړی په غرض دحفظِ امن اودانسداد دشر اوفساد دجمعی ځخه بندول آیا دشریعت ځخه خلاف دی؟

**جواب**: کم سړی چی په حفظ اوامن کی خلل اچوی اوباعث دشر اوفساد وی اوعامو لمونځ ګذاروته تکلیف اوضرر رسونکی وی اودهغه فعل داشتغال سبب وی هغه دجمعی ځخه بندل دشریعت دقانون مطابق دی. حدیثونه اوآثار اواقوال دفقهاوو پردی باندی صفا دلالت کوی. رسول کریم ﷺ اومه اوږه، پیاز خوړونکی دجومات ځخه بندکړی دی، بلكi دجومات ځخه یی ایستلی دی دغه رکم هغوئ هغه ښځی چی خوشبویی یی لګولی وی جومات ته دراتللوځخه دفتنی دبیری ځخه منع کړی دی، دغه رکم هغوئ دهغه خلګو په حق کی ځوك چی دلمونځ ګذار مخ ته تیریږی چی په هغه سره دلمونځ ګذار په خشوع اوخضوع کی دفرق راتلو احتمال دی، که ځه هم لمونځ نه ماتیږی. وفرمایل: ادرءوا ما استطعتم فلیدفعه فان ابی فلیقاتله فانما هو شیطان، ونحو ذالك. دغه رکم هغوئ هغه سړی چاچی په جومات کی دقبلی طرف ته توکلی وه دامامت ځخه معزوله کی اوهغه یی دخدای اورسول مؤذی ګرزولی وو. اوعبدالله بن مسعود ﷺ هغه خلګ چی په جومات کی جمع سوی وه اوپه لوړ آواز ذکر او وِرد کی مشغوله وه بدعتیان وګرزول اودجومات ځخه یی دباندی وایستل. اوفقهاوو هم تصریح کړیده چی اومه اوږه اوپیاز خوړونکی اودغه رکم مُردار خُلی (چی دخولی ځخه یی خراب بوی ځی) اوجذامی اومبروص (دبرص مریض) اوماهیان خرخونکی اوهر مؤذی که ځه هم هغه په ژبی سره ضرر رسوی جومات ته دراتللو ځخه بندول پکار دی. دنمونی په طور یوځو روایات اوعبارتونه دمحدثینو اوفقهاوو ملاحظه کړی:

عن ابی هریرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ من اکل هٰذه الشجرة فلایقربن مسجدنا ولایؤذینا بریح الثوم. رواه مسلم. وعن عمر بن الخطاب ﷺ قال انکم ایّها الناس تاکلون شجرتین لا اراهما الا خبثین هٰذ البصل والثوم رأیت رسول الله ﷺ اذا وجد ریحها من الرجل فی المسجد امر به فاخرج الی

(۱). انه علیه الصلوة والسلام کان خرج لیصلح بین قوم فعاد الی المسجد وقدصلی اهل المسجد فرجع الی منزله فجمع اهله وصلی. (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۱۸ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۳). ظفیر

(۲). ردالمحتار. باب الاذان مطلب فی کراهة تکرارالجماعة فی المسجد ص۳۲۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۹۳. ظفیر

البقیع فمن اکلها فلیمتها طبخًا. رواه مسلم.

نووی ؒ دمسلم پہ شرح کی لیکلی چی: فلا یقربن المساجد هذا تصریح بالنهی عن اکل الثوم ونحوه عن دخول کل مسجد وهٰذا مذهب العلماء کافةً. (۱)

اوحافظ ابن حجر ؒ پہ فتح الباری کی لیکی:

والحق بعضهم بذلك من بفیه بخر او جرح او رائحة، وزاد بعضهم فالحق اصحاب الصنائع كالسماك والعاهات كالمجذوم، ومن یؤذی الناس بلسانه، (۲) الخ ، وعن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ایما امرة اصابت بخورًا فلا تشهد معنا العشاء الأخر رواه مسلم. (۳) وعن ابی سعید قال قال رسول الله ﷺ لایقطع الصلوٰة شیئ وادرءوا ما استطعتم فانما هوشیطان رواه ابوداود. (۴) وعن ابی سعید قال قال رسول الله ﷺ اذا صلی احدکم الی شیئ یسیره من الناس فاراد احد ان یجتاز بین یدیه فلیدفعه فان ابی فلیقاتله فانما هو شیطان. رواه البخاری (۵) ، وعَنْ أَبِي سَهْلَةَ السَّائِبِ بْنِ خَلَّادٍ هُوَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَجُلًا أَمَّ قَوْمًا فَبَصَقَ فِي الْقِبْلَةِ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْظُرُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ فَرَغَ لا يُصَلِّي لَكُمْ فَأَرَادَ بَعْدَ ذَلِكَ أَنْ يُصَلِّيَ لَهُمْ فَمَنَعُوهُ وَأَخْبَرُوهُ بِقَوْلِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ نَعَمْ وَحَسِبْتُ أَنَّهُ قَالَ إِنَّكَ آذَيْتَ اللهَ وَرَسُولَهُ. ابوداؤد. (۶) ، عن ابن مسعود رضی الله عنه انه سمع قوما اجتمعوا فی مسجد یهللون ویصلون علیه والسلام جهرًا فراح الیهم وقال ما عهدنا ذلك علی عهده علیه الصلاة والسلام وما اراکم الا مبتدعین فما زال یذکر ذلك اخرجهم من المسجد. رواه الطبرانی.

اوپہ درمختار کی دی: واکل نحو ثوم یمنع عنه وکذلك مؤذٍ ولو بلسانه. آهـ ، اوپہ رد المحتار کی دی: وَكَذَلِكَ أَلْحَقَ بَعْضُهُمْ بِذَلِكَ مَنْ بِفِيهِ بَخَرٌ أَوْ بِهِ جُرْحٌ لَهُ رَائِحَةٌ، وَكَذَلِكَ الْقَصَّابُ وَالسَّمَّاكُ، وَالْمَجْذُومُ وَالْأَبْرَصُ أَوْلَى بِالْإِلْحَاقِ. وَقَالَ سَحْنُونٌ لَا أَرَى الْجُمُعَةَ عَلَيْهِمَا وَاحْتَجَّ بِالْحَدِيثِ وَأَلْحَقَ بِالْحَدِيثِ كُلُّ مَنْ آذَى النَّاسَ بِلِسَانِهِ وَبِهِ أَفْتَى ابْنُ عُمَرَ وَهُوَ أَصْلٌ فِي نَفْيِ كُلِّ مَنْ يُتَأَذَّى بِهِ.

---

(۱). مسلم باب نهی من اکل ثوما اوبصلا الخ عن حضور المسجد ص ۲۰۹ ج ۱ وص ۲۱۰ ج ۱. ظفیر

(۲). شرح نووی علی مسلم ص ۲۰۹ج۱ . ظفیر

(۳). فتح الباری شرح صحیح البخاری.

(۴). مشکوٰة باب الجماعت ص ۹۶.

(۵). مشکوٰة باب الجماعة ص ۹۶.

(۶). مشکوٰة باب المساجد ومواضع الصلوة فصل ثالث ص ۷۱ . ظفیر

آھــ ونحو ذلك في مجالس الابرار وغيره. ([1]) فقط والله تعالىٰ اعلم.

**دجمعې څخه بيل چې کم لمونځ وسو، هغه وسو اوکه نه؟ سوال**: (٥٥٥) که چيرې يوځاى جمعه ولاړه وى، اويو سړى دامام سره دخوابدتيا په وجه په جمع کې شامل نسى او خپل لمونځ ځان ته وکړى نوددغه سړى لمونځ صحيح سو اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ صحيح سو خودغه سړى ګنهګار اوفاسق سو ([2]).

**چې جمعه ولاړه وى نو بله جمع کول څنګه دى ؟ سوال**: (٥٥٦) بکر جومات ته په داسې وخت کې راورسيدى چې دمابنام جمعه ولاړه. بکريوسړى دځان سره کې اودمابنام لمونځ يې په لوړ آواز شروع کې. خلګو دبکر څخه پوښتنه وکړه، نوجواب يې ورکې چې په دې امام پسې لمونځ نه کيږى، ولې چې دى دجمعې په ورځ فاتحه نه ورکوى، ددې سړى په باره کې څه حکم دى؟

**جواب**: په دې صورة کې بکر سخت ګنهګار اوقصور وار فاسق اوتفرقه اچوونکى دى، چې دجمعې مخالفت کوى اوپه مسلمانانو کې تفرقه اچوى. ([3])

**دجومات دحجرې پرچت باندې جمعه: سوال**: (٥٥٧) په رمضان شريف کې که چيرې دګرمې په وجه دجومات دحجرې پرچت باندې دماخستن جمعه وسى نوجائزده اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ کيږى. خودجومات ثواب به نه ورکول کيږى. ([4])

**دجمعې ترک کونکې کور سوزل جائزنه دى: سوال**: (٥٥٨) دافتوٰى ورکول چې کم سړى په کورکې لمونځ کوى، جومات ته نه ځى، دهغه کورته داور لګولو حکم دى. څنګه دى؟

**داويناچې په کورکې لمونځ ګناه کبيره ده، څنګه ده؟ سوال**: (٥٥٩) داويل چې په کورکې لمونځ کول ګناه کبيره ده څنګه دى؟

**جواب**: (١) په حديث شريف کې تهديداً بيشکه داسې واردسوى وى چې نبى کريم ﷺ وفرمايل چې ما داسې اراده کړى وه چې کم خلګ لمانځه ته نه راځى دهغوى کورونو ته

---

([1]). ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها مطلب فى احكام المسجد ص٦٢١ ج١، ط.س. ج١ ص ٦٢١. ظفير

([2]). والجماعة سنة مؤكدة للرجال، قال الزاهدى ارادوا بالتاكيد الوجوب (درمختار) ان هٰذا يقتضى الاتفاق على ان تركها مرة بلا عذر يوجب اثما ؒ وقال فى شرح المنية والاحكام تدل على الوجوب من ان تاركها بلا عذر يعزر وترد شهادته وياثم الجيران بالسكوت عنه. (ردالمحتار. باب الامامة ص ٥١٢ ج١، ط.س. ج١ ص ٥٥٢). ظفير

([3]). ثمرته تظهر فى الاثم بتركها مرة (الدرالمختار على هامش رد المحتار. باب الامامة ص ٥١٨ ج١، ط.س. ج١ ص ٥٥٤). ظفير

([4]). قال ان رسول الله ﷺ علمنا سنن الهدى وان من سنن الهدى الصلوة فى المسجد الذى يؤذن فيه (مشكوٰة باب الجماعة).

اور ولګوم. لیکن دښځو اوماشومانو په وجه می داسی ونه کړل (١) ﷺ ددی څخه معلومه سوه چی اوس اور لګول جائز نه دی ولی چی هغوئ هم اور نه وو لګولی.

(٢) په جمعی ترك كولو باندی عمداً مواظبت كول بی عذره ګناه كبيره اوموجب دفسق دی. لیکن که چیری یووار دوه اتفاقًا جمعه ترك سوه نوداګناه كبيره نه ده. (٢) فقط

**<u>باران او سخته یخنی عذر دی اوکه نه؟</u> سوال**: (**٥٢٠**) كه چیری امام یا مقتدی دباران یا دژمی په ورځوکی دیخنی په وجه كله كله په جمع كی شريك نه سی نوآیا داعذر دترك جماعت دپاره كافی دی؟

**<u>دامام اومقتدی انتظار درست دی اوکه نه؟</u> سوال**: (**٥٢١**) آیادامام یامقتدی لس پنځه منټه انتظار كول درست دی، كله چی دجمعی وخت مقرروی؟

**جواب**: (١) په باران اوسخته یخنی كی په بعضو صورتونو كی عذر دترك دجماعت كیدی سی. (٣)

(٢) كله چی په وخت كی ګنجائش كافی سته نو انتظار درست دی. (٤) فقط

**<u>په حرم شریف کی چی اوله جمعه ونه نیسی نوآیا په دوهمه جمعه کی شریک سی؟</u> سوال**: (**٥٢٢**) كه چیری په حرم شریف كی جماعتِ شافعی ونه نیول سی نوخپل لمونځ په مسجد شريف كی ځان ته كول ښه دی اوكه په جماعت مالكی یاحنفی كی شريكيدل ښه دی. په جماعت ثانيه كی به لمونځ بغير كراهته جائزوی اوكه نه؟

**جواب**: خلاصه دسوال داده چی كه چیری چاته دحرم محترم په جومات كی مخكنی جمعه ونه رسيږی نودمالكی یاحنبلی یاحنفی په دوهمه جمع كی دی شريك سی اوكه نه؟

---

(١).قال رسول الله ﷺ والذی نفسی بيده لقد هممت آن آمر بحطب فيحطب ثم آمر بالصلوة فيؤذن لها ثم امر رجلاً فيؤم الناس ثم اخالف الی رجال وفی رواية لا يشهدون الصلوة فاحرق عليهم بيوتهم رواه البخاری، وعن ابی = هريرة ﷺ عن النبی ﷺ قال لولا ما فی البيوت من النساء والذرية اقمت صلوة العشاء وامرت فتياتی يحرقون مافی البيوت بالنار رواه احمد (مشكوة باب الجماعة وفضلها فصل اول وثالث ص **٩٥** وص ٩٧). ظفير

(٢). هَذَا يَقْتَضِي الاتفَاقَ عَلَى أَنَّ تَرْكَهَا مَرَّةً بِلا عُذْرٍ يُوجِبُ إِثْمًا مَعَ أَنَّهُ قَوْلُ الْعِرَاقِيِّينَ. والْخرَاسانِيُّون عَلَى أَنَّهُ يَأْثَمُ إِذَا اعْتَادَ التَّرْكَ كَمَا فِي الْقُنْيَةِ. وَقَالَ فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ: وَالأَحْكَامُ تَدُلُّ عَلَى الْوُجُوبِ، مِنْ أَنَّ تَارِكَهَا بِلا عُذْرٍ يُعَزَّرُ وَتُرَدُّ شَهَادَتُهُ وَيَأْثَمُ الْجِيرَانُ بِالسُّكُوتِ عَنْهُ. (رد المحتار . باب الامامة ص **٥١٥** ج ١ وص **٥١٢** ج١ ، ط.س. ج١ ص **٥٥٢**). ظفير

(٣). فلاتجب (الجماعة) علی مريض الخ ولاعلی من حال بينه وبينها مطر فطين وبردشديد وظلمة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص **٥١٩** ، ط.س. ج١ ص **٥٥٥**). ظفير

(٤). عن جابر بن سمرة قال كان بلال يوذن ثم يمهل فاذا رای النبی ﷺ قدخرج اقام الصلوة (ابوداود. باب فی المؤذن ينتظر الامام ص ٨٢ ج ١) وينتظر المؤذن الناس (عالمگيری. مصری الباب الثانی فی الاذان. فصل ثانی ص **٥٣** ج١، ط. ماجديه ج ١ ص **٥٧**). ظفير

اوس په دی ځای کی دوې مسئلی پیښبی دی. یوه داچی دبل مذهب والا اقتداء کول اوپه جمع سره لمونځ کول ښه دی اوکه ځان ته لمونځ کول ښه دی. نوپه دی مسئله کی دفقهاوو اختلاف دی. بعضی په جمعی سره لمونځ کولو ته ښه وایی، که څه هم امام دبل مذهب یعنی شافعی وغیره وی. نوپه دی مسئله کی راجح داده چی په جمعی سره لمونځ کول ښه دی، دځان دلمونځ کولو څخه. لکه څه رکم چی علامه شامی وروسته دنقل کولو داختلاف څخه فرمایلی دی: فنحصل الی الاقتداء بالمخالف المراعی فی الفرائض افضل من الانفراد اذا لم یجد غیره والا فالاقتداء بالموافق افضل (١) ﷺ (ﷺ)

اودوهمه مسئله داده چی په حرم شریف کی چی متعددی جمعی کیږی نوکه چیری چاته مخکنی جمعه ونه رسیده نوپه دوهمه اودریمه اوڅلورمه جمع کی شاملیدل جائزدی اوکه نه؟ اوجماعت ثانیه په حرم شریف کی جائزدی اوکه نه؟ اوپه جماعت ثانیه وغیره کی شریکیدل ښه دی اوکه ځان ته لمونځ کول ښه دی. نوپه دی کی هم اختلاف دی. اکثره محققین په حرم محترم کی هم دوهمی اودریمی جمعی وغیره ته مکروه فرمایی. دهغوی په نزد ظاهره ده چی ځان ته لمونځ اولٰی دی په دوهمه جمعه کی دشریکیدلو څخه. څنګه چی دمحلی دنورو جماتونو حکم دی.

اوبعضی علماء دافرمایی چی دحرم شریف دجومات حکم دمحلی دجومات غوندی نه دی بلکی دلاری دجومات غوندی دی هلته جماعت ثانیه (دوهمه جمعه) درسته ده. په دی شان علامه شامی وروسته دنقل کولو دقول دعلماوو محققینو کم چی په باره دانکار دجماعتِ ثانیه کی دهغوی څخه منقول دی، نقل کولو څخه وروسته فرمایلی دی: لکن یشکل علیه ان نحو المسجد المکی والمدنی لیس لهم جماعة معلومون فلایصدق علیه انه مسجد محلة بل هو کمسجد الشارع وقد مرَّ انه لا کراهة فی تکرار الجماعة فیه اجماعًا فلیتامل (٢) ﷺ اوبیا علامه موصوف جواز راجح ګڼلی دی لیکن فی الواقع قول دمحققینو څوك چی دعدم جواز قائل دی راجح معلومیږی، ولی چی په حرمینو شریفینو کی دامامانو اومؤذنانو مقرروالی معلوم دی اودهمیشه لمونځ ګذارو جماعت هم معلوم دی. که څه هم دحج اوزیارت په موسم کی دغیر معلومینو دجماعت اضافه وسی. وعن هٰذا ذکر العلامة الشیخ السندی (ﷺ) تلمیذ المحقق ابن الهمام فی رسالة ان ما یفعله

(١). رد المحتار. باب الامامة. مطلب فی الاقتداء بشافعی ونحوه ص ۵۲۷ ج ١، ط.س. ج١ ص ۵۶۳. ظفیر
(٢). رد المحتار باب الامامة مطلب فی تکرار الجماعت فی المسجد ص ۵۱۷ ج ١، ط.س. ج١ ص ۵۵۳. ظفیر

ﷺ باید ووایو چی پرهمدې موضوع باندی دعلامه سندی" رساله دهمدې جلد په پای کی وګورئ. حقانی"

اهل الحرمين من الصلٰوة بائمة متعددة وجماعة مترتبة مكروه اتفاقًا ونقل عن بعض مشائخنا انكاره صريحًا حين حضر الموسم بمكة سنة **۵۵۱** هـ منهم الشريف الغزنوى وذكر انه افتى بعض المالكية بعدم جواز ذلك على مذهب العلماء الاربعة ونقل انكار ذلك ايضًا عن جماعة من الحنفية والمالكية حضروا لموسم سنة **۵۵۱** هـ آهـ واقرة الرملى فى حاشية البحر (۱). ثم نقل العبارة المذكورة سابقًا اعنى لكن يشكل عليه ﷺ وقد مرّ الجواب عنها. فقط

**دجمعي څخه وروسته آيا په يوه درجه کی جلا جلا لمونځ کول کيږي؟ سوال**: (۵۲۳)

مشهوره ده چی که چيری دمازيگر لمونځ سوی وی او وروسته دوه سړی جومات ته دلمانځه دپاره راسی نوپه يوه درجه کی دواړه ځان ځان ته لمونځ نه سی کولی اولمونځ به نه کيږی. هرسړی دی په جلا درجه کی لمونځ وکړی. اوپه نورو لمونځونو کی همداشان جائز دی. دادرسته ده اوکه نه؟

**جواب**: داچی مشهوره ده غلطه ده لکه څنگه چی په نورولمونځونوکی که چيری مخکی جمع ونه نيول سی اودوه ياڅلور سړی وروسته راسی نوهغوی دجومات په يوه درجه کی ځانته لمونځ کولی سی. دغه رکم په هريو وخت کی کولی سی هيڅ وجه دفرق نسته.

**داقامت په شروع کی دمقتدی اوامام په دريدلو کی څه مصلحت دی؟ سوال**: (۵۲۴)

دمقتدی اوامام پردريدلو باندی داقامت په شروع کی تعامل راروان دی نوپه دی کی څه مصلحت دی؟

**جواب**: هغه خاص مصلحت دادی چی داحاديثو څخه معلوميږی چی دمخکی څخه دی برابروالی دصفونو وسی. نوکه چيری په حی علی الفلاح باندی مقتديان ودريدل ودريدل اوپر قدقامت الصلٰوة باندی امام تکبيرتحريمه وويل څنگه چی دفقهی دکتابونو دروايت څخه معلوميږی. نودمخکی څخه به دصفونو دبرابروالی وغيره انتظام ونه سی حالانکی دااَهم (۲) دی. اوپه حی علی الفلاح باندی ددريدو امر استحبابی دی اوپه دی کی تاويل هم کيدی سی هغه داچی ددی څخه دی تاخير نه کوی په تقديم کی هيڅ حرج نسته. فقط

**شيعه که چيری دسنيانو په جمعه کی شريک سی نوآيا ددی په وجه به څه نقص پيدا سی ؟**

(۱). رد المحتار باب الامامة مطلب فی تکرار الجماعت فی المسجد ص**۵۱۷** ج ۱، ط.س. ج۱ ص **۵۵۳**. ظفير

(۲). عن النعمان بن بشير ﷺ قال: كان رسول الله ﷺ يسوي صفوفنا حتى كأنما يسوي بها القداح حتى رأى أنا قدعقلناعنه ثم خرج يوما فقام حتى كاد أن يكبرفرأى رجلا باديا صدره من الصف فقال: عباد الله لتسون صفوفكم أو ليخالفن الله بين وجوهكم". رواه مسلم، وعن انس ﷺ قال اقيمت الصلاة فاقبل علينا رسول الله ﷺ بوجهه فقال اقيموا صفوفكم وتراصوا ﷺ (مشكوة باب تسوية الصف ص ۹۷ وص ۹۸). ظفير

**سوال**: (۵۲۵) په جمعه کی که چیری څوك شیعه په منځ کی ودریږی، اولمونځ کوی نو دسنیانو لمونځ به صحیح سی اوکه نه؟ اوهغه منع کول پکاردی اوکه نه؟
**جواب**: دسنیانو په لمانځه کی به په دی صورة کی څه نقصان اوخلل نه وی لیکن آئنده به دغه رافضی ته ووایی چی یادی هغه دخپل مذهب څخه توبه وکاږی کنی دمسلمانانو جمعی ته دی نه راځی اوهغه دی مسلمانان په خپل قبرستان کی نه ښخوی. فقط

**دچا څخه چی جمعه تیره سی ځان ته په جومات کی لمونځ وکړی اوکه په کور کی جمع وکړی**: **سوال**: (۵۲۶) دیو سړی څخه دجمع لمونځ فوت سو آیادی په جومات کی ځان ته لمونځ وکړی اوکه په کورکی دجمعی سره لمونځ وکړی.
**جواب**: که چیری په کورکی په جمعی سره لمونځ ممکن وی نو داښه اوبهتره دی. ولی به داسی نه وی حال داچی دامروی دی درسول الله ﷺ څخه څنګه چی یی په ردالمحتار کی نقل کړی دی. (۱) فقط

**په جومات کی دوهمه جمعه اودوباره جمعه**: **سوال**: (۵۲۷) یوسړی دضد په وجه په همدغه جومات کی خپل ځان ته پنځه وخته لمونځ اوجمع کوی. جماعت ثانیه اوجمعه دوباره کول څنګه دی. **جواب**: دوهمه جمعه دمحلی په جومات کی کول مکروه دی اودجمعی لمونځ دوباره په همغه جومات کی په کم کی چی جمعه سویده جائز نه دی. «والظاهر انه یغلق ایضًا بعد اقامة الجمعة لئلا یجمع فیه احد بعدها» شامی (۲) . نو کم سړی چی دضد په وجه داسی کوی هغه سخت ګنهګاردی.

**دامام دفسق په وجه په کور کی لمونځ**: **سوال**: (۵۲۸) په فاسق امام پسی دلمانځه مکروه کیدلو په خیال سره خپل په کورکی یاجومات کی دجمعی څخه مخکی یادجمعی څخه وروسته ځان ته لمونځ کول جائز دی اوکه ناجائز. اوځان ته لمونځ کونکی ته به تارك جماعت خونه ویل کیږی؟
**جواب**: په درمختارکی دی: وفی النهر عن المحیط صلی خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة (۳). پردی باندی علامه شامی لیکلی دی: قوله نال فضل الجماعة ؒ ان الصلوة خلفهما اولی من الافراد (۴) الخ نو معلومه سوه چی د یوازی لمونځ کولو څخه دا ښه دی

(۱). ولنا انه عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ کان خرج لیصلح بین قوم فعاد الی المسجد وقد صلی اهل المسجد فرجع الی منزله فجمع اهله وصلّی. (رد المحتار . باب الامامة ص ۵۱۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۳). ظفیر
(۲). ردالمحتار باب الجمعه تحت قول الماتن وافاد ان المساجد تغلق یوم الجمعة الا الجامع ص ۷۶۶ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۱۵۷. ظفیر
(۳) و (۴) وګوری رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲. ظفیر

چې په مذکوره جماعت کې شامل سی.

**په جمعه کې دمهتر شرکت**: **سوال**: (۵۶۹) دمهتر قوم یوسړی بغیر دمسلمانیدلوکه چیری دجمعې په لمونځ کې شریکیږی نو هغه شریکول پکار دی اوکه نه ؟ هغه خپله برادری نه پریږدی؟

**جواب**: په جمعه کې دشریکیدلو څخه هغه مه بندوی، هسی نه چې په وعید، وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسَاجِدَ اللهِ اَنْ يُّذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهُ (۱) کې داخل سی، په لمونځ اوجمعه کې به هغه هغه وخت داخلیدل غواړی چې دهغه په زړه کې به اسلام وی اوپه مهتر قوم (کې) بعضې مسلمانان هم وی. غالبًا هغه به هم دهغه کسانو څخه وی کم چې مسلمانان دی.

**دښار په غیر آباد ځای کې اذان اولمونځ**: **سوال**: (۵۷۰) یوجومات په ځنګل کې ددریاب په غاړه واقع دی، او هغه جومات غیر آباد دی، په هغه کې څوك لمونځ نه کوی، که یو سړی دښار یاکلی څخه په هغه کې دیره سی اوپنځه وخته په اذان اوتکبیرویلوسره لمونځ کوی نوهغه ته به دجمعې ثواب ورکول کیږی اوکه نه؟ اودهغه په حق کې په دغه جومات کې ځان ته لمونځ کول ښه دی اوکه دجمعې ترك کولو په وجه به ګنهګاریږی؟

**جواب**: په دغه جومات کې داذان اواقامت ویلو څخه وروسته ځان ته په لمونځ کولو کې هم دجمعې ثواب حاصلیږی اوددغه ښارجومات آبادول په بعضو وجوهاتوسره افضل دی اوددی څه تفصیل دفقهې کتابونو کې لیکل سوی (۲) دی.

**دتجارت په وجه جمعه ترک کول**: **سوال**: (۵۷۱) زید سوداګر دی اوهغه په خپل نوکر یایو بل ملګری باندی دخپل کاروبار اعتماد نه سی کولی چې هغه دی خلګوته (خپله سودا) پریږدی اودجمعې لمونځ داداء کولودپاره جومات ته ولاړسی اوکه چیری وکی نوخیالات یې منتشر کیږی، اوس په دی باره کې دزید دپاره څه حکم دی، آیاهغه په دوکان کې لمونځ کوی اوکه جومات ته ځی، ځکه چې جومات ته په تللو کې ډیر تکلفات کول وی.

**جواب**: که چیری دنقصان اندیښنه وی اودوکان بندول ګران وی نودغه سړی دی په دوکان کې لمونځ وکړی. کما فی الشامی. قوله وخوف علی ماله ای من لص ونحوه اذالم یمکنه غلق الدکان والبیت مثلاً (۳) فقط.

---

(۱). سورة البقره رکوع ۱۴ . ظفیر

(۲). مؤذن مسجد لایحضر مسجده احدا قالوا هو یؤذن ویقیم ویصلی وحده وذلك احب من ان یصلی فی مسجد اخر (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۵). ظفیر

(۳). رد المحتار باب الامامة ص ۵۱۹ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۳. ظفیر

**دجمع ترک کونکی حکم:** **سوال:** (۵۷۲) کم سړي چې په جومات کې سره دجمع قائم کیدلو ځانته لمونځ کوي اوپه جمعه کې نه شریکیږي دهغه څه حکم دی. په دی فعل سره کفر لازمیږی اوکه نه؟

**جواب:** کفر نه لازمیږی خودغه سړی فاسق دی، توبه دی وکاړی ان تارکها (الجماعة) بغیر عذر یعزر وترد شهادته ویاثم الجیران بالسکوت عنه. غنیة المستملی ص ۴۷۵، ظفیر.

**دامام سره دجګړي په وجه جمعه ترکول** **سوال:** (۵۷۳) دیوسړی دجومات دامام سره جګړه سویده. دغه سړی په جمعی سره لمونځ کول پرې ایښی دی کم وخت چې لمونځ شروع سی نودغه سړی ځانته لمونځ شروع کړی دغه سړی ګنهګاردی که نه؟

**جواب:** په داسی حالت کې جمعه پریښوول اوځانته لمونځ کول سخته ګناه ده، دغه سړی به ګنهاریږی. (۱)

**دیو سلام ګرزولو څخه وروسته په جمعه کې شریکیدل درست نه دي:** **سوال:** (۵۷۴) دامام یو سلام ګرزولو څخه وروسته زید تحریمه وویل اوپه جمعه کې شامل سو نولمونځ صحیح سو اوکه نه؟ **جواب:** فی الدر المختار وتنقطع التحریمة بتسلیمة واحدة (۲) الخ نو په صورة مذکوره کې اقتداء صحیح نه سوه اوهغه دی دسره تکبیر تحریمه ووایی اوځان ته دی لمونځ وکړی. فقط

**په مکه مکرمه کې څلور مصلي ولي دي؟** **سوال:** (۵۷۵) په مکه شریفه کې څلور مصلی ولی قائمی سوی دی اوهلته دتعدد جماعت څه حکم دی؟

**جواب:** په دی کې اختلاف دعلماوو دی څنګه چې یی په شامی کې نقل کړی دی. لیکن په آخره کې یی فرمایلی دی چې په مسجد حرام کې متعددی جمعی مکروه نه دی. (۳)

**دمسجد قارعة الطریق تشریح:** **سوال:** (۵۷٦) د دوهمی جمعی څه حکم دی او د مسجد

---

(۱). ان تارکها (ای الجماعة) من غیر عذر یعزر وتردشهادته ویاثم الجیران بالسکوت (غنیة المستملی ص ۴۷۵). ظفیر

(۲).الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ط. س. ص ۴۹۰ ج ۱. ظفیر

(۳). ویکره تکرار الجماعة الخ (درالمختار) وعن هٰذا ذکر العلامة الشیخ رحمة الله السندی تلمیذ المحقق ابن الهمام ان مایفعله اهل الحرمین من الصلوة بائمة متعددة وجماعات مترتبة مکروه اتفاقا ونقل عن بعض مشائخنا انکاره صریحًا الخ وقد مر انه لاکراهة فی تکرار الجماعة فیه اجماعًا (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۱۷ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۲) لکن الف العلامة الشیخ ابراهیم البیری شارح الاشباه رسالة سماها (الاقوال المرضیة) اثبت فیها الجواز وکراهة الاقتداء بالمخالف الخ وکذا الف العلامة الشیخ علی القاری رسالة سماها (الاقتداء فی الاقتداء) اثبت فیها الجواز لکن نفی فیها کراهة الاقتداء بالمخالف اذا راعی فی الشروط والارکان فقط (ردالمحتار. کتاب الصلاة ص ۳۵۰ ج۱ مطلب فی تکرار الجماعت، ط.س. ج۱ ص ۳۷۷). ظفیر

قارعة الطريق څخه څه مراد دی؟

**جواب**: دمسجد قارعة الطريق څخه مراد دادی چی په هغه کی دوهمه جمعه مکروه نه ده اودمحلی په جومات کی دوهمه جمعه مکروه [1] ده. فقط

**جذامی په جمعه کی شریکیدلی سی اوکه نه؟** **سوال**: (٥٧٧) دجذامی سړی په جمعه کی شریکیدل پکاردی اوکه نه؟ اونورو خلګو ته نفرت کول پکاردی اوکه نه؟

**جواب**: دجذامی څخه جمعه اوجماعت ساقط اومعاف دی، په دی وجه چی هغه دی جومات ته نه راځی. نوجذامی ته نه دی پکار چی هغه په جمعه کی شریك سی، اوکم خلګ چی دجذام وهلی سړی څخه جلا سی اوځان ځینی ساتی نوپر هغوی باندی هیڅ ملامتیانسته ځکه چی دجذامی څخه دتبنتیدلو اوخلاصیدلوحکم رسول اللهﷺ فرمایلی [2] دی. فقط

**چی په یو جومات کی جمعه پیدا نه سی نوآیا بل جومات ته ولاړ سی؟** **سوال**: (٥٧٨) که چیری په یو جومات کی جمعه پیدا نه سوه نوبل جومات ته دجمعی دنیولو دپاره تلل څنګه دی؟

**جواب**: که په یوجمات کی جمع سوی وی نوکه چیری په بل جومات کی دجمعی ورکولو امیدوی نوبل جومات ته تلل اوپه جمعی سره لمونځ کول ښه اودثواب موجب دی، په سلفو کی به دامت اکابرو داسی کول چی په یوجمات کی به جمعه سوی وه نوبل جومات ته به دجمعی په تلاش تلل [3]. فقط

**په جمعه کی تلوار**: **سوال**: (٥٧٩) زید دیوجمات امام دی اودهغه ورور مؤذن دی، داجامع مسجد دی، لمونځ ګذار زیات پکښی راجمع کیږی، امام اومؤذن چی کم اصول دجمع دپاره مقرر کړیدی، هغه دلمونځ ګذارو څخه خلاف دی، هغه داچی مؤذن اذان وکی، امام صاحب راحاضر سو، دڅلورو رکعاتو په مقدار یی انتظار وکی، په دی دوران کی که دوه یاڅلور سړی راغلل نولمونځ یی شروع کی که رانغلل نوهم یی شروع کوی.

---

(١). قال فی الشامی ومقتضی هٰذا الاستدلال کراهة التکرار ولوبدون اذان الخ شامی ص ٥١٢ ج١.

(٢). واکل ثوم ویمنع منه وکذا کل موذو ولوبلسانه (درمختار) وکذالك الحق بعضهم بذالك من بفيه بخر اوبه جرح له رائمة وکذالك القصاب والسماك والمجذوم والابرص اولی بالالحاق (ردالمحتار. مایفسد الصلوة وما یکره فیها مطلب احکام المسجد ص ٦١٩ ج١ ، ط.س. ج١ ص ٦٦١). ظفیر

(٣). ولوفاتته ندب طلبها فی مسجد اٰخر الا المسجد الحرام ونحوه (درمختار) فلایجب الطلب فی المساجد بلا خلاف بین اصحابنا بل ان اتی مسجدا للجماعة فحسن وان صلی فی مسجد حیه منفردا فحسن الخ وردالمحتار. باب الامامة جلد اول ص ٥١٨ ، ط.س. ج١ ص ٥٥٥). ظفیر

اوپه دغه مقدار معینه باندی دلمونځ گذارو راجمع کیدل ناممکن دی، که چیری لس دولس منټه انتظار وسی نوټول لمونځ گذاربه راجمع سی، اوډیر لوی جماعت به په لمانځه کی شریك سی. امام صاحب ته داوینا هم وسوه چی پنځلس منټه انتظار کوی، چی ټول لمونځ گذار جمعی ته راځی. خو هغه د خپل حرکت څخه نه اوړی په دی صورة کی ددی امام څه حکم دی اوددوهمی جمعی څه (حکم) دی؟

**جواب**: مؤذن اوامام ته دومره تلوار کول نه دی پکار، کله چی دلمونځونو وخت موسع (فراخه) دی نوهیڅ وجه دداسی تلواری نسته اوانتظار دلمونځ گذارو ډیر ضروری دی. دنیمی گنټی په انتظار کی تقریباً داکارونه کیدی سی (یعنی داستنجاء وغیره څخه فراغت) امام ته دغومره انتظار کول پکار دی اودلمونځ گذارو رعایت کول پکاردی. په دی خودرایی کی اودمحلې دخلگو په انتظار نه کولو کی امام ته پرځای دثواب ورکولو دگنهگاریدلو [1] خطره ده. دمحلی خلگ هغه معزلولی هم سی. دمحلی خلگو او لمونځ گذارو ته پکاردی چی که امام داتلواری کول پری نه ږدی نوهغه دی موقوف کړی اوبل امام دی مقرر کړی. دوهمه جمعه مکروه ده ددی ارتکاب هیڅکله مه کوی. دامام انتظار کوی. فقط

**داودس مات دتقاضا په وخت کی دی مخکی دهغه څخه فارغه سی، بیا دی لمونځ وکړی**

**سوال**: (۵۸۰) زید چی سهار ولاړیدی نوهغه ته دلوی اودس مات ضرورت وو. که بیت الخلاء ته ځی، نولمونځ ځینی قضا کیږی، نواول داودس مات څخه فارغه سی اوکه لمونځ اداء کړی ؟

**جواب**: مخکی دی قضاءِ حاجت ادا کی بیا دی قضاء لمونځ وکړی. [2] فقط

**دامام دمقررولو طاقت نه لرلو په وجه په بعضو جوماتونو کی جمعه بندول څنگه دی؟**

**سوال**: (۵۸۱) که په یوښار کی ډیر جوماتونه وی اولمونځ گذار کم وی په هر یو جومات کی دامام مقررولو طاقت نه لری نوکه چیری متصل محلی والا په شریکه

---

[1]. ویجلس بینهما بقدرمایحضر الملازمون مراعیالوقت الندب الافی المغرب فیسکت قائما قدر ثلاث ایات قصار ویکره الوصل (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الاذان ص ۳۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۳۸۹). ظفیر

[2]. فلاتجب (الجماعة) علی مریض الخ اومدافعة احد الاخبثین (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۱۹ و ۵۲۰ ج ۱ ط.س. ج۱ ص ۵۵۵ و ۵۵۲) کره الخ وصلاته مع مدافعة الاخبثین اواحدهما او الریح للنهی (درمختار) الاخبثین ای البول والغائط قال فی الخزائن سواء کان بعد شروعه او قبله فان شغله قطعها ان لم یخف فوت الوقت وان اتمها اثم الخ (رد المحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ص ۲۰۰ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۲۴۱). ظفیر

یوجومات کی امام مقرر کړی اونور جوماتونه پریږدی په یوجومات کی په جمعی سره په امام مذکور پسی لمونځ اداء کړی نوڅه حکم دی؟

**جواب**: ښه داده چی حتی الوسع دی ټول جوماتونه آباد کړی او لږ لږ لمونځ ګذاردی په ټولو جوماتونو کی لمونځ کوی دمجبوری په حالت کی چی څنګه په وسه وی هغسی دی کوی. ([۱]) فقط

**<u>دجومات پریښوول درست نه دی</u>**: **سوال**: (**۵۸۲**) په داسی حمام کی چی په څلورو طرفونو کی پکښی دود وی په هغه کی لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟ مثلاً ترحمام لوړ خانقاه وی په هغه کی لمونځ اداء کول څنګه دی؟ په مخکنی جومات چی صرف په پنځلس**۱۵** قدمه فاصله کی دی په هغه جومات کی لمونځ نه اداء کوی بلکه دمودی راهیسی یی لمونځ معطل ګرزولی دی، څه حکم دی؟

**جواب**: جومات معطل ګرزول او خرابول جائزنه دی که څه هم ترحمام لوړ خانقاه کی لمونځ اداء کول جائزدی لیکن جومات پریښوول اوپه دغه خانقاه کی لمونځ اداء کول ښه نه دی. دمحلی جومات آبادول دمحلی پرخلګو لازم دی. بدوالی ددی فعل چی جومات پریږدی اوحمام ته نژدی چی ددود جمع کیدلو ځای دی لمونځ اداء کوی اوبی ضرورته ددی فعل التزام کول په چا باندی پټ نه دی. ([۲])

**<u>دکور دحفاظت په وجه جمعه پریښوول</u>**: **سوال**: (**۵۸۳**) که چیری دکور دحفاظت په وجه په کور کی لمونځ کوی نوآیا دجمعی ترك کولو ګناه به وی؟

**جواب**: جمع ترك کول اوعلی الدوام تارك دجماعت کیدل دکبائرو څخه دی، اوفسق او معصیت دی. دجمعی ضرور اهتمام کول پکاردی. ([۳])

**<u>په جمعه کی دشړی سړی رعایت</u>**: **سوال**: (**۵۸۴**) دجومات امام دچارعایت کولی سی اوکه نه؟ **جواب**: فقهاوو لیکلی دی چی په بعضی ځایونو کی دیو شړی سړی هم امام رعایت

---

([۱]). ومسجد حیه افضل من الجامع (درمختار) ای الذی جماعته اکثر من مسجد الحی الخ بل فی الخانیة لولم یکن لمسجد منزله مؤذن فانه یذهب الیه ویؤذن فیه ویصلی ولوکان وحده لان له حقا علیه فیؤدیه (ردالمحتار. باب مایفسد الصلوة مطلب احکام المسجد ص ۶۱۷ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۵**). ظفیر

([۲]). ثم الاقرب الخ ومسجد حیه افضل من الجامع (درمختار) بل فی الخانیة لولم یکن لمسجد منزله مؤذن فانه یذهب الیه ویؤذن فیه ویصلی ولوکان وحده لان له حقا علیه فیؤدیه (ردالمحتار. باب مایفسد الصلوة مطلب احکام المسجد ص ۶۱۷ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۵**). ظفیر

([۳]). والجماعة سنة مؤکدة للرجال الخ وقیل واجبة وعلیه العامة ﷺ قال فی البحر وهو الراجح عند اهل المذهب ﷺ ثمرته تظهر فی الاثم بترکها مرة الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ج ۱ ص **۵۲۰**، ط.س. ج۱ ص **۵۵۲**). ظفیر

کولی سی، کله چی دهغه څخه دڅه فساد اندیښنه وی (۱). فقط

**په جمعه کی تاخیر**: **سوال**: (۵۸۵) په دی علاقه کی په یوه کوڅه (ګلۍ) کی دننه یو کوچنی جومات دی چی په هغه کی صرف پنځه یا اووه لمونځ ګذاردی. په دی جومات کی پنځه وخته دجمعی دپاره دوختونو پایبندی بالکل نه کیږی عموماً پر انتهایی وخت باندی لمونځ کیږی چی په هغه کی بعضی اوقات دوخت فوت کیدلو احتمال وی کنی کم از کم دجمعی فضیلت خوقطعی نه حاصلیږی. ددسمبر اوجنوری په میاشت کی دسهار دلمانځه سلام داوو۷ بجو څخه دری څلور منټه مخکی ګرزول کیږی. کم وخت چی دسائل په خیال کی دلمر کناره شاید دآسمان دغاړی څخه پرښکاره کیدلو وی. سرخی او دورځی رڼا په ښه ډول سره ښکاره سی. درحمت الله رعد کانپوری په جنتری کی یی په ۱۴دجنوری کال ۱۹۱۸ م کی پرشپږ بجی اوشپږ څلویښت دقیقې (6:46) باندی لمر راختل لیکلی دی. دماپښین لمونځ اکثره دوی بجی یا ددوو بجو څخه دوه څلور منټه وروسته وی او ددوو بجو څخه مخکی ډیرکم کیږی. په داسی صورة کی سائل چی په اول وخت کی لمونځ کول غواړی دجمعی څخه مخکی دلمونځ ګذارو جمع کیدلو څخه که چیری جلا خپل لمونځ کوی نوځنګه دی؟

**جواب**: دریلوې ټائم مطابق جنتری موجوده اومعموله په دې مدرسه کی ۱۴ جنوری ته په اووه بجی او یوویشت منټه (7:21) باندی لمر راختل درج دی، بلکی د۳ جنوری څخه تر ۱۸ دجنوری پوری همدغه وخت دلمر راختلو دی اوجنتری صادقه (۲) ده اوتجربه ددی دکلونو راهیسی ده، اواول وخت دمازیګر د ۱۴جنوری دیارلس منټه بالا څلور بجی (4:13) باندی دی اوددی څخه مخکی مخکی آخر وخت دماپښین موافق دمذهب دامام ابوحنیفه رحمه الله وی. نوکم ساعت (ګړی) چی دریلوی ټایم سره برابر دی په هغه کی که چیری په جنوری کی تراوو ۷ بجو پوری دسهار لمونځ وسی نوتر دغه وخته پوری دسهار دلمانځه وخت ښه وی. همدغه ډول تردوو ۲ پاو باندی دوو (2:15) بجو پوری دماپښین وخت هم ښه وی. په داسی حالت کی جمعه ترك کول هیڅکله درست نه دی. اوواضحه دی وی چی داحنافو په نزد دسهار په لمونځ کی ښه اسفار یعنی په رڼایی کی لمونځ کول

---

(۱). رئیس المحلة لاینتظر مالم یکن شریرا والوقت متسع (الدر المختار علی هامش ردالمحتار. باب الاذان ص ۳۷۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۰۰). ظفیر

(۲). حضرت مفتی علام" ددیوبند دجنتری حواله ورکړیده اوسوال دکانپوردی، نوځکه په کانپور کی دشپږ نیمو بجو څخه مخکی جماعت ختمیدل پکاردی.

ښه دی. هٰکذا فی الدر المختار (۱) فقط

**دسلام گرځيدلو په وخت کی په تکبيرِ تحريمه او جمعه کی شريکيدل : سوال** : (۵۸۶)

زيد تکبيری تحريمه وويل او امام سلام وگرزوی او زيد دامام سره په قعده کی بالکل شريك نه سو نواوس زيد ته دوباره تکبيرِ تحريمه ويل پکاردی اوکه دغه مخکنی تکبير تحريمه کافی دی؟

**جواب**: چی پوره تکبيرِ تحريمه يعنی الله اکبر يی دامام دسلام گرزولو څخه مخکی ويلی دی نوهغه په جمعه کی شريك سو اوس هغه ته دوباره دتکبير ويلو ضرورت نسته. قال فی الحلية عند قول المنية ولا دخول فی الصلوٰة الا بتکبير الافتتاح. شامی

**دمتعين امام په غير موجود گی کی امامت**: **سوال**: (۵۸۷) په فتاوٰی رشيديه کی دی چی که چيری يوڅوکسان په مقرر وخت کی دمتعين امام په غير موجودگی کی په جمعی سره لمونځ وکړی، نو متعين امام بيا جمعه بغير دکراهت څخه کولی سی. اودجمعی ثواب به دی دوهم جماعت ته رسيږی. نه اول الذکر ته، خوپه درمختار کی چی کم ځای دکراهت لازميدلو شرائط امام اعظمؒ اوامام ابويوسفؒ بيان کړی دی هلته دتعين دوخت يا دامام هيڅ شرط نسته، په دی صورة کی دی څه وسی، شرعًا څه حکم دی؟

**جواب**: په شامی کی ددی تصريح ده چی که چيری مخکنی جمعه غير اهل مسجد کړی وی نوپه دی صورة کی دوهمه جمعه مکروه نه ده بلکی په دی حالت کی معتبره دوهمه جمعه ده اودمخکنی جمعی اعتبار نسته. يعنی په دی معنٰی چی دجومات خلگوته دجمع کولو حق سته که څه هم ثواب دجمعی به مخکی جمعی والاوو ته هم حاصل سی. عبارت دهغه دادی: عبارته فی الخزائن اجمع مما هٰهنا ونصها ويکره تکرار الجماعة فی مسجد محلة باذان واقامة الا اذا صلی بهما فيه اولا غير اهله (۲) الخ اودنورو عبارتونو څخه هم دامفهوميږی: ويؤيده ما فی الظهيرية ولو دخل جماعة المسجد بعد ماصلی فيه اهله يصلون وحدانا وهوظاهر الرواية (۳) شامی. په دی عبارت کی داهلهِ دقيدڅخه دغير اهل مسجد جماعت خارج سو. دغه رکم په باب الاذان کی دی: وحينئذ فلو دخل جماعة المسجد بعد ماصلی اهله فيه فانهم يصلون وحدانا . الخ ، نو معلومه سوه چی په فتاوٰی

---

(۱). يستحب الاسفار بالفجر لقوله ﷺ اسفروا بالفجر فانه اعظم للاجر (هدايه کتاب الصلوة باب المواقيت ص ۷۸ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۳۶۶). ظفير

(۲). ردالمحتار. باب الامامة ج ۱ ص ۵۱۶ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۳. ظفير

(۳). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۱۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۳. ظفير

رشید یه کی چی څه دی هغه صحیح دی. ([1])

**دفساد دبیری څخه دجومات جمعه پریښوول درست دی، که نه؟ سوال**: (۵۸۸) دمسجد یو بانی دمسجد امام یوه ورځ ووهی اوښکنځل یی ورته وکړل په دی وجه شل مسلمانان په کور کی جمعه اوجماعت کوی. داجائز دی که نه؟ په وجه دخوف دفتنی او فساد؟

**جواب**: په دی حالت کی په کور کی جمعه اوجماعت کول درست دی. فقط

**په تراویحو کی دښځو جماعت کول مکروه دی: سوال**: (۵۸۹) یوه ښځه دقرآن حافظه ده. که چیری دغه ښځه کلامِ ربّانی په تراویحو کی ویل غواړی نو دښځو جماعت کیدی سی او که نه؟

**جواب**: دښځو جماعت مکروه تحریمی دی، نه دی کول پکار. ([2])

**دځان ته لمونځ کولو ثواب په کورکی زیات دی اوکه په جومات کی؟ سوال**: (۵۹۰) زید په جومات کی ځان ته لمونځ کوی اوبکر په کور کی لمونځ کوی. ددواړو په ثواب کی څه فرق سته او که نه؟

**جواب**: کم سړی چی په جومات کی دجمعی لمونځ پریږدی اوپه کورکی دلمونځ کولو عادی دی اودجمعی پرېپرېښوولو باندی مصرِ دی هغه فاسق دی. په احادیثوکی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی که چیری دماشومانو اوښځو خیال نه وای نومابه دهغه خلګو کورونو ته اور ورکړی وای څوك چی جومات ته دجمعی لمانځه ته نه راځی. ([3])

نوکم سړی چی جومات ته راځی اوځانته لمونځ کوی اودجمعی خیال نه ساتی اوخپل عادت دجمعی ترك کولو کوی یاپه کورکی دځان ته لمونځ کولو عادی وی اوجمعه ترك کوی، دواړه فاسقان اودواړه دحرام کار ارتکاب کونکی دی. په دوی کی به دچا په باره کی وویل سی چی زیات ثواب فلانکی ته دی، اوفلانکی ته نه دی. دوی دواړه ګنهګار دی. دواړو ته دالازم دی چی دجمعی پابندی دی کوی، نه دی په کورکی ځانته لمونځ کوی اونه دی په جومات کی ځانته لمونځ کوی. دمجبوری په وجه که اتفاقًا جمعه فوت سی نودا جلا خبره ([4]) ده.

---

([1]). رد المحتار باب الاذان ص ۳۲۷ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص **۳۹۵**. ظفیر

([2]). ویکره تحریمًا جماعة النساء ولوفی التراویح فی غیر صلوٰة جنازة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۸** ج ۱، ط.س. ج۱ ص **۵۲۵**). ظفیر

([3]). عن ابی هریرة رضی الله عنه عن النبی ﷺ قال لو لا ما فی البیوت من النساء والذریة اقمت صلوة العشاء وامرت فتیاتی یحرقون مافی البیوت بنار. رواه احمد (مشکوٰة باب الجماعة فصل ثانی ص۹۷). ظفیر

([4]). قال محمد فی الاصل اعلم ان الجماعة سنة مؤکدة لایرخص الترك فیها الا بعذر مرض اوغیره رحمه الله ففی الغایة =

**په ځنګل کی دلمانځه کولو فضیلت یوازی دسړی دپاره دی اوکه جماعت دپاره؟ سوال**: (۵۹۱) په ځنګل کی دلمانځه کولو چی کم لوی فضیلت راغلی دی نویوازی سړی ته دی اوکه په جماعت سره، اودا ظاهره ده چی په ځنګل کی جماعت ډیر مشکل دی؟

**دوهمه جمعه مکروه تحریمی ده او که تنزیهی ؟ سوال** : (۵۹۲) په دوهمه جمعه کی کراهت تحریمی دی اوکه تنزیهی؟ او دمکروه تحریمی مرتکب دګناه کبیره مرتکب دی اوکه دصغیره؟

**داستوګنی په کور کی دوهمه جمعه مکروه ده اوکه نه؟ سوال**: (۵۹۳) داستوګنی په کورکی دوهمه یا دریمه جمعه کول مکروه دی اوکه نه؟

**په محراب کی به امام څه رکم دریږی؟ سوال**: (۵۹۴) دجومات په محراب کی امام ته څه رکم دریدل پکاردی. که چیری بالکل دننه دریږی نومکروه تحریمی دی یاتنزیهی. دقدم دڅومره حصې دباندی ایستلو سره به دریږی. سره دحوالی دکتابونوپې تحریر وفرمایی.

**جواب**: (۱) په ځنګل کی دلمانځه کولوفضیلت دی، ددی دامطلب نه دی چی دجوماتونو څخه زیات په دی کی فضیلت دی. دحدیث شریف څخه دجوماتونو خیرالبقاع (په ځایونو کی بهترین) کیدل ثابت (۱) دی. بلکی مطلب ددی دادی چی کله یوسړی په ځنګل کی وی اودلمانځه وخت راسی نوهلته دی لمونځ وکړی، که ډیر کسان وی نوجمعه دی وکړی اوکه یووی نویوازی دی وکړی. په هرډول فضیلت حاصل دی. په شامی کی دی: وروی فی الخبر ان من صلی علی هیئة الجماعة ای باذان واقامة ولوکان منفرداً صلت بصلوته صفوف (۲) الملئکة. ﷺ

(۲) قال فی الشامی قوله: ویکره تکرار الجماعة ﷺ ای تحریماً لقول الکافی لا یجوز والمجمع لا یباح وشرح الجامع الصغیر انه بدعة ﷺ. شامی (۳)

ددی څخه معلومه سوه چی په دوهمه جمعه کی کراهت تحریمیه دی.

(۳) مکروه نه ده. (۴)

---

= قال عامة مشائخنا انهاواجبة ﷺ وفی البدائع تجب علی العقلاء البالغین الاحرار القادرین علی الجماعة من غیر حرج انتهٰی، والادلة تدل علی الوجوب ﷺ وکذا الأحکام تدل علی الوجوب من ان تارکها من غیر عذر یعزر وترد شهادته ویاثم الجیران بالسکوت عنه. (غنیة المستملی فصل فی الامامة ص ۴۷۴). ظفیر

(۱). فقال شر البقاع اسواقها وخیر البقاع مساجدها رواه ابن حبان. (مشکوٰة باب المساجد ص ۷۱). ظفیر

(۲). درمختار فصل فی القراءة. قوله ولو منفرد ا لانه ان اذن واقام صلی خلفه من جنود الله ما لایری طرفاه رواه عبد الرزاق. (ردالمحتار باب الاذان ج۱ ص ۳۲۲، ط.س. ج۱ ص ۳۹۴). ظفیر

(۳). ردالمحتار مطلب فی تکرار الجماعة فی المسجد. باب الامامة ص ۵۱۲ ج ۱. ظفیر

(۴). ویکره تکرار الجماعة باذان واقامة فی مسجد محلة، لا فی مسجد طریق اومسجد لا امام له ولامؤذن =

(۴) په درمختارکی دی: وقیام الامام فی المحراب لا سجوده فیه وقدماه خارجه لان العبرة للقدم ([1]) ؒ ددی څخه معلومه سوه چی که چیری قدمونه یی دمحراب څخه دباندی وی نو کراهت نه پاته کیږی. او په شامی کی یی ویلی دی : وفی حاشیة البحر للرمل الذی یظهر من کلامهم انها کراهیة تنزیهیة. فتامل ص نمبر: ۴۳۴، جلد اول. ([2])

**دیوی جمعی په دوران کی دبلی جمعی کوشش؟ سوال**: (۵۹۵) زید نومی یوسړی باوجود ددی چی جمعه ختمه نه وه، تکبیر یی ووایه، اودوهمه جمعه یی وکړه اودا جمعه یی صرف په دی وجه وکړه چی داولنی جمعی امام غیر مقلد وو. یعنی اهلِ حدیث په دغه جومات کی امام دی. کله چی لمونځ ختم سو نوغیر مقلد امام ددوهمی جمعی مقتدیانو ته وویل چی تاسی دلمانځه اعاده وکی ولی چی ستاسی لمونځ په دی وجه ونه سو چی په حدیث شریف کی راغلی دی اذا اقیمت الصلوة فلا صلوة الا التی اقیمت. اوس سوال دادی: ([3]) په پورته ذکرسوی صورة کی په دغه حدیث شریف سره دهغه لمونځ باطلیدل ثابتیږی اوکه نه؟ کم چی داولنی جمعی دختمیدلو څخه مخکی شروع سوی وی. که چیری ثابتیږی نواعاده په جمعی سره پکارده اوکه دجمعی څخه بغیر؟ اوکه نه ثابتیږی، نوپه یوه جومات کی دیوفرض ددوو جمعو په یووخت کی دناجائزوالی څه دلیل دی.

**دیوی جمعی دوران کی دبلی جمع کونکی لمونځ وسو اوکه نه؟ سوال**: (۵۹٦) په پورتنی صورة کی دحدیث مذکور څخه قطع نظر خاص دحنفی مذهب په اعتبار سره هغه لمونځ صحیح سو اوکه نه؟ کم چی داولنی جمعی دختمیدلو څخه مخکی شروع سوی وو. که چیری صحیح سوی وی نودکراهت تحریمی سره یاتنزیهی سره؟

**اقتداء ترک کول سوال**: (۵۹۷) سوال دادی (الف) چی باوجود دشرعی قسم اخستو څخه دذاتی خفگان په وجی سره دزید اقتداء ترك کول (ب) دتفریق جماعت کوشش کول (ج) په اولنی جمعه کی شرکت نه کول اودهغه دختمیدلو څخه مخکی بله جمعه شروع کول دحنفی مذهب په اعتبار سره جائز دی اوکه نه؟

**په دوو سړیو سره جمعه کیږی اوکه نه؟ سوال**: (۵۹۸) په حنفی مذهب کی دجُمعې څخه ماسوا په نورو لمونځونو کی په دوو سړو سره جَمعه کیږی اوکه نه؟

**جواب**: د (۵۹۵) څخه تر (۵۹۸) پوری، دحدیث شریف الفاظ کم چی په مسلم شریف کی

---

= (درمختار) ولنا انه علیه الصلوة والسلام کان خرج لیصلح بین قوم فعاد الی المسجد وقد صلی اهل المسجد فرجع الی منزله فجمع اهله وصلی ؒ (رد المحتار باب الامامة مطلب فی تکرار الجماعت فی المسجد ط.س. ج۱ ص **۵۵۳**). ظفیر

([1]). و ([2]) رد المحتار باب ما یفسد الصلاة وما یکره فیها، ط.س. ج۱ ص **۲۴۵**. ظفیر

([3]). قال رسول الله ﷺ، اذا اقیمت لصلوة فلا صلوة الا المکتوبة، رواه مسلم (مشکوٰة. باب الجماعة ص۹۷). ظ

روایت سوی دی، دادی: اذا اقیمت الصلوٰة فلا صلوٰة الا المکتوبة. ([1]) ددی حدیث څخه ممانعت ددی خبری ثابت دی چی کم وخت دلمانځه تکبیر وسی اوجمعه شروع سی نوپه دغه جمعه کی شریکیدل پکاردی. سنت، نفل وغیره نه دی کول پکار. خودنورو احادیثو په وجهی سره دسهار سنت امام ابوحنیفه رحمه الله مستثنٰی فرمایلی دی. دلته دهغه دلیکلو ضرورت نسته. بهر حال ددی حدیث څخه بطلان ددوهم لمونځ نه معلومیږی. ددی حدیث حاصل صرف دادی چی کله جمعه ودریږی نوبل لمونځ مه کوی. نه داچی بل لمونځ به باطل وی. دامفهوم ددی حدیث نه دی. دا ددغه غیر مقلدغلطی ده چی دبل لمونځ دباطل والی حکم یی وکی. بلکی هغه ته داویل پکاروه چی دیوی جمعی په دوران کی دوهمه جمعه کول نه وو پکار. داکار بد وسو، آئنده داسی مه کوه. غرض داچی راګرزول ددغه لمونځ ضروری نه وو. غیر مقلد امام جوړول نه دی پکار ولی چی غیر مقلد خلګ په احادیثوکی همدغه ډول خطا کوی اوپه ناخبرتیا سره غلطی مسئلی خلګو ته ښیی، اود دوی په عقائدو کی فسادوی په دی وجه غیر مقلد امام جوړول نه دی پکار اودهغه څخه ډیر احتیاط کول پکاردی. تعجب دی چی غیرمقلدین تقلید ته شرك اوحنفیانوته مشرکان وایی. اوبیا حنفیان دی چی همدغه خلګ دخپل لمونځ امامان جوړوی. چونکی په صورة مسئوله کی دغیرِ مقلد امام په باره کی سوال دی، په دی وجه د ۳ دمضامینو جواب ترك سو چی کله امامت دغیرمقلد درست نه دی اودهغه معزوله کول ضروری دی نودهغه متعلق دزید دترك اقتداء سره بحث ونه سو. (۴). کیږی. ([2]) فقط، والله اعلم

**چی دمخکی سلام څخه وروسته په جمعه کی شریک سو نوڅه حکم دی؟** **سوال**: (۵۹۹) که چیری یوسړی په جمعه کی ددوهم سلام دختمیدلو څخه مخکی اوداول سلام څخه وروسته شریك سی نوهغه ته به دجمعی ثواب ورکول کیږی اوکه نه؟

**جواب**: دغه سړی په جمعه کی شریك نه سو اودجمعی ثواب ورنه کول سو، په درمختار کی دی. تنقضی قدوة بالاول ([3]). ﷺ فقط

**په ناجائزه مال باندی په جوړسوی جومات کی لمونځ**: **سوال**: (۶۰۰) یوی ډمی دنکاح څخه وروسته خپل خاوند ته روپۍ ورکړی هغه په هغو روپیو باندی جومات جوړ کی. په دغه

[1]. حواله یې په تیره صفحه آخری حاشیه کی تیره سوه. محمد أحمد الحقّانی الأفغانی

[2]. واقلها ای الجماعة اثنان واحد مع الامام ولومميزا ﷺ فی مسجداوغیره (درمختار) لحدیث اثنان فما فوقهما جماعة (رد المحتار باب الامامة ص ۵۱۸ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۳**). ظفیر

[3]. اوتنقطع به التحریمة بتسلیمة واحد، برهان وقدمر (درمختار) حیث قال وتنقضی قدوة بالاول قبل علیکم الخ فلایصح الاقتداء به. بعدها لانقضاء حکم الصلاة (ردالمحتار مطلب فی وقت ادراك فضیلة الافتتاح، ط.س. ج۱ ص **۵۲۵**). ظفیر مفتاحی

جومات کی لمونځ جائزدی اوکه یوازی دی په کورکی لمونځ کوی؟

**جواب:** په دغه جومات کی لمونځ کیږی اوپه کور کی دیوازی لمونځ کولو څخه په جمعی سره په دغه جومات کی لمونځ کول ښه دی. فقط

## دوهم فصل

### دامامت استحقاق

**دامام په موجود ګی کی بل څوک امام جوړول: سوال:** (۲۰۱) چی دجومات امام دباندی په غولی کی وی اوپه دننه جومات کی خلګ بل سړی دامام داجازت څخه بغیر امامتی ته مخکی کړی نوځنګه دی؟

**جواب:** دامامِ مسجد په موجودګی کی دبل چا امام جوړیدل بغیر ضرورته اوبغیر دشرعی وجهی څخه ښه نه دی. لیکن کم سړی چی دجومات خلګو امام جوړکی په هغه پسی هم لمونځ صحیح دی. څنګه چی په درمختار کی دی: واعلم ان صاحب البیت ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غیره مطلقًا وقال قبیله والخیار الی القوم فان اختلفوا اعتبر اکثرهم ولو قدموا غیر الاولی اساءوا بلا اثم الخ. (۱) فقط

**یوسړی دجنابت تیمم وکی اوبل دبی اودسی نوپه دوی کی دچا امامت ښه دی. سوال:** (۲۰۲) یوسړی دجنابت تیمم وکی اوبل دبی اودسی، او دادواړه په علم او پرهیزګاری کی برابر دی نودچا امامت به ښه وی؟

**جواب:** دواړه برابر معلومیږی. (۲) والله اعلم

**چی په حالت دحَدث اوجنابت کی جمعه ورکړی، نوڅه دی وکړی؟ سوال:** (۲۰۳) که چیری یوامام په حالت دحدث یاپه حالت دجنابت کی لمونځ ورکړی وی نوددغه لمونځونو به څه علاج کیږی کله چی دایاد نه وی چی هغه وخت کم کم لمونځ ګذاروه. اوهغوی ته څه رکم اطلاع ورکړی؟

**جواب:** په درمختار کی دی چی که چیری امام دجنابت په حالت کی یا دبی اودسی په حالت کی لمونځ ورکړی نوپر هغه لازم دی چی مقتدیانو ته اطلاع ورکړی. (۳) نومذکور

---

(۱). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹. ظفیر

(۲). لهٰذا دَقرعی په ذریعه دی فیصله وسی. یادقوم اکثریت چی کم طرفته وی. فان استووا یقرع بین المستوین او الخیار الی القوم فان اختلفوا اعتبر اکثرهم (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۸). ظفیر

(۳) کما یلزم الامام اخبار القوم اذا امهم وهو محدث اوجنب اوفاقد شرط اورکن وهل علیهم اعادتها، ان عدل نعم والا ندبت. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۵۳ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۹۱).

امام ته پکاردی چی حتٰی الوسع کم کم مقتدیان چی ورپه یادسی هغوی ته دی اطلاع ورکړی چی دفلانی وخت دلمانځه اعاده وکړی ولی چی هغه لمونځ نه وو سوی. اوڅوك چی ورپه یاد نه سی دهغوی لمونځ صحیح سو. هغه ته په اطلاع نه کیدلو کی څه حرج نسته، که چیری بیا ورپه یاد سی نوهغه ته دی هم اطلاع ورکړل سی، اوپخپله امام مذکوردی هم ددغه لمانځه اعاده وکړی اوددغه ګناه څخه دی توبه او استغفاروکړی. فقط

**بی دشرعی وجهی څخه په امام پسی لمونځ نه کول سوال**: (۲۰۴) دلته دوه مخالفه دی. یو سړی پربل باندی ناحقه زبردستی وکړه. دوهمه ډله ددغه مظلوم سړی په طرف سوه اوپه فوجداری کی یی دعوه داخله کړه. مظلوم ته اندیښنه سوه چی که چیری ظالم ته څه سزا ورکول سوه نومابه دهمیشه دپاره تنګوی دجومات امام ته دغه مظلوم ویل چی که چیری دآئنده دپاره مانه تنګوی نوزه معافی ورکوم، نودجومات امام دهغه ظالم څخه اقرار واخستی دآئنده دپاره. دوهمی ډلی ته چی ددی خبری پته ولګیده چی دجومات امام زموږ مخالف ددعوې څخه خلاص کی نودجومات په امام پسی یی لمونځ کول پریښوول نوهغوی دګناه مرتکب سوه اوکه نه؟

**جواب**: دفقهی کتابونو کی لیکلی دی چی که چیری امام بی قصوره وی، اوخلګ دهغه داقتداء څخه کراهت کوی نوګناه په دغه ترك کونکو باندی ده. اوکه چیری په امام کی قصور وی نودغه امام ته دداسی خلګو امامت کول کم چی دهغه په امامت ناخوښه وی مکروه دی. خوپه پوښتنی سوی صورة کی دامام خطاء نسته. لهٰذا هغه خلګ ګنهګار دی کم چی دهغه داقتداء څخه احتراز کوی. آئنده هغوی ته په دغه امام پسی لمونځ کول پکاردی. ([1]) فقط

**که امام قرآئت بهتر نسی کولی نودقاري انتظار مناسب دی**: **سوال**: (۲۰۵) که جمع تیاره وی اومقرر امام دقرآئت څخه ناخبره وی. یوقاری اودس کوی نودهغه انتظار وسی اوکه نه؟

**جواب**: په دی صورة کی دقاری صاحب انتظار مناسب اوښه دی. ([2])

---

([1]). لوام قومًا وهم له کارهون انکان الکراهة لفساد فیه ای کره له ذلك ای وان هو احق لا والکراهة علیهم (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹) فتسن اوتجب ای علی الرجال العقلاء البالغین الاحرار القادرین علی الصلاة بالجماعة من غیر حرج (درمختار) فبالحرج یرتفع الاثم ویرخص فی ترکها ولکن یفوته الافضل (رد المحتار باب الامامة ص ۵۱۸ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۴). ظفیر

([2]). که چیری امام په قرآت کی څه داسی غلطی نه کوی چی مفسدِ صلوة وغیره ده نوحکماً دامقرر امام دبل چا څخه افضل دی. واعلم ان صاحب البیت ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غیره مطلقا (درمختار) ای وان کان غیره من الحاضرین من اعلم واقرأ منه (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹) =

**که اکثریت په یو وجه امام معزول کړي**: **سوال**: (۲۰۶) په جامع مسجدکی یوامام داتو کالو راهیسی مقرردی په دی دوران کی یی دیوبی ړیری هلك سره بدمعاشی وکړه. هغه هلك ممبرانوته شکایت وکی نودجومات متولی اوپنځلسو غړیومشوره وکړه چی امام معزوله کړی. اودوه ممبران اولمونځ گذار دامام طرف دار دی اوهغه نه معزوله کوی، شرعًا په دی صورة کی څه حکم ورکول کیږی؟

**جواب**: فقهاوو لیکلی دی چی دامام دمعزوله کولو اومقررولو اختیار (دجومات) بانی یادهغه اولاد لره دی. اوکه چیری دقوم اکثره افراد دیوسړی په امامت باندی راضی سی اودقوم مقرر کړی امام اصلح وی، نوهغه اصلح امام کیدی سی. قال فی الدر المختار الباني للمسجد اولى من القوم ينصب الامام والمؤذن فى المختار الا اذا عيَّن القوم اصلح ممن عينه الباني الخ (قوله الباني اولى) وكذا اولاده وعشيرته اولى من غيرهم الخ شامی، ([1]) نوپه صورة مسئوله کی کله چی اکثره قوم مخکنی امام دهغه دشرارت او فسق په وجه معزوله کړی اوبل امام یې مقررکی نودا معتبردی اولنی امام به معزوله سی. اومتولی که چیری دوقف کونکی دطرف څخه وی او دهغه دشرط مطابق وی نودغه متولی هم قائم مقام کیدی سی. فقط

**دامام دامامت دعوٰی او دمقتدیانو انکار**: **سوال**: (۲۰۷) که چیری دیوې خانقاه دمشر ځای ناستی (سجاده نشین) په وجه دمشری دخانقاه دامامت دعوه وکړی اوباقی وارثان کم چی دهغه دکورنۍ والا او مقتدیان دی دهغه امامت منظور نه کړی نه دامام دعوٰی درسته ده اوکه نه؟

**جواب**: دفقهی په کتابونوکی دی چی دجمات بانی اووقف کونکی دامام وغیره مقررولو زیات حقداردی. اوکه هغه نه وو نودهغه اولاد اوخپلوان زیات حقداردی. دهغه څخه وروسته چی دمحلی اوجومات خلگ څوك امام مقرر کړی، هغه امام کیږی. نو دخانقاه مشر که چیری دوقف کونکی داولاد څخه دی نوبیشکه هغه ته حق دی دامام وغیره مقررولو لیکن دوقف کونکی نورو خپلوانو ته هم داحق دی دخانقاه مشرته څه ترجیح اوخصوصیت په دی باره کی نسته. ([2]) فقط

= البته که امام په خوشحالی سره دغه قاری ته دامامت اجازه وکړه نودهغه دپاره اجازه دی اوانتظاربه دی. ظفیر

([1]). ردالمحتار، کتاب الوقف بعد مطلب من سعى فى نقض ماتم ص ۵۷۳ ج ۳، ط.س. ج۴ ص ۴۳۰. ظفیر

([2]). ولاية الاذان والاقامة لباني المسجد مطلقا وكذا الامامة لوعدلا (درمختار) وفى الاشباه ولد البانى وعشيرته اولى من غيرهم وفى الوقف ان القوم اذا عينوا مؤذنا واماما وكان اصلح مما نصبه البانى فهو اولى (ردالمحتار. باب الاذان فروع ص ۳۷۲ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۴۰۰). ظفیر

**<u>چي په امامت کي اختلاف وي نوترجيح چاته ورکړي</u>**: **سوال**: (۲۰۸) دمحلي په جومات کي دوه سړي وايي چي زموږ مقرر سړی به امام وي. اودجمعي چي کم زيات کسان دي هغوی وايي، چي موږ ځوك امام مقرر کړي هغه به امام وي.

**جواب**: دجمعي زيات کسان چي کم ځوك امام مقرر کړي هم هغه به امام وي. لان الاعتبار للاکثر. (۱) فقط

**<u>دغير معزز امامت</u>**: **سوال**: (۲۰۹) دامامت حق ماسوا دمعزز قوم څخه بل قوم ته سته اوکه نه؟ يوځو کسان وايي چي لمونځ صرف دلاندينيو قومونو سړي ورکولی سي يعني شيخ قوم، سيدان، مغل او پښتون. اوپه رذيل قوم پسي لمونځ جائز کيدی نه سي اوهغوی ته دامامت حق حاصليدی نه سي. داخبره شرعًا صحيح ده اوکه نه؟

**جواب**: دامامت استحقاق هرهغه مسلمان ته سته ځوك چي اهليت دامام کيدلو لري. بيا چي ځومره لوازمات دامامت دمسائلو علم اوتجويد قرآئت، اوصلاح اوتقویٰ په هغه کي زيات وي هغومره به هغه اولی او اليق بالامامت متصورکيږي (۲) څنګه چي په درمختار وغيره کي دي. والاحق بالامامة الأعلم باحکام الصلوٰة ثم الأحسن تلاوة للقرآءة ثم الورع الی ان قال ثم الاشرف (۳) نسبًا. الخ ددي عبارت څخه واضحه سوه چي په چا کي اهليت دامامت وي هغه امام کيدی سي، اواحق بالامامت اولی دي دهغه دغير څخه. اوپه دي حکم کي ټول قومونه اوکسب والا برابردي. البته که دشرافت علمي وغيره سره نسبي شرافت هم وي مثلاً داچي هغه قريشي وي، سيدوي، ياشيخ وي، علوي وي يا انصاري وي، نوهغه به افضل وي دهغوی دغيرڅخه لکه څنګه چي دآخري جملي ثم الاشرف نسبًا حاصل دی. نوقول دهغه خلګو ځوك چي داوايي چي ماسوا دشيخ يا پښتون وغيره، يا سپين پوستي، اوحجّام وغيره څخه کم چي دامامت لائق وي په هغه پسي لمونځ صحيح دي اوپه دوی کي چي ځوك زيات عالم زيات قاري اوزيات پرهيزګار وي هغه دامامت زيات حقداردي. دغه ډول ځوك چي اشرف دي په اعتبار دنسب سره باوجود دحاصلوالی دصفت دعلم اوتجويد اوتقویٰ هغه افضل دي دهغه دغير څخه (۴) دالله ﷻ په نزد زيات

---

(۱). او الخيار الی القوم فان اختلفوا اعتبر اکثرهم ايضًا. باب الامامة ص **۵۲۲** ج۱، ط.س. ج۱ ص **۵۵۸**). ظفير

(۲). والاحق بالامامة تقديما بل نصبا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة وحفظه قدر فرض وقيل واجب وقيل سنة (درمختار) وعبارة الکافی وغيره الاعلم بالسنة اولی الا ان يطعن عليه فی دينه لان الناس لا يرغبون فی الاقتداء به. (ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۱** ج۱، ط.س. ج۱ ص **۵۵۷**). ظفير

(۳).الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۱** ج۱ . ظفير

(۴). والاحق بالامامة تقديما بل نصبا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتناب الفواحش الظاهرة وحفظه قدرفرض الخ ثم الاحسن تلاوة وتجويدا الخ ثم الاسن ثم الاحسن خلقا الخ ثم الاحسن وجها ای اکثرهم تهجدا =

عزتمند هغه دی څوك چی زيات پرهيزګاروی كماقال الله تعالی: اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰكُمْ. (۱) ليكن سره دتقوی دسعادت څخه كه چيری نسبی شرافت هم وی نُوْرٌ عَلٰی نُوْرٍ دی. ليكن هيڅوك مسلمان اوهيڅوك كسب ګر سپك ګڼل درست نه دی: اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ. پردی موقع باندی ياد ساتل پكاردی. فقط

**دعيدګاه امامت**: **سوال**: (۲۱۰) يو سړی عيدګاه جوړه كړه اوپخپله دهغه امام سو. يوڅو كاله وروسته هغه يوبل سړی امام كی اوپه هغه پسی يی لمونځ وكی. اوس اولنی امام مړسو دهغه يوزوی دی په دی صورة كی دامامت حق دچادی.

**جواب**: دامامت حق په دی صورة كی دعيدګاه دبانی دی. (۲) فقط

**كم علمه امام به دلوی عالم باوجود امامت كوی**: **سوال**: (۲۱۱) كم امام چی په يوځای كی پر امامت باندی مقرردی اوپه دغه ځای كی بل سړی دهغه څخه په علم كی زيات وی نو دهغه داجازه څخه بغير هغه امامت كولی سی اوكه نه ؟ كه چيری نسی كولی نوبغير اجازته نكاح خوانی څه ركم كولی سی؟

**جواب**: داحاديثو اودفقهی درواياتو څخه داثابت سوی دی چی كم سړی ديو جومات او محلی امام وی دهغه په موجودګی كی دهغه دمرضی څخه خلاف دی بل څوك نه امام كيږی. (۳) اودنكاح خوانی دپاره شارع ﷺ قاضی نكاح خوان معين اومقرر كړی نه دی بلكی داكار وليانو ته سپارل سوی دی چی دهغه تفصيل دفقهی كتابونو كی موجوددی. نو نكاح خوانی پرامامت باندی قياس كول صحيح نه دی. فقط

**په زيات علم والا اوكم علم والا كی ښه څوک دی؟** **سوال**: (۲۱۲) يو سړی په مسائلو ښه خبر دی. بل سړی كم علمه دی. په دی دواړو كی دامامت مستحق څوك دی اوپه كم علم والا پسی كه زيات علم والا لمونځ وكړی نودرست دی اوكه نه؟

**جواب**: دامامت زيات حق دار هغه سړی دی كم چی دلمانځه په مسائلو باندی زيات پوه وی ليكن كه چيری زيات علم والا په كم علم والا پسی لمونځ وكی نولمونځ كيږی. (۴)

---

= ؒ ثم الاشرف نسبا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۰، ۵۲۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفير

(۱). سورة الحجرات : ۲.

(۲). ولاية الاذان والاقامة لبانی المسجد مطلقا وكذا الامامة لوعدلا (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الاذان ص ۳۷۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۴۰۰). ظفير

(۳). واعلم ان صاحب البيت ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غيره مطلقا (درمختار) مطلقا ای وان كان غيره من الحاضرين من هو اعلم واقرأ منه ؒ (ردالمحتار باب الامامت ص ۵۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفير

(۴). الْأَوْلٰی بِالْإِمَامَةِ أَعْلَمُهُمْ بِأَحْكَامِ الصَّلَاةِ ، هَكَذَا فِي الْمُضْمَرَاتِ وَهُوَ الظَّاهِرُ ، هَكَذَا فِي الْبَحْرِ الرَّائِقِ هٰذَا إِذَا عَلِمَ مِنْ الْقِرَاءَةِ قَدْرَ مَا تَقُومُ بِهِ سُنَّةُ الْقِرَاءَةِ هَكَذَا فِي التَّبْيِينِ وَلَمْ يُطْعَنْ فِي دِينِهِ ؒ وَيَجْتَنِبُ الْفَوَاحِشَ الظَّاهِرَةَ =

**په لاندینیو دوو کسانو کی دامامت مستحق څوک دی؟ سوال**: (۲۱۳) زید ته دخپل پلار څخه کامل حق دامامت وغیره ورکول سو. اوپه زید کی دشریعت څخه خلاف هیڅکله څه خبره نسته، بلکی نهایت متقی اودکتاب اوسنت عالم دی، اوقوم هم دزید په امامت باندی خوشحاله دی. که چیری دداسی سړی حق جبراً ضبط کړی اوخالد پنځه وخته لمونځ او جمع دزید په موجودگی کی ورکوی نو شرعًا خالد ته امامت ورکول او دخلگو په هغه پسی لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: په درمختار کی دی. واعلم ان صاحب البیت ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غیره مطلقا ای وان کان غیره من الحاضرین من هو اعلم واقرأ منه ؒ شامی. ([1]) نو معلومه سوه چی اولی بالامامت په دی صورة کی زید دی. اوپه داسی حالت کی چی زید پخوانی اوداقوم مقررکړی دی خالدته امام جوړیدل ناجائز اومکروه دی. لحدیث ابی داود ولا یقبل الله صلٰوة من تقدم قوما وهم له کارهون. درمختار ([2])

**دامام څخه وروسته دهغه تولو زامنو ته دامامت استحقاق سته اوکه کم څوک چی خلگو مقرر کی؟ سوال**: (۲۱۴) یو دمسجد امام وفات سو دهغه پنځه زامن دی په هغوی کی یوبالغ وو. باقی ټول نابالغه وه. دکلی خلگو په اتفاق سره مشر ورور امام کی هغه دپنځلسو شپاړسو کالو څخه امامت کوی. اوس کشران ورونه هم بالغ او دامامت قابل سوه اوپه مشر ورور باندی دعوٰی کوی چی موږ په امامت کی شریك یو. دکلی خلگ کشران ورونه دمشر ورور درضامندی څخه بغیر په لمونځ ورکولوکی شریك کوی سی که نه؟ اوکشران ورونه که دمشر ورور درضامندی څخه بغیر لمونځ ورکړی نوپه هغوی پسی لمونځ جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: فقهاوو تصریح فرمایلی ده چی دامام مقررولو حق بانی یادمحلی خلگوته دی، نو دکلی ټولو خلگو چی څوك امام مقرر کی هغه امام سو. کشرانو وروڼو ته دبلوغ څخه وروسته دامامت ددعوی حق په دی بنا باندی چی دهغوی پلار امام وو نه رسیږی، البته که دکلی خلگ هغوی هم دامامت لائق ووینی اوپه امامتی کی یی شریك کړی، نودرسته

---

= وَإِنْ كَانَ غَيْرُهُ أَوْرَعَ مِنْهُ وَإِنْ كَانَ مُتَبَحِّرًا فِي عِلْمِ الصَّلَاةِ لَكِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ حَظٌ فِي غَيْرِهِ مِنَ الْعُلُومِ فَهُوَ أَوْلَى ؒ دَخَلَ الْمَسْجِدَ مَنْ هُوَ أَوْلَى بِالْإِمَامَةِ مِنْ إِمَامِ الْمَحَلَّةِ فَإِمَامُ الْمَحَلَّةِ أَوْلَى كَذَا فِي الْقُنْيَةِ. (عالمگیری مصری، کتاب الصلٰوة الباب الخامس فی الامامة الفصل الثانی ص ۷۰ ج۱، ط. ماجدیه ج ۱ ص ۸۳). ظفیر

([1]). رد المحتار باب الامامة ج۱ ص ۵۲۲، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹**. ظفیر

([2]).الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹**. ظفیر

ده. دمشر ورور رضامندی ضروری نه ده. اولمونځ په هغه ټولو کسانو پسی بغیر کراهته صحیح دی. ځوك چی دکلی خلګو مقرر کړی وی. (۱)

**دامام رخصتی کول** : **سوال**: (۲۱۵) که یو امام سره دامامت دتنخواه اخستلو کله کله د جومات ځخه غیر حاضرسی نوځه حکم دی؟

**جواب**: په شامی جلد دریم کتاب الوقف کی دی: امام یترك الامامة لزیارة اقربائه فی الرساتیق اسبوعا اونحوه او لمصیبة او لاستراحة لاباس به ومثله عفو فی العادة والشرع (۲). ددی حاصل دادی چی امام ته دخپلو ضروریاتو یا راحت دپاره یوه هفته یادی ته نژدی یعنی دپنځلسو ورځو ځخه ترکمو پوری عادةً غیر حاضری عرفًا اوشرعًا جائزده. بیایی مخکی تصریح کړیده چی که په ټول کال کی هفته دوی هفتی غیر حاضر وی نو معاف دی. نو دمسئوله صورة حکم هم ددی ځخه معلومول پکاردی چی دامام کله کله غیر حاضری به معاف وی.

**په امامت کی وراثت نسته**: **سوال**: (۲۱۶) زید دیو جومات امام دی، اوجومات دیو بزرګ دخانقاه سره متصل دی. ددغه جومات اخراجات تیل اوځراغ ددی جومات متولیان په شریکه کوی. زید ددغه خانقاه سجاده (مشر اومتولی) مقرردی. باقی متولیانو تراوسه پوری هغه خپل امام جوړ کړی وو او لمونځ به یی وروپسی کوی. اوس چونکی په هغه کی دشریعت اوخاندان په لحاظ سره ډیری خرابی پیداسوی وی بدعتی هم دی اوهغه دخپلو خپلوانوسره بالکل ورانه کړیده چی دهغه په وجهی سره ډیرمقتدیان دهغه ځخه ګرزیدلی اوناراضه دی په هغه پسی لمونځ کول نه غواړی اوپه خپلو خپلوانو کی یوبل سړی کم چی دهغه ځخه په علم کی لوړ دی اوبدعتی هم نه دی امام جوړول غواړی. نواوس دغه سجاده (مشر) امامت خپل میراث ګنی اوپریږدی یی نه. اوسجاده والی (مشروالی) اود حقوقو قدامت دخپل امامت په ثبوت کی پیش کوی. آیا اوس هغه متولیان مقتدیان امام بدلولی سی اوکه نه؟ دمخکنی امام عذر مسموع دی اوکه نه؟

**جواب**: په امامت کی وراثت نسته بلکی دامام مقررولو حق اول دجومات بانی ته اودهغه اولاد اوخپلوانو ته دی. دهغه ځخه وروسته دلمونځ ګذارو اودمحلی داوسیدونکو حق دی چی په هغوی امام مقرر کړی بلکی که چیری دجومات بانی یوسړی امام جوړکی او

---

(۱). وفی الاشباه ولد البانی اولی من غیرهم آه وسیجیئ فی الوقف القوم اذا عینوا مؤذنا اواماما وکان اصلح مما نصبه البانی فهو اولی. (رد المحتار، باب الاذان ص ۳۷۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۴۰۰). ظفیر

(۲). ردالمحتار. کتاب الوقف. مطلب فی غیبة التی یستحق بها العزل عن الوظیفة وما لا یستحق ص ۵۲۴ ج۳، ط.س. ج ۴ ص ۴۱۹. ظفیر

هغه دامامت صلاحیت نه لری اولمونځ ګذارو دهغه څخه زیات لائق سړی امام مقرر کی نوهم هغه به امام مقرر کیږی ځوك چی لمونځ ګذارو مقرر کړی دی. قال فی الدرالمختار: البانی للمسجد اولی من القوم ینصب الامام والمؤذن فی المختار الا اذا عيّن القوم اصلح ممن عینه البانی. ([1]) حاصل داچی کله هغه سابق امام بدعتی سو او دجومات لمونځ کوونکی ددې خرابۍ په وجه دهغه څخه ناخوښه دی نوهغه معزوله کول اوبل لائق تر اودلمانځه په مسائلو باندی پوه سړی امام مقررول پکاردی. ([2]) مخکنی امام ته داحق نسته چی هغه دقوم مقرر کړی امام په مقابله کی خپل ځان دامامت حقدار ګڼی.

**دمتعین امام داجازی څخه بغیر بل چاته دامامت حق نسته: سوال:** (۲۱۷) په یوجومات کی چی یوڅوك اهل سړی مقرروی اودهغه په موجودګی کی یو وخت دهغه څخه زیات افضل سړی دغه جومات ته راسی اودجومات ځوکسان هغه ته دمقرر امام داجازی څخه بغیر دامامت اجازه ورکړی نودهغوی دافعل جائزدی اوکه نه؟ اوداکمه خبره چی مسلّمه ده چی په ډیرو کسانوکی کم سړی چی زیات دفضیلت والا وی، هم هغه دامامت مستحق دی. نوآیا دا استحقاق په هغه جوماتونو کی هم حاصل دی په کموکی چی دمخکی څخه امام مقرر وی اودغه وخت موجود وی؟ اوداسی فضیلت والا ته دجومات دمقرر امام څخه داجازی اخستلو ضرورت سته اوکه نه؟

**جواب:** په جومات کی چی کم امام مقرر وی اوپه هغه کی دامامت اهلیت وی نوهم هغه مقرر امام دبل سړی په نسبت دامامت زیات مستحق دی، که څه هم بل سړی افضل او اعلم (زیات عالم) وأقرأ (زیات قاری) وی. لیکن که چیری ځومقتدیانو هغه بل سړی امام جوړکی نوهم څه حرج نسته پکښی. په در المختار اوشامی کی دی: واعلم ان صاحب البیت ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غیره مطلقا. قال الشامی قوله مطلقا ای وان کان غیره من الحاضرین من اعلم واقرأ منه وفی التاتارخانیة جماعة اضیاف فی دار یرید ان یتقدم احدهم ینبغی ان یتقدم المالك فان قدم واحدا منهم لعلمه وکبره فهو افضل ([3]) الخ. دعبارت دآخر څخه معلومه سوه چی که چیری زیات فضیلت والا یو مقتدی امام جوړکړی. نوبدیت نسته لیکن ښه دادی چی دمعین امام داجازی څخه بغیر دی امامت ونه سی. فقط والله اعلم

---

([1]). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. کتاب الوقف ص ۵۷۳ ج۳، ط.س. ج۱ ص ۴۳۰. ظفیر

([2]). ویکره امامة الخ مبتدع (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۸، ۵۵۹). ظفیر

([3]). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹. ظفیر

**دغیر اصلح امام معزولي**: **سوال**: (۲۱۸) عَمرو وايي چې دمدرسې مهتمم يادجومات متولي ته داکلي اختيار حاصل دی چې داوقافو دمال څخه وظيفه اخستونکی بغير دوجهي اوبغير دشرعي عذر څخه دځپل منصب تدريس اوامامت څخه ليرې کړي که څه هم متولي جوړوونکی دمتولي پردا ناجائز فعل باندې ناراضګی ظاهروي اوهغه منع کوي. اوعمرو دځپلی دعوی په دليل کې دشامي داعبارت پيش کوي: ولم ار حکم عزله لمدرس وامام ولا لهما، اقول وقع التصريح بذالك في حق الامام والمؤذن ولا ريب ان المدرس کذلك بلا فرق ففي لسان الحکام عن الخانية اذا عرض للامام والمؤذن عذر منعه من المباشرة ستة اشهر للمتولي ان يعزله ويولي غيره وتقدم مايدل علی جواز عزله اذا مضی شهر، بيری، اقول هٰذا العزل لسبب المقتضي والکلام عندعدمه قلت وسيذکره الشارح عند المؤيدية التصريح بالجواز لوغيره اصلح ؒ. زيد وايي چې ددی عبارت څخه هم عذرِ شرعي ثابت دی چې شپږ مياشتی يا يوه مياشت بغير درخصت څخه يابغير دځپل قائم مقام مقررولو څخه امام يا مدرس په تکاسل اوتساهل سره حاضر نه دی چې دهغه په وجه سخت نقصان رسيږي. داځه کم عذردی، بغيردشرعي عذرڅخه دخارجونکي ثبوت چيری دی اوپخپله عندعدمه کی ضميرد: هُ راجع دی دعزل طرف ته يعني ای عندم العزل. اوآخري عبارت پخپله ددی خبرې شاهد دی چې متولي ته محض په خپلې رايې سره اختيار دمعزولولو نسته. په دی صورة کی څوك پرحقه دی؟

**جواب**: دمذکوره عبارتونو اودغه رکم دنورو عبارتونو څخه واضح کيږي چې دشرعي عذر څخه بغير متولي اومهتمم ته دمدرس وغيره دمعزولولو اختيار نسته. ها! دشامي ددی عبارت څخه: وقلت وسيذکر الشارح عند المؤيدية التصريح بالجواز لوغيره اصلح، (۱) دامعلوميږي چې دموجوده مدرس اوامام څخه زيات لائق اواصلح ترپيدا سو نواول معزوله کول اودوهم کم چې اصلح دی مقررول درست دی.

**تنخواه دار امام داجير په حکم کی دی**: **سوال**: (۲۱۹) زيد وايي چې دجومات امام نه خو اجيردی نه نوکر، ولي چې هغه ته دوقف مال څخه تنخواه ورکول کيږي. اوعمرو وايي چې دجومات امام اجير اونوکر دی. په دی دواړو کی دچا قول صحيح دی؟

**جواب**: کم امام چې دامامت تنخواه اخلي دهغه په اجير کيدلو کی څه تامل دی. پرامامت باندې اجرت اخستل فقهاوو جائز ليکلي دی. اودوقف مال څخه تنخواه ورکول ددی مقتضي نه دی چې هغه دی اجرت نه وي اوتنخواه داردی اجير نه وي. آياکه چيری دوقف

(۱). رد المحتار. کتاب الوقف ص ..... ج۳، ط.س. ج۱ ص ۴۲۸.

دتعمير دپاره دوقف دمال څخه دتعمير كار كونكى مقرر سى نوهغوى به اجير (اجرت اخستونكى) نه وى. دعمرو قول په دى كى صحيح دى. فقط

**دامام داجازې څخه بغير دبل سړى امام كيدل؟** **سوال**: (۲۲۰) دكلى اوسيدونكو يوسړى پايبند دصوم اوصلوة عالم، دپنځ وخته لمونځونو اودجمعى اواخترونو اوجنازى دپاره امام مقرر كړى دى ځوك چې خپل فرائض برابر ترسره كوى خويو غير سړى دامام داجازې څخه بغير داخترونو خطبه پرمنبر باندى ويل شروع كړى، په علم كى دامام سره ديوې حصې برابر نه دى. بل داچې دادوهم سړى دروژى او لمانځه پايبند نه دى بلكى دشرعى ممنوعاتو مرتكب دى اودنفسانيت په بنا باندى داټول حركتونه كوى. اوس دامام صالح په پريښولو سره دزيد خطبه خوانى تركمه پورى رواكيدى سى. دكم سړى پلار چې دخپل زوى څخه قطعى ناراضه وى اودهغه شكل ليدل هم نه خوښوى اودهغه څخه دنفرت په وجه يې جلا استوګنه اختيار كړى وى. آياهغه دجمعى اواخترونوخطبه ويلى سى اوكه نه؟

**جواب**: قال فى الدر المختار واعلم ان صاحب البيت ومثله امام المسجد الراتب اولى بالامامة من غيره مطلقًا الخ اى وان كان وغيره من الحاضرين من هو اعلم واقرأ منه. ([1]) الخ شامى. ددى روايت څخه معلومه سوه چې دجومات دمعين امام په موجودګى كى بل سړى ته كه څه هم هغه دوهم سړى دمعين امام څخه افضل وى نوبغير دمعين امام داجازې څخه وربانديدى امامت كول نه دى پكار. نو كله چې هغه دوهم سړى دامامت لائق هم نه دى بلكى فاسق دى اوامام معين عالم اوصالح دى نوپه هيڅ شان دى دوهم سړى ته درست نه دى چې دضد اونفسانيت په وجه هغه امام جوړسى اوخطبه وايى. دادهغه په جهالت باندى دلالت كوى اوپه فاسق پسى لمونځ مكروه تحريمى دى. كما حققه فى الشامى وشرح المنية وغيرهما. اوكم سړى چې دصوم اوصلوة پايبنده هم نه دى دهغه فاسق كيدل ظاهردى. دغه ركم دپلارنافرمانه فاسق دى لائق دامام كيدلونه دى. اولمونځ په هغه پسى مكروه تحريمى ([2]) دى. فقط

**چې كوټ واغوندى نو امامت درست دى اوكه نه؟** **سوال**: (۲۲۱) كه امام كوټ واغوندى او امامت كوى نودرست دى اوكه نه؟

**جواب**: امامت دهغه بلا كراهته درست دى. ([3]) فقط

---

([1]). ردالمحتار باب الامامة جلد اول ص ۵۲۲ ط.س. ج۱ ص ۵۵۹. ظفير

([2]). بل مشى فى شرح المنية ان كراهة تقديمه (اى الفاسق) كراهة تحريم (ردالمحتار باب الامامة ص۵۲۵ ج۱). ظفير

([3]). يجب على المصلى ان يقدم الطهارة من الاحداث والانجاس الخ ويستر عورته لقوله تعالى خذوا زينتكم عند كل مسجد الخ هداية باب شروط الصلوة ص ۸۷ ج۱، ردالمحتار ط.س. ج۱ ص ۲۵۰). ظفير

**دغیر حاضري دورځو تنخواه امام اخستی سی اوکه نه؟ سوال**: (٢٢٢) آیا تنخواه دار امام چی دهغه تنخواه دجومات دوقف سوی جایداد څخه ورکول کیږی په څه عذر سره یابغیر دعذر څخه دنیمی میاشتی څخه کم دامامت کار تر سره نه کړی نودهغه دپوره میاشتی تنخواه اخستلو شرعاً مستحق دی دجومات امام دادلیل پیشوی او دغائب والی دمودی برابره تنخواه اخلی: فی القنیة عن باب الامامة امام لوترك لزیارة اقربائه فی الرساتین اسبوعًا اونحوه اولمصیبة اولاستراحة لاباس به عفو فی العادة والشرع وهٰذا مبنی علی ان القول بان خروجه لاقل من خمسة عشر یومًا بلاعذر شرعی لایسقط معلومه علی هٰذا انابت ادون ومساوی بلا اجازة قیم مسجد، څخه استدلال کوی اوپه استدلال کی دقنیه دعبارت په پیش کولو سره تنخواه دغائب والی اخستل غواړی. دا اخستل او ورکول جائزدی که نه؟

**جواب**: فی الشامی وقد ذکر فی الاشباه فی قاعدة العادة محکمة عبارة القنیة هذه (١) وحملها علی ان یسامح اسبوعًا فی کل شهر (٢) الخ وقد ذکر روایات جواز الاستنابة ایضًا فلیطالع ثمه. حاصل دجواب دادی چی آلمعروف کالمشروط نو څومره غائب والی چی معروف وی دهغه تنخواه اخستل درست دی اوانابت هم درست دی. فقط

**افضل دی امام جوړسی؟ سوال**: (٢٢٣) زید حاجی دی اودپنځه وخته لمونځ ډیر پابینددی اودزید دری زامن دی یوږیره نه خروی بلکی اوږده ږیره یی ده په شرعی لباس کی دزید په شان دی اودوه ږیره خروی زید اودری زامن یی په دوکانداری کی په دروغ ویلو سره سودا خرخوی نوپه داسی حالت کی زید اودهغه زامن امامت کولی سی اوکه نه؟

**دږیري لنډونکی امامت: سوال**: (٢٢٤) زیدحافظ دی دروژی اولمانځه پابینده دی. خوږیره څه قدر لنډوی. دیوی گوتی په اندازه یی ساتی. په دی حالت کی په زید پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ که څوك مولوی هغه ته په ډله کیووایی چی دافاسق دی اومرتد دی نوڅه حکم دی؟

**جواب**: (١) په زید کی اودزید په زامنو کی چی څوك دروژی اولمانځه پابیندی اوظاهرًا دفسق څه علامه په هغه کی نه وی نو دهغه امامت بغیر کراهته درست دی. اوکه دفسق څه خبره په هغوی کی وی نوامامت دهغوی مکروه (٣) دی.

---

(١). دهغه عبارت طرفته اشاره ده کم چی سائل په سوال کی دقنیی په حوالی سره نقل کړیدی. علامه شامی هم دغه عبارة بعینه ددی څخه مخکی نقل کړی دی (وگوری ردالمحتار کتاب الوقف ص ٧٢۴ ج٣). ظفیر

(٢). رد المحتار کتاب الوقف مطلب فی الغیبة التی یستحق بها العزل الخ ص ۵٢۴ ج٣ ط.س. ج۴ ص ۴١٩. ظفیر.

(٣). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص۵٢٣، ط.س. ج١ ص =

(۲) دیوموټ څخه کمه ږیره لنډول یعنی دومره لنډول چی دموټ څخه کمه پاته سی منع دی. په داسی ږیره خریونکی اولنډوونکی باندی دفسق اطلاق صحیح دی، هغه فاسق دی. مرتد اوکافر ویل ورته حرام اوناجائز (۱) دی اوپه مرتد ویلوکی سخته گناه ویونکی ته ده اودفاسق امامت مکروه دی. لمونځ ورپسی سره دکراهته اداکیږی، اومرتد ویونکی مولوی دسخت معصیت اوگناه کبیری مرتکب دی. هغه په دی وینا سره فاسق سو، توبه دی وکاږی (۲). فقط

**<u>دنکاح قاضی په موجود گی کی دبل سړی امامت درست دی که نه؟</u> سوال:** (۲۲۵) دقاضی په موجودگی کی بل سړی ته امامت کول درست دی اوکه نه؟ **جواب:** په دی زمانه کی شرعی قاضی نسته. دی قاضیانو ته کم چی اوس موجوددی دامامت وغیره هیڅ حق نسته. امام اومؤذن مقررول اولاً دجومات دبانی اوواقف حق دی، دهغه څخه وروسته دهغه په اولاد کی چی کم اهل وی دهغه حق دی دهغوی څخه وروسته چی دمحلی یانبار خلگ ځوك امام مقرر کړی هغه به امام وی. کذا فی الدر المختار وشامی (۳). فقط

**<u>دنکاح قاضی ته دامامت هیڅ شرعی استحقاق نسته</u>: سوال:** (۲۲۶) چی دقاضی دامامت څخه څه خلگ منکره وی اوڅه متفق وی اوقاضی مصروی نوقاضی په حقه دی اوکه نه؟ **جواب:** عرفی قاضی ته په دی باره کی څه خاص استحقاق نسته بلکی دمخکنی تفصیل موافق بانی ته یادهغه وارثانو ته یا دمحلی خلگو ته ددی استحقاق دی چی هغوی ځوك وغواړی مقرر دی کړی. (۴) فقط

**<u>دقضا مخکی سند په دی وخت کی په کار نه راځی</u>: سوال:** (۲۲۷) دقاضی په سند کی اقامت دجمعی اواخترونو اوجماعت اوترغیب اوتحریص دخلگو پرطاعاتو اوعباداتو مذکوردی، ددی څخه څه مراد دی؟

---

= ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفیر

(۱). ولاباس بنتف الشیب واخذ اطراف الحیة والسنة فیها القبضة الخ ولذا یحرم علی الرجل قطع لحیته (الدر المختار علی هامش رد المحتار کتاب الحضر والاباحة فصل فی البیع ص ۳۵۹ ج۵، ط.س. ج۶ ص ۴۰۷). ظفیر

(۲). وعزر الشاتم بیاکافر وهل یکفر ؟ ان اعتقد المسلم کافرا نعم والا لا، به یفتی (ایضاً باب التعزیر ص ۲۵۳ ج۳). ظفیر

(۳). ولایة الاذان والاقامة لبا فی المسجد مطلقاوکذا الامامة لوعدلا (درمختار) وفی الاشباه ولد البانی وعشیرته اولی من غیرهم اه وسیجی فی الوقف ان القوم اذا عینوا مؤذناواماما وکان اصلح ممانصبه البانی فهو اولی وذکره فی الفتح عن النوافل واقره اه (درمختار. باب الاذان ص ۳۷۲، ط.س. ج۱ ص ۴۰۰). ظفیر

(۴). ولایة الاذان والاقامة لبانی المسجد مطلقا وکذا الامامة لوعدلا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۳۷۲ باب الاذان، ط.س. ج۱ ص ۴۰۰). ظفیر

**جواب**: کم وخت چې به داسلامی بادشاهانو دطرف څخه قاضیان مقرر کیدل دابه هغه وخت لیکل کیدل. اوس هغوی ته څه خاص حق په دی باره کی نسته اوتحریص اوترغیب دطاعاتو طرف ته واعظان داسلام کوی. فقط

**دامام اومؤذن دانکار په وخت کی نیابت**: **سوال**: (۲۲۸) که چیری قاضی دامامت څخه او خطیب دخطبې څخه اومؤذن داذان څخه انکاروکی نوقوم ته دنائب طلب کولو حق حاصل دی اوکه څنګه. او متولی ته دوقف سوی مزکی دمَا حَصَل (حاصلاتو) څخه دامام وغیره مقررولو اختیار سته اوکه نه؟

**جواب**: داحق دبانی وغیره څخه وروسته دمحلی خلګو ته مخکی دی قاضی ته ددی څه استحقاق نسته (۱). البته که یوڅوك بانی متولی جوړ کړی وی هغه به موافق دشرائطو دوقف کوونکی دراتلو انتظام کوی. فقط

**په نابینا عالم اوبینا عالم کی احق بالامامت څوک دی؟** **سوال**: (۲۲۹) یوسړی نابینادی لیکن عالم دی، اومحتاط دی، بل سړی بینا دی خوعالم نه دی، نوآحق بالامامت څوك دی؟

**جواب**: که ړوند سړی عالم وی نوحق دامامت هغه ته دی. شامی جلد اول، تبع فی ذالك صاحب البحر حیث قال قیّد کراهة امامة الاعمی فی المحیط وغیره بان لا یکون افضل القوم فان کان افضلهم فهو اولی (۲).

**مولوی احق بالامامت دی اوکه حافظ دقرآن؟** **سوال**: (۲۳۰) داختر دلمانځه په باره کی په مسلمانانوکی اختلاف پیداسو. بعضو ویل چی داختر لمونځ به امام صاحب راکړی څوك چی دهمیشه څخه امام دی اولمونځ ورکوی اوبعضو ویل چی داختر لمونځ به حافظ صاحب ورکوی چاچی په رمضان شریف کی په تراویحو کی قرآن را اوړولی دی اووایی چی دحافظ صاحب په موجودګی کی په امام صاحب پسی لمونځ نه کیږی، آخر داچی امام صاحب لمونځ ورکی اوحافظ صاحب نیت مات کی اوولاړی، په داسی صورة کی څه کول پکاردی؟

**جواب**: تفرقه په مسلمانانو کی بده ده، لمونځ په حافظ صاحب پسی هم کیږی، او په امام

---

(۱). البانی للمسجد اولی من القوم بنصب الامام والمؤذن فی المختار الا اذا عین القوم اصلح ممن عینه البانی (درمختار) وکذا واولاده وعشیرته اولی من غیرهم (ردالمحتار کتاب الوقف ص ۵۷۳ ج ۳، ط.س. ج۱ ص ۴۳۰) اوالخیار الی القوم فان اختلفوا اعتبر اکثرهم (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۸). ظفیر

(۲). ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰. ظفیر

صاحب پسی هم. نفسانیت بدشی دی، ځوك چی دنفسانیت په وجه دجَمعی ځخه جلاسو، اونیت یی مات کی اوولاړی هغه بد وکړل اوګناهګار سو. توبه دی وکاړی. اوټولو ته په خپل مابینځ کی په اتفاق سره اوسیدل پکاردی اوپه اتفاق سره امام مقررول پکاردی. (۱)

(په قاعده کی عالم احق بالامامت دی، او الاحق بالامامة تقدیما بل نصبًا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحةً وفسادًا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة ﴿ درمختار. ظفیر)

**پرامام باندی دمقتدی رعایت**: **سوال**: (۲۳۱) کم امام چی دقرآئت ختمولو ځخه وروسته رکوع ته دتللو په وخت کی لفظ دالله اکبر دومره اوږد وایی چی اکثره لمونځ ګذار دهغه ځخه مخکی رکوع ته ولاړسی آیاپه داسی صورة کی دمقتدیانو درعایت دپاره دمعمولی قرآئت اوتاخیرکولوځخه بغیررکوع ته تلل پرامام باندی واجب دی اوکه نه؟ اودمقتدیانو رعایت حتٰی الوسع کول مستحب دی اوکه نه؟

**جواب**: بیشکه دمقتدیانو رعایت په داسی موقع باندی مناسب دی اوتکبیر دی زیات نه اوږدوی بلکی مختصر دی یی کړی دپاره ددی چی دمقتدیانو تکبیر مخکی ختم نه سی. اومقتدیانو ته مناسب دی چی وروسته تکبیر شروع کړی دپاره ددی چی پرامام باندی مخکی والی رانسی. (۲)

**په دینداره حافظ اونیم ملا فاسق کی احق بالامامة ځوک دی؟** **سوال**: (۲۳۲) زید په کوچنی والی کی قرآن کریم حفظ کی همیشه تلاوت کوی اوما تجوز به الصلوة ښه پیژنی اود تجوید په قواعدو هم خبردی اونیك صالح دی دهغه دامامت ځخه ټول لمونځ ګذار خوشحاله دی، په هغه پسی لمونځ جائز دی که نه؟ اوعمرو مشکوٰة، هدایه دویلو ځخه وروسته هیرکړی دی اولمونځ ګذار دهغه په امامت خوشحاله نه دی اوشطرنج کوی. او اکثره دجُمعی په ورځ جَمعه پریږدی اوښکار ته ولاړسی. په داسی سړی پسی لمونځ جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: په دی دواړو کی داول سړی امامت ښه دی. اوپه دوهم پسی لمونځ مکروه دی (۳)

(۱). ښه خوداده چی په متفقه طور باندی دامام انتخاب وسی دپاره ددی چی ځه اختلاف لاره نه کړی پیدا. لیکن که چیری اختلاف پیداسی نوپر اکثریت باندی فیصله کول پکاردی اوبیا ټولو ته داکثریت فیصله تسلیمول پکاردی. فان استووا یقرع بین المستوین اوالخیار الی القوم فان اختلفوا اعتبر اکثرهم ولو قدموا غیر الاولی اساءوا بلا اثم. الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۸). ظفیر

(۲). عن انس ﷺ صلی بنا رسول الله ﷺ ذات یوم فلما قضی صلوته اقبل علینا بوجهه فقال ایها الناس انی امامکم فلا تسبقونی بالرکوع ولا بالسجود ولا بالقیام ولا بالانصراف رواه مسلم، (مشکوٰة باب ما علی الماموم من المتابعة ص ۱۰۱). ظفیر

(۳). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ =

هٰکذا فی کتب الفقه.

**داغلطه ده چي صرف سادات دامامت مستحق دي**: **سوال**: (۲۳۳) بعضی خلک وایی چی ماسوٰی دسیدانو څخه بل څوك دامامت مستحق نه دی. داویل صحیح دی اوکه غلط؟

**جواب**: داغلطه ده چی ماسوا دسیدانو څخه بل څوك دامامت مستحق نه دی. دامامت استحقاق پرعلم اوفضل اوتقوٰی باندی دی. اوکم سړی چی دمسائلو څخه خبر وی احق او ښه بالامامت دی کما فی کتب الفقه (۱). فقط

**په لاندینیو دري کسانو کی دامامت لائق څوک دي؟ سوال**: (۲۳۴) زید، عمرو، اوبکر دری واړه په یوځای کی کار کوونکی دی. زید په سواریو کی. عمرو په سپاهیانو کی. بکرپه ستار غړولوکی. زید حافظ دی اوله طوائفی (ډمی) څخه پیداسوی دی. دروږی اولمانځه پایبندی. دشرعی ممنوعاتو څخه ځان ساتی. اخلاق یی ښه دی. دعمرو تلفظ درست نه دی. کوچنی کوچنی سورتونه هم نه وایی. دروږی اولمانځه پایبند دی. اوبکر هم دروږی اولمانځه پایبندی خودستار غړولو کسب کوی. قرآن کریم صحیح وایی. په دی درو واړو کی دامامت مستحق څوك دی؟

**جواب**: په دی دری واړو کی زید احق بالامامت دی. اوکه چیری زیدنه وی اوعمرو اوبکر موجود وی نوبکر که څه هم فاسق دی په وجه دحرام کسب، لیکن که عمرو په قرآن کریم ویلوکی داسی غلطی کوی چی په هغه سره لمونځ فاسدیږی نوبکر ته امام کیدل پکاردی ځکه چی هغه قرآن کریم صحیح وایی.

که څه هم امامت دفاسق مکروه دی خوپه هغه پسی لمونځ کیږی په خلاف دعمرو چی په هغه پسی دلمانځه فاسد کیدلو بیره (۲) ده.

**افضل ترخپل ځان په کم فضلیت والا سړی پسی اقتداء وکړی اوکه نه؟ سوال**: (۲۳۵) زید جَمعه ورکوی اوتر هغه افضل خلګ راغلل نوپه جمعه کی دی شریك سی اوکه نه؟ او لمونځ خوبه یی مکروه نه وی؟

**جواب**: په لمانځه کی به یې هیڅ کراهت نه وی اوپه جمعه شریکیدل پکار دی. (۳)

---

= ص ۵۵۹). ظفیر

(۱). والاحق بالامامة تقدیما بل نصب الاعلم باحکام الصلوة فقط صحةً وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۱۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفیر

(۲). والاحق بالامامة تقدیما بل نصبًا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفساد الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷).

(۳). ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غیره مطلقا (درمختار) ای وان کان غیره من الحاضرین من هو =

**دقوم دخوښی څخه خلاف امام جوړول**: **سوال**: (۲۳٦) آیا عدالت ته څه شرعی حق حاصل دی چی په زور سره دقوم داسی امام مقرر کړی چی قوم دهغه په امام جوړولو باندی رضامند نه وی؟

**جواب**: عدالت ته داحق نسته. ولی چی ددی نفع اونقصان قوم ته دی. لهٰذا دقوم درضا مندی څخه بغیر دی عدالت دهغوی دپاره هیڅوك امام نه مقرروی. اوعدالت ته په دی کی هیڅ حق نسته. کما مر ان منفعة ذٰلك ترجع الیهم ([1]). فقط

**اذان اوامامت یوسړی کولی سی**: **سوال**: (۲۳۷) که چیری یوسړی اذان اوامامت کوی نو جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: که یوسړی اذان وایی اوامامت هم کوی نودا په شریعت کی درست دی بلکی په دی کی ثواب زیات دی. ([2])

**په خطبه کی دنیابت مسئله**: **سوال**: (۲۳۸) مخکنی خطیب په خپل ژوند کی دورور په موجودوالی کی خپل وراره خپل نائب مقرر کی. ترپنځو شپږو کالو پوری یی دنیابت خدمت په ډیر دیانت سره ترسره کی. اوس مخکنی خطیب صاحب وفات سو اویوه لور ځینی پاته سوه، هغه دخپل طرف څخه نائب مقررولی سی اوکه نه؟
خطیب دورور په موجودوالی کی وراره نائب مقرر کړی دی اوجماعت منظور کړی دی. اوس یی ورور دعویدار دی، دهغه دعوٰی صحیح ده اوکه نه؟

**جواب**: سابق خطیب چی څوك په خپل ژوندکی امام مقررکی اوقوم اوجماعت هغه منظور کی، هم هغه امام مقرر سو، ولی چی په حقیقت کی دامام مقررولو اختیار دبانی اودهغه داولاد څخه وروسته قوم اوجماعت ته دی لهذا څوك چی قوم امام تسلیم کی هغه امام سو. اوس به دهیچا دعوٰی صحیح نه وی. نه دلور اونه دورور. ولی چی په دی کی میراث نه جاری کیږی. ([3])

---

= اعلم واقرأ منه. (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

[1]. اوالخیار الی القوم فان اختلفوا اعتبر اکثرهم الخ وأم قوما وهم له کارهون لفساد فیه الخ کره له ذلك تحریما لحدیث ابی داود لا یقبل الله صلاة من تقدم قوما وهم لهم کارهون. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۸). ظفیر

[2]. الافضل کون الامام هو المؤذن وفی الضیاء ان علیه السلام اذن فی سفر بنفسه وقام وصلی الظهر وقد حققناه (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الاذان ص ۳۷۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۰۱). ظفیر

[3]. ولایة الاذان والاقامة لبانی المسجد مطلقا وکذا الامامة لوعدلا (درمختار)، (سیجیئ فی الوقف ان القوم اذا عینوا مؤذنا واماما وکان اصلح مما نصبه البانی فهو اولی. (ردالمحتار باب الاذان ص ۳۷۲ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۰۰). ظفیر

**چاچي دفرضو څخه مخکي سنت مؤ کد ونه کړه هغه امام کيدی سی اوکه نه؟ سوال**: (٢٣٩) که چيری امام دجمعي څخه مخکي سنت مؤکد ونه کړه، نوامام کيدی سی اوکه نه؟ دمقتديانو په لمانځه کی خوبه څه فرق نه راځی؟

**جواب**: دغه سړی امام کيدی سی. اودمقتديانو په لمانځه کی به هيڅ کراهت اوخلل نه وی. (١) فقط

**دصبح صادق څخه مخکي اذان او ورپسي فوراً جماعت**: **سوال**: (٢٤٠) يوغير مقلد بی علمه اوشری اوسخت طبيعته دی په دی وجه دمحلی خلګو په جومات کی لمونځ کول پريښوول اوسره ددی چی امام طالب العلم ولايتی اوحنفی دی خودزيد په غوښتنه سره امام په لمانځه کی رکوع اوسجده اوقومه اوجلسه ښه اوږدوی اودسهار اذان دصبح صادق څخه شل منټه مخکی ورباندی وايی، دسهار کيدو سره لمونځ يوازی ياکه يو سړی دوه راسی نودهغوی سره پرامام په زور اچولو سره وکړی. نورو مقتديانو ته څه کول پکاردی؟ هغوی دوهمه جمعه بيرته وکړی اوکه بل جومات ته ولاړسی؟

**جواب**: دصبح صادق څخه مخکی داحنافو په نزد دسهار اذان جائز نه دی. الا فی رواية الثانی ای ابی يوسف رحمه الله. (٢) اواسفار دسهار په لمانځه کی سنت دی. (٣) نو مقتديانو ته پکاردی چی امام ته ددی خبرو وينا وکړی. که هغه يې ونه منی نوهغه دی ليری کړی. اوکه په دی کی فتنه وی نوپه بل جومات کی دی لمونځ کوی. فقط

**دلمانځه دمسائلو څخه ناخبره حافظ او دمسائلو څخه خبر ناظره ويونکی کی دامامت لائق څوک دی؟ سوال**: (٢٤١) زيد حافظ دی اودهغه ښځی بی پردی، اودضروری مسائلو څخه په ښه ډول خبر نه دی. عمرو ناظره خوان دی، قرآن کريم صحيح وايی اودضروری مسائلو څخه په نسبت دزيد زيات خبردی اودهغه ښځی پرده داری دی. په دی حالت کی دامامت زيات حقدار څوک دی؟

---

(١). والاحق بالامامة الخ الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفساد بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة الخ ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غيره مطلقًا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار، باب الامامة ص ٥٢٠ ج ١، ط. س. ج١ ص ٥٥٧). ظفير

(٢). فيعاد اذان وقع بعضه وکذا کله بالاولی قبله کالاقامة خلاف للثانی فی الفجر (درمختار) قوله خلاف للثانی هو راجع الی الاذان فقط فان ابايوسف يجوز الاذان قبل الفجر بعد نصف الليل. (ردالمحتار باب الاذان ص ٣٥٨ ج١، ط.س. ج١ ص ٣٨٥). ظفير

(٣). والمستحب للرجل الابتداء فی الفجر باسفار والختم به هوالمختار (درمختار) لقوله ﷺ اسفروا بالفجر فانه اعظم للاجر رواه الترمذی واحسنه وروی الطحاوی باسناد صحيح (ردالمحتار کتاب الصلوة ص ٣٣٩ ج١، ط.س. ج١ ص ٣٢٢). ظفير

**جواب**: په دی حالت کی عمرو دامامت زيات لائق دی که څه هم په زيد پسی هم لمونځ صحيح دی خو په عمرو پسی زيات ښه دی. (١)

**په فقير اوسيد کی احق بالامامت څوک دی؟ سوال**: (٢٤٢) په يوجومات کی دقوم امام فقير دی. دهغه په کورکی پرده نسته، په بل جومات کی امام سيد دی اودهغه په کورکی پرده سته، خوهغه نابينا دی. دجمعی په لمانځه کی کم امام ته ترجيح ده؟

**جواب**: دامامت دپاره افضل هغه سړی دی چاته چی دلمانځه مسائل معلوم وی، او صالح اومتقی وی. په ړندوالی سره په امامت کی هيڅ حرج نسته، کله چی هغه نيك اومحتاط وی اودمسائلو ښخه خبر وی. نوکه چيری دغه امام دمسائلو ښخه خبروی اونيك وی نود جمعی امامت دپاره هم هغه زيات ښه دی. (٢)

**په امامت کی ترجيح**: **سوال**: (٢٤٣) زيد عالم، طبيب اوحافظ دی، اوعمرو حافظ قاری په سبعه قرآئت پوهيدونکی، مشکوٰة، هدايه، اوجلالين يی ويلی دی. دتراويحو دامامت دپاره څوك ښه دی؟

**جواب**: په دی دواړو کی عمرو دتراويحو اونورو امامت دپاره زيات مستحق دی اوزيات ښه دی ځکه چی هغه ددين دعلم حاصلولو سره قاری هم دی. (٣) فقط

**دخوش آوازه قاری امامت**: **سوال**: (٢٤٤) يوسړی وايی چی په خوش آوازه قاری پسی لمونځ کول ښه دی اوتوجه دهغه قرآئت ته وی بل هيڅ طرفته توجه نه ځی تردی چی دخدای اورسول طرفته هم خيال نه ځی . دهغه داويل صحيح دی اوکه نه؟

**جواب**: دهغه داويل غلط دی. لمونځ په قاری پسی افضل دی، اوخوش آوازی بيله خوبی ده چی ددی هم تعريف په حديثونو کی راغلی دی.

**په دی دواړو کی دچا امامت ښه دی؟ سوال**: (٢٤٥) کله چی په جامع مسجد کی يوموروثی اودشريعت پابندی نه کوونکی، اوپه بل جومات کی دشريعت پابند حافظ

---

(١). والاحق بالامامة تقديمًا بل نصبا الاعلم باحكام الصلوة فقط صحةً وفسادا بشرط اجتنابه الفواحش الظاهرة الخ. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ٥٢٠ ج١ ، ط.س. ج١ ص ٥٥٧). ظفير

(٢). والاحق بالامامة تقديما بل نصبا الاعلم باحكام الصلوة فقط صحةً وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ٥٢٠ ج١ ، ٥٥٧) قيد كراهة امامة الاعمٰی فی المحيط وغيره بان لايكون افضل القوم فان افضلهم فهو اولی آه. (ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٣ ج١ ، ط.س. ج١ ص ٥٢٠). ظفير

(٣). والاحق بالامامة تقديما بل نصبا الاعلم باحكام الصلاة الخ ثم الاحسن تلاوة وتجويدا (درمختار) افاد بذالك ان معنٰی قولهم اقرأ ای اجود لا اكثرهم حفظا ومعنٰی الحسن فی التلاوة ان يكون عالما بكيفية الحروف والوقف وما يتعلق بها قهستانی. (ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢١ ج١ ، ط.س. ج١ ص ٥٥٧). ظفير

اودلمانځه دمَسائلو څخه په ښه ډول خبر آزاد امام لمونځ ورکوی نوپه کم ځای کی لمونځ اکمل او افضل دی؟

**جواب**: دامامت دپاره افضل هغه سړی دی څوك چی دلمانځه دمسائلو څخه خبر دی او حافظ اوصالح دی. (۱) لیکن دکمو خلګو په محلې کی چی کم جومات وی په هغوی باندی دخپلی محلی دجومات حق زیات دی. اودهغه محلی دخلګو دپاره دمحلې په جومات کی لمونځ کول ښه دی او هغوی ته به په هم هغه جومات کی دجمع ثواب ورکول کیږی. (۲)

## دریم فصل

### دچا امامت صحیح دی او دچا دا نه دی صحیح

**<u>که څوک چاته حرام زاده ووایی نودهغه امامت څنګه دی؟</u> سوال**: (۲۴۶) یوسړی معروف النسب اوثابت النسب ته حرام زاده ووایه اونامناسبه ښکنځل یی ورته وکړل، هغه شرعًا فاسق ګرځی اوامامت یی جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: دهغه په فسق کی اودامامت په کراهت کی کلام نسته. الا ان یتوب کذا فی کتب الفقه. (۳)

**<u>دغسال اوذابح امامت</u>: سوال**: (۲۴۷) دغسال (نورو ته غسل ورکوونکی) اوذابح (حلالوونکی \ قصاب) امامت درست دی اوکه نه؟

**جواب**: دغسال اوذابح امامت درست دی، لمونځ په هغه پسی جائزدی، هیڅ کراهت پکښی نسته. (۴) فقط

**<u>څوک چی څلورو مذهبونو ته ګمراهی وایی دهغه امامت</u>: سوال** : (۲۴۸) څه فرمایی ددین

---

(۱). والاحق بالامامة تقديما بل نصبا الاعلم باحكام الصلاة فقط صحة وفساداً بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة وحفظه قدر فرض وقيل واجب وقيل سنة (درمختار) وهو الاظهر لان هٰذا التقديم. ط.س ج۱ ص **۵۵۷**.

(۲). مسجد المحلة افضل من الجامع الا اذاكان امامه عالما (الاشباه) لعل الافضيلة بالنسبه الى اهل المحلة دون غيرهم لئلا يؤدى الى تعطيل مسجد المحلة (شرح حموى الفصل الثانى كتاب الصلوة ص **۱۹۵**). ظفير

(۳). ويكر تقديم الفاسق ايضًا لتساهله فى الامور الدينية فلا يؤمن من تقصيره فى الاتيان بالشرائط (غنية المستملى ص **۳۵۱**). ظفير

(۴). ذبحه کول اومړی ته غسل ورکول دواړه کارونه جائزدی، برابره خبره ده که په اجرت سره وی اوکه بی اجرته وی. مړی ته دغسل ورکولو په سلسله کی په درمختارکی دی والافضل ان يغسل الميت مجانا فان ابتغى الغاسل الاجر جاز ان كان ثم غيره والا لا، لتعينه عليه وان يكون حكم الحمال والحفار كذالك (الدرالمختار على هامش ردالمحتار. باب الجنائز ص ۸۰۴ ج۱ ، ط.س. ج۲ ص **۲۹۹**) اوذبحی په سلسله کی دی: ويجوز الاستيجار على الذكاة لان المقصود منها قطع الاوداج دون افاتة الروح وذالك يقدر عليه فاشبه القصاص فيما دون النفس كذا فى السراج الوهاج. (عالمگیری کتاب الاجاره باب سادس عشر ص ۴۳۸ ج ۴، ط.س. ج۴ ص ۴۰۴). ظفير

عالمان دهغه سړی په باره کی دچا عقیده چی په لاندینیو اشعارو کی درج ده:

بجان نفـــور زاهـــل مذاهب شتی — که غرق بحر ضلال اند وحرق نار هوا

نه شافعی نه حنفی نه مالکی مذهب — نه نقـشبندی وچشتی ونی کذا وکذا

منم که غرۀ نامم بنام صاحب نشست — علی ولـی ملـقب بخـاتم الخـلفـاء

په داسی سړی پسی په لمانځه کی اقتداء جائزده اوکه نه؟

**جواب**: که داواقعی دده عقیده وی اومذاهب اربعه اوطریقی دمشائخ اربعه ضلال او گمراهی گڼی اوددی معتقد دی نودی فاسق اومبتدع دی، په ده پسی لمونځ مکروه تحریمی دی. اوعجیبه نه ده چی داسی سړی دنصوص قطعیه وو څخه دانکارپه وجه کفر اوارتداد ته رسیدلی وی. په داسی حالت کی به په ده پسی لمونځ صحیح نه وی. بهرحال دده داقتداء څخه ځان ساتل لازم دی اوداسی امام معزوله کول لازم اوواجب دی. ([1]) فقط

**دمتعی کونکی امامت**: (۲۴۹) **سوال**: یوحنفی سړی په عدالت کی په قسم سره بیان کوی چی ما دیوی ښځی سره دنکاح په عهد باندی متعه وکړه. داسی سړی په حنفی مذهب کی داخل پاته سو اوکه نه؟ اوپه ده پسی لمونځ کول څنګه دی؟ اوده چی دیوبزرګ په لاس باندی بیعت کړی وو هغه قائم پاته سو اوکه نه؟ اوداسی سړی تجهیز اوتکفین او (دجنازی) لمونځ کول پکاردی اوکه نه؟

**جواب**: کم سړی چی ددی بدفعل اقرار کونکی دی، هغه فاسق اوعاصی دی، امامت دهغه مکروه دی. ([2]) که چیری هغه توبه وکاړی نوامامت یی درست دی اوبیعت اوحنفیت یی قائم دی، اوتجهیز اوتکفین اودجنازی لمونځ دهریوه مسلمان کول پکاردی که څه هم هغه فاسق اوبدکار وی. کما فی الحدیث. صلوا علی کل بر وفاجر، الحدیث. ([3]) فقط

**دزانی اوسګریټ څکونکی امامت**: (۲۵۰) **سوال**: دوه کسان ددوو جوماتونو امامان دی. یوه یی دخپلی خښنی سره زنا وکړه، اوبل بیړی (یوخاص قسم سګریټ) څکوی، ددوی امامت درست دی اوکه نه؟ که چیری دوی دامامت څخه بندسی نودلوی فساد جوړیدلو خطره ده.

---

([1]). ویکره امامة العبد الخ والفاسق الخ والمبتدع الخ (درمختار)اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لا یهتم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعا ولا یخفی انه اذا کان اعلم من غیره لا تزول العلة فلا یؤمن ان یصلی بهم بغیر طهارة فهو کالمبتدع تکره امامته بکل حال، بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم لما ذکرنا (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۶۰). ظفیر

([2]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار باب الامامة، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

([3]). شرح فقه اکبر ص ۹۲. ظفیر

**جواب**: په فاسق پسی لمونځ کیږی خومکروه دی. ([1]) نوکله چی دفاسق امام په لیری کولو کی فتنه وی نوپه هغه پسی لمونځ وکړی. فقط

**دنابینا امامت**: **سوال**: (۲۵۱) په نابینا پسی لمونځ درست دی اوکه نه ؟

**جواب**: که دپلیتی ځخه محفوظ اوسی اودلمانځه په مسئلو خبرداره وی نوامامت دهغه درست دی ([2]). فقط

**دچا زامن چی د ګناه کارونه کوی دهغه امامت**: **سوال**: (۲۵۲) دیو سړی ځلور زامن دی، یو لمونځ ګذار دی اوبعضی شراب چیښی اویو دډرامو کارکوی. داسړی ددغه زامنو سره تعلقات ساتی اوخوراك څښاك ټول یوځای کوی. ددی سړی امامت جائزدی اوکه نه؟

**دشطرنج دلوبه کونکی امامت**: **سوال**: (۲۵۳) دشطرنج لوبه کول څنګه دی. اودشطرنج کونکی امامت جائز اودرست دی اوکه نه؟

**جواب**: (۱) که چیری دغه سړی پخپله نیك اودامامت لائق وی نودهغه په امامت کی هیڅ کراهت نسته بلکی هغه په صورة دآحق بالامامت کیدلو کی لائق تردی دامام جوړیدلو. قال الله تعالی ولا تزر وازرة وزر اخرٰی، الآیة.

(۲) په شطرنج سره لوبی کول دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد مکروه تحریمی ([3]) دی. نوددی عادت کوونکی لائق دامام جوړولو نه دی.

**دسائل امامت**: **سوال**: (۲۵۴) کم سړی چی سوال کوی اومړی ته غسل ورکوی په هغه پسی لمونځ درست اوصحیح اوجائزدی که نه؟

**جواب**: په حدیث شریف کی دی صلوا خلف کل بر وفاجر، یعنی په هرنیك اوبدپسی لمونځ کوی. ددی ځخه معلومه سوه چی په سوالګر اومړی لمبونکی وغیره پسی لمونځ صحیح دی البته اولی بالامامت هغه دی څوك چی دلمانځه دمسائلو ځخه خبروی او صالح وی. دشرعی خلاف کارونه نه کوی. فقط

---

([1]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق الخ وفی المحیط صلی خلف فاسق او مبتدع نا ل فضل الجماعة (در مختار) افاد ان الصلاة خلفهما اولی من الانفراد (ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۵** ج۱، ط.س. ج۱ ص **۵۲۲**) که بل جومات وی نوهلته دی ولاړسی. وفی غیر الجمعة یجوز ان یتحول الی مسجد آخر ولا یاتم به (عالمګیری مصری. باب خامس فصل ثالث ص ۸۱ ج۱، ط. ماجدیه ج ۱ ص ۸۲). ظفیر

([2]). ویکره تنزیها امامة عبد الخ واعمٰی (درمختار) قید کراهة امامة الاعمی فی المحیط وغیره بان لا یکون افضل القوم فان کان افضلهم فهو اولی الخ ورد فی الاعمی نص خاص هو استخلافه ﷺ لابن ام مکتوم وعتبان علی المدینة وکانا اعمیین لانه لم یبق من الرجال من هو اصلح منهما الخ (ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۳** ج ۱، ط.س. ج۱ ص **۵۲**). ظفیر

([3]). ویکره تحریما اللعب بالنرد وکذا الشطرنج (الدر المختار علی هامش رد المحتار کتاب الحظر والاباحة ص **۳۴۷** ج**۵**) ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار، ط.س. ج۱ ص **۵۲۰**). ظفیر

**دبواسیرو والا امامت درست دی اوکه نه؟** **سوال**: (۷۵۵) یوسړی ته دخونی بواسیرو مرض دی اوهروخت دهغه دجاری کیدلو بیره وی، دداسی سړی امامت سره دتندرست امام دموجود والی درست دی اوکه نه؟

**جواب**: دوینی جاری کیدلو په بیری سره دغه سړی شرعًا معذور کیدی نه سی. شرعًا معذور هغه وخت کیږی چی هغه ته دلمانځه په ټول وخت کی دومره موقع ورنه کول سی چی اودس وکړی اوبغیر ددغه مرض دبی اودسی څخه لمونځ وسی. کله چی دی لامعذور سوی نه دی، نوامامت یی درست دی، څه کراهت په دی وجهی سره دده په امامت کی نسته. اوکم وخت چی دی معذور سی نوهغه وخت دتندرستو امام کیدی نسی، دغه وخت امامت دده په وخت دعذرکی بالکل ناجائزدی، قال فی الدر المختار وصاحب عذر من به سلس البول الخ ان استوعب عذره تمام وقت صلٰوة مفروضة بان لایجد فی جمیع وقتها زمنًا یتوضأ ویصلی فیه خالیًا عن الحدث الخ وهٰذا شرط العذر فی حق الابتداء وفی حق البقاء کفٰی وجوده فی جزء من الوقت ولومرة، درمختار وشامی ([1]) جلد اول ص ۲۰۳، وفی باب الامامة منه ولا طاهر بمعذور هٰذا ان قارن الوضوء الحدیث الخ وصح لو توضأ علی الانقطاع وصلی کذالك کاقتداء بمفتصد من خروج الدم الخ. شامی جلد اول ص ۳۸۹. ([2]) فقط

**ددروغوحدیث دبیانونکی امامت درست دی اوکه نه؟** **سوال**: (۷۵۶) یوسړی ددروغو احادیث جوړوی اوبیانوی اودعقائدو خلاف ډیری خبری بیانوی. په داسی سړی پسی لمونځ کول څنګه دی او ددغه سړی دپاره څه حکم دی؟

**جواب**: دغه سړی کذاب یامفتری یا لیونی دی. چی دروغ روایتونه بیانوی اوپرخدای ﷻ اورسول ﷺ باندی بهتان لګوی اوددی وعید مصداق ګرزی: من کذب علیَّ متعمدًا فلیتبوأ مقعده من النار. ([3]) یعنی کم سړی چی پرما باندی دروغ وایی هغه دی خپله ټیکانه په دوږخ کی جوړه کړی. دغه سړی مبتدع اوفاسق دی. امام جوړول یی درست نه دی اوپه هغه پسی لمونځ مه کوی. ([4]) فقط

---

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار. باب الحیض مطلب فی احکام المعذور ص ۲۸۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۳۰۵. ظفیر

([2]). ایضًا باب الامامة ص ۵۴۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۷۸. ظفیر

([3]) مشکوٰة ، کتاب العلم ص ۳۲.

([4]). ویکره امامة عبد الخ ومبتدع ای صاحبه بدعة (درمختار) اما الفاسق الخ ففی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

**دکم امام څخه چې بعضې مقتديان ناراضه وي، دهغه امامت څنګه دی؟ سوال**: (۲۵۷) امام دلمانځه فرائض اوواجبات وغيره په ښه شان اداکوي. دجماعت مقتديان په دوه قسمه دي. بعضې دهغه په امامت باندې رضامند دي اوبعضې ناخوښه دي دکمې طبقې اعتبار به کيږي. اودابوداود دحديث ولايقبل الله صلٰوة من تقدم قومًا فهم لهم کارهون څه مطلب دی؟

**جواب**: دفقهي په کتابونوکې دي چې که چيرې په امام کې څه نقصان نه وي نودمقتديانو دناراضګۍ هيڅ اثر په لمانځه کې نسته. دامام لمونځ بغير کراهته درست دی اوګناه پر مقتديانو باندې ده. اوکه چيرې په امام کې نقص وي اودهغه په وجه مقتديان ناراضه وي نوپر امام باندې مؤاخذه سته اوهغه ته امام کيدل مکروه دي اومراد دحديث من تقدم قومًا الخ صرف هغه امام دی په چاکې چې خلل اونقص وي، کنې مقتديان ګنهګاره دي چې بې وجهې ناراضه دي. (۱) فقط.

**درېږديدونکي امامت**: **سوال**: (۲۵۸) دچاپه لاسو اوپښوکې چې درېږديدلو مرض وي په هغه پسې لمونځ کيږي اوکه نه؟

**جواب**: دچاپه لاس اوپښو کې چې درېږديدلو مرض وي په هغه پسې لمونځ بغير دکراهته (۲) درست دی. فقط

**چاته چې دسلس البول شک راځي، دهغه امامت**: **سوال**: (۲۵۹) دسلس البول مرض خو نسته، ليکن دذکر په کښېکښلو سره دمتيازو څاڅکي راووزي، اوبعضې وخت داسې خيال کيږي چې دمتيازو څاڅکي دځپل ځای څخه خروج وکې خوپه کتلو سره نه ښکاره کيږي. داسې سړی امامت کولی سی اوکه نه؟

**جواب**: په کم حالت کې چې خروج دقطرې نه وي نوامام کيدی سی، اودوهم اوشك اعتبار نسته. فقط

**کم امام چې په ځپل دعوت کې دشرابو انتظام وکې دهغه امامت**: **سوال**: (۲۶۰) ديوحافظ دلور واده وسو، په هغه جلسه کې ډمان هم اوغير مسلم هم راوبلل سول، دهغوی دپاره شراب راوغوښتل سوه اوورباندې وچيښل سوه. په داسې حالت کې نکاح وسوه اوکه نه؟ اودداسې حافظ اقتداء صحيح کيږي اوکه نه؟

**جواب**: نکاح وسوه ليکن دغه خلګ دګناهونو دارتکاب په وجه فاسقان اوعاصيان سول

---

(۱). لوام قومًا وهم له کارهون ان الکراهة لفساد فيه اولانهم احق بالامامة منه کره له ذالك تحريما لحديث ابی داود لايقبل الله صلاة من تقدم قوم وهم له کارهون وان هو احق لا والکراهة عليهم (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۲، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفير

(۲). دامامت دپاره دا (خبره) په عيب کې داخله نه ده. ظفير

توبه دی وکاږی، اوپه داسی حافظ دقرآن پسی اقتداء کول مکروه دی، ترڅو پوری چی هغه توبه ونه کاږی هغه امام مه جوړوی. (۱) فقط

**دبی نکاح ښځی ساتلو ترغیب او دهغه امامت**: **سوال**: (۲۲۱) کم سړی چی بل ته په رغبت ورکولو سره بی نکاحه ښځه دهغه په کورکی اباده (ډیره) کړی، دهغه امامت درست دی که نه؟

**جواب**: داسی سړی دامام کیدو لائق نه دی. په هغه پسی لمونځ مکروه دی. (۲) فقط

**تقلید ته ناجائز او قادیانی ته دمسلمان ویونکی امامت**: **سوال**: (۲۲۲) چی دیوسړی داعقیده وی دهغه امام جوړول څنګه دی: تقلید ناجائز اوبدعت دی. مرزایان اومرزا (قادیانی) مسلمانان دی. دمقلدو مذهب په قرآن کریم کی نسته. داسی سړی امام جوړول اودقرآن شریف ترجمه دهغه څخه زده کول څنګه دی؟

جواب: داسی سړی امام جوړول دچا عقائد چی په سوال کی درج دی، درست نه دی او دهغه څخه دقرآن شریف ترجمه هم ویل نه دی پکار. (۳) فقط

**ترسینی پوری داوږدو وریښتانو ساتونکی امامت**: **سوال**: (۲۲۳) دکم سړی پرسر باندی چی دومره اوږده وریښته وی چی ترسینی پوری رسیږی اوهغه یی دځه مکر اوفریب دپاره نه وی ساتلی، دهغه امامت درست دی اوکه نه؟

**پرقبرونو باندی دغلاف اچونکی امامت**: **سوال**: (۲۲۴) دانبیاوو، اولیاوو، غوثانو، قطبانو او نورو دینی بزرګانو پرمزارونو باندی جارو وهل، رڼا پرکول، غلاف پراچول، سپلنی وغیره پردود کول څنګه دی؟ اوپه داسی سړی پسی لمونځ کول پکاردی اوکه نه؟

**جواب**: (۱) درست دی.

(۲) پرقبرونو باندی رڼاکول، غلاف اچول وغیره ممنوع اومکروه دی. اوصفا ساتل یی ښه دی. په رد المحتار (شامی) کی دی: تکره الستور علی القبور (۱) انتهٰی. فقط (دهغه امامت مکروه (۲) دی. ظفیر)

---

(۱). قا ل الله تعالی: ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان، الایة (القرآن) ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی الخ واما الفسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لا یهتم لامر دینه الخ بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم. (رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۳ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

(۲). ایضًا. ط.س. ج۱ ص ۵۲۰. ظفیر

(۳). ویکره امامة عبد الخ وفاسق الخ ومبتدع ای صاحب بدعة وهی اعتقاد خلاف المعروف عن الوصول الخ وان انکر بعض ماعلم من الدین ضرورة کفر بها الخ فلا یصح الاقتداء به اصلا (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر (ددوهم خل ۱ او ۲ حاشیه په وروسته صفحه کی وګورئ)

**دفرض لمونځ کولو څخه وروسته بیا دفرضو امامت**: **سوال**: (۲۲۵) زید دماپښين دلمانځه په وخت کې جومات ته داخل سو، داودس کولو څخه وروسته یې دسنتو څخه مخکې یو سړي پرفرض لمانځه ولیدی نودسنتو نیت یې وکی او په فرضو کې شریك سو. چې سنت یې ختم کړل نودنورو کسانو انتظار یې وکی خوهیڅوك رانغی نوجلا یې فرض او آخری سنت وکړل. دلمانځه ختمیدلو څخه وروسته دوه لمونځ ګذار نور راغلل او په جمعه یې سره دلمونځ اقامت کول وغوښتل زید هم دهغوی سره شریك سو. اواقامت زید وکی او دماپښين دفرضو نیت یې وکی اولمونځ یې وکی. زید وایي چې جلا کړی لمونځ نفل ګڼل اختیاري دي اودفرضو آخری دوه رکعاته تش کول کیږي اودنفلو په آخری دوو رکعاتوکې هم قرآئت سره دفاتحې واجب دي. په دې وجه که دنفلو نیت وسی نونفل ناقص پاته کیږي اودخپلو مخکنیو نفلو متعلق هم داوایي چې هغه ناقص پاته سوه خو بل چاته دجمعې ثواب اوخپل ځان ته دجمعې ثواب کم چې دنفلو ماتولو څخه ډیر زیات دي صرف په مخکې صورة کې حاصل سوی دي. اوکه چیری بالفرض په آخری جماعت کې دفرضو ثواب ورنه کول سی نودنفلو ثواب خوبه ضروروی. چونکې دا اختلافي مسئله ده، ددې دپاره صرف دفرضو نیت کول پکاردي اوجلا کړی فرض نفل ګڼل پکار دي.

(۲۲۶) ۱. مخکنی سنت کامل سوه اوکه ناقص، ولې چې امام قرآئت سره دفاتحې صرف په مخکنیو دوو رکعاتو کې ویلی دي.

(۲۲۷) ۲. دجلا فرض کولو څخه وروسته په جمعې سره فرض کول درست دي اوکه نه؟ که چیری فرض ونه سی نودنفلو ثواب به ورکول کیږي اوکه نه؟

(۲۲۸) ۳. بیا بیا دفرضو په نیت سره په لمونځ کولو کې اختلاف سته اوکه نه؟

(۲۲۹) ۴. دنفلو په ټولو رکعاتونو کې قرآئت سره دفاتحې واجب دي که څنګه، که چیری واجب وي نوبیا دنفلو والا مقتدي لمونځ به ناقص پاته وي اوکه نه؟

**جواب**: مسئله داده چې چا فرض لمونځ کړی وي هغه بیا دفرض لمونځ کونکو امام کیدی نه سی. نوکله چې زید خپل فرض لمونځ جلا وکی نودهغه فرض اداسول اوس هغه (لمونځ) نفل کولی نسی بلکې دوباره که چیری هم دغه لمونځ کوی نوهغه به نفل وي. اوپه نفل کونکې پسې دفرض کونکو لمونځ نه صحیح کیږي. اوهغه چې کم مخکې په

---

(۱). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ص ۸۳۹ ج۱، ط.س. ج۲ ص ۲۳۸.

(۲). ویکره امامة عبد الخ ومبتدع ای صاحب بدعة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

(۱) فرض کونکی پسی دسنتو نیت تړلی وو اولمونځ یی کړی وو هغه نفل سو. [۱] (۲) خو سنت مؤکد کم چی دماپښین څخه مخکی دی هغه اداء نه سوه، ولی چی دغه سنت جلا کول سنت دی. [۲] ، (۱) هغه نفل سوه دماپښین سنت نه سوه. [۳]

(۲) چی فرض یوازی وکړی نوبیا دفرض کوونکو امام نسی جوړیدی. البته که چیری دفرضو جماعت وی نودنفلو په نیت سره دامام اقتداء کولی سی. [۳]

(۳) بیا بیا فرض نه کیږی چی کم فرض یی مخکی وکړل هغه فرض سول، که وروسته یی بیا کوی نوهغه به نفل وی. [۴]

(۴) نفل چی کله یوازی کوی په ټولو رکعاتونو کی قرآئت فرض دی. اوکه چیری څوك په فرض کونکی پسی دنفلو په نیت سره شریك سی نوهغه نفل صحیح دی. ناقص به نه وی. فقط [۵]

**دغلطی عقیدی والا او لیونی امامت**: **سوال**: (۲۷۰) یوسړی حاجی حمایت علی قوم په شیخ زاده دا اعتقاد لری چی دمرګ څخه وروسته دانسان روح په بل قالب کی راځی اوهغه دهغه هم شکل وی. چاته وایی چی دازما غور نیکه دی اوچاته وایی چی دازما نیکه دی. غرض داچی هغه همیشه داقسم خیالات ظاهروی چی په دی وجه ټول خلګ دهغه څخه نفرت کوی اوپه هغه پسی لمونځ نه کوی. اوهغه دلمانځه ورکولو ډیر شوقی دی. بغیر دچا دویلو څخه دلمونځ ورکولو دپاره دریږی.

**جواب**: ددی خیالاتو اوتوهماتو څخه معلومیږی چی ددغه ذکرسوی سړی عقل پر ځای نه دی. اوهغه لیونی دی. یامعتوه (اثری) دی. اوپه لیونی یامعتوه پسی لمونځ نه صحیح کیږی. لهٰذا په دی احتمال باندی په هغه پسی لمونځ بالکل فاسد دی. [۶] اوکه چیری

---

[۱]. ولامفترض بتنفل وبمفترض فرضا اٰخر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۲ ج ۱ ط.س. ج۱ ص ۵۷۹). ظفیر

[۲]. وصح اقتداء الخ متنفل بمفترض (ایضًا ص ۵۵۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۰). ظفیر (باقی)

[۳] و [۴] وضم الیها سادسة الخ لتصیر الرکعتان له نفلا الخ والرکعتان لا تنوبان عن السنة الراتبة بعد الفرض فی الاصح لان المواظبة علیها انما کانت بتحریمة مبتدأة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب سجود السهو ص ۷۰۱ ج ۱ ، ط.س. ج۲ ص ۸۷). ظفیر

[۳]. ولامفترض بمتنفل (درمختار ط.س. ج۱ ص ۵۷۹) واذا اتمها یدخل مع القوم والذی یصلی معهم نافلة (هدایه ص ۱۳۴ ج ۱). ظفیر

[۴]. واذا اتمها یدخل مع القوم والذی یصلی معهم نافلة لان الفرض لا یتکرر فی وقت واحد (هدایه باب ادراك الفریضة ص ۱۳۵ ج۱). ظفیر

[۵]. والقراءة واجبة فی جمیع رکعات النفل (هدایه باب النوافل فصل فی القرآءة ص ۱۳۱ ج۱). ظفیر

[۶]. ولا یصح الاقتداء بالمجنون المطبق ولا بالسکران (عالمگیری مصری الباب الخامس فی الامامة ج ۱ ص =

هغه لیونی اومختل العقل اومعتوه نه وی بلکی سره ددی چی هوش اوحواس یی سم دی اوداسی عقیده لری نوداعقیده داهل سنت والجماعت څخه خلاف ده بلکی داسلام څخه خلاف ده. په دی وجه هم په هغه پسی لمونځ کول نه دی پکار. اولمونځ به نه صحیح کیږی یابه مکروه تحریمی وی ولی چی په بدعتی پسی لمونځ مکروه تحریمی دی. اود چا (۱) په اسلام کی چی شبه وی او دهغه عقائد داسلام څخه خلاف وی په هغه پسی لمونځ ګرسره صحیح کیږی نه. (۲) بهرحال په هره وجه په هغه پسی لمونځ کول نه دی پکار. اوهغه امام جوړول حرام دی. هغه ته دی وویل سی چی هیڅکله امام مه جوړیږه اوهغه دی ددی کار څخه بالکل بندسی چی دخلګو لمونځ خراب نه کړی. یادی دخپلو باطلو عقائدو اودلیونتوب دخیالاتوڅخه توبه وکاږی. په حدیث شریف کی دی چی دهغه سړی لمونځ نه قبلیږی څوك چی دامامت دپاره مخکی سی اوخلګ دهغه دامامت څخه کراهت کوی اوهغه امام جوړول نه دی پکار. په درمختار کی دی: ولو أم قومًا وهم له کارهون ان کان الکراهة لفساد فیه او لانهم احق بالامامة منه کره له ذٰلك تحریمًا لحدیث ابی داود: ولا یقبل الله صلٰوة من تقدم قومًا وهم له کارهون. (۳) فقط

**په جومات کی دزنا کونکی امامت**: **سوال**: (۲۷۱) یوامام چی په جومات کی دننه زنا وکړه. دوو کسانو په خپلو سترګو ولیدی. اوامام مذکورهمیشه داسی حرکتونه کوی. په داسی امام پسی دلمانځه کولو څه حکم دی؟

**جواب**: داسی سړی کم چی په داقسم فواحشو کی مبتلا دی فاسق اوعاصی دی، دهغه امامت مکروه تحریمی دی. لازم دی چی هغه دی معزوله سی. (۴) اوبل صالح اوعالم امام دی مقرر سی. که پوره عالم نه وی نوکم از کم دومره دی وی چی دلمانځه دمسئلو څخه خبر وی. اوقرآن شریف صحیح وایی. فقط

**دمؤذن امامت**: **سوال**: (۲۷۲) دمؤذن امامت جائزدی اوکه نه؟

---

= ۷۹ ، ط. ماجدیه ج ۱ ص ۸۵). ظفیر

(۱). ویکره امامة عبد الخ ومبتدع ای صاحب بدعة (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

(۲). وان انکر بعض باعلم من الدین ضرورة الخ فلا یصح الاقتداء به اصلا (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۴ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۱). ظفیر

(۳). الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹. ظفیر

(۴). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) قوله فاسق من الفسق وهوالخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریما (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ ، ۵۶۰). ظفیر

**جواب**: حنفيان خو دمؤذن امام كيدل غوره ليكى. په درمختار كى دى: الافضل كون الامام هو المؤذن (۱) بل ځاى په باب الامامة كى دى. وقول عمر ﷺ: لولا الخلافة لاذنت، أي مع الامامة، إذ الجمع أفضل. (۲) فقط

**دنوكرى باوجود چى خپل حواله سوى كارنه اداء كوى دهغه امامت**: **سوال**: (۲۷۳) كم سړى چى په يوه محكمه كى كار كوونكى وى اومنصبى كار نه اداء كوى اومياشت په مياشت تنخواه اخلى دهغه امامت جائزدى اوكه نه؟

**جواب**: دداسى سړى امامت دفسق په وجه مكروه دى. (۳) فقط

**د ګروى څخه دفائدى اخستونكى امامت**: **سوال**: (۲۷۴) يوسړى مزكه ګرو وساتله. راهن ته څه نفع وغيره نه مجراء كوى اوداكار جائز ګڼى. په داسى سړى پسى لمونځ درست دى اوكه نه؟

**چى دكم امام خبره خلك نه منى دهغه اقتداء**: **سوال**: (۲۷۵) امام دمحلى خلګو ته د شريعت خبره وښووله، يوڅو كسانو منظوره نه كړه اوداپى وويل چى موږ خپل رواج نه پريږدو ته زموږ امام نه يى، اوبياپه همدى امام پسى لمونځ كوى. ددغه خلګو لمونځ په دى امام پسى صحيح دى اوكه نه؟

**جواب**: (۱) شامى داتحقيق كړى دى چى دګرو سوى مزكى څخه نفع اخستل په سودكى داخل دى. اوپه: كلّ قرض جرّ نفعًا فهو ربوًا، كى داخل دى نوپه دى بنا باندى چى كم سړى ددى حرام كار مرتكب وى هغه به عاصى اوفاسق وى اوپه فاسق پسى لمونځ مكروه دى. (۴)

(۲) لمونځ په دغه امام پسى صحيح دى. باقى دشريعت احكام نه منل اوپه هغه باندى عمل نه كول ګناه ده، ددى څخه دى توبه وكاږى. فقط

**دتَتْ ژبى امامت**: **سوال**: ( ۲۷۶) يو تَتْ ژبى (تَهْ تَهْ تَهْ ويونكى) سړى لمونځ وركوى په هغه پسى يوڅو كسان مقتديان وه، ديوركعات څخه وروسته يوعالم دلمانځه كولو په غرض راغى، هغه په جمعه كى شريك سى اوكه نه؟ كه چيرى شريك سو نو دټولو خلګو لمونځ

(۱). الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۳۷۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۰۱. ظفير
(۲). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۱۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۲. ظفير
(۳). ويكره امامه عبد الخ وفاسق (درمختار) ولعل المراد به من يرتكب الكبائر (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ ، ۵۶۰). ظفير
(۴). ويكره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹) ظفير، په داشان ګروى اينبوول چى دچاسره ګروى ده يعنى راهن، هغه هيڅ نه اخلى صرف دضمانت په طور يې هغه دځان سره ساتلى وى نوپه دى كى هيڅ بديت نسته اودهغه امامت جائزدى. ظفير

خوبه نه باطليږي، اودعالم لمونځ به په تت ژبي پسي درست وي اوکه نه؟
**جواب**: هغه عالم کم چي وروسته راغی که چيري يوازې لمونځ وکړي نودهغه لمونځ به هم صحيح سي اوکمو اميانو چي دمخکي څخه لمونځ کوي دهغوی لمونځ به هم صحيح سي. اوکه چيري هغه عالم په ذکر سوي امي پسي اقتداء وکړي نوبيابه دهيڅا لمونځ هم صحيح نه وي. نه ددغه عالم اونه دهغه اميانو کمو چي دمخکي څخه لمونځ کوي. په دا شان ددرمختار عبارت: او اذا اقتدٰی امی وقارئ بامی تفسد صلٰوة الکل (١) ﷺ دی ته شامل دی: وصحت لوصلی کل من الامی والقاری وحده فی الصحيح (٢) ﷺ درمختار.
**کم قاتل چي صرف توبه وکاږي دهغه امامت څنګه دی**: **سوال**: (٢٧٧) دقاتل څخه قصاص نه دی اخستل سوی. په مقتول باندی خون معاف کولي نه سي صرف توبه يي وکښله او وايسته اوس دتوبي څخه وروسته به په وجه دذمه واری دحق العبد فاسق ګرزول کيږي اوکه نه؟ اولمونځ به په هغه پسي مکروه وي اوکه نه؟
**جواب**: په درمختار کی دی: لا يصح توبة القاتل حتٰی يسلم نفسه للقود، وهبانيه. په شامي کی دی: ای لاتکفيه التوبة قال فی تبيين المحارم واعلم ان توبة القاتل لاتکون بالاستغفار والندامة فقد بل يتوقف علی ارضاع اولياء المقتول (٣) ﷺ پردی ځای باندی شامي هم وګوري. دومره خبره معلومه سوه چي صرف په توبي سره به دقتل ګناه نه معاف کيږي او (قاتل به) فاسق پاته وي اولمونځ به ورپسي مکروه وي. (٤) فقط
**د ګوډ سړي امامت درست دی اوکه نه؟** **سوال**: (٢٧٨) ديوسړي په پښه کی ګوډوالی دی او دجومات امام دی. ليکن قرآن کريم ښه وايي داسي امام پسي لمونځ درست دی اوکه نه؟
**جواب**: په شامي کی دی: وکذا اعرج يقوم ببعض قدمه فالاقتداء بغيره اولی تاتارخانيه (٥) ددی روايت څخه معلومه سوه چي په ګوډ پسي په لمونځ کولوکی څه حرج نسته. فقط
**کم امام چي دشرابي دکور دعوت خوري، دهغه امامت**: **سوال**: (٢٧٩) کم سړي چي دروژې په مياشت کی ياپه بله مياشت کی هميشه ښکاره شراب چښي، دهغه دکور خوراك چښاك اونکاح اوجنازه امام ته کول څنګه دی. اوکم امام چي يي کوی ياپي په بل چا کوی اودخوراك چښاك څخه يي پرهيز نه کوی دهغه دپاره څه حکم دی اودا خلګ چي په

(١). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ٥٥٤ ج ١ ط.س. ج١ ص ٥٩٢. ظفير
(٢). ايضًا ص ٥٥٤ ج ١، ط.س. ج١ ص ٥٩٢. ظفير
(٣). ردالمحتار کتاب الجنايات فصل فيما يوجب القود ومالايوجبه ص ٤٨٤ ج٥، ط.س. ج١ ص ٥٤٨. ظفير
(٤). ويکره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٣ ج ١، ط. س. ج ١ ص ٥٥٩). ظفير
(٥). ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٥ ج ١، ط.س. ج١ ص ٥٢٢. ظفير

کم مجلس کی دعوت او نکاح او جنازه کی راوغوښتل سی یا پخپله حاضر سی هغه مجلس ته دتللو څه حکم دی؟

**جواب**: شراب چښونکی اودروژی په میاشت کی بغیر دعذره روژه نه نیونکی فاسق او عاصی دی، دهغه سره مسلمانانو ته سلام کلام پریښوول او خوراك چښناك نه کول لازم دی. (۱) دجنازی لمونځ بیشکه دهغه کول پکاردی. لیکن په ژوند کی دهغه سره میل او تعلق ساتل نه دی پکار. اوکم امام چی بغیر دڅه ضرورت اومجبوری څخه دداسی خلګو سره میل او تعلق ساتی اوبغیر دبدګڼلو اوانکار څخه دهغه سره خوراك اوچښناك کوی هغه هم ګنهګار دی. لائق دامام جوړولو نه دی. (۲) فقط

**کم امام چی دمرتدی ښځی دعوت خوری دهغه حکم**: **سوال**: (۲۸۰) یوه ښځه مرتده سوه خوهغه په حالت داسلام کی فاجره وه اودمرتدوالی په حالت کی هم فاجره ده. هغه په یو میلمستیا کی دخپل مذهب په خلګو باندی ډوډی وخوړله او ددوو مسلمانانو دپاره یی هم یوه سرلی وغیره ورکړه. که چیری یوڅوك ملا یی وخوری نودهغه اقتداء به جائز وی، اوکه نه؟

**جواب**: امام ته داسی ډوډی خوړل نه وو پکار، هغه ته پکاردی چی ددی کار څخه توبه وکاړی. (۳) اودتوبی څخه وروسته دهغه اقتداء درسته ده. فقط

**دنکاح تړلو حق او داخترونو امامت**: **سوال**: (۲۸۱) دمظفرنګر ښار قاضی محمد ضیاء الدین وو اوهغه دلمانځه، روژی پایبنده وو، دښار دقاضی کیدلو په حیثیت دهغه څه حقوق مقرر وه اودوه کاره ورته حواله وه. یونکاح تړل اودوهم دآخترونو امامت. چی دهغه څخه نسلاً بعد نسلٍ ترشپږ، اووه پشته پوری مستفید سوی دی، ولی چی دشپږو، اوو پشتو راهیسی فیصلی کول دهغوی په مشرانو کی راروان وو. هغه وفات سوی وو. او اوس دری کسان دعویدار دی. یودقاضی ضیاء الدین زوی څوك چی دصوم اوصلوٰة پابینده اودلمانځه دارکانو اومسائلو څخه خبر دی اونکاح خوانی اوخطبه خوانی ترسره کولی سی. یوبل صاحب دی چی دهغه په آباء اواجدادو کی څوك قاضی نه دی تیرسوی

(۱). وفی فصول العلامی ولا یسلم علی الشیخ الممازح والکذاب واللاغی ولا علی من یسب الناس اوینظر وجوه الاجنبات ولا علی الفاسق المعین الخ (ردالمحتار مطلب المواضع التی یکره فیها السلام ص ۵۷۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۶۱۷). ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار باب الامامة ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

(۳). سئل الفقیه ابوجعفر عمن اکتسب ماله من امراء السلطان وجمع المال من اخذ الغرامات المحرمات وغیر ذلك هل یحل لمن عرف ذالك من طعامه قال احب الی ان لا یاکل منه الخ (ردالمحتار باب زکوٰة الغنم مطلب فی التصدق من المال الحرام ص ۳۵ ج۲ ، ط.س. ج۲ ص ۲۹۲). ظفیر

اوپخپله سود اخلی، دریم صاحب دذکر سوی صاحب مشر ورور دی. دصوم اوصلوٰة پایبنده دی، په عربی پوه دی، خوغیرِ مقلد دی اوتہول اوسیدونکی دمظفر نگر حنفیان دی. په دی دری واړو صاحبانو کی دچا مقرر کیدل مناسب دی؟

**جواب**: په اسلامی شریعت کی په دواړو امورو کی (کم چی قاضی ضیاء الدین مرحوم ته حواله وه، یعنی امامت داخترونو اونکاح تړل) وراثت پکښې نسته بلکی کم سړی چی ددی کارونو اهل وی اوپه هغه کی دامامت اوقضاء اوصاف پیداسی هغه دی امام او قاضی جوړسی، دامامت اوصاف دادی چی امام دی دلمانځه دمسئلو څخه خبروی صالح اودینداردی وی. قرآن کریم دی صحیح وایی، فاسق اوبدعتی دی نه وی، دهغه دبدو اعمالو اودعقائدو دفساد په وجه دی دعامو مسلمانانو دهغه څخه نفرت نه وی ولی چی داخبره هم دامامت دکراهت سبب وی. (۱) اوچونکی دښار عام خلگ حنفیان دامام ابو حنیفه رحمه الله مقلدین دی، ددی دپاره غیرمقلد اوبدعتی دی دهغوی امام جوړنه سی ځکه چی اولاً په وجه دعدم تقلید یابدعاتو هغه دامامت لائق نه دی. ثانیًا دعامو مسلمانانو به دهغه څخه نفرت وی. نوکه چیری په ذکر سوو دری واړو صاحبانو کی څوك امام او قاضی جوړول مناسب دی نودقاضی صاحب مرحوم زوی کم چی دلمانځه اوروژی پایبند اودلمانځه دمسائلو څخه خبردی اونکاح خوانی ترسره کولی سی دامام اوقاضی جوړولو دپاره زيات لائق دی، ولی چی دوهم ۲ نمبر (۲) شخص په وجه دسود خوری اودریم ۳ نمبر په وجه دغیر مقلد والی دحنفیانو اهل سنتو امام جوړولو لائق نه دی. (۳) فقط

**که چیری صرف یوسړی په یوامام باندی الزام ولګوی نو ددغه امام امامت څنګه دی؟ سوال**:

(۲۸۲) یوسړی قرآن کریم ډیر ښکلی وایی اوشریف سړی دی. غرض داچی دټول ښار خلگ دغه سړی دامامت قابل گڼی. صرف یوسړی پرهغه دا الزام لگوی چی دی سفلی عمل (جادو اومنتر) کوی. دغه امام بالکل ددی څخه انکارکوی. اوس داوفرمایاست چی کم سړی په داسی نیك امام باندی چی دټول ښار خلگ یی ښه گڼی، الزام باندی لگوی

---

(۱). والاحق بالامامة تقديما بل نصبا الاعلم باحكام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة وحفظه قدر فرض الخ ولو ام قوما وهم له كارهون ان الكراهة لفساد فيه اولانهم احق بالامامة منه كره له ذالك تحريما لحديث ابي داود لايقبل الله صلاة من تقدم قوم وهم له كارهون. (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۰ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷ - ۵۵۹). ظفير

(۲). وكذا تكره خلف امرد الخ وشارب الخمر واكل الربوا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲). ظفير

(۳). ويكره امامة عبد الخ وفاسق الخ ومبتدع اى صاحب بدعة الخ وزاد بن ملك ومخالف كشافعى الخ (ايضًا ج۱ ص ۵۲۵، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفير

دهغه څه سزا ده؟

**جواب**: کله چي ددی الزام اوتهمت ثبوت نه وی کم یی چی پر امام باندی لګولی دی نو دهغه امامت دکراهت څخه بغیر صحیح دی. ددروغو الزام لګونکی فاسق دی او عاصی دی، توبه دی وکاړی. (١) فقط

**دنابالغ امامت**: (٢٨٣) په نابالغ پسی لمونځ کیږی اوکه نه ؟

**جواب**: داحنافو صحیح مذهب دادی چی دنابالغه اقتداء دبالغو دپاره په فرضو اونفلو کی په یوه کی هم صحیح نه ده، نو تراویح هم په نابالغه پسی نه کیږی همدا داحنافو صحیح مذهب دی اوبلوغ دپنځلسو ١٥ کالو په عمرکی دی، لهذا ترڅو پوری چی هلك بالغ سوی نه وی هغه امام مه جوړوئ هسی په نفلوکی دهغه قرآن پاك اوریئ، یعنی هغه هلك دی دنفلو په نیت تړلو سره ودریږی او اوریدونکی دی همداغسی کښیني او دهغه قرآن پاك دی اوری کله چی پوره دپنځلسو کالو سی نوبیا یې دتراویحو امام جوړ کړئ (قال فی الدر المختار: ولا یصح اقتداء رجل بامرأة وخنثی وصبی مطلقا ولو فی جنازة ونفل الخ ، اوپه شامی کی دی: والمختار انه لا یجوز فی الصلٰوة کلها الخ). فقط (٢)

**داستاذ دبی عزتی کوونکی امامت**: **سوال**: (٢٨٤) ګل بابا دمولوی ثناء الله څخه یوکتاب دحدیثو اویو دفقهی ووایه. ددی څخه وروسته ګل بابا په یوه خبره باندی خپل ذکر سوی استاذ ته ښکنځل وکړل اوبد الفاظ یی ورته وویل. څه وخت وروسته مولوی صاحب وفات سو اوس په ګل بابا پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: اوس کله چی دګل بابا ذکرسوی استاذ وفات سوی دی نوګل بابا ته دی وویل سی چی دخپل استاذ مذکور دپاره دی دعا وکړی اوکمه بی ادبی اوګستاخی چی دهغه څخه سویده دهغه څخه دی توبه وکاږی اواستغفار چی وغواړی الله ﷻ به دهغه ګناه معاف کړی. اواستاذ به یی هم خوشحاله سی. اودتوبی څخه وروسته دګل بابا امامت بی کراهته درست دی. په درمختار کی دی چی که چیری په فاسق اومبتدع پسی لمونځ وکړی نوفضیلت اوثواب دجمعی به ورکول سی. اوپه شامی کی دی چی ددی څخه معلومه سوه چی په دوی پسی لمونځ کول دیوازی لمونځ کولو څخه ښه دی. ددرمختار عبارت دادی. صلی خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة الخ قال فی الشامی افاد ان الصلوٰة خلفهما اولٰی من الانفراد الخ (٣) . فقط

---

(١). یایها الذین اٰمنوا اجتنبوا کثیرا من الظن ان بعض الظن اثم ولاتجسسوا (الحجرات ٢٠٠). ظفیر

(٢). ردالمحتار باب الامامة ج١ ص ٥٣٩ - ٥٤٠ ، ط.س. ج١ ص ٥٧٦ – ٥٧٧ . ظفیر

(٣). ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٥ ج ١ ، ط.س. ج١ ص ٥٦٢ . ظفیر

**دبجلکو څخه کښته دپرتوګ اغوستونکی امامت**: **سوال**: (۲۸۵) دامام پرتوګ دبجلکو څخه کښته دی سجدی ته دتللو وخت کی په دواړو لاسونو سره پرتوګ پورته خیژوی اوبیا سجدی ته ځی. داکار په لمانځه کی په هر رکعات کی برابر جاری وی. هغه ته وویل سوه نوجواب یی داورکی چی قسم په خدای، اوس به یی دوچنده کوم. په داسی حالت کی به زموږ دمقتدیانو لمونځ صحیح سی اوکه نه؟ اوموږ په هغه پسی لمونځ کوو اوکه نه؟ اوکه یوازی لمونځ کوو؟

**جواب**: امام مذکورته داسی کول نه دی پکارولی چی اول خو دبجلکو څخه کښته پرتوګ ساتل دلمانځه څخه دباندی هم حرام اومنعه دی، داکار دامام دفسق سبب دی اوپه فاسق پسی لمونځ مکروه دی، اوفاسق چی توبه کښلی نه وی نوامام جوړول یی مکروه ([1]) دی. اوثانیًا په لمانځه کی بیا بیا داسی حرکت کول هم نه دی پکار ځکه چی په دی کی هم کراهت دی. اوپه بعضو صورتونوکی دلمانځه دفساد بیره ده. ([2]) پرهر حال امام مذکور دفعل مذکور څخه بندول پکاردی اوکه چیری هغه منع نه سی نومعزوله کول یی پکاردی اوکه چیری یې پردی باندی قدرت نه وی، نوپه همده پسی لمونځ کول ښه دی اودجمعی ثواب حاصلیږی ([3]) . فقط

**څوک چی صرف په اوبو سره استنجاء وهی، دهغه امامت**، **سوال**: (۲۸۲) زید وایی چی عمر دتشو اوډکو متیازو څخه وروسته په لوټو سره ځان نه پاکوی صرف پر اوبو باندی بسوالی کوی هغه دامامتی کولو لائق نه دی ولی چی استنجاء بالحجر سنت مؤکد ده. عمر وایی چی استنجاء بالحجر ضروری نه ده. آیاپه عمر پسی په لمونځ کولوکی څه حرج سته اوکه نه؟ په دی باندی یومفتی عمر ته فاسق لیکلی وو. په هغه باندی مفتی صاحب دا لاندینی جواب تحریر وفرمایی:

**جواب**: اقول بالله التوفیق. په شامی کی دی: ثم اعلم ان الجمع بین الماء والحجر افضل ویلیه فی الفضل الاقتصار علی الماء ویلیه الاقتصار علی الحجر وتحصیل السنة بالکل وان تفاوت الفضل کما افاده فی الامداد وغیره ([4]).

---

([1]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۳** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹**). ظفیر

([2]). ویکره کفه ای رفعه ولو لتراب کمشمر کم اوذیل وعبثه به اوبثوبه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب ما یفسد الصلوة ومایکره فیها ص **۵۹۸** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۶۴۰ ). ظفیر

([3]). وفی النهر عن المحیط صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة (در مختار) افاد ان الصلاة خلفهما اولی من الانفراد لکن لا ینال کما ینال خلف تقی وورع (رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص **۵۲۵** ، ط.س. ج۱ ص **۵۶۲**). ظفیر

([4]). رد المحتار فصل فی الاستنجاء ص ۳۱۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۳۳۸ . ظفیر

دعلامه (شامی) ددی تفصیل څخه معلومه سوه چی صرف پراوبو باندی په اکتفاء کولو سره داستنجاء سنت حاصلیږی. نوحکم دفسق پرهغه باندی غیرموجّه دی، اوترك کونکی دافضل نه فاسق کیږی. فالجواب فیه سقم وغلط. فقط

**که چیری ښځه ووایی چی فلانی امام زما سره زنا کړیده، دهغه امامت**: **سوال**: (۲۸۷) یوه ښځه په خپله ژبه داوایی چی فلانی سړی زما سره زنا کړیده. دغه سړی دجومات امام هم دی. اوس په دغه سړی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ اودغه سړی دزنا څخه انکار کوی، اوښځه فحش کاره ده. په دی صورة کی شرعًا څه حکم دی. دښځی نکاح دخپل خاوند څخه ماته سوه اوکه قائمه ده؟

**جواب**: دښځی په وینا سره پرسړی باندی دزنا ثبوت نه سی کیدی. (۱) او دهغه په امامت کی څه کراهت نه راځی. اوذکر سوی ښځی نکاح دهغې دخاوند سره قائمه ده. فقط

**دتور خضاب استعمالونکی امامت**: **سوال**: (۲۸۸) کم سړی چی تور خضاب لګوی اووریښته توروی په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ **جواب**: مکروه (۲) دی. فقط

**په ټوټکو (جادو اوطلسم) وغیره باندی داعتقاد لرونکی امامت**: **سوال**: (۲۸۹) زید ټوټکی (جادو اوطلسم) کوی. دصدقی په طور دمریض دکټ سرته بزه تړی اوکه مریض کم عمره وی نووربادی یی سپروی. بیا هغه بزه دفن کوی. دزید دپاره څه حکم دی؟ آیا په هغه باندی توبه اوتجدید دنکاح لازم دی اوکه نه؟ هغه امام جوړول پکاردی اوکه نه؟ اوکه چیری مسلمانانو ته وویل سی چی داسی سړی ته زورنه ورکول پکار دی، کم ازکم دی دامامتی څخه معزوله کړی، اویو څو جاهلان ووایی چی موږ خوپه زید باندی ایمان راوړی دی، نوداڅنګه دی؟

**جواب**: داسی سړی امام جوړول نه دی پکار، بلکی عالم اوصالح اوپرهیزګاره سړی امام جوړول پکاردی. اوکم جاهلان چی دداسی سړی دامامت طرفداردی هغوی ګنهګاره دی. ولی چی دهغه په مبتدع او فاسق کیدلو کی څه تردد نسته او د فاسق او بدعتی امامت

(۱). ترڅو پوری چی دڅلورو عینی ګواهانو شاهدی پیش نه کړی. دَاعتبار قابله نه ده. والشهادة علی مراتب منها الشهادة فی الزناء یعتبر فیها اربعة من الرجال لقوله تعالی : واللاتی یاتین الفاحشة من نساءکم فاستشهدوا علیهن اربعة منکم (هدایه کتاب الشهادات ص ۱۳۸ ج ۳). ظفیر

(۲). ویستحب للرجل خضاب شعره ولحیته ولوفی غیر حرب فی الاصح والاصح انه ﷺ لم یفعله ویکره بالسواد وقیل لا (الدرالمختار) قوله یکره بالسواد ای بغیر الحرب الخ وان الیدین نفسه للنساء فمکروه وعلیه عامة المشائخ وبعضهم جوزه بلا کراهة روی عن ابی یوسف انه قال کما یعجبنی ان تتزین لی یعجبها ان تزین لها (ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ص ۳۷۲ ج ۵ ، ط.س. ج۱ ص ۴۲۲) که چیری توری نکروزی مکروه ومنل سی نودَهغه امامت به مکروه وی کنی نه به وی، ځکه چی دامسئله مختلف فیه ده. ظفیر

مکروه دی اومعزوله کول دداسی امام لازم دی. کذا فی الشامی ([1]). فقط

**<u>کم سړی چې دجومات سامان په خپل کورکی استعمال کړی، دهغه امامت</u>: سوال**: (۲۹۰) کم سړی چې جومات برباد کړی اودهغه خاوره اوکانې یې دخپلې استوګنې په کورکی ولګول اولمونځ او روژه نه اداء کوی. اودکافرانو دکور ډوډۍ خوری اوسود ورکوی او خطبه غلطه وایی، ددغه سړی پر منبر باندی دریدل اووعظ اوخطبه ویل اوامامت کول درست دی اوکه نه؟

**جواب**: دجومات سامان په طور دخیانت اوغصب کورته وړل اوپه خپل کارکی راوستل اودرمضان شریف روژې نه نیول اولمونځ نه کول اوکافرو ته سود ورکول داټول کارونه حرام دی. ددی کارونو کونکی فاسق دی اوامامت دهغه مکروه دی ([2]). اودکافرانو دکور ډوډۍ خوړل صحیح دی. پردی باندی اعتراض کول بې ځایه دی. اوغلطه خطبه ویونکی خطیب مقررول نه دی پکار. فقط

**<u>دخلکو دخفه کیدلو دبیری څخه په خلاف شریعت خبره باندی دخاموشی اختیارونکی امامت</u>: سوال**: (۲۹۱) چې عالم دشریعت څخه خلاف خبره واوری اونه یې منع کوی اوپه دی وجه خاموش پاته سی چې خلګ به زما څخه خفه سی. دداسی عالم امامت څنګه دی؟

**جواب**: دامر بالمعروف په باره کی یې په درمختار کی داتفصیل کړیدی چې که چیری غالب ګمان وی چې داسړی به زما خبره اودشریعت حکم ومنی نوهغه ته امر بالمعروف اونهی عن المنکر کول واجب دی. اوکه داګمان یې وی چې داسړی به شرعی حکم ونه منی نوواجب نه دی. ([3]) نوهم دغه رکم حکم په صورة مسئوله کی دی چې که چیری ویل نافع وی نوودی وایی، کنی خاموش دی پاته سی. اودا ګمان دعالم دطرفه ولی وسی چې په دی وجه خاموشه وی چې خلګ راڅخه خفه نه سی. ([4])

---

([1]). ویکره امامة عبد ؒ وفاسق ؒ ومبتدع ای صاحب بدعة (درمختار) بل مشی فی شرح المنیه ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ ). ظفیر

([2]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامت ص ۵۲۳ ج۱ ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ ). ظفیر

([3]). رای فی ثوب غیره نجسا مانعا ان غلب علی ظنه انه لو اخبره ازالها وجب والا فالامر بالمعروف علی هٰذا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی الاستنجاء ص ۳۲۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۳۵۰). ظفیر

([4]). فالامر بالمعروف علی هٰذا کذا فی الخانیة وفی فصول العلامی وان علم انه لا یتعظ ولا ینزجر بالقول ولا بالفعل ولو باعلام سلطان اوزوج اووالدله قدرة علی المنع لایلزمه ولایاثم بترکه، لکن الامر والنهی افضل وان غلب علی ظنه انه یضر به اویقتله لانه یکون شهیداً. (ردالمحتار فصل فی الاستنجاء ص ۳۲۴ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۳۵۰). ظفیر

**څوک چې دمسئلو څخه انکاروکې دهغه امامت**: **سوال**: (٢٩٢) کم عالم چې دشريعت خلاف خبرې اورې اوچپ پاته سې ګويا دخلګو دلحاظ په وجه. کمه مسئله چې حقه وې هغه پته کړې اودشريعت بې ادبي وکړې اودا ووايې چې دشريعت فتوٰی په ما څه کولې سې. په داسې سړې پسې لمونځ کول جائز دې اوکه نه ؟

جواب: په داسې سړې پسې لمونځ کول نه دې پکار څوك چې دشريعت مسئلې نه منې او دبې ادبې الفاظ ووايې. (١) فقط

(په شرح فقه اکبر ص ٢١٥ کې دې: من اهان الشريعة اوالمسائل التي لابدمنها کفر. ظفير)

**دچاچې داعقيده وې چې حضور ﷺ ته دتمامو شيانو علم وو، دهغه امامت**: **سوال**: (٢٩٣) که چيرې يو سړې ددې خبرې معتقدوې چې نبي کريم ﷺ ته علمې کلي ياجزئي وو، نوپه هغه پسې لمونځ جائزدې اوکه نه؟

**جواب**: دبعضو مغيباتو علم رسول الله ﷺ ته دحق تعالى په اعلام (يعنې ښوولو) سره مسلَّم اومتفق عليه دې. البته داعقيده ساتل چې دټولو مغيباتو علم هغه ﷺ ته وو، يا هغه ﷺ عالم الغيب بالاستقلال وو، نودا داهل سنت والجماعت دعقيدې څخه خلاف ده، په داسې سړې پسې دلمونځ کولو څخه ځان ساتل لازم دې. (٢) فقط

**عالمګيرې ته د ګرنتهـ ويونکې امامت**: **سوال**: (٢٩٤) څه فرمايې ددين عالمان دهغه سړې په باره کې څوك چې په يوه مسئله کې دبحث په دوران کې په بيباکې سره اوبغير دبيرې څخه دفتاوٰی عالمګيرې په باره کې کم چې دفقهې دعلم معتبر اومستند کتاب دې هغه ته ګرنتهـ وايې. کم چې دسيکانو دپيشوا ګرونانك کتاب دې، اوبيابه پردې خبره باندې ټينګ دې، په داسې سړې پسې لمونځ درست دې اوکه نه؟

**جواب**: داسې سړې فاسق دې اوسخت ګنهګاردې ترڅو پورې چې توبه ونه کاړې په هغه پسې لمونځ مه کوې (٣) اوامام يې مه جوړوې. دفقهې دکتابونو سپکاوې ته عالمانو کفر ويلې دې. (٤) والعياذ بالله تعالى. فقط

**چې دچاپه خوله کې غاښونه نه وې، دهغه امامت**: **سوال**: (٢٩٥) کم سړې چې دلوې اودس

---

(١). ويکره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٣ ج١، ط.س. ج١ ص ٥٥٩). ظفير

(٢). ويکره امامة عبد الخ ومبتدع اى صاحب بدعة وهى اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٣ - ٥٢٤ ج١ ، ط.س. ج١ ص ٥٥٩ – ٥٦٠ ). ظفير

(٣). ويکره امامة عبدالخ وفاسق (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٣ ج ١ ، ط.س. ج١ ص ٥٥٩). ظفير

(٤). وفى التتمة من اهان الشريعة والمسائل التى لابدمنها کفر. شرح فقه اکبر ص ٢١٥. ظفير

ماتی څخه دنه صفا کیدلو په وجه یادهلکوالی دیو علت په وجه دتمباکو څه حصه په مقعدکی ایږدی دهغه امامت څنګه دی؟ یایی په خوله کی یوغاښ هم نه وی چی دهغه په وجه سره دحروفو اداء کیدل سم نه کیږی؟ یادچا دپښو ګوتی چی دمزکی څخه هاخواته (لوړ طرفته) وی؟ اوښه سړی پیدا کیدی سی نوامامت یی څنګه دی؟

**جواب**: په ټولو صورتونو کی لمونځ صحیح کیږی لیکن ښه دادی چی امام داسی سړی جوړسی دچا څخه چی دمقتدیانو نفرت نه وی اوهغه امام صالح اودلمانځه دمسئلو څخه خبر وی اوقرآن شریف ښه وایی ([1]). فقط

**دعاق امامت**: **سوال**: (۲۹۶) دعاق امامت جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: په حدیث شریف کی دی: صلوا خلف کل بر وفاجر، الحدیث. نو عاق هم چونکی مسلمان دی، کافرنه دی. په دی وجه په هغه پسی لمونځ صحیح دی، خومکروه دی ولی چی دمور اوپلار عاق او داستاذ عاق (نافرمانه) فاسق دی اودفاسق امامت مکروه ([2]) دی. کذا فی الشامی. فقط

**دزکوٰة مال خوروونکی هاشمی (سیّد) امامت**: **سوال**: (۲۹۷) یوصاحب دنصاب هاشمی سړی زکوٰة اخلی اوغزل خوانی کوی اونغاره ږغوی اوخپل سکه ورور رسواکوی. دداسی سړی دامامت څه حکم دی؟

**جواب**: غنی ته دزکوٰة مال اخستل اوخوړل ناجائزدی اوسرود اوسرنا اونغاره وغیره شیان حرام اومعصیت دی، دغه رکم په یومسلمان باندی تهمت لګول اوذلیله کول اوعیب جوئی یی کول حرام دی. مرتکب دداسی خبرو فاسق دی، دامام جوړولو لائق نه دی. په شامی وغیره دفقهی کتابونوکی دی چی دفاسق امام جوړول حرام دی اوپه هغه پسی لمونځ کول مکروه تحریمی دی ولی چی فاسق واجب الاهانة دی اوپه امام جوړولو کی دهغه تعظیم ([3]) دی. فقط

**دمریض امامت**: **سوال**: (۸۹۸) دجومات پر مقرر امام زید باندی یخه تبه لګیدلی ده خو

([1]). والاحق بالامامة تقديما بل نصبا الاعلم باحكام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفير

([2]). اما الفاسق فقد عللوا كراهة تقديمه بانه لايهتم لامردينه وبان فى تقديمه للامامة تعظيمه وقد وجب عليهم اهانته شرعًا الخ بل مشى فى شرح المنية على ان كراهة تقديمه كراهة تحريم لماذكرنا (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفير

([3]). ويكره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) قوله فاسق من الفسق وهوالخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من يرتكب الكبائر الخ بل مشى فى شرح المنية على ان كراهة تقديمه كراهة تحريم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰ - ۵۵۹). ظفير

حواس يې درست دی اودهغه هم عصر عالمان په جومات کې موجوددی نوپه لمانځه ورکولو کې ترجيح چاته ده اوپه مريض امام پسې دعالمانو مقتديانوپه لمانځه کې خوبه څه کراهت نه راځی؟

**جواب**: په لمانځه کې به څه کراهت نه [1] وی.

**داجنبې ښځې سره دخلوت اختيارونکی امامت**: **سوال**: (۶۹۹) دجومات يوامام يوسړی ته څلور سوه روپۍ ورکړی اوپه هغه باندی يې ښځه طلاقه کړه. اوس هغه طلاقه سوی ښځه اوامام په يوه کوټه کې يوازی اوسيږی. آيا اوس دهغوی نکاح وروسته دعدی دتيريدلو څخه کيدی سی، بله داچې دهغه امامت جائزدی اوکه نه؟ مذکوره ښځه هغه دمينځی په شان شمار کړی اوکه نه؟

**جواب**: دعدی څخه وروسته نکاح کيدی سی اودنکاح څخه مخکې هغه ښځه اجنبيه (يعنی پردی) ده. خلوت ورسره [2] حرام دی. اومينځه ګڼل دهغه غلط دی اوجهالت دی. اوامام مذکور دامامت لائق نه دی، هغه دی دامامت څخه معزول سی په هغه پسې لمونځ مکروه [3] دی.

**پنځه ويشت ۲۵ کلن امام چې ږيره يې پوره نه وی راغلې**: **سوال**: (۷۰۰) په يوجومات کې امام پنځه ويشت شپږ ويشت کلن مقرردی خوږيره يې پوره ښکاره سوی نه ده. په داسې سړی پسې لمونځ جائزدی اوکه نه؟ اودامامت په شرائطو کې بلوغ شرط دی اوکه ږيره؟

**جواب**: په هغه پسې لمونځ درست دی، ولې چې امامت دپاره بالغ کيدل شرط دی. ږيره راوتل شرط نه [4] دی. هکذا فی کتب الفقه. فقط

---

(۱). ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غيره مطلقا (درمختار) ای وان كان غيره من الحاضرين من هو اعلم واقرأ منه (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفير

(۲). وفی الاشباه الخلوة بالاجنبية حرام (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار كتاب الحظر والاباحة فصل فی النظر والمس ص ۳۲۳ج ۵ ، ط.س. ج ۶ ص ۳۶۸ ). ظفير

(۳). ويكره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنية ان كراهة تقديمه كراهة تحريم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ ). ظفير

(۴).وَكَذَا تُكْرَهُ خَلْفَ أَمْرَدَ (درمختار) الظَّاهِرُ أَنَّهَا تَنْزِيهِيَّةٌ أَيْضًا . وَالظَّاهِرُ أَيْضًا كَمَا قَالَ الرَّحْمَتِيُّ أَنَّ الْمُرَادَ بِهِ الصَّبِيحُ الْوَجْهِ لِأَنَّهُ مَحَلُّ الْفِتْنَةِ ، وَهَلْ يُقَالُ هُنَا أَيْضًا : إذَا كَانَ أَعْلَمَ الْقَوْمِ تَنْتَفِي الْكَرَاهَةُ : فَإِنْ كَانَتْ عِلَّةُ الْكَرَاهَةِ خَشْيَةَ الشَّهْوَةِ وَهُوَ الْأَظْهَرُ فَلَا ، وَإِنْ كَانَتْ غَلَبَةَ الْجَهْلِ أَوْ نُفْرَةَ النَّاسِ مِنْ الصَّلَاةِ خَلْفَهُ فَنَعَمْ سُئِلَ الْعَلَّامَةُ الشَّيْخُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عِيسَى الْمُرْشِدِيُّ عَنْ شَخْصٍ بَلَغَ مِنْ السِّنِّ عِشْرِينَ سَنَةً وَتَجَاوَزَ حَدَّ الْإِنْبَاتِ وَلَمْ يَنْبُتْ عِذَارُهُ ، فَهَلْ يَخْرُجُ بِذَلِكَ عَنْ حَدِّ الْأَمْرَدِيَّةِ ، فَهَلْ حُكْمُهُ فِي الْإِمَامَةِ كَالرِّجَالِ الْكَامِلِينَ أَمْ لَا أَجَابَ : سُئِلَ الْعَلَّامَةُ الشَّيْخُ أَحْمَدُ الْمَعْرُوفُ بِابْنِ الشَّلَبِيِّ =

**پہ الف اوعین کی دتمیز نہ ساتونکی امامت**: **سوال**: (۷۰۱) کم سړی چی دقرآن شریف پہ الفاظو کی دبی علمی پہ وجہ تمیز نسی کولی اوپہ الف اوعین اوت اوط وغیرہ کی فرق نسی کولی اوزور، زیر، پیښ ہم باقاعدہ نسی ویلی پہ ھغہ پسی لمونځ درست دی اوکہ نہ؟

**جواب**: پہ ھغہ پسی لمونځ دصحیح ویونکو درست نہ دی. ([1]) فقط

**پرچا باندی چی حج فرض وی اونہ یی کوی، دھغہ امامت**: **سوال**: (۷۰۲) زید دیوی محلی پہ جومات کی امام دی. پہ زید باندی پہ وجہ دنصاب حج فرض دی اوھغہ یی نہ اداء کوی اوشرعی مانع ہم موجود نستہ. بلہ داچی زید خپلہ ږیرہ پہ خضاب سرہ توروی او دممانعت دحدیث پہ قسم قسم تاویلونو سرہ تاویل کوی. دریمہ داچی زید دصلحی پہ جشن کی ښہ پہ شوق سرہ حصہ واخیستہ اونورو خلګو تہ یی پہ ھغہ کی دشریکیدلو ترغیب اوشوق ہم ورکوی، ګواکی داسلامی خلافت پر خرابیدو اوختمیدو باندی دھغہ دطرف څخہ دزړہ داخلاصہ دخوشحالی اظھار وسو. دداسی سړی دپارہ څہ حکم دی او دھغہ اقتداء کول جائزدی اوکہ نہ؟ کہ چیری پہ ھغہ پسی لمونځ نہ صحیح کیږی نو دمخکنیو لمونځونو څہ کول پکاردی؟

**جواب**: پہ درمختار اوشامی کی دی چی زیاتہ صحیح خبرہ دحج پہ بارہ کی دادہ چی فی الفور دی اداء سی. یعنی پہ کم کال چی حج فرض سی پہ ہم ھغہ کال دی اداسی اود اول کال څخہ تاخیر ګناہ صغیرہ دہ کہ چیری ترڅوکالو پوری تاخیر وکړی نوفاسق بہ سی. ([2]) ھمدغہ شان تور خضاب بغیر دڅہ داعی مشروع (یعنی شرعی ضرورت) څخہ مکروہ یی لیکلی دی. ([3]) نو دادواړی خبری دذکرسوی سړی دامامت دمکروہ والی سبب دی. یعنی کہ څہ ہم لمونځ پہ ھغہ پسی اداء کیږی. لقولہ ﷺ صلوا خلف کل برو فاجر الحدیث نقلہ فی شرح المنیہ. لیکن مکروہ کیږی. اوکم لمونځونہ چی پہ ھغہ پسی سوی دی ھغہ ہم

---

= مِنْ مُتَأَخِّرِي عُلَمَاءِ الْحَنَفِيَّةِ عَنْ هَذِهِ الْمَسْأَلَةِ فَأَجَابَ بِالْجَوَازِ مِنْ غَيْرِ كَرَاهَةٍ . (رد المحتار بالإمامة ج ۱ ص ۵۲۵ ط. س. ج۱ ص ۵۲۲). ظفیر

([1]). ولاغیر الالثغ بہ ای بالالثغ علی الاصح کما فی البحر (الدرالمختار علی ھامش ردالمحتار باب الامامۃ مطلب فی الالثغ ص ۵۴۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۱). ظفیر

([2]). وھوفرض علی الفور وھوالاصح فلایباح لہ تاخیر بعد الامکان الی العام الثانی فاذا آخرہ وادی بعدذالک وقع اداء کذا فی البحرالرائق (عالمګیری مصری کتاب المناسك ص ۲۰۲ج۱ ، ط. م. ج۱ ص ۲۱۲). ظفیر

([3]). ویستحب للرجل خضاب شعرہ ولحیتہ الخ ویکرہ بالسواد وقیل لا (الدر المختار علی ھامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحۃ فصل فی البیع ص ۳۷۵ ج۵ ، ط.س. ج۲ ص ۴۲۲). ظفیر

وسول، دهغه دراګرزولو ضرورت نسته. ددی دپاره یو بل صالح اوعالم سړی امام جوړول پکاردی ولی چی دهغه په امام جوړولو کی دهغه تعظیم دی اوتعظیم دفاسق حرام دی. (١) اودصلحی دجشن شرکت ددی څخه بیل ساتل پکاردی ولی چی په دی کی په شرکت کولو کی دحاکمانو دحکم په وجه قوم ته فی الجمله مجبوری ده. محض په دی وجه به دفسق حکم نه سی پرکول کیدی. فقط

**<u>څوک چی سنی نه وی اودشیعه څخه متاثر دی، دهغه امامت</u>**: **سوال**: (۷۰۳) یوسړی مخکی رافضی وو هغه دشیعه اوسنی قوم په منځ کی امام جوړسو اوچونکی اکثره خلګ سنیان وه هغه په لمانځه کی خپل طرز اوطریقه دسنیانو غوندی ولګول، کم خلګ چی دهغه شیعه توب ته ګوری هغوی لمونځ نه کوی اودزړه دتسلی دپاره داسوال پیش کوی چی که چیری دا امام سړی دشیعه ګانو پرهغه فرقه باندی کمه چی پرام المومنین حضرت عائشی صدیقی رضی الله عنها باندی تهمت لګوی اوحضرت علی رضی الله عنه خدای ګنی اوپه وحی راوړلو کی دحضرت جبرایل علیه السلام سهوه کیدل منی، اوپر صحابه کرامو باندی لعن طعن کوی بالخصوص پرشیخینو باندی چی دغه فرقی والا دفقهی روایاتو په موجب کافران دی. دا امام که پرهغوی باندی لعنت ووایی اوخپله هغه عقیده بیان کړی کمه چی داهل سنت والجماعت ده چی داسی خلګ کافران دی. هلته به موږ لمونځ کووکنی زموږ تسلی نه کیږی ترڅو پوری چی صفایی ونه کړی. دغه سړی ددی څخه انکار کوی چی داخبره به هیڅکله ونه کړم. ددی انکار څخه نور شك پیدا کیږی دهغه دشیعه کیدلو. آیا په هغه پسی لمونځ کول دداسی سړی په موجودګی کی په چا پسی چی تریوی مودی پوری بغیر دعذر څخه خلګ لمونځ کوی، درست به وی اوکه نه؟

**جواب**: داظاهره خبره ده چی که چیری دغه سړی سنی وای نوزیاتی کوونکو رافضیانو ته دکمو اعتقاد چی دکفر حدته بالیقین رسیدلی دی اوپه اتفاق داهل سنتو هغوی کافران دی) هغوی ته په کافر ویلو اوملعون ویلو کی به ده ولی تامل (انکار) کولی. نوکله چی دغه سړی په دی باره کی داهل سنت والجماعت موافقت نه کوی نوضرور دی شیعه او رافضی دی، (٢) یا درافضیانو طرفدار دی پرهر حال دامام جوړولو لائق نه دی (٣). او مخکنی امام په چا کی چی څه وجه دامامت دکراهت او عدم جواز نسته، هغه امام ساتل

(١). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (در مختار) واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایتم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعا الخ بل مشی فی شرح المنیة کراهة تقدیمه کراهة تحریم. (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۹۹ - ۵۶۰) ظفیر.

(٢). وبهٰذا ظهر ان الرافضی ان کان ممن یعتقد الالوهیة فی علی رضی الله عنه اوان جبرئیل غلط فی الوحی اوکان ینکر =

پکاردی. فقط

**دښځې په حلفيه بيان باندې نکاح تړل جرم نه دې**: **سوال**: (۷۰۴) يوې ښځې په قسم سره بيان وکې چې زما خاوند ماته طلاق راکړی دی. په دې بيان قاضي دهغې نکاح دبل سړي سره وتړل. وروسته معلومه سوه چې طلاق نه وو سوی. خلګو په نکاح تړونکی پسی لمونځ کول پريښوول. په داقسم نکاح تړلو سره دنکاح خوان امامت جائزدی اوکه نه؟ او دهغه ښځه طلاقيږي اوکه نه؟

**جواب**: دښځې پربيان باندې کله چې هغې په قسم سره دمخکنی خاوندطلاق ورکول بيان کړل، دبل سړي سره يې نکاح تړل درست ([1]) دی. اوپه دی وجه باندی نکاح خوان دامامت څخه دليری کولو قابل نه دی اوپه هغه پسی لمونځ صحيح دی. ليکن کله چې ثابته سوه چې هغه ښځه طلاقه سوې نه ده، نوپه دغه وخت کی ددوهمی نکاح باطل کيدل په عام طور سره بيانول ضروری دی او ددوهم خاوند څخه يې جلا کول لازم دی. بياکه چيری طلاق وسی نودعدی تيريدلو څخه وروسته دوباره نکاح کيدل پکاردی. اوددی څخه دا خبره هم واضحه سوه، چې دقاضی صاحب بی بی دهغه دنکاح څخه خارجه نه سوه. فقط

**داوږدې ږيرې والا اوږيره لنډونکي کې امامت دپاره څوک ښه دې**: **سوال**: (۷۰۵) زموږ په کلی کی دوه امامان دی. ف. م. ف چې عمريې پنځوس کاله، سپينه جامه اغوستونکی، اوږده ږيره والا، حافظ دقرآن اودجمعی پابند دی. او (م) چې ديرش څلويښت کاله عمر يې دی، ږيره لنډوی ناظره خوان، دجومات څخه هروخت غائب، اويووار يې بی اودسه جمعه ورکړی وه، نوپه دی حالت کی امامت دچاښه دی اوکم يو امام کيدل پکاردی؟

**جواب**: په دی صورة کی (ف) دامامت زيات حقداردی اولمونځ په (م) پسی هم اداء کيږی. خوکله چې هغه ددين په باره کی محتاط نه دی اوږيره يې دشرعی موافق نه ده، اوکله يې بی اودسه لمونځ ورکړی دی نوپه هغه پسی لمونځ مکروه ([2]) دی. فقط

---

= صحبة الصديق اويقذف السيدة الصديقه فهو كافر لمخالفة القواطع المعلومة من الدين بالضرورة (رد المحتار كتاب النكاح فصل فی المحرمات ص ۳۹۸ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۴۲). ظفير

([3]). ويكره امامة عبد الخ وفاسق (در مختار) بل مشى فی شرح المنية كراهة تقديمه كراهة تحريم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۹ – ۵۲۰ ) ظفير.

([1]). وحل نكاح من قالت طلقنی زوجی وانقضت عدتی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار كتاب الحظر والاباحة فصل فی البيع ص ۳۷۱ ج ۵ ، ط.س. ج۲ ص ۴۲۰). لا تجوز خلف الرافضی والجهمی الخ (عالمگيری مصری باب الامامة ص ۷۸ ج۱ ، ط. م. ج۱ ص ۸۴) ظفير.

([2]). ويكره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشى فی شرح المنية كراهة تقديمه كراهة تحريم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفير

(یوه قبضه (موټی) ږیره ساتل سنت دی، دهغه څخه کوچنی کول دږیری خریلو په حکم کی دی اودا حرام دی: لاَ يُكْرَهُ دَهْنُ شَارِبٍ وَ لَا كُحْلٍ إذَا لَمْ يَقْصِدْ الزِّينَةَ أَوْ تَطْوِيلَ اللِّحْيَةِ إذَا كَانَتْ بِقَدْرِ الْمَسْنُونِ وَهُوَ الْقَبْضَةُ وَأَمَّا الْأَخْذُ مِنْهَا وَهِيَ دُونَ ذَلِكَ كَمَا يَفْعَلُهُ بَعْضُ الْمَغَارِبَةِ ، وَمُخَنَّثَةُ الرِّجَالِ فَلَمْ يُبِحْهُ أَحَدٌ ، وَأَخْذُ كُلِّهَا فِعْلُ يَهُودِ الْهِنْدِ وَمَجُوسِ الْأَعَاجِمِ. (رد المحتار کتاب الصوم. باب مایفسد الصلوة مطلب فی الاخذ من اللحیة ص ۱۵۵ ج۲. ظفیر)

**دوهم په وجه امامت پریږدی اوکه نه؟ سوال:** (۷۰۶) زه دډیری مودی راهیسی امامت کوم. اوس ماته څه وهم شروع سوی دی چی اودس به می مات سوی وی. په دی وجه می په زړه کی دا تقاضاده چی ته امامت مه کوه. اوکله چی خلګ یوازی یوازی پرلمانځه وینم نو دامامت څخه بغیر می زړه نه صبریږی. شرعًا څه حکم دی؟

**جواب:** په وهم باندی هیڅ عمل پکارنه دی اوداسی وسوسه دفع کول پکاردی اولاَحولَ ولا قوة الا بالله اکثر وایه اوترڅو پوری چی دی داودس ماتیدلو یقین نه وی ترهغه وخته پوری دغه طرفته څه التفات کول نه دی پکار. (۱) اوامامت کول پکاردی. په حدیث شریف کی داراغلی دی چی ترڅو پوری دحدث آواز یا بدبویی معلومه نه سی ترهغه وخته پوری اودس نه ماتیږی. (۲) فقط

**دګروی څخه دنفع اخستونکی امامت مکروه تحریمی دی: سوال:** (۷۰۷) چی یو سړی مزکه په ګرو واخلی اونفع یی خوری نودهغه امامت مکروه تحریمی دی، اوکه تنزیهی؟

**جواب:** مکروه تحریمی دی. کذافی الشامی (۳). فقط

**دماخستن دفرض لمونځ کولو څخه وروسته بیا ددغه فرض لمونځ امامت کولی سی اوکه نه؟**

**سوال:** (۷۰۸) زید په یوجومات کی په امام پسی دماخستن فرض وکړل. دهغه څخه وروسته یی په بل جومات کی دماخستن دفرضو امامتی وکړه نودوباره یی چی کم فرض لمونځ ورکی هغه فرض دی اوکه نفل؟

**جواب:** دزید فرض لمونځ مخکی سوی وو. دوباره یی چی کم وکی هغه نفل سوه په هغه پسی دخلګو فرض اداء نه سوه (۴). فقط

---

(۱). الیقین لایزول بالشك (الاشباه والنظائر القاعدة الثالثه ص ۷۵. ظفیر

(۲). عن ابی هریرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ اذاوجد احدکم فی بطنه شیئًا فاشکل علیه اخرج منه شیئ ام لا ؟ فلا یخرجن المسجدحتٰی یسمع صوتا اویجد ریحا رواه مسلم (مشکوٰة باب مایوجب الوضوء ص ۴۰). ظفیر

(۳). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (در مختار) بل مشی فی شرح المنیة کراهة تقدیمه (ای الفاسق) کراهة تحریم. رد المحتار. باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

(۴). لا مفترض بمتنفل وبمفترض فرض اٰخر لان اتحاد الصلاتین شرط عندنا وصح ان معاذاؓ کان یصلی مع =

**دمنکراتو څخه دځان نه ساتونکی اودمور اوپلار نافرمانی کونکی امامت**: **سوال**: (٧٠٩) بکر دپهلوانانو ګشتی (غيږی) ته ځی چیری چی ډول وغیره منکرات وی اوپه میلو کی چیری چی هرقسم قبیح کارونه کیږی دی یی تماشی کوی. دجمعی ترك کونکی دی. اوبکر خپل زوم عمر راپاروِلی اوغولولی دی اودخپل پلار زید عاق اونافرمانه کړی یی دی. تردی چی عمر را ولاړسو خپل پلار یی وواهی. حالانکی دنکاح څخه مخکی عمر دزید ډیر تابعدار وو اوبکر خپل زوم عمر دپلار څخه دمعافی غوښتلو څخه منع کی. او ددین علم حاصلولو څخه یی هم بندکی. آیا دبکر اوعمر امام جوړول درست دی اوکه نه؟ اوعمر دخپل پلار زید څخه عاق دی اوکه نه؟

**جواب**: عمر په دی صورة کی دپوښتنی کونکی دبیان موافق دخپل پلار عاق اونافرمانه اوشرعًا فاسق اوعاصی دی. نوامام جوړول دهغه حرام دی اوپه هغه پسی لمونځ مکروه دی. دغه رکم بکر چی عمر دمور اوپلار پرنافرمانی باندی اماده کوی اودشرعی منکراتو مرتکب دی. فاسق دی. دهغه امام جوړول حرام دی اولمونځ په هغه پسی مکروه تحریمی دی. علامه شامیؒ په فاسق پسی دلمانځه مکروه تحریمی کیدلو اودفاسق امام جوړولو دحرمت په دلیل کی دالیکلی دی چی فاسق دحدیث په اعتبار سره واجب الاهانت دی او په امام جوړولوکی دهغه تعظیم دی. په دی وجه دهغه امام جوړول حرام سو. دشامی عبارت دادی، اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم بامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعًا (١) الخ. فقط

**دشپږو ګزو پلن پرتوګ اغوستونکی امامت**: **سوال**: (٧١٠) که چیری پرتوګ شپږ ګزه پلن وی اودبجلکو څخه لوړوی. امام هغه واغوندی اولمونځ پکښی ورکړی نوجائزدی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ صحیح دی فقط (ځکه چی دپلنو پایڅو پرتوګ اغوستل درست دی. ظفیر)

**دچانسب چی په مخکی پشت کی خراب وی، دهغه امامت**: **سوال**: (٧١١) زید خپلی ښځی ته طلاق مغلظ ورکی، یوکال وروسته بیا دهغه خاوند بغیر دشرعی نکاح څخه په خپل زوجیت کی وساتله اودهغې څخه یوه انجلۍ پیداسوه دهغې سره یومسلمان نکاح وکړه، دهغه څخه چی کم اولاد پیداسو نوهغه امامت کولی سی اوکه نه؟ په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: که چیری دغه اولاد صالح وی اودامامت قابل وی مثلاً داچی عالم وی، دشریعت

---

= النبیؐ نفلا وبقومه فرض (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۲ ج١، ط.س. ج١ ص ۵۷۹). ظفیر

(١). رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج١، ط.س. ج١ ص ۵۲۰. ظفیر

دمسئلو څخه خبروی نوپه هغه پسی لمونځ بلاکراهته درست دی بلکی ښه دی. ([1]) فقط
**پرچا باندی چی ښځه تور ولګوی دهغه امامت**: **سوال**: (٧١٢) هنده یوه کونډه بازاری ښځه دخپل حرام حمل نسبت دجومات امام ته کوی اوامام انکار کوی چی داپرما باندی ناحقه الزام لګوی. یوڅوکسان امام معزوله کول غواړی. شرعًا ددی امام دامامت څه حکم دی؟
**جواب**: کله چی دزنا هیڅ شهادت موجودنه دی نوزنا اودزنا څخه حمل کیدل ثابت نه دی. ([2]) اومحض تهمت لګول دی. نودامام په امامت کی به په دی وجهی سره څه کراهت نه وی. فقط
**دکسبیانو څخه دپیسو اخستونکی امام امامت**: **سوال**: (٧١٣) دجومات امام دهغه ښځو څخه آمدنی اخلی څوك چی په ناجائزه طریقه یعنی دکسبی بدکاری (زنا) په طور خپله ګذاره کوی اوکله چی یوه ښځه دکورنی اوکوچنی په ناجوړی کی وفات سی نودغه امام داوسپنی په سیخ باندی دشړشمو تیل پوری کړی اوپر هغه چاپیره یی ګرځوی چی دهغه څخه بلا جوړه نه سی. همدا اعتقاد دوفات سوی (ښځی) دوارثانو وی. دهغه څخه امام دأجرت په طور نقدی روپی اخلی. زید مړسو اوپه نیت دثواب پسماندګانو دامام څخه ماسوا یوبل یتیم مسکین ته خیرات کپړی وغیره ورکړی. نوآیا امام ته دنه ورکولو ګناه وسوه اوکه ثواب؟ اوکه حق ددغه امام وو؟ داسی امام دامامت قابل دی اوکه نه؟
**جواب**: دحرامی ګټی څخه اخیستل هیچاته هم درست نه دی. ([3]) خاصکر دجومات امام ته په داسی شیانوکی دډیر احتیاط ضرورت دی. اوکمه ښځه چی داولاد په درد کی یاپه نفاس (څلویښتی) کی مړه سی هغه شهیده ده. دهغه څخه دبلا جوړیدلو عقیده ساتل غلط دی دداسی خیال څخه توبه کول پکاردی. اودایصال دثواب دپاره غریبانو یتیمانو اومسکینانو ته یوڅه ورکول دمړی دپاره دثواب ذریعه ده دامام څه خاص حق په هغه کی نسته که چیری هغه هم محتاج اوغریب وی، نوهغه ته دی هم ورکول سی لیکن داګڼل

---

([1]). وولد الزنا هذا ان وجد غیرهم والا فلا کراهة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **٥٢٥** ج١ ، ط.س. ج١ ص **٥٢٢**). ویکره تقدیم الفاسق الخ وولد الزنا بناء علی ان الغالب فیه الجهل ایضا اذا لیس له من یحمل علی التخلق بالاخلاق الحمیدة من العلم وغیره حتٰی لوتحقق منه عدم الجهل لایکره تقدیمه کالعبد والاعرابی فانه لا ذنب له بزنی ابویه ولاتزر وازرة وزر اخرٰی (غنیة المستملی ص **٣٥١**) اوسوال چی دَچاپه باره کی دی هغه خوپخپله ولد الزنا هم نه دی البته دَهغه مورده. ظفیر

([2]). الشهادة فی الزنا یعتبر فیها اربعة من الرجال لقوله تعالی (هدایه کتاب الشهادات ص ١٣٨ ج ٣) ظفیر.

([3]). الحرمة تتعدد مع العلم بها (درمختار) اما لو رأی المکاس مثلا یاخذ من احد شیئا من المکس ثم یعطیه اٰخر ثم یاخذ من ذالك الاخر فهو حرام (رد المحتار کتاب البیوع باب البیع الفاسد ، مطلب الحرمة تتعدد ص ١٨٠ ج ۴ . ظفیر

چی دهمده حق دی اودده څخه علاوه نورو محتاجو یتیمانو ته ورکول ګناه ده بالکل غلطه اومحض افتراء ده. داسی امام دامام جوړولو لائق نه دی. ([1]) فقط

**دامام رکوع اوسجده اوږدول څنګه دی؟ سوال**: (۷۱۴) امام رکوع اوسجده اوږدوی سره ددی چی مقتدیان یی منع کوی لیکن امام نه منی شرعًاداسی امام متعلق څه حکم دی؟

**قرآئت اوږدول**: **سوال**: (۷۱۵) چی امام قرآئت کرار وایی اوسورة هم لوی وی چی مقتدیانو ته پکښی تکلیف وی نودا جائزدی اوکه نه؟

**دامام غیر حاضری**: **سوال**: (۷۱۶) دیوسړی دکار په وجه امام پنځه اووه واره په هفته کی غیر حاضر وو، دهغه باره کی څه حکم دی؟

**دماخستن څخه وروسته دامام ګپه اوبنډار کول اودسهار په لمانځه کی نه حاضریدل**: **سوال**: (۷۱۷) که امام ددوستانو آشنایانوسره کنښنستی چی دهغه په وجه دشپی په بیده کیدو کی تاخیر وسی اودسهار دلمانځه دپاره ولاړیدی نه سی اودامام نائب دجومات دطرفه څخه په تنخواه باندی وساتل سی، ددغه امام متعلق څه حکم دی؟

**جواب**: (۱) امام ته په لمانځه کی اختصار اوتخفیف کول پکاردی. زیات اوږدول دقرآئت اورکوع اوسجدی ښه نه دی. کما ورد فی الحدیث ([2]).

(۲) زیات دی نه اوږدوی او دمسنون قرآئت څخه دی تجاوز نه کوی. ([3])

(۳) ښه داده چی دمقتدیانوپه رضامندی سره دی داسی کوی. دمقتدیانو رضامندی څخه بغیر داسی کول ښه نه دی.

(۴) دا ښه نه دی. حضور ﷺ به دانه خوښوله. ([4]) فقط

**څوک چی ځوانه کونډه انجلی دنکاح څخه بنده وی دهغه سړی امامت**: **سوال**: (۷۱۸) یو سړی ځوانه کونډه انجلی په نکاح کول غواړی خودهغې پلاریې نه غواړی، په هغه پسی

---

([1]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق الخ ومبتدع (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ ) ظفیر.

([2]). ویکره تحریما تطویل الصلوة علی القوم زائدا علی قدر السنة فی قراءة واذکار رضی القوم اولا، لاطلاق الامر بالتخفیف (درمختار) لما فی الصحیحین اذا صلی احدکم بالناس فلیخفف فان فیهم الضعیف والسقیم والکبیر واذا صلی لنفسه فلیطول ماشاء الخ (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص۵۶۴). ظفیر

([3]). ان التطویل هو الزیادة علی القرآئة المسنونة فانه صلی الله علیه وسلم نهی عنه وقراءته هی المسنونة فلا بد من کون مانهی عنه غیر ماکان دابه الا لضرورة الخ (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۸ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۵)

([4]). ویکره النوم قبلها والحدث بعدها لنهی النبی ﷺ عنهما الا حدیثا فی خیر لقوله ﷺ (لا سمر بعد الصلوة یعنی العشاء الاخیرة) وانما کره الحدیث بعدها لانه ربما یؤدی اللغو اوالی تفویت الصبح اوقیام اللیل لمن له عادة به واذا کان لحاجة مهمة فلا باس (رد المحتار کتاب الصلوة تحت قول وتاخیر عشاء الی ثلث اللیل ص ۳۴۱ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۳۶۸). ظفیر

لمونځ څنګه دی؟

**جواب**: لمونځ په هغه پسی صحیح دی خو باوجود دښه موقع په کفو کی دپیدا کولو دخپلی لور نکاح نه کول ډیر بد دی، داسی کول نه دی پکار.

(ځکه چی ارشاد ربانی دی: وَأَنكِحُواْ ٱلۡأَيَامَىٰ مِنكُمۡ. په ایامیٰ کی کونډه هم داخله ده. ظفیر)

**دخلافت څخه دمخالف امامت**: **سوال**: (۷۱۹) کم سړی چی دخلافت څخه قطع تعلق وکړی او ددی په باره کی نه څه کوشش کوی نه په یوه جلسه کی شریکیږی، اوکه دهغه څخه دسبب پوښتنه وسی نوهغه ته غیرمهم اوخلاف مصلحت وایی اوخپل زیراثر کسانوته هم ددی تلقین کوی اوفرقه بندی قائمه کړی، آیا داسړی مسلمان دی. که چیری وی نودده امامت جائز اواولی کیدی سی؟

**جواب**: دغه سړی پرغلطی باندی دی. اسلام او داسلامی سلطنت اوخلافت سره همدردی دمسلمانانو اولین فرض دی، سره دمسلمان کیدلو دخلافت اسلامیه سره همدردی نه ساتل سخته خطاء ده. دتفصیل داموقع نه ده. اجمالی خبره داده چی خیال مذکور ددغه سړی غلط دی اوباطل دی. باقی تکفیر دهغه درست نه دی اوجګړه کول مناسب نه دی او څه تعرض ورسره مه کوی اوفتنه اوفسادمه زیاتوی. په صبر اوسکون سره خپل کارکوی. څوك چی شریك سی فبها اوڅوك چی شریك نه سی هغه دهغه پرزمه دی، دهغه سره دڅه تعرض کولو ضرورت نسته. فقط

**په سودی کاروبار کی وظیفه اوکار کول اوپخپله دسود اخستونکی امامت**: **سوال**: (۷۲۰) یو سړی په سرکاری بینك کی ملازم (کار کوونکی) دی اوسودی قرض لیکی اوپخپله هم سود اخلی. په هغه پسی لمونځ مکروه تحریمی دی اوکه نه؟ اودلمانځه اعاده واجبه ده اوکه نه؟

**جواب**: په حدیث شریف کی دسود په اخستونکی او ورکونکی اوشاهدانو وغیره باندی لعنت وارد سوی دی اوحضور ﷺ فرمایلی دی: هُمْ سَوَآءٌ، یعنی دوی ټول په ګناه کی برابردی. لهٰذا ذکرسوی سړی چی ترڅو پوری توبه ونه کاږی په وجه دفاسق کیدلو دامام جوړولو لائق نه دی اولمونځ ورپسی مکروه تحریمی دی کذافی الشامی ([1]). لیکن په درمختار کی یی بل ځای نقل کړی دی: صلی خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة افاد ان الصلوة خلفهما اولی من الانفراد. شامی ([2]) البته داقاعده هم فقهاوو لیکلی ده:

---

([1]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح النیه ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰ ). ظفیر

([2]). رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲ . ظفیر

کل صلوة ادی مع کراهة التحریم تجب اعادتها.
(۱) په دی کی بعضو داتفصیل هم فرمایلی دی چی په وخت کی دننه اعاده واجبه ده او دوخت څخه وروسته مستحب ده خو شامی دی ته مرجوح ویلی دی اوویلی یی دی چی راجح خبره داده چی په وخت کی دننه اودوخت څخه وروسته اعاده واجبه (۲) ده. البته کم علماء چی داصل څخه اعادی ته مستحب فرمایی هغوی به ورته په دواړو حالو کی مستحب وایی. فقط

**چی کم سړی دمطلقه ثلاثه ښځی نکاح بغیر حلالی تړی اوشرح وقایه را واخلی اوویي غورزوی دهغه امامت**: **سوال**: (۷۲۱) کم دجمعی امام چی دمطلقه ثلاثه ښځی نکاح دطلاق سره بغیر دتحلیل څخه وتړی اودا ووایی چی زماپه نزد دری طلاقه په منزله دیورجعی طلاق دی، بحث راسره وکړی، بیا دیو دیوبندی تعلیم یافته سره چی یی خبری وسوی نوشرح وقایه پیش سوه نوذکر سوی سړی شرح وقایه راپورته کړه اودجومات په صحن کی یی وغورځوله اودایی وویل چی دیوبندی ملا اوکم خلګ چی په دی مسئله کی دده ملګری دی داټول منافقان دی. دداسی سړی دامامت شرعًا څه حکم دی؟

**جواب**: دمطلقه ثلاثه ښځی سره دتحلیل څخه بغیر دمخکنی خاوند سره نکاح تړونکی سړی فاسق دی اودفقهی کتاب غورزونکی اوحقانی عالمانو ته منافق ویونکی دسختی درجی فاسق دی، بلکی ددین دکتابونو دسپکاوی سره دکفر بیره ده. داسی سړی دامامت لائق نه دی ترڅو پوری چی هغه توبه ونه کاږی اودایمان تجدید ونه کړی نوهغه دی امام نسی جوړول کیږی. په شامی کی دی: وَأَمَّا الْفَاسِقُ فَقَدْ عَلَّلُوا كَرَاهَةَ تَقْدِيمِهِ بِأَنَّهُ لَا يُهْتَمُّ لِأَمْرِ دِينِهِ، وَبِأَنَّ فِي تَقْدِيمِهِ لِلْإِمَامَةِ تَعْظِيمَهُ، وَقَدْ وَجَبَ عَلَيْهِمْ إهَانَتُهُ شَرْعًا، وَلَا يَخْفَى أَنَّهُ إذَا كَانَ أَعْلَمَ مِنْ غَيْرِهِ لَا تَزُولُ الْعِلَّةُ، فَإِنَّهُ لَا يُؤْمَنُ أَنْ يُصَلِّيَ بِهِمْ بِغَيْرِ طَهَارَةٍ فَهُوَ كَالْمُبْتَدِعِ تُكْرَهُ إمَامَتُهُ بِكُلِّ حَالٍ الخ ص ۳۷۲ ج۱.

وفی شرح الفقه الاکبر عن التتمة من اهان الشریعة والمسائل التی لابد منها کفر الخ ص ۲۱۵. فقط

**دخائن اوغاصب امامت**: **سوال**: (۷۲۲) دزید داولاد په محله کی چی کم امام دی هغه چل کوونکی (دهوکه باز) دی یعنی د خلګو دروپو وهلو په خیال سره خپل ځان دحکومت په

---

(۱). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة. مطلب واجبات الصلوة. ص ۴۲۵ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۴۵۷. ظفیر

(۲). قید فی البحر فی باب قضاء الفوائت وجوب الاعادة فی اداء الصلوة مع کراهة التحریم بما قبل خروج الوقت اما بعد فتستحب، وسیاتی الکلام فیه هناك الخ وترجیح القول الاول بالوجوب فی الوقت وبعده (رد المحتار باب صفة الصلاة تحت مطلب کل صلاة ادیت مع کراهت التحریم ص ۴۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۴۵۷). ظفیر

کورکی غریب لیکی، اوقسم باندی اخلی، که څه هم دهغه سره ښه ډیر مال وی. دغه رکم ددی امام سره ډیر مال جمع دی. دداسی خائن اوغاصب اقتداء درسته ده اوکه نه؟ کله چی مقتدیان دهغه څخه نفرت کوی. اودزید اولاد په دی خبره ضد کوی چی موږ به په همدی چلباز امام پسی داختر لمونځ کوو. فقط

**جواب**: کم سړی چی دخلګو حقونه اودیون سره دوس لرلو نه اداء کوی او (دخلګو حقونه) وهی هغه ظالم اوفاسق دی. په هغه پسی لمونځ مکروه دی. کذا فی الشامی (۱)

**دحنفی انجلۍ سره دشیعه نکاح اودنکاح تړونکی امامت**: **سوال**: (۷۲۳ دحنفی انجلۍ او شیعه هلك نکاح په خپلو کی کیدی سی اوکه نه؟ که چیری نسی کیدی چی کم سړی نکاح وروتړی اواصرار کوی چی کیدی سی، دهغه دپاره څه حکم دی؟ که چیری هغه دجومات امام وی نوهغه پسی به لمونځ کیږی اوکه نه؟

**جواب**: رافضی چی تبراء کونکی وی (صحابه ؤ ﷺ ته بدرد وایی) دهغه سره دمسلمانی سنی حنفی ښځی نکاح درسته نه ده اوکه چیری نکاح سوی وی نو دیوبل څخه دی جلا سی. (۲) او کم امام دمسجد چی داسی نکاح وکړی هغه دامام جوړولو لائق نه دی، که څه چی په ده پسی لمونځ صحیح کیږی ، مګر مکروه دی ، داسی امام که چیری توبه ونه کاږی نو دلیری کولو لائق دی . (۳) فقط

**دنابینا امامت**: **سوال**: (۷۲۴) دنابینا دامامت څه حکم دی. که چیری مکروه وی نوولی؟ او کله چی دهغه څخه اعلم موجود وی اودهغه دامامت څخه نفرت کوی نوڅه حکم دی؟ په هغه پسی دلمونځ کولو څخه یوازی کول ښه دی اوکه نه؟

**جواب**: دهدایی صاحب دړوند دامامت دکراهت دوی وجهی لیکلی دی. یوه داچی هغه دنجاست څخه ځان نه سی ساتی، بله داچی خلګ دهغه دامامت څخه نفرت کوی. نو که چیری دادواړی وجهی نه وی نودړوند امامت بغیر دکراهت څخه درست دی. (۴) اوپه

---

(۱). بل فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (رد المحتار. باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۰) ظفیر.

(۲). وفی النهر تجوز مناکحة المعتزلة لانا لا نکفر الخ (درمختار) وبهٰذا ظهر ان الرافضی ان کان ممن یعتقد الالوهیة فی علیؓ اوان جبریلؑ غلط فی الوحی اوکان ینکر لصحبة الصدیق اویقذف السیدة الصدیقة ﷺ فهو کافر (رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۹۸ ج ۲ ، ط.س. ج ۳ ص ۴۵ - ۴۶ ). ظفیر

(۳). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰ ). ظفیر

(۴). ویکره تقدیم العبد الخ والاعمٰی لانه لا یتوقی النجاسة الخ ولان فی تقدیم هٰولاء تنفیر الجماعة فیکره ، (هدایه باب الامامة ص ۱۱۰ ج۱) . ظفیر

شامی کی یی داعمٰی په امامت بلا کراهت باندی استدلال کړی دی چی حضور ﷺ عبد الله بن ام مکتوم رضی الله عنه اوعتبان رضی الله عنه امامان جوړ کړی وه. لکن ورد فی الاعمٰی نص خاص هو استخلافه ﷺ لابن ام مکتوم وعتبان رضی الله عنهما علی المدینة وکانا اعمیین لانه لم یبق من الرجال من هو اصلا منهم. الخ، (1) غرض داچی کله داعمٰی څخه اعلم (زيات پوه کسان) موجود دی اوخلګ داعمٰی دامامت څخه نفرت هم کوی، نوبښه داده چی اعمٰی دی امام نه سی اوکه چیری سو، نولمونځ ورپسی کول پکاردی، دیوازی لمونځ کولو څخه په هغه پسی افضل دی څنګه چی په درمختار اوشامی کی دی: صلی خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة الخ قوله نال فضل الجماعة افاد ان الصلوة خلفهما اولی من الانفراد الخ (2). ص۳۷۷ شامی. فقط

**داختر دلمانځه دپاره امامت**: **سوال**: (۷۲۵)دیومسجد امام دکوچنی اختر دلمونځ ورکولو څخه وروسته دوباره ښځو ته داختر لمونځ ورکی شرعًا ددی څه حکم دی؟

**جواب**: کم امام چی یووار داختر لمونځ ورکی هغه بیا دوباره داختر لمونځ نسی ورکولی. دوباره چی هغه کم لمونځ ورکوی هغه نفل (3) دی. اودنفلو جمعه مکروه ده. (4) لهٰذا دغه لمونځ مکروه سو. اویوازی ښځوته جمع ورکول هم مکروه دی. کذافی الدر المختار (5). فقط

**دتصویر ایستونکی امامت وروسته دتوبی څخه**: **سوال**: (۷۲۶) دیوه لیډر (پارټۍ مشر) دوجهی څخه یومجلس جوړسو په هغه کی امام صاحب هم دبلنی په وجه راغی، دټول مجلس سره دامام صاحب تصویر هم واخستل سو. اوامام صاحب سره ددی چی دمسئلی څخه خبروو، خپل تصویر یی وایستی، نوپه هغه پسی لمونځ صحیح دی اوکه نه؟ کله چی اوس هغه دخپلی غلطی اقرار کوی اوتوبه کاږی ؟

**جواب**: تصویر پخپله ایستل یاپه بل چا ایستل په شریعت کی حرام دی. دابیشکه دهغه څخه غلطی او ګناه وسوه. لیکن کله چی دغه امام صاحب اوس توبه کاږی ، نو لمونځ په هغه پسی بغیر کراهته صحیح دی (6) . فقط

---

(1). رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰ . ظفیر

(2). رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲ . ظفیر

(3). ولا مفترض بمتنفل وبمفترض فرضا اٰخر لان اتحاد الصلاتین شرط عندنا (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۴۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۹). ظفیر

(4). ولا التطوع بجماعة خارج رمضان ای یکره لو علی سبیل التداعی بان یقتدی اربعة بواحد (ایضًا باب الوتر والنوافل ص ۶۲۳ ج۱ ، ط.س. ج ۲ ص ۴۸). ظفیر

(5). ویکره تحریما جماعة النساء ولوفی التراویح (ایضًاباب الامامة ص ۵۲۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۲۵). ظفیر=

**چې زوی یې دزنا مرتکب وی نودهغه دپلار امامت څنګه دی؟ سوال**: (۷۲۷ زید دخپل پلار دخور سره زنا وکړه اوهغه یې حامله کړه. دهغه پلار امام دی اوزید جومات ته اوبه هم راوړی. دزید په پلار پسې لمونځ جائزدی اوکه نه؟ اودزید په راوړو اوبو باندی اودس جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: دزید دبدکاری په وجهې سره دزید دپلار په امامت کی هیڅ کراهت نشته. اود زید په راوړو اوبو سره اودس جائزدی، لیکن داضروری دی چې داسې سړی ته تنبیه وسی اوتوبه ورباندی وایستل سی. فقط

**دشراب چښونکی امامت**: **سوال**: (۷۲۸) زید شاهی خطیب دی خودلمانځه اوروژی پایبند نه دی. په رمضان المبارك کی په هوټلونو کی دچای چښلو اوپه عامو لارو کی دپان خوړلو اوبیړی څکولو عادی دی. ددی څخه علاوه دائم الخمر دی، خُمارکول یې روزمره مشغله ده اوزانی دی، سره ددی حرکاتو په جامع مسجد کی خطبه وایی. داسی سړی خطبه ویلی سی اوکه نه؟

**جواب**: په داسی سړی پسی لمونځ کول مکروه دی اودی دامام جوړولو لائق نه دی، معزولول یې پکاردی اوترڅو پوری چې دی دبدو کارونو څخه توبه ونه کاږی امام دی جوړ نه سی (۱). فقط

**دامامیه شیعه امامت**: **سوال**: (۷۲۹) فرقه امامیه چې رافضیان ورته ویل کیږی په هغوی پسی داهلِ سنت لمونځ کیدی سی اوکه نه؟ که چیری په غلطی سره یې په هغوی پسی داختر لمونځ کړی وی نوهغه راګرزولی سی اوکه نه؟

**جواب**: په رافضی پسی دسنی لمونځ نه صحیح کیږی ددغه لمونځ اعاده کول پکاردی (۲) اوداختر دلمانځه اعاده په هغه صورة کی کیدی سی چې دهغه څخه وروسته داهل سنت جماعت کیږی، کنی یوازی داختر لمونځ نسی کیدی.

**چې پرچا باندی دخائن والی شبه وی دهغه امامت**: **سوال**: (۷۳۰) که چیری پریوه سړی باندی خلګو ته مثلاً دخائن کیدلو بدګمانی وی، نوپه هغه پسی لمونځ سم دی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ پسی صحیح (۳) دی. فقط

---

(۲). قال رسول الله ﷺ التائب من الذنب کمن لاذنب له (مشکوٰة باب التوبه والاستغفار ص ۲۰۴) ظفیر.

(۱). ویکره امامة عبدالخ وفاسق الخ وکذا تکره خلف امرد الخ وشارب الخمر (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (ردالمحتار. باب الامامة ص **۵۲۳** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹** ... **۵۶۲**).

(۲). ولاتجوز الصلاة خلف الرافضی والجهمی والمشبه ومن یقول بخلق القرآن (عالمګیری مصری باب الامامة ص ۷۸ ج۱ ، ط. م. ج۱ ص ۸۴). ظفیر

(۳). الیقین لایزول بالشك (الاشباه والنظائر القاعدة الثالثة ص **۷۵**). ظفیر

**ځوک چې علماء دیوبند ته کافر وایی دهغه امامت**: **سوال**: (۷۳۱) کم سړی چې حسام الحرمین راواخلی اوخلګ دعلماءِ احناف دیوبند ترخلاف ترکفره پوری اوپه عدم جواز دامامت دعالمانو باندی باعثه کوی دداسی سړی امامت درست دی اوکه نه؟

**جواب**: داسی سړی فاسق دی، لائق دامام کیدلو نه دی. په حدیث شریف کی دی: سباب المسلم فسوق الحدیث، اواهل حق عالمانوته بدویونکی اوتکفیرکونکی هم لائق دامامت نه دی اوپه هغه پسی لمونځ جائز نه دی. (۱) فقط

**په سرکاری ابتدائی مکتب (پرائمری سکول) کی هریجنانو ته دتعلیم ورکونکی امامت**: **سوال**: (۷۳۲) په سرکاری مکتب (سکول) کی پښتو، فارسی، اُردو اوحساب دتجارت دکاروبار زده کولو دپاره زده کول جائزدی اوکه نه ؟ او دکم امام زوی چې هلته ویل کوی په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: په دی تعلیم اوتعلُّم کی هیڅ حرج نسته اودکم امام زوی چې ذکر سوی لوستنه کوی نوپه دی وجهی سره ددی امام په امامت کی هیڅ حرج نسته اوهیڅ فساد اوکراهت پکښی نسته. فقط

**دهغه سړی امامت دچا ښځه چې آواره (فحاشه) وی**: **سوال**: (۷۳۳) زید دجومات امام دی. یوه ورځ عمر ولیدل چې دزید کورته یواجنبی سړی ورغلی دی، عمر زید ته وویل، زید هغه سړی په کورکی پټ سوی پیداکی. زید هغه دلاس څخه ونیوی او دباندی یی را وایستی دزید ښځی دیوبل وار (راتلو) اقرار وکی خو دناجائز فعل څخه انکار کوی. زید هغه ته طلاق ورکړی اوکه یې ورنه کړی؟ په زید پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ عمر ډیر پښیمانه دی چې دراز ښکاره کولو په وجهی سره به زه ګنهګار یم. څه حکم دی؟

**جواب**: طلاق ورکول ضروری نه دی، ددغه ښځی ساتل جائزدی. (۲) اوزید پسی لمونځ درست دی (۳). اوعمر هم ښه وکړل ولی چې اوس دغه غیر سړی ته تنبیه وسوه، اوښځه به هم شاید داسی حرکت بیا ونه کړی، په هغې دی توبه وایستل سی. فقط

---

(۱). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰ ) ظفیر.

(۲). لایجب علی الزوج تطلیق الفاجرة ولا علیهاتسریح الفاجر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۴۰۲ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۵۰). ظفیر

(۳). کله چې دزید دخوښی څخه خلاف دهغه ښځی دا حرکت کړیدی نودزید په دې کی څه جُرم نسته ، البته دزید وظیفه ده چې هغه ښځی ته تنبیه ورکړی، اوداسی انتظام وکړی چې دهغه ښځه نه پردغه ډول حرکت کولو باندی جرأت وکړی اونه هغې ته یوداسی موقع په لاس ورسی، که دزید دطرف څخه په دې سلسله کی سترګی پټول وسی، اوغوږ پرې ونه ګوروی نوهغه ته به دیّوث (دؤس) ویل کیږی اودهغه امامت ورکول به مکروه وی. ظفیر

**دآنریري مجسټریټ** (یوقسم حکومتی منصب والا) **امامت**: **سوال**: (۷۳۴) یو سړی کم چې دښار دټولو څخه دلوی جامع مسجد امام، دځپلی علاقی مفتی او د مسلمانانو دنکاح اوطلاق دمحکمی قاضی دی. داسلام، اهلِ اسلام اوشعائر اسلام داماکن مقدسه اوجزیرة العرب وغیره موجوده نازك ترین حالات اوداسلام ددښمنانو داسلام په خرابولو کی پوره کوشش اوسرګرمی وینی، اودعدم موالات باکفار (دکفارو سره دورور ګلوی نه کولو) حکم الهی څخه دخبرتیا سره هم دموجوده حاکمانو دطرف څخه ورکول سوی آنریری مجسټریټی دځه موهومی نفع یادضرر په احتمال سره پرینښوول نه خوښوی بلکی هغه دځپل ځان دپاره ددی پرینښوول باعث دذلت اورسوایی اوددی وجود دموجب دعزت اوفخر ګڼی. که هرڅومره مسلمانانو په زور سره، نرمی اومحبت سره په تنهایی کی اوپه مجلسونوکی پوه کړی اوډیر واره یی آګاه کړی اوددی خبری مطالبه یی ځینی وکړه لیکن په هغه باندی هیڅ اثر ونسو. آیاداسی سړی دامامتی قابل دی اوآیا دده لمونځونه او جمعی اداء کول شرعًا صحیح اودرست دی، اوآیاپه شرعی مسائلو کی دداسی سړی فتویٰ اودنکاح اوطلاق په معاملاتو کی دهغه فیصله قابل اعتماد کیدی سی. بینوا تؤجروا.

**جواب**: بسم الله الرحمٰن الرحیم. الحمد لله وحده. نسی کیدی اودجماعت فرض دی چې دی ددغه منصب څخه معزوله کړی. دستخط مولانا ابو الکلام آزادؒ.

**جواب**: داسی سړی دامام جوړولولائق نه دی ولی چې په آنریری مجسټریټی کی دشریعت څخه خلاف حکم کول لازم دی څنګه چې ظاهره ده اوپه مصداق دآیت کریمه: وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللهُ فَأُولٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ، (۱) دی فاسق دی اودفاسق امامت مکروه دی. کما فی کتب الفقه (۲).

**قادیاني ته دلور ورکونکي امامت**: **سوال**: (۷۳۵) چې دچا زوم احمدی (یعنی قادیانی) وی اوهغه تعلق ورسره ساتی نوپه هغه پسی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟

**جواب**: دغه سړی دامام جوړولو لائق نه دی ، ترڅو پوری چې دهغه زوم دتوبی او تجدیدِ ایمان څخه وروسته دوباره نکاح ونه کړی یاچې دغه سړی خپله لور دهغه څخه جلا نه کړی. (۳) فقط. (احمدی (قادیانی) په متفق طورباندی کافردی. لهٰذا دهغه سره دمسلمانی

---

(۱). المائده ۷. ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنية ان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (رد المحتار. باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰ ). ظفیر

(۳). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنية ان کراهة تحریمه ای الفاسق کراهة تحریم =

انجلۍ نکاح جائزنه ده، اونه دهغه سره خپل دینی تعلق ساتل درست دی. ظفیر)

**<u>دغیر متعصب غیر مقلد امامت</u>: سوال**: (۷۳۶) په داسی غیر مقلدینو پسی لمونځ جائز دی که نه څوك چی متعصب اودبزرگانو په شان کی بی ادبه نه وی اوائمه اربعه حق گنی او دهغه شرائطو هم خیال ساتی دکمو سره چی دامام صاحب په نزد لمونځ فاسدیږی؟

**جواب**: په داسی غیر مقلدینو پسی لمونځ صحیح (۱) دی په دی شرط چی دهغوی عقائد داهل سنت والجماعت موافق وی. فقط

**<u>دیوی ورځی په متعین کولو سره دمړ کیدلو دعوٰی کونکی سړی امامت</u>: سوال**: (۷۳۷) یوسړی ددی خبری دعوٰی کوی چی زه به د۲۵ ذی الحجی څخه دمحرم ترلسم تاریخ پوری ضروری مړ کیږم لیکن هغه تراوسه پوری ژوندی دی. داسی دعوٰی کونکی مسلمان پاته کیږی اوکه نه؟ دهغه نکاح بحال ده اوکه نه؟ امامت دهغه درست دی اوکه نه؟

**جواب**: دغه سړی کافرنه سو مسلمان دی اونکاح دهغه قائمه ده، خوداسی دعوٰی هغه ته کول نه وو پکار، دا دهغه غلطی وه، داسی دعوٰی کول گناه ده، هغه ته ددی څخه توبه کول پکاردی اوآئنده دی داسی دعوٰی نه کوی (۲). که چیری هغه توبه وکاړی نولمونځ وروپسی بی کراهته صحیح (۳) دی. فقط

**<u>دغلط خوان امام امامت</u>: سوال**: (۷۳۸) کم سړی چی سورة فاتحه داسی وایی چی دالرّحمٰن ح اومیم، اودالرّحیم ح مشدده وایی اواِیَّاكَ نَعْبُدُ، اِیَّاگَ په نون دغنی او گاف سره وایی. اواِیَّاكَ نَسْتَعِیْن، اَنْ یَّاگَ په نون دغنی اوگاف سره وایی. اومستقیم مستکیم، اومشدد مخفف اومخفف مشدد، اوممدود مقصور اومقصور ممدود وایی. په داسی سړی پسی دا‌َقْرأ اوصحیح ویونکی په موجودگی کی لمونځ کیدی سی اوکه نه؟

---

= (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ ) ظفیر.

(۱). ومخالف کشافعی لکن فی وتر البحر ان تیقن المراعات لم یکره اوعدمها لم یصح وان شك کره والتفصیل فی الشامی (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲-۵۲۳) ظفیر.
او دمسئلې دزیات تفصیل دپاره دې علمآء کرام او محققین ددې حصې په پای کی درج سوی رساله وگوری.

(۲). قال رسول الله ﷺ خمس لا یعلم الا الله ثم قرأ ان الله عنده علم الساعة ﴿ (مشکوٰة کتاب الایمان ص۱۲).ظفیر

(۳). التائب من الذنب کم لاذنب له (مشکوٰة باب التوبه ص ۲۰۶) . ظفیر

**جواب**: ددی سړی امامت جائزنه دی. سره ددی چی اَقرأ اوصحیح ویونکی موجود دی، په ده پسی لمونځ صحیح نه دی، نه دده لمونځ صحیح کیږی اونه دمقتدیانو (۱). فقط

**څوک چی مور وهی دهغه امامت**: **سوال**: (۷۳۹) کم سړی چی خپله مور دکور څخه وباسی اووی وهی اوښکنځل ورته وکړی اوبی ادبی یی وکړی نودغه سړی امام کیدی سی اوکه نه؟

**جواب**: داسی سړی سخت ظالم اوفاسق اوبدکار دی، دخَسِرَ الدُّنْیَا وَالْاٰخِرَةَ مصداق دی هیڅکله لائق دامام جوړولو اودپیر اومقتدیٰ جوړولو نه دی. (۲) اومصداق دضَلُّوْا وَاَضَلُّوْا اوددی شعر دمولانا رومی قدس سره السامی دی:

**ای بسا ابلیس آدم روئی هست پس بهر دستی نباید داد دست**

فقط، (ځکه چی په قرآن کریم کی صراحت دی. ولا تقل لهما اف ولا تنهرهما وقل لهما قولاً کریمًا الآیة. ظفیر)

**د گورنمنټ (برطانیه) دخطاب یافته سړی امامت**: **سوال**: (۷۴۰) یوسړی ته دگورنمنټ (سرکار اوحکومت) څخه خطابات ورکول سوی دی اودانگریزانو سره ملاقاتونه کوی اورنگروټ یی هم ښه کړی دی لیکن داسلامی خلافت سره یی هم دزړه همدردی ده، آیا داسی سړی مسلمان نه دی اوپه هغه پسی لمونځ کول څنگه دی؟

**جواب**: خلاصه دجواب په دی صورة کی داده چی ددی سړی تکفیر کول نه دی پکار. او که چیری هغه دما مضیٰ څخه تائب سی اوداسلام اواهلِ اسلام سره په رشتنی زړه سره همدردی کوی او داهلِ ظلم اعانت هیڅ قسم دهغوی په ظلم کی نه کوی نودهغه امامت وغیره درست دی، اولمونځ په هغه پسی درست (۳) دی. فقط

**دمتهم فاسق امامت**: **سوال**: (۷۴۱) دیوی انجلۍ خسر بدنیته دی دخپل زوی دښځی عزت خرابول یی غوښتل، دانجلۍ بیان دی چی ما دسرمینځلو څخه وروسته قمیص کښلی وو چی زما خُسر پردیوال راواوښتی اوکور ته راغی ماشور جوړکی نوهغه وتښتیدی، نوره څه خبره ونه سوه. نوپه دی سړی پسی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟ اوښځه دخپل خاوند

---

(۱). ولا غیر الالثغ به ای بالالثغ علی الاصح کما فی البحر عن المجتبی وحرر الحلبی وابن الشحنة انه بعد بذل جهده دائما حتما کالأمی فلا یؤم الا مثله ولا تصح صلاته اذا امکنه الاقتداء بمن یحسنه او ترک جهده اووجد قدر الفرض مما لا لثغ فیه هذا هو الصحیح المختار فی حکم الالثغ وکذا من لا یقدر علی التلفظ بحرف من الحروف او لا یقدر علی اخراج الفاء الا بتکرار (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۴ – ۵۴۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۸۱). ظفیر

(۲). ان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰).ظفیر

(۳). التائب من الذنب کمن لاذنب له (مشکوٰة باب التوبه والاستغفار ص ۲۰۲) . ظفیر

دنکاح څخه خارجه سوه اوکه نه؟ دداسی پلار سره دی زوی څه سلوك وکړی؟ بینوا تؤجروا.

**جواب**: کله چی څه خبره موجبه دحرمت مصاهرت ونه سوه، لکه څنګه چی دښځی بیان دی نودغه ښځه په خپل خاوند باندی حرامه نه سوه. لیکن داسی متهم فاسق سړی امام جوړول نه دی پکار. که څه هم لمونځ په هغه پسی کیږی. خوامام جوړول یی مناسب نه دی، کله چی دهغه دشرارت څخه معلومه (۱) سوه.

اوپه موجوده حالت کی زوی ته دپلار سره څه ګستاخی کول نه دی پکار لیکن که دخپلی ښځی دجلا ساتلو انتظام کوی نو ودی کړی. فقط

**دسهار دلمونځ ترک کونکی امامت**: **سوال**: (۷۴۲) دجومات امام ته دوقف څخه پنځلس ۱۵ روپی دمیاشتی تنخوا ورکول کیږی، لیکن هغه همیشه دسهار دلمونځ ورکولو دپاره نه حاضریږی ولی چی تراتو ۸ بجو پوری بیده وی آیا داسی سړی فاسق دی اوپه هغه پسی لمونځ مکروه دی اوکه نه؟

**جواب**: دیووخت دامامت نه کولو سره دخوب وغیره هغه ته تنخواه اخستل ممنوع نه دی اونه دا دامامت دکراهت وجه کیدی سی څنګه چی په حدیث شریف کی دی لا تفریط فی النوم انما التفریط فی الیقظة الحدیث (۲). البته که چیری تارك کیدل دسهار دلمانځه محقق سی نوبیاهغه فاسق دی، لمونځ ورپسی مکروه (۳) دی. لیکن که چیری هغه ووایی چی زه لمونځ کوم نوبیایی تکذیب جائز نه دی. فقط

**صاحب هدایی ته دمشرک ویونکی امامت**: **سوال**: (۷۴۳) کم سړی چی صاحب هدایی ته مشرك وایی اوهدایی ته منطق فلسفه وایی اوصاحب مذهب ته بدعتی وایی. اوهغه ته په دی لقب سره خط لیکی: السلام علیکم من اتبع بهدایة محمد ﷺ. په داسی سړی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: دغه سړی فاسق دی لمونځ ورپسی مکروه تحریمی دی کما صرح به فی الشامی ان امامة الفاسق مکروه تحریمًا. (۴) فقط

---

(۱). ان کراهة الفاسق کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰) ویکره تقدیم العبد الخ والفاسق لانه لایهتم لامر دینه الخ وان تقدموا جاز لقوله ﷺ صلوا خلف کل بر وفاجر (هدایه باب الامامة ج۱) . ظفیر

(۲). مشکوٰة. باب تعجیل الصلوة ص ۶۱ . ظفیر

(۳). وتارکها (ای الصلوة) عمدا مجانة ای تکاسلا فاسق (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصلوٰة ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۳۵۲). ظفیر

(۴). ای ان کراهته کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

**دګوډ امامت**: **سوال**: (۷۴۴) یوسړی ګوډ دی بغیر دلکړی څخه ګرځیدی نه سی اونه سیده دریدی سی، په داسی سړی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ په هغه پسی صحیح دی لیکن ښه داده چی که چیری بل سړی کم چی ګوډ نه وی دامامت لائق موجود وی نوهغه دی امام جوړسی، وکذا یکره خلف اعرج یقوم ببعض قدمه فالاقتداء بغیره اولی الخ شامی (۱). فقط

**څوک چی متهم وی دهغه امامت**: **سوال**: (۷۴۵) دزید مور څوواره داویلی دی چی دزید دښځی سره زما خاوندصحبت کوی اوزید دمور په وینا باندی بالکل یقین نه کوی په دی صورة کی څه حکم دی اوزید امام جوړیدی سی اوکه نه؟

**جواب**: دزید دمور په دی وینا سره دزید ښځه پرزید باندی حرامه نه سوه. (۲) او دداسی خبر یقین نه دی کول پکار. (۳) اوزید امام جوړول صحیح دی. فقط

**دبواسیرو والا امامت**: **سوال**: (۷۴۶) دچاچی دبواسیرو مرض وی اوکله کله ځینی وینه څاڅکی داسی سړی پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

**جواب**: کم وخت چی ورته وینه نه راځی اواودس یی وی هغه وخت به لمونځ ورپسی صحیح (۴) وی. فقط

**دحقی خبری دپیروی نه کونکی امامت**: **سوال**: (۷۴۷) دوی فریقی مدعی داهل حدیثو دی تقریباً دځلورو پنځو کالو څخه یی په یوه خبره کی تنازع سویده، په هغوی کی یوه ډله خونرم اوداسلام او اهلِ اسلام مطیع دی اودوهم فریقه سخت ضده اوسنګدله دی اودحق خبری پیروی نه کوی، دهغوی دپاره څه حکم دی، اوددوی امامت څنګه دی؟

**جواب**: ظاهره ده چی ضدی فریقی کمی چی په نفسانیت سره دحق خبری پیروی نه کوی په باطله باندی دی اوعاصی اوفاسق دی اوامامت دهغوی مکروه (۵) دی. باقی پوره خبره په پوره واقعی معلومیدلو سره کیږی. فقط

**په ترتیل سره دقرآن نه ویونکی امامت**: **سوال**: (۷۴۸) دزید په تالو کی په سبب دناجوړی سوری جوړ سوی دی اودحرفونو ادائیګی پوره نه سی کولی اوپه ترتیل سره ویل نسی

---

(۱). ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲. ظفیر

(۲). تزوج بکرا فوجدها ثیبا وقالت ابوك فضنی ان صدقها بانت بلا مهر والا لا ، (الدر المختار علی هامش رد المحتار، فصل فی المحرمات ج ۲ ص ۳۸۴ ، ط.س. ج ۳ ص ۳۲). ظفیر

(۳). منها الشهادة فی الزناء یعتبر فیها اربعة من الرجال (هدایه کتاب الشهادات ص ۱۳۸ ج۱) . ظفیر

(۴). ځکه چی دی دمعذور په حکم کی نه دی . ظفیر

(۵). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰ ). ظفیر

کولی، دزید ښخه دزیات ښه ویونکی په موجودگی کی به دزید امامت درست وی، او لمونځ به په ده پسی صحیح وی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ په ده پسی هم کیږی ترڅو پوری چی څه غلط لمونځ ماتونکی نه وی لیکن ښه داده چی بل سړی کم چی صحیح ویل کوی او قرآن کریم په ترتیل اوتجوید سره وایی هغه دی امام جوړسی (١) . فقط

**دشیعه ګانو دجنازه کونکی امامت**: **سوال**: (٧٤٩) یوسړی چی دجامع مسجد امام وی او دشیعه ګانو په جنازی اوتجهیز اوتکفین کی برابر شامل سی اوخلګوته ترغیب ورکوی نودهغه څه حکم دی؟

**جواب**: داسی سړی عاصی اوفاسق دی، دی امام جوړول اوورپسی لمونځ کول مکروه (٢) دی. فقط

**دنوی مسلمان امامت**: **سوال**: (٧٥٠) په نوی مسلمان پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: جائزدی (٣).

**دمعذور امامت**: **سوال**: (٧٥١) دری ځلورکسان معذوره دی، دامامتی لائق نه دی په داسی حالت کی به جلا جلا ته لمونځ کوی اوکه په دوی کی به څوك امامت کوی؟

**جواب**: دمعذورو امام معذور کیدلی سی (٤). فقط

**دامام انتخاب**: **سوال**: (٧٥٢) یوجومات دجولاګانو په نوم سره مشهور دی، جولاګانو امام وایستی اودخپل قوم حافظ یی راوغوښتی او (امام یی) وساتی، آیا دنورو مسلمانانو حق په دغه جومات کی سته؟

**دافیون استعمالونکی امامت**: **سوال**: (٧٥٣) یوامام دمسئلی ښخه خبر دی، په لمانځه کی قرآن کریم په قراءة سره وایی اوالفاظ په پوره طور سره اداء کوی خوافیون خوری په هغه پسی

---

(١). والاحق بالامامة تقديما بل نصبا الاعلم باحكام الصلوة بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة وحفظه قدر فرض وقيل واجب وقيل سنة ثم الاحسن تلاوة وتجويدا للقراءة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٠ - ٥٢١ ج١ ، ط.س. ج١ ص ٥٥٧ – ٥٥٨ ) . ظفير

(٢). ويكره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) ان كراهة تقديمه اى الفاسق كراهة تحريم (رد المحتار ص ٥٢٣ ج١، ط.س. ج١ ص ٥٥٩ – ٥٦٠ ). ظفير

(٣). والاحق بالامامة الخ الاعلم باحكام الصلوة الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ٥٢٠ ج١، ط.س. ج١ ص ٥٥٧). ظفير

(٤). ولا طاهر بمعذور الخ وصح لوتوضا على الانقطاع وصلى كذلك كاقتداء بمفتصد امن خروج الدم وكاقتداء امرأة بمثلها وصبى بمثله ومعذور بمثله (درمختار) اى ان اتحد عذرهما واختلف لم يجز الخ (رد المحتار باب الامامة ص ٥٤١ ج١ ، ط.س. ج١ ص ٥٥٨ ، ٥٧٨). ظفير

لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟

**دغلط ویونکی امامت**: (۷۵۴) امام دمسئلې څخه خبر نه دی، قرآن کریم غلط وایي، کپړې جوړوي اوخرڅوي یې، په هغه پسې لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: (۱) دکمو مقتدیانو جماعت چې زیات دی دهغوی په رایې سره امام مقرر کیدی سی خو بهرحال امام لائق دامامت پکاردی برابره خبره ده که دهرقوم څخه وی. ([1])

(۲) په افیون خورونکي پسې لمونځ مکروه دی، هغه امام جوړول نه دی پکار. ([2])

(۳) دکپړې جوړولو په وجهې سره دهغه په امامت کې هیڅ نقصان یا فساد نه راځي، لیکن که قرآن شریف داسې غلط وایي چې په هغه سره په لمانځه کې نقصان یافساد راځي نو هغه دی امام جوړنه سی. ([3]) فقط

**چې دخاوند والا ښځې نکاح تړي دهغه امامت**: **سوال**: (۷۵۵) دیوې ښځې خاوند ددروکالو څخه په لام (دفوج په ډلګۍ) باندې تللی دی. درې میاشتې سوې دی چې دهغه خط راغلی وو. اوس معلومه نه ده چې هغه ژوندی دی اوکه مړسوی دی، بل داچې دښځې دپنځو میاشتو حمل دی، ددغې ښځې نکاح یوسړي تړلې ده. سره ددې چې خلګو منع کوی، په داسې سړي پسې لمونځ جائز دی اوکه نه؟

**دخاوند دارې ښځې چې څوک دبل چاسره نکاح وتړي، دهغه امامت**: **سوال**: (۷۵۶) یوسړي دیوې ښځې نکاح وتړله. دچاخاوند چې په لام (فوج) باندې تللی وو، اوذکر سوی سړي داوویل چې کم وخت ددې خاوند راسې دابه بیرته وروایس کړم اوهمداسې وسوه، تر شپږو میاشتو پورې ددې (نوې) خاوند په کورکې وه، دهغه څخه وروسته یې مخکنی خاوند راغې اوښځه یې بوتله. په داسې نکاح تړونکي پسې لمونځ کول جائزدی که نه؟

**جواب**: (۱) په دې حالت کې دهغه دوهمه نکاح شرعًا درسته نه ده، اوچاچې سره دعلمه دهغې دوهمه نکاح وتړله، هغه فاسق دی، په هغه پسې لمونځ کول مکروه دی. ([4])

(۲) په داسې نکاح کونکې اونکاح تړونکې پسې هم لمونځ مکروه دی، دافعل حرام دی اومرتکب ددې فاسق مردود الشهادة ([5]) دی. فقط

---

([1]). اوالخيار الى القوم فان اختلفوا اعتبر اكثرهم ولو قدموا غير الاولى اساءوا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱) ظفير.

([2]). وكذاتكره خلف الامرد وسفيه ومفلوج وابرص شاع برصه وشارب الخمر واكل الربا ونمام ومراء متصنع (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲). ظفير

([3]). ولاغير الالثغ به اى بالالثغ على الاصح (ايضًا ص ۵۴۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۱). ظفير

([4]). ويكره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار، باب الامامة ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفير

([5]). ويكره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشى فى شرح المنية ان كراهة تقديمه كراهة تحريم (ردالمحتار=

**دمعالج امام امامت**: **سوال**: (۷۵۷) اگر امام محله بعیادت معالجه مصروف مانده اهتمام آن نماید درضمن آن بعض نساء مریضه را هنگام درد ناف دست برنافه نهاده عزائم وافسونها بدهد پس این چنین مبتدع نماز جائز است یانه؟

**دمبتدع امام امامت**: **سوال**: (۷۵۸) درکشمیر بعض جایها شیوع ساخته اند که بوقت ختنه اذان میگویند واین را ازقبیل سنن پندارند اگر امام محله این بدعات را ترویج دهد خلف وی نماز قوم درست است یا مکروه؟

**جواب**: (۱) فقهاء طبیب رابغرض علاج دست براعضاء اجنبیه نهاده درست داشته اند ولیکن درعزائم وافسونها جواز این یافته نشده. [1]پس این چنین امام فاسق باشد وامامت اومکروه باشد وتقررش برامامت تا وقتکیه اوتوبه ازبدعات نکنند جائز نیست ([2]). فقط

(۲) بوقت ختنه اذا گفتن مشروع نیست وسنت پنداشتن اورا جهل است وامامتش مکروه است. ([3]) فقط

**دبدعتی امامت**: **سوال**: (۷۵۹) څوك چی په بدعت کی شریکیږی یاکوشش کوی اوځان لغړ کړی لوبی کوی دهغه امامت څنگه دی؟

**جواب**: دداسی سړی امامت مکروه ([4]) دی. فقط

**چی په ښادی کی باجه بوزی دهغه امامت**: **سوال**: (۷۶۰) که چیری څوك امام دخپل زوی په واده کی باجه بوزی اودا عذر بیان کړی، چی انجلۍ والاؤ ویلی دی چی که باجه دی راوسته، نونکاح به درکړم، داعذر شرعًا جائزدی اوکه نه؟ اوپه هغه پسی لمونځ جائز دی که نه؟

**جواب**: داعذر شرعًا مسموع نه دی اوددی عذر په وجهی سره باجه بیولل درست نه دی. که چیری امام مذکور داسی کړی وی نوهغه فاسق دی اوپه هغه پسی لمونځ مکروه دی.

= باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۳، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰ ). ظفیر

([1]). ولا یجوز النظر الیه بشهوة ای الا لحاجة کقاض الخ وکذا مرید شرائها اومداواتها الی موضع المرض بقدر الضرورة (رد المحتار باب شروط الصلوة سترالعورة ص ۳۷۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۰۷). ظفیر

([2]). ویکره امامة عبد الخ ومبتدع ای صاحب بدعة (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰ ). ظفیر

([3]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق الخ ومبتدع ای صاحب بدعة وهی اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول ﷺ لا بمعاندة بل بنوع شبهة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰ ). ظفیر

([4]).ایضًا. ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰ ظفیر

فقط ([1])

**دجومات دخدمتګار امامت**: **سوال**: (۷۲۱) بکر دجومات خدمتګار دی، چی امام موجود نه وی نولمونځ ورکوی آیاپه ده پسی لمونځ کیږی اوکه نه؟

**جواب**: په ده پسی لمونځ صحیح دی. فقط (که چیری هغه دامامت لائق وی یعنی دلمانځه دمسائلو څخه خبر وی اوقرآئت صحیح وایی. ظفیر)

**په ناظره خوان پسی دعالم لمونځ**: **سوال**: (۷۲۲) دجومات امام چی ناظره خوان اوډیر لمونځ ګذاردی دماښام په وخت کی یی لمونځ ورکی، په دی کی یوعالم راغی په زور یی په امام باندی لمونځ مات کی. اوپخپله یی لمونځ ورکی. په دی صورة کی شرعًا څه حکم دی؟

**جواب**: دمولوی صاحب دافعل نهایتی قبیح اومعصیت دی، هغه سخت ګنهګار سو. هیڅ وجه په ظاهره داسی نه معلومیږی چی فرض لمونځ دامام اومقتدیانو مات سی. کیدی سی چی دهغه داخیال وی چی په ناظره خوان پسی دعالم لمونځ نه صحیح کیږی. حالانکی داغلطه ده. ([2]) فقط

**دشمس العلماء امامت**: **سوال**: (۷۲۳) دسرکار دطرف څخه چی چاته دشمس العلماء خطاب ورکول سوی وی دهغه امامت جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: په قاعدی د: صَلُّوا خَلْفَ كُلِّ بَرٍّ وَفَاجِرٍ (لمونځ کوئ ترشا دهر نیك سړی اوبد سړی) سره لمونځ په هغه پسی کیږی لیکن دتنبیه په غرض سره داسی امام مقررول نه دی پکار. فقط

**دکونډی په نکاح کی دخلل اچونکی امامت**: **سوال**: (۷۲۴) چی کونډه ښځه په نکاح کولو باندی رضامنده وی اویوسړی دهغه په نکاح کی خلل اچوی نوپه هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

**جواب**: کونډه ښځه چی په خپل کفو کی نکاح کول غواړی نوهیڅ ولی یاغیر ولی ته هغه دنکاح څخه بندول نه دی پکار، ځکه چی بی دشرعی وجهی څخه یوه ښځه دنکاح څخه

([1]). وکره کل لقوله ﷺ کله لهو السملم حرام الا ثلاثة ملاعبته اهله وتادیبه لفرسه ومناصلته بقوسه (درمختار) قوله کره کل لهو ای کل لعب وعبث الخ شامل لنفس الفعل واستماعه کالرقص والسخرية والتصفيق وضرب الاوتار من الطنبور والبربط والرباب والقانون والمزمار والسنج والبوق فانها کلها مکروهة لانها زیَ الکفار واستماع ضرب الدف والمزمار وغیره ذلك حراما وان سمع بغتة یکون معذورا ویجب ان یجتهد ان لا یسمع قهستانی (ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ص ۳۴۷-۳۴۸ ج ۵ ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

([2]). واعلم ان صاحب البیت ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غیره مطلقًا (درمختار) ای وان کان غیره من الحاضرین من هو اعلم واقرأ منه (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

بندول گناه ده. فقط ، (اوپه دی باندی اصرار فسق دی لهٰذا دهغه امامت مکروه دی. (۱)
په قرآن کریم کی دی وَاَنْكِحُوا الْاَيَامٰى مِنْكُمْ . ظفیر)

**دجوړی اخستونکی امام امامت**: **سوال**: (۷۲۵) یوه ډله داهلِ اسلام چی په ظاهره لمونځ نه کوی اوپټ عبادت کوی اودنشی وغیره شیان استعمالوی. دغه خلګو یوه جلسه وکړه او دعلاقی دمشرانو څخه یی معافی وغوښته، ټولو دهغوی په معافی باندی دعوت قبول کی اوپه واده کی ورسره شریك سول، هغوی اقرار وکی چی موږ به لمونځ هم کوو اوامام ته یی جوړه ورکړه نوامام قصورمند دی اوکه نه؟ اوپه هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: کله چی دغه ډله داهل اسلام څخه ده اودلمانځه کولو وعده یی وکړه اولمونځ یی شروع کی اودټولو مذهبی فرائضو اداء کولو وعده یی وکړه، نو دهغوی په واده کی شرکت درست (۲) دی. اوډوډی خوړل یی جائز دی. اوکم امام صاحب چی هلته ډوډی وخوړل اوجوړه یی واخسته هغه قصورمند نه دی، په هغه پسی لمونځ جائزدی. فقط

**دګورنمنټ** (**حکومت**) **پینشن** (**امداد** Pension) **خوروونکی امامت**: **سوال**: (۷۲۶) کم سړی چی دګورنمنټ پنشن خوری دهغه امامت جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: امامت دهغه صحیح دی اولمونځ په هغه پسی درست دی. (۳) فقط

**نمائش ته ددوکان وړونکی امامت**: **سوال**: (۷۲۷) یوسړی نمائش ته دوکان بوتلی په هغه پسی لمونځ کیدی سی اوکه نه؟

**جواب**: په داسی سړی پسی لمونځ صحیح (۴) دی.

**دغیر مقلد امامت**: **سوال**: (۷۲۷) زید امام دی اومقتدیان چی په هرجماعت کی کله تکبیر وایی نوامام هغه وخت ودریږی چی کله په تکبیر کی حَیّ علی الفلاح یاالله اکبر وویل سی، ددی څخه مخکی ټول تکبیر په ناستی اوری، اویو مقتدی هم داسی کوی، دامام سره ولاړیږی. کله چی تکبیر ختم سی هغه وخت امام الله اکبر وایی.

**دامام ثنا پریښوول څنګه دی؟** (۷۲۹) امام کله کله سبحانك اللهم ؒ نه وایی اوسورة الحمد

---

(۱). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص**۵۲۳** ج۱، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹-۵۶۰**) ظفیر.

(۲). التائب من الذنب کمن لاذنب له (مشکوٰة باب التوبة)

(۳). دګورنمنټ څخه په معاوضه کی امداد قبلول څه شرعی جرم نه دی اوپه دی وخت کی نورهم کله چی هغه دخپل ملازمت موده پوره کړی وی اودپنشن مستحق ګرځیدلی وی. وجاز تعمیر کنیسته وحمل خمر ذمی بنفسه اودابته باجر الخ (درمختار) قال فی الخانیة ولو اٰجر نفسه لیعمل فی الکنیسة ویعمرها لاباس به لانه لامعصیة فی عین العمل (رد المحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ص **۳۴۵** ج**۵**، ط.س. ج۱ ص **۳۹۱** ؟). ظفیر

(۴). په نمائش کی دوکان لګول جائزدی څه رکم چی په بازار کی دوکان وی اوټولی پیښبی پکښی کیږی. ظفیر

فوراً شروع کوی.

**کم امام چي دوترو يو رکعات کوی، دهغه اقتداء**: (۷۷۰) يوامام دوترو يورکعات کوی په هغه پسی لمونځ کول څنګه دی؟

**جواب**: (۱) فقهاوو داليکلی دی چی دلمانځه په آدابو کی دی چی کم وخت په تکبير کی حیّ علی الفلاح ووايی هغه وخت دی امام اومقتديان ودريږی اوکم وخت چی قدقامت الصلوة ووايی هغه وخت دی امام لمونځ شروع کړی، اوکه چيری دتکبير ختميدو څخه وروسته شروع کړی نو دابنه [۱] ده.

(۲) دا دسنت څخه خلاف ده. [۲].

(۳) داسړی امام جوړول ښه نه دی، دی غير مقلد معلوميږی په ده پسی لمونځ حتی الوسع مه کوی، بل سړی حنفی عالم اومتقی امام [۳] جوړ کړی.

**خاوند په تراويحو کی دښځی اقتداء وکړی اوکه نه؟ سوال**: (۷۷۱) دزيد ښځه دقرآن حافظه ده که چيری په رمضان شريف کی دهغه خاوند اوزوی اولونی دهغې اقتداء په فرضو او تراويحو کی اوکړی نوجائزدی اوکه نه؟ اوکه چيری هغه (حافظه) يوازی تراويح کوی نو په جهرسره دقرآن قرآئت درست دی اوکه نه؟

**جواب**: ولايصح اقتداء رجل بالمرأة وخنثى وصبى مطلقًا ﷺ درمختار [۴] ويكره جماعة النساء ولوفى التراويح. [۵] درمختار. ولا تجهر فى الجهرية بل لو قيل فى الفساد بجهرها لامكن بناءًا اعلى ان صوتها عورة. شامی [۶] ص ۳۴۹ ج۱. ددی رواياتو څخه معلومه سوه چی دسړی لمونځ په ښځی پسی نه صحيح کيږی اويوازی دښځو جماعت هم مکروه تحريمی دی، اوښځه يوازی هم په جهری لمونځ کی جهر نسی کولی. فقط

---

[۱]. والقيام لامام ومؤتم حين قيل حى على الفلاح ﷺ ان كان الامام بقرب المحراب والا فيقوم كل صف ينتهى اليه الامام على الاظهر وان دخل من قدام قاموا حين يقع بصرهم عليه ﷺ وشروع لامام فى الصلوة مذ قيل قد قامت الصلوة ولو اخر حتى اتمها لا باس به اجماعا وهو قول الثانى والثلاثة وهواعدل المذاهب ﷺ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار آداب الصلوة ص ۴۴۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۷۹). ظفير

[۲]. وسننها رفع اليدين للتحريمة الخ والثناء والتعوذ والتسمية (ايضًا سنن الصلاة ج ۱ ص ۴۴۳ ، ط.س. ج۱ ص ۴۷۴ – ۴۷۵). ظفير

[۳]. وكذا تكره خلف امرد الخ زاد ابن ملك ومخالف (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۲ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲). ظفير

[۴]. الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۹ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۲ – ۵۷۷ . ظفير

[۵]. ايضًا ص ۵۳۸ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۵ . ظفير

[۶]. ردالمحتار فصل تاليف الصلوة تحت قوله وتلصق بطنها الخ ص ۴۷۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۰۴. ظفير

**دشطرنج دلوبه کونکي امامت**: **سوال**: (۷۷۲) کم حافظ چی دشطرنج لوبه کوی، چی لمونځ یی هم قضاسی دهغه امامت جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: دهغه امامت مکروه (۱) دی. فقط

**دامن دجرګي دغړي امامت**: **سوال**: (۷۷۳) دګورنمنټ دطرفه چی کمه دامن جرګه قائمه سوی ده په هغه کی چنده ورکول اودهغه غړی جوړیدل ښنګه دی اوکم خلګ چی غړی (ممبران) جوړسوی دی دهغوی دپاره څه حکم دی، اولمونځ په هغوی پسی جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: په هغه کی چنده ورکول او (غړی) ممبر یی جوړیدل اوکوشش کول په خلاف کی درست نه دی اوهغوی په حقیقت کی داسلام دشوکت اوداسلامی خلافت دخرابولو کوشش کوی. دداسی خلګو حال نهایتی خطرناك دی اودوی امام جوړول مکروه دی (۲). فقط

**دعنین امامت**: **سوال**: (۷۷۴) په عنین (نامرده) پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

**جواب**: په عنین پسی لمونځ درست دی (۳) . فقط

**داصلاح ساز امامت**: **سوال**: (۷۷۵) یوسړی حنفی قاری اومتقی، شریف دلمانځه روژی پابند او دضروری مسائلو څخه خبر دی، په دی وخت کی دهغه کسب اصلاح سازی ده اوپه اصلاح سازی کی چی څه حاصلیږی په هغه سره دکور او اولاد پالنه کوی، آیا شرعًا داکسب جائزدی اوکه نه؟ اودداسی سړی امامت جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: مذکور کسب حلال دی اوامامت دهغه درست دی، په دی وجهی سره دهغه په امامت کی هیڅ کراهت نسته.

**دچالور چی دډمتوب کسب کوی دهغه امامت ښنګه دی؟** **سوال**: (۷۷۶) شیخ سخاوت دلمانځه روژی پابند دی دهغه لور دډمتوب کسب کوی اوسخاوت دهغې سره اوسی. دهغه امامت جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: که چیری په داسی حالت کی دخلګو دهغه دامامت څخه کراهت وی نوهغه ته امام

---

(۱). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱) په دی وجهی سره چی دشطرنج لوبه مکروه تحریمی ده. وکره تحریما اللعب بالنرد وکذا الشطرنج (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ص ۳۴۷ ج۵). ظفیر

(۲). ولاتعاونوا علی الاثم والعدوان (قرآن پاك) ویکره تقدیم الفاسق ایضًا لتساهله فی الامور الدینیة (غنیة المستملی ص ۳۵۱ . ظفیر

(۳). په عنین کیدلو سره په امامت باندی هیڅ اثر نه پریوزی، داځه ظاهری اوښکاره عیب نه دی کم چی باعث دکراهت وی. والله اعلم. ظفیر

کيدل مکروه دی. (١) فقط

**دښکنځل کوونکي امامت**: **سوال**: (٧٧٧) يوسړی اولادته دمور، خور ښکنځل کوی دحرامی بچی اودحرامو اولاد ورته وايی، اووايی چی په نطفه کی دی فرق دی، يوه لور يی پيغله ده اوپه هغې باندی پرده بالکل نه کوی. دداسی سړی دپاره څه حکم دی. امامت دده څنګه دی؟

**جواب**: دذکرسوی سړی اکثر کارونه دشريعت څخه خلاف اوحرام اومعصيت دی. لهٰذا په ده باندی دفسق حکم لګيږی، دی فاسق دی، اولمونځ ورپسی مکروه تحريمی (٢) دی. فقط

**څوک چی پرسجده باندی قدرت نه لری دهغه امامت څنګه دی؟** **سوال**: (٧٧٨) کم سړی چی دسجدی څخه عاجزه وی اوباقی ټول ارکان رکوع، قومه وغيره په ښه شان سره اداء کوی اوپه ولاړی لمونځ کوی په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

**جواب**: په هغه پسی لمونځ دهغو خلګو څوك چی سجده کولی سی صحيح نه دی. په در مختار کی دی. والعبرة للعجز عن السجود حتٰی لوعجز عنه وقدر علی الرکوع اومأ (٣) الخ.

**څوک چی غلطه غوښتنه نه منی دهغه امامت جائز دی؟** **سوال**: (٧٧٩) که چيری استاذ شاګرد ته ووايی چی ته دخپل استاذ کونډی (ښځی) ته څوك چی فی الحاله ستا په نکاح کی ده طلاق ورکړه کنی ته زما څخه عاق يی. که چيری شاګرد طلاق ورنه کړی نودا وجه دعاق کيدلو کيدی سی اوکه نه؟ اوپه هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ اوعاق کول درست دی اوکه نه؟

**جواب**: داوجه دشاګرد دعاق کيدلو نسی کيدی اوپه دی وجهی سره شاګرد عاق کول صحيح نه دی اوکه چيری په دی وجهی سره استاذ هغه عاق کړی نوهغه په حقيقت کی عاق نه دی. اولمونځ په هغه پسی صحيح اودرست دی. فقط (٤)

---

(١). فلو أم قوما وهم له کارهون ان الکراهة لفساد فيه او لانهم احق بالامامة منه کره له ذالك تحريما لحديث ابی داود لايقبل الله صلاة من تقدم قوم وهم له کارهون. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٢ ج ١ ، ط.س. ج١ ص ٥٢٢). ظفير

(٢). ويکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنية ان کراهة تقديمه کراهة تحريم (رد المحتار باب الامامة ص ٥٢٣ ج ١ ، ط.س. ج١ ص ٥٥٩ - ٥٦٠ ) حديث نبوی دی سباب المسلم فسوق وقتاله کفر، رواه مسلم . ظفير

(٣). ردالمحتار باب الامامة ص ٥٤٢ ج١ ، ط.س. ج١ ص ٥٧٩. ظفير

(٤). قال رسول الله ﷺ الطلاق ابغض المباحات (مشکوٰة کتاب الطلاق) بی وجهی دطلاق ورکولوحکم ناجائز =

**دبد چلنه ښځې قتلوونکی امامت**: **سوال**: (۷۸۰) یوسړی خپله ښځه دبدچلنی په وجه ووژله، دهغه په وجه یې یوولس کاله قید وخوړی، په داسی سړی پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

**جواب**: قتلول هغه ته جائز نه وو اوددی قتل په وجهی سره دی فاسق او دکبیری ګناه مرتکب سو، توبه کول اودوارثانو څخه یې معافی غوښتل دده پرذمه لازم دی. (۱) که چیری ده توبه وکښله اوپه وارثانو یې دهغوی حق معاف کی نوامامت دده صحیح (۲) دی. فقط

**دغلطو عقائدو والا امامت؟** **سوال**: (۷۸۱) یوسړی دجومات امام دی. اوهغه دماخستن دلمونځ څخه وروسته دیو بنګو څکونکی قوّال (نعت خوان) څخه دحضرت پیر صاحب قدس سرہ داقسم تعریف اوری چې: حضرت پیر (عبدالقادر جیلانی) صاحب یووخت دخپل مریددپاره په قبرکی دمَنْ رَّبُّكَ په سوال کیدلوباندی منکر اونکیر قیدکړی وه. اویووخت هغوی دډیرو مړو روحونه دملك الموت څخه راوشکول کله چې هغه دځلوم آسمان څخه تیریدی، اودغه قوّال داټولی خبری په لوړ آواز سره په جومات کی په صیغی دخطاب سره کوی، سجده دپیر صاحب دپاره مخصوص وایی، اودجومات امام یې یوه ذره هم نه منع کوی بلکی دهغه تائید کوی چې داهرڅه صحیح دی او دعاشق دپاره خو بالکل جائز دی. آیاپه داسی امام پسی لمونځ جائزدی اوبندونکی یې داولیاوو منکر دی اوکه نه؟

**جواب**: داسی امام څوك چې داسی بې بنیاده دروغ قصی اوری اوتحسین یې کوی اوددی قصو تصدیق کوی فاسق دی، دامام جوړولو لائق نه دی، اولمونځ په هغه پسی مکروه (۳) دی. اودداسی باطلو قصو دویلو اوآوریدلو څخه بندوونکی پرحق باندی دی هغوی ته داولیاء الله منکر ویل اوبدعقیده ګڼل فسق اومعصیت دی اوافتراء اوصریح دروغ دی. فقط

**ددوکاندار امامت**: **سوال**: (۷۸۲) دیودوکاندار نظر دسودا خرڅولو په وخت کی په سړو او پرښځو باندی پریوزی، دهغه امامت جائز دی اوکه نه؟

---

= فعل دی، ددی اتباع جائزنه ده ظفیر.

(۱). وعن معاوية رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ كل ذنب عسى الله ان يغفره الا الرجل يموت كافرا، والرجل يقتل مؤمنا متعمدا (كتاب الترغيب والترهيب كتاب الحدود لابن حجر ص۲۲۲). ظفير

(۲). قال رسول الله ﷺ التائب من الذنب كم لاذنب له (مشكوة باب الاستغفار والتوبه فصل ثالث ص ۲۰۲). ظفير

(۳). ويكره امامة الخ وفاسق (درمختار) ان كراهة تقديمه اى الفاسق كراهة تحريم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰). ظفير

**جواب**: امامت دده جائز ([1]) دی. فقط

**دغلط ویونکی امامت؟** **سوال**: (۷۸۳) یوسړی امام دی خوالفاظ صحیح نه وایی، دولاړ او پروت لفظ تمیز نه کوی، په هاء اوحاء کی هیڅ فرق نه کوی په داسی سړی پسی دحافظ لمونځ درست دی اوکه نه؟

**جواب**: کم سړی چی لفظ صحیح نه اداء کوی اوپه هاء اوحاء اوتاء اوطاء وغیره کی فرق نسی کولی په هغه پسی دصحیح ویونکی حافظ لمونځ نه ([2]) صحیح کیږی. فقط.

**دموچی اوغسال امامت**: **سوال**: (۷۸۴) دموچی اوغسال په امامت کی څه کراهت سته اوکه نه؟

**جواب**: په موچی اوغسال پسی لمونځ درست دی اومحض په دی وجهی سره ددوی په امامت کی هیڅ کراهت نسته. البته که چیری څه بله وجه دکراهت وی نولمونځ به په دوی پسی مکروه وی، اودامامت دپاره ښه هغه سړی دی څوك چی دلمانځه دمسائلو ښخه خبر وی اوقرآن شریف صحیح وایی، او ([3]) صالح وی. فقط.

**په چاپسی دلمانځه نه کونکی امامت**: **سوال**: (۷۸۵) که یوسړی دجومات دامام داجازی څخه بغیر دیوچا په اشاره باندی جمع ورکوی اوهغه اکثره په چاپسی لمونځ هم نه کوی، چی جمع ولاړه ووینی نویاخو واپس ولاړسی یاپه اودس وغیره کی دومره وخت ولګوی چی جمع ورڅخه وسی، په هغه پسی لمونځ کول څنګه دی؟

**جواب**: لمونځ په هغه پسی صحیح دی اوداکار دده بددی اوشرعًا قبیح دی، چی په چا پسی لمونځ نه کوی ([4]). فقط

---

([1]). په نظر پریوتلو سره سړی نه فاسق کیږی، اولاً خوپه دی وجهی سره چی دادضرورت په وجهی سره دی کم چی جائزدی، ثانیًا په دی وجهی سره چی مخ په سترکی داخل نه دی، معاف دی، پرلپسی کتل البته منع دی. حضور ﷺ حضرت علی رضی الله عنه ته فرمایلی وه یاعلی لا تتبع النظرة فان لك الاولی ولیست لك الاخرة (مشکوٰة باب النظر الی المخطوبة ص ۲۲۹) دستر په سلسله کی فقهاء لیکی: وللحرة والخنثی جمیع بدنها ﴿ خلا الوجه والکفین ﴿ والقدمین وتمنع المرأة الشابة من کشف الوجه بین رجال لا لانه عورة بل لخوف الفتنة ﴿ ولا یجوز النظر الیه بشهوة ﴿ اما بدونها فیباح ولو جمیلا ﴿ (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الشروط الصلوة ص ۳۷۲-۳۷۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۰۲). ظفیر

([2]). الا غیر الالثغ علی الاصح الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۴۴** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۷**). ظفیر

([3]). الاحق بالامامة تقدیما بل نصبا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة وحفظه قدر فرض وقیل واجب وقیل سنة وهو الاظهر (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ج۱ ص**۵۴۱**). ظفیر

([4]). فتسن اوتجب ثمرته تظهر فی الاثم بترکها مرة (ایضًا ص **۵۱۸** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۴**). ظفیر

**دجمعية علماء هند فيصلي ته دغلطي ويونكي امامت**: **سوال**: (۷۸۶) کم سړی چی دجمعية علماء هند متفقه فيصله دروغ گڼي، په ذکرسوی فتوٰی باندی مهر لگونکو عالمانو ته، اوځوك چی دغه فتوٰی حق گڼي هغوی ته کافر وايي. په انگريزي مکتب کی سبق ورښيي په داسی سړی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: دغه سړی فاسق دی، لمونځ ورپسی مکروه تحريمی دی. کذا حققه فی الشامی ان الصلوة خلف الفاسق مکروه بکراهة التحريم (۱). اوامام جوړول دداسی سړی حرام دی، ولی چی په دی کی دهغه تعظيم دی اوتعظيم دفاسق حرام دی. فقط

**دختنی کونکي امامت**: **سوال**: (۷۸۷) ځوك چی ماشومان سنتوی دهغه امامت څنگه دی؟

**جواب**: جائز (۲) دی. فقط

**دمعذور عالم امامت**: **سوال**: (۷۸۸) معذور عالم دچا څخه چی مقتديان کراهت (بد) کوی په هغه پسی دجوړ امام په موجودگی کی لمونځ صحيح دی اوکه نه؟

**جواب**: په درمختارکی دی ولا طاهر بمعذور الخ ولا قادر علی رکوع وسجود بعاجز عنهما (۳) الخ. ددی عبارت څخه معلومه سوه چی دغير معذور لمونځ په معذور پسی صحيح نه دی. اودکم سړی دامامت څخه چی مقتديان کراهت کوی دهغه امام کيدل مکروه دی (۴). په مشکوٰة شريف کی دی: ثلاثة لاتقبل منهم صلاتهم من تقدم قومًا وهم له کارهون. الحديث (۵)

**دسياح عالم امامت**: **سوال**: (۷۸۹) کم سياح عالمان چی دبل ملك څخه راځي دهغوی عقيده پوره معلومه نه وی حتّی چی بعضی پکښي اشتهاريان (ملزمان) هم وی اوامامتی کوی. که چيری يو مقرر امام دهغوی په مخکی امامتی وکړی نوپه دی کی خپله بی عزتی گڼي حالانکی خطبه هم صحيح نه سی ويلی. دداسی سياح لاپته سړی امامت درست دی اوکه نه؟

---

(۱). وگوری ردالمحتار شامی باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰ . ظفير

(۲). دايوجائز کاردی، ددی په وجهی سره هيڅ عيب نه لگيږی. وقيل فی ختان الکبير اذا امکنه ان يختن نفسه فعل الخ والظاهر فی الکبر انه يختن (درمختار) ای يختنه غيره (درالمختار کتاب الحظر والاباحة باب الاستبراء ص ۳۳۷ ج۵ ، ط.س. ج۶ ص ۳۸۲). ظفير

(۳). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۷۸ - ۵۷۹ . ظفير

(۴). ولو ام قومًا وهم له کارهون ان الکراهة لفسادٍ اولانهم احق بالامامة منه کره له ذالك تحريمًا لحديث ابی داود ولا يقبل الله صلاة من تقدم قومًا وهم له کارهون (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفير

(۵). مشکوٰة باب الامامة فصل ثانی ص ۱۰۰ . ظفير

**جواب**: قول اوخیال ددغه سیاح غلط اوباطل دی، اوکم سړی چی خطبه غلطه وایی اود لمانځه دمسائلو څخه پوره خبر نه وی اودهغه دصحیح العقیده کیدو اطمینان نه وی نو هغه امام جوړول نه دی ښکار بلکی عالم اودشریعت پیروی کونکی امام جوړکړی. فقط

**چی دانګریز مخالف کافر ګڼی دهغه امامت**: **سوال**: (۷۹۰) زید په ګورنمنټ سکول (حکومتی مکتب) کی کورس ښیی اووایی چی کم سړی زما ملازمت حرام ګڼی زه په خپله عقیده کی هغه کافر ګڼم. نوپه دی صورة کی په زید پسی لمونځ درست دی که حرام؟

**جواب**: په انګریزی سکول کی ملازمت که څه هم په یو درجه کی په بعضو صورتونو کی جائزهم دی لیکن ددی په قبیح والی کی خوهیڅ کلام نسته. لهٰذا زید چی دانګریزانو غلامی حرام ګڼونکی (خلګ) کافران ګڼی نودی په سخته غلطی کی دی، اوعاصی او فاسق دی لهٰذا په ده پسی لمونځ مکروه دی اودی امام جوړول حرام دی (۱). فقط

**دجاهل اومبتدع امامت**: **سوال**: (۷۹۱ \۱) یوسړی دملا جمال الدین څخه بیعت کړی دی هغه صرف یوه پاره عَمّ ویلی ده اودجمال الدین په وینا باندی لمونځ په تنګ وخت کی کوی حتٰی چی دجمعی لمونځ نن صباپه درو ۳ بجو کوی اودماخستن داپر یوولس ۱۱ بجی. اووایی چی دماخستن دلمانځه څخه مخکی بیده کیدل فرض دی. اوخپلی ښځی ته یی طلاق ورکی اوپه دری سوه روپی یی خرڅه کړه.

**سوال**: ۲\۷۹۲: حافظ مولا بخش په اردو، فارسی اومسئلو باندی ښه خبردار دی. اکثره دکاروبار په وجه یووخت دوه لمونځونه ورڅخه قضاهم سی، قصداً لمونځ نه قضاء کوی، په مخکنی کس (دملا جمال الدین سره دبیعت کوونکی) اودې کس (مولا بخش) دواړو کسانو کی په چاپسی لمونځ جائزدی؟

**جواب**: (۱) کم سړی چی دملا جمال مرید دی اوپه لمونځونو کی تاخیر کوی اودماخستن لمانځه څخه مخکی بیده کیدلو ته فرض وایی اونور کارونه دشریعت خلاف کوی، دی جاهل اومبتدع اوفاسق دی، په ده پسی لمونځ کول مکروه دی اودی امام جوړول ناجائز او حرام (۲) دی. اودوهم سړی څوك چی حافظ دقرآن اودمسائلو څخه خبر دی اودلمانځه پابند دی. که چیری دغه سړی دفوت سوی لمونځ قضاء راوګرزوی نو په هغه پسی لمونځ بغیر دکراهت څخه درست دی، په مقابله دمخکی سړی کی مولابخش امام جوړول

---

(۱). وکراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم. (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰ ) ظفیر.

پکار ([1]) دی. فقط

(۲) اوملا بخش ته لازم دی چی که چیری دڅه وخت لمونځ ځینی اتفاقًا ورڅخه فوت سی نوضرور دی دهغه قضاء راګرزوی ولی چی دیووخت لمونځ هم قصداً بالکل پرینښودونکی فاسق ([2]) دی، اوپه هغه پسی لمونځ مکروه دی. فقط

**څوک چی دشرابی په کور کی اوسیږی، دهغه امامت: سوال:** (۷۹۳) کم امام چی دشرابی په کورکی اوسیږی په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ جواب: جائز ([3]) دی. فقط

**په نمبر نمبر لمونځ ورکونکی امام څوک چی دمنځ لمونځ نه کوی: سوال:** (۷۹۴) په یوجمات کی څلور ورونه په نمبر نمبر لمونځ ورکوی، په خپل نمبرباندی لمونځ ورکوی او وروسته لمونځ پریږدی، په هغوی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: مکروه ([4]) دی. فقط

**څوک چی دانګریزانو په نوم قرآن وایی اوایصال ثواب ورته کوی دهغه امامت: سوال:** (۷۹۵) زید دجامع مسجد امام اوواعظ دی، هغه دجارج اودهند دقیصر دپاره قرآن کریم ووایی، او واوروی او وروې بخښی، اوپه خطبه کی یی دعاء ورته وکړه، اوکله چی دسلطان المعظم دپاره ددعاء کولو دپاره ورته وویل سوه نودعلماء فتوٰی طلب کوی. په خلافت والاوو باندی لګیږی اوعوام لمسوی چی دخلافت کمیټی څه دینی خبره نه ده. په داسی امام پسی څوك چی دډمو په کورکی دعوت خوری، لمونځ کول جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: داسی سړی فاسق دی، دامام جوړولو لائق نه دی، دی دامامت اووعظ ګویی څخه معزول کول اوبندول پکاردی. ترکِ موالاة شرعی فرض دی اودخلافت همدردی په مسلمانانو باندی په هرشان لازمه اوواجبه ده. په دی کی کوتاهی کول حرام اومعصیت

---

([1]). والاحق بالامامة نصبا بل تقديمًا الاعلم باحكام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفير

([2]). اذا التاخير بلاعذر كبيرة لاتزول بالقضاء بل بالتوبة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ص ۷۷۲ ج۱ ، ط.س. ج۲ ص ۷۲). ظفير

([3]). صرف دیوشرابی په کورکی په اوسیدلو سره فسق لازم نه راځی. فقهاء لیکی وجاز تعمير كنيسة وحمل خمر ذمي بنفسه اودابة باجر لاعصرها لقيام المعصية بعينه وجاز اجارة بيت الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الحظر والاباحة فصل فى البيع ص ۳۴۵ ج ۵ ، ط.س. ج۲ ص ۳۹۱). ظفير

([4]). لمونځ پرینښوونکی فاسق اوعاصی دی وتاركها عمداً مجانة اى تكاسلا فاسق (الدر المختار على هامش رد المحتار كتاب الصلوة ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۳۵۲) او فقهاوو دفاسق دامامت په سلسله کی صراحت کړی دی ان كراهة تقديمه كراهة تحريم (رد المحتار باب الامامت ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفير

دی. اوکم امام چی دډمو په کورکی دعوت خوری هغه هم دامام جوړولو لائق نه (۱) دی. فقط

**دفتوٰی دخلاف ورزی کونکی امامت**: **سوال**: (۷۹۲) دجامع مسجد امام دټولو علماءِ کرامو دفتوٰی څخه خلاف اودټولو مسلمانانو دمرضی څخه خلاف په جامع مسجد کی داسلام دښمنانو خوشحالولو دپاره رڼا وکړه چی په هغه سره دښار دټولو مسلمانانو بدنامی وسوه. (۲) دخطبی څخه مخکی پرمنبر باندی وختی اوسخت فحش ښکنځل یی وکړل. (۳) دټولو لمونځ ګذاروپه مخکی یی په جامع مسجدکی صرف دخپل براءت دپاره حلفیه بیان وکی اوهغه بالکل غلط اودورغ ثابت سو. په داسی امام پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ دهغه معزول اوبل امام مقررول ضروری دی اوکه نه؟

**جواب**: داسی سړی لائق دامام جوړولو نه دی بلکی دمعزولولو لائق دی. لمونځ ورپسی مکروه دی. نو دده معزولول اوبل امام صالح اوعالم په مسائلو دشریعت مقررول پکار (۲) دی. لیکن چی هغه دخپلو خرابو حرکاتو څخه منع سی، اوتوبه وکاړی نوهغه پر امامت باندی قائم (۳) لرلی سی. فقط

**څوک چی دشرک اوبدعت حامی وی، دهغه عبادت**: **سوال**: (۷۹۷) کم دښار قاضی چی په خپلی طمعی سره لمونځ ورکوی اوقمیص دزنګنونو څخه پورته اوکوټ استعمالوی او کوڼ وی اوداسلام خلاف دشرك اوبدعت کولو دپاره پخپله وینا کوی، په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: داسی سړی امام جوړول حرام دی اولمونځ په ده پسی مکروهِ تحریمی دی. کذا فی رد المحتار (۴). فقط

**دچاچی بازو پرې سوی وی اونا بینا وی دهغه امامت**: **سوال**: (۷۹۸) دکم سړی چی یومټ نه وی، او نابیناهم وی دهغه امامت جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ په هغه پسی کیږی لیکن بل امام چی بیناوی اودواړه لاسونه اوپښی دهغه صحیح اوسالمی وی اودلمانځه دمسائلوڅخه خبروی اونیك سړی وی نو(۱) ښه دی. فقط

---

(۱). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰ ). ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰ ). ظفیر

(۳). قال رسول الله ﷺ التائب من الذنب کمن لاذنب له (مشکوٰة باب التوبة والاستغفار ص ۳۰۲). ظفیر

(۴). ویکره امامة عبد الخ وفاسق الخ ومبتدع (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰ ). ظفیر　　　[باقی]

**دچا ښځه چي پټ پټ خلـګو ته کتل کوي، دهغه امامت**: **سوال**: (۷۹۹) دزيد پيش امام ښځه دخپلي استوګني دکور دځينو څخه پرعامه لاره باندي تيريدونکو ته ګوري اوپه منع کولو باندي امام مذکور وايي چي کمه ښځه ده چي دډول اوباجي په وخت کي دخپلي دروازي څخه کتل نه کوي په داسي امام پسي دټولو لمونځ درست دی اوکه نه؟ ياکمو خلګو چي په خپلو سترګو باندي ذکرسوي واقعه ليدلی ده دهغوی لمونځ به ناجائز يا مکروه وي؟

**جواب**: په هغه پسي دټولو لمونځ صحيح دی ليکن دغه امام ته په دی کی احتياط کول پکاردی اوخپله ښځه ددی ناروا کار څخه بندول پکاردی. که چيری دمنع کولو څخه وروسته هغه يې ونه مني نوګناه پرهغې باندی ده، خاوند يې بری الذمه دی. (۲) فقط

**څوک چي ساړی** (يوډول جامه) **اغوندی هغه ته امام جوړيدل څنګه دی؟** **سوال**: (۸۰۰) په ساړی اودوه ګنجه خولۍ (ټوپی) اولوړ قميص اغوستلو سره امامت کول په جومات کی درست دی اوکه نه؟

**جواب**: که چيری ستر دعورت پوره وی نولمونځ کيږی ليکن ښه داده چي په پټکی او شرعی لباس سره دی لمونځ ورکوی. (۳) فقط

**که چيری په جومات کی دامام لاندی منزل خالي وي؟** **سوال**: (۸۰۱) دجومات لاندی يودوه منزله کور دی اودامام ددريدو ځای ډك نه دی بلکی خالی دی، په دی کی څه حرج سته اوکه نه؟

**جواب**: که چيری دامام ځای لاندی خالی وی نوهيڅ حرج نسته. ډك کيدل ددغه ځای ضروری نه دی. فقط

**دجذامي امامت؟** **سوال**: (۸۰۲) جذامی سړی امام جوړول کله چي هغه دشرعی مسائلوڅخه

---

(۱). ويکره تنزيها امامة عبد الخ واعمٰی (درمختار) قال قيد کراهة امامة الاعمٰی فی المحيط وغيره بان لايکون افضل القوم فان کان افضلهم فهو اولی الخ (ردالمحتار باب والامامة ص۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰، وکذا تکره خلف امرد ومفلوج (درمختار) وکذالك اعرج يقوم ببعض قدمه الخ وکذا اجزم الخ ومن له يد واحدة الخ (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲). ظفير

(۲). ددی وجه ښځو ته غير محرم ته کتل درست نه دی. اوخاوند دښځی نګران دی، ارشادِ نبوی دی، والرجل راع علی اهل بيته وهو مسئول عن رعيته (مشکوٰة کتاب الامارة ص ۳۳۰). والله اعلم. ظفير

(۳). والراج ستر عورته الخ وهی للرجل ماتحت سرته الی ماتحت رکبته (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ۳۷۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۰۴) والمستحب ان يصلی الرجل فی ثلثة اثواب ازار وقميص وعمامة ولو صلی فی ثوب واحد متوشحا به جميع بدنه کما يفعله القصار فی المقصر جاز من غير کراهة مع تيسير وجود الطاهر الزائد ولکن فيه ترك الاستحباب . (غنية المستملی ص ۳۳۷). ظفير

څخه کماحقه خبرتیا لری روادی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ په هغه پسی صحیح دی که چیری وینه وغیره دهغه جاری نه وی اوهغه دمعذور په حکم کی سوی نه وی لیکن سره ددی دهغه امام جوړول ښه نه دی اوهغه ته جومات ته دراتللو څخه هم احتیاط کول پکاردی. کذا حققه فی کتب الفقه. قال فی الشامی وکذا القصاب والسماك والمجزوم والابرص اولی بالالحاق (ای بالقوم وغیره) وقال سحنون لااری الجمعة علیهما واحتج بالحدیث ([1]). فقط

**دزناکار دهوکه باز امامت**: **سوال**: (۸۰۳) زید دخپل اکا دزوی لور هنده دچا واده چی بل ځای سوی وو تېر ایستله اوڅه ورځی یی دځان سره وساتله، بیایی یو سټیمپ (ټاپه) دهندې دخاوند په نوم سره واخستی، اوطلاق نامه یی ولیکله اوپه دهوکی سره یی دهندې دخاوند ګوته وربانده ولګوله. په داسی سړی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ کله چی نورخلګ دامامت قابل موجود وی؟

**جواب**: که چیری دزید څه خیانت ثابت سی اوبی وجهی دښځی اوخاوند په مینځ کی دجدایی کوشش یی کړی وی، ([2]) نوپه موجوده حالت کی هغه دامام جوړولو لائق نه دی اولمونځ په هغه پسی مکروه دی، یوبل سړی صالح اوعالم امام جوړ ([3]) کړی. فقط

**دحرام نکاح خوان امامت**: **سوال**: (۸۰۴) زید دری ۳ ناجائزی نکاحی دکمو ممانعت چی دقرآن شریف څخه ثابت دی وتړلی، دوې نکاحی دطلاق په عده کی دننه اویوه نکاح دسکه خښینی سره (حالانکی دوهمه خوریی په نکاح کی موجوده وه) وتړله، په داسی سړی پسی لمونځ جائزدی، اوکه نه؟

**جواب**: داسی جاهل سړی لائق دامام جوړولو نه دی، دی دامامت څخه معزول کول پکار دی اولمونځ په ده پسی مکروه دی، ولی چی دی فاسق دی. اوامامت دفاسق مکروه دی. کذا فی الشامی ان کراهة تقدیم الفاسق کراهة تحریم ([4]). فقط

**ددرواغجن اوفریب ورکونکی امامت**: **سوال**: (۸۰۵) مولوی عبدالحق په عامه جلسه کی اعلان وکی چی ما دکهوټه (یوه علاقه ده) مکتب ملازمت پرېښووی. ددی څخه وروسته

---

([1]). رد المحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فی المسجد ص ۲۱۹ ، ط.س. ج۱ ص ۲۲۱ . ظفیر

([2]). قوله فاسق من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر الخ (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰، اربع من کن فیه کان منافقا خالصا ومن کانت فیه خصلته منهن کانت فیه خصلة من النفاق حتی یدعها اذا اؤتمن خان الحدیث (مشکوٰة باب الکبائر ص ۱۷) . ظفیر

([3]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه ای الفاسق) کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۲۰ ). ظفیر

([4]). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۲۰ ). ظفیر

یی استعفاء هم ورکړه اوملك لعل خان صاحب مولوی صاحب موصوف دشرعیه امورو مفتي په دیرش ۳۰ روپی دمیاشت مقرر کی. څلور پنځه ورځی وروسته هغه استعفاء بیرته واخسته. نومسلمانانوته دهغه سره څه سلوك کول پکاردی، په هغه پسی دی لمونځ کوی اوکه نه؟

**جواب**: په دی کی هیڅ شك نسته چی ده دابد وکړل چی مذکوره نوکری یی پریښوول او بیایی هغه اختیار کړه، دداسی سړی په مقتداء جوړولو او امام جوړولو کی دمسلمانانو اوذیلولو توهین دی، نودی امام مه جوړوی. فقط

**<u>ړوند دامامت تفصیل</u>**: **سوال**: (۸۰۶) کمه مسئله چی په شرح وقایه کتاب الصلوة ص ۱۱۲ کی په ړوند پسی دلمانځه دممانعت باره کی لیکلی ده دهغه تشریح پکارده ولی چی په اکثرو جوماتونو کی حافظ دقرآن ړانده امامان دی، په هغوی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: په درمختار کی دی ویکره تنزیهًا امامة عبد واعرابی وفاسق واعمٰی الا ان یکون ای غیر الفاسق اعلم القوم (۱). الخ ددی حاصل دادی چی په ړوند وغیره پسی لمونځ مکروهِ تنزیهی دی یعنی خلاف اولی دی اوښه نه دی. لیکن که چیری ړوند دلمانځه دمسائلو څخه خبر وی اومحتاط وی نوبیا هیڅ کراهت نسته. لکه څنګه چی یوصحابی ابن ام مکتوم ﷺ څوك چی نابینا وو، حضور ﷺ هغه پخپله امام مقرر فرمایلی وو. (۲) فقط

**<u>چی دوه وخته په یوجومات کی امامت کوی اودری وخته په بل جومات کی</u>**: **سوال**: (۸۰۷) کم امام چی دری وخته لمونځ په یوجومات کی ورکوی اودوه وخته په بل جومات کی نو جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: هیڅ وجه دمنع والی په دی کی نسته. فقط

**<u>دټوپی (خولۍ) سره امامت اوپه دی کی بحث</u>**: **سوال**: (۸۰۸) یوکتاب (الامامة بالعمامة والصلوٰة بالمروجة) کی یوبزرګ په ډیر زور سره ثابت کړی دی چی په ټوپی سره لمونځ نه صحیح کیږی اوپه صحابه وو ﷺ اوتابعینو اوتبع تابعینو رحمهم الله کی هیڅا دټوپی سره

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰ . ظفیر

(۲). قید کراهة امامة الاعمٰی فی المحیط وغیره بان لایکون افضل القوم فان کان افضلهم فهو اولی آه ۛ لکن ورد فی الاعمی نص خاص وهو استخلافه ﷺ لابن ام مکتوم وعتبان ﷺ علی المدینة وکانا اعمیین لانه لم یبق من الرجال من هو اصلح منهما وهذا هو المناسب لاطلاقهم واقتصارهم علی استثناء الاعمی (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۰) ظفیر.

لمونځ نه دی کړی. اوحضرت مولانا گنگوهیؒ په فتاوٰی کی لیکلی دی چی که چیری جماعت هم په ټوپی سره وسی نومکروه نه دی. آیا واقعی لمونځ په ټوپی سره کول خلاف دسنتو دی؟

**جواب**: امامت په پټکی (پګړۍ) سره افضل اواحسن اومستحب دی لیکن صرف په ټوپی سره دپټکی څخه بغیر مکروه نه دی کما فی شرح المنیة الکبیر: والمستحب ان یصلی الرجل فی ثلثة اثواب ازار وقمیص وعمامة ولو صلی فی ثوب واحدٍ متوشحًا به جمیع بدنه کما یفعله القصار فی المقصرة جاز من غیر کراهة مع تیسیر وجود الطاهر الزاید (١) الخ. ددی عبارت څخه واضحه ده چی دپټکی څخه بغیر صرف په ټوپی سره لمونځ کول اوامامت کول مکروه نه دی که څه هم ښه داده چی په پټکی سره وسی.

**بی دطلاق ورکولو څخه څوک چی ښځه پریښی ساتی، دهغه امامت؟ سوال**: (٨٠٩) کم سړی چی خپله ښځه بی دطلاق ورکولو څخه پریږدی اودهغې خبر نه اخلی، دهغه څه حکم دی؟ په داسی سړی پسی لمونځ سیی کیږی اوکه نه؟

**جواب**: خپله ښځه کالمعلقه (دځوړنده په شان) ساتل چی نه طلاق ورکوی اونه یی خبر ګیری کوی حرام اوناجائز دی. قال الله تعالی: فلا تمیلوا کل المیل فتذروها کالمعلقة، (٢) الایة. نو داسی سړی عاصی اوظالم دی اوامامت یی مکروه دی، یعنی په ده پسی لمونځ کول مکروه دی. (٣) فقط

**چی حضور ﷺ په غیبو خبر ګڼی دهغه امامت: سوال**: (٨١٠) زید جناب سرور کائنات ﷺ په غیبو خبر ګڼی اوپه دی آیت کریمة: ویکون الرسول علیکم شهیداً، اوحدیث شریف: اوتیت علم الاولین والاخرین، وغیره سره استدلال کوی، په داسی سړی پسی لمونځ جائز دی اوکه نه؟ که چیری دفتنی دبیری څخه یی لمونځ ورپسی وکی نواعاده واجبه ده اوکه نه؟

**جواب**: په شرح فقه اکبر کی دی: ثم اعلم ان الانبیآء علیهم السلام لم یعلم المغیبات من الاشیاء الا ما اعلمهم الله تعالی احیانًا وذکر الحنفیة تصریحًا بالتکفیر باعتقاد ان النبی علیه السلام یعلم الغیب لمعارضة قوله تعالی: قل لایعلم من فی السمٰوت والارض الغیب الا الله، کذافی المسایرة، ص١٥٨شرح فقه الأکبر.

نومعلومه سوه چی دزید عقیده باطله او غلطه ده اواستدلال دهغه صحیح نه دی، اوپه مقابله دنصوص صریحه ، قطعیه کی مسموع نه دی او هغه پسی لمونځ کول نه دی پکار

(١).غنیة المستملی ص ٢٣٧ ظفیر

(٢). النساء رکوع ١٩. ظفیر

(٣). ان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٣ ج١، ط.س. ج١ ص ٥٢٠) ظفیر.

اوپه دی کی پوره احتیاط کول پکاردی. اوکه چیری په څه وجهی سره یی (ورپسی لمونځ) وکی نودهغه اعاده کول پکار ([1]) دی.

**څوک چي دلور واده نه کوي اودهغه ناجائزه بچي وي، دهغه امامت**: **سوال**: (۸۱۱) زید خپله بالغه لور په کورکی کښی نیولی ده، نکاح نه ورکوی، دهغه دوه بچی په زنا سره پیدا سوی دی، په زید پسی لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: که چیری زید بغیر دعذر څخه داسی کړی وی نوهغه ګنهګار دی. ([2]) په هغه پسی لمونځ مکروه ([3]) دی.

**دکم تول کونکی امامت**: **سوال**: (۸۱۲) کم سړی چی کم تول کوی اودروغ وایی اوکله کله لمونځ هم قضاء کوی اوقراءة هم صفا نه وایی، اودسود درخواست هم لیکی، په داسی سړی پسی لمونځ جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: داسی سړی دامام جوړولو لائق نه دی اولمونځ په هغه پسی په حالت مذکوره کی مکروه ([4]) دی. نو دمحلی اوجومات خلګو ته پکاردی چی هغه معزوله کړی اویو څوك دامامتی لائق سړی امام ([5]) جوړ کړی. فقط

**دزانی امام اقتداء**: **سوال**: (۸۱۳) دجومات امام په زنا کولو ونیول سو، اوهغه په احکام شرعیه کی داجماع څخه خلاف اجتهادی فتوٰی ورکوی، په هغه پسی لمونځ کول یاپه فتوٰی باندی یی عمل کول جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: داسی سړی کم چی فاسق دی اوخلاف داجماع اوخلاف دقول دامامِ مجتهد دچا چی هغه مقلد دی مسئله ښیی اوپه غیر مفتٰی بها مسائلو باندی فتوٰی ورکوی لائق دامام جوړولو نه دی. هغه دی امام جوړنه سی اومعزول دی سی ([6]). فقط

---

([1]). ویکره امامة عبد الخ ومبتدع ای صاحب بدعة وهی اعتقاد خلاف المعروف علی الرسول لا معاندة بل بنوع شبهة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ ). ظفیر

([2]). قال رسول الله ﷺ من ولد له ولد فلیحسن اسمه وادبه فاذا بلغ فیلزوجه الحدیث (مشکوٰة باب الولی ص۲۷۱).

([3]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ ). ظفیر

([4]). وان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

([5]). نعم اخرج الحاکم فی مستدرکه مرفوعا ان سرکم ان یقبل الله صلوتکم فلیؤمکم خیارکم فانهم وفدکم فیما بینکم وبین ربکم اهـ (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲). ظفیر

([6]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) قوله فاسق معنٰی الفسق وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی الخ بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ ). ظفیر

**دهندو په مړی کی شریکیدونکی سړی امام جوړول څنګه دی؟ سوال**: (۸۱۴) کم سړی چی دهندو مړی سره ځی په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ (۲) اوچی په منع کولو باندی ذکر سوی سړی جواب ورکړی چی دهندوانو سره دهمیشه راهیسی رواج دی چی هغوی زموږ په مړو کی شریکیږی اوموږ دهغوی (په مړوکی). داشرعًا جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: (۱) په هغه پسی لمونځ صحیح دی.

(۲) دکافر دناجوړی دپوښتنه کولو په نیت سره دهغوی دمړی سره تلل هم جائز دی، خصوصًا کله چی ددی ضرورت په څه بلی وجهی سره هم وی. فقط

**دتیمم والا امامت**: **سوال**: (۸۱۵) دتیمم والا امامت جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: که چیری یو سړی دیو عذر په وجهی سره په کم کی چی تیمم جائز دی تیمم وکړی نوپه هغه پسی داودس کونکو لمونځ صحیح دی، اوامام جوړیدل هغه ته جائزدی څنګه چی دفقهی په کتابونو کی لیکلی دی. ([2]) چی تیمم طهارت مطلقه کامله دی. فقط

**دنرښځی امامت**: **سوال**: (۸۱۶) که چیری نر ښځی عالم باعمل نهایتی دیندار وی اونور ټول جاهلان وی نو نر ښځی امام جوړ سی اوکه بل څوك؟

**جواب**: که نرښځی عالم باعمل وی اوباقی ټول جاهلان وی نودهغه امامت جائزدی. کما قالوا فی ولد الزنا والامرد هٰذا (ای الکراهة) اذاوجد غیرهم والا فلا. درمختار ([3]).

قال الله تعالٰی: انما یتقبل الله من المتقین. ([4]) فقط

**دیو داسی سړی امامت دچا دښځی په نوم چی دبل چا خط راووزی**: **سوال**: (۸۱۷) زید او بکردواړه ورونه دی. دزیدواده سوی دی. دواړه ورونه په پریس (چاپ ځای) کی ملازمان دی، درخصتی په وخت کی دواړه دزید دښځی په کورکی اوسی. زید په یوکتاب کی یو خط پروت ولیدی، کم چی دزید دښځی په نوم دی اوپه هغه باندی دبکر دستخط نسته. کله چی زیددخپلی ښځی څخه (په دی باره کی) پوښتنه وکړه نوهغې په قسم سره لاعلمی ښکاره کړه. نوپه دی صورة کی دزید ښځه او ورور شرعًا مجرمان دی اوکه نه؟ اوکه چیری زید امام وی نوپه هغه پسی لمونځ صحیح دی، اوکه نه؟

---

([1]). وفی کتب الشافعیة ویعزی المسلم بالکافر اعظم الله اجرك وصبرك (ردالمحتار. باب صلوة الجنائز ص ۸۴۳ قبیل مطلب فی زیادة القبور ، ط.س. ج ۲ ص ۲۴۲). ظفیر

([2]). وصح اقتداء متوضئ لا ماء معه بمتیمم (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۵۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۸). ظفیر

([3]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ ). ظفیر

([4]). سورة المائدة رکوع ۵. ظفیر

**جواب**: په دی صورة کی دزید په ښځی او ورور باندی څه جرم ثابت نه دی اودزید امامت درست دی اوپه هغه پسی لمونځ صحیح دی. فقط

**کم امام چی درشتینی شاهدی څخه منعه کوی**: **سوال**: (۸۱۸) دجومات یوامام دیوسړی نکاح تړلی ده، وروسته دښځی اوخاوند په خپلوانو کی دعوه (اختلاف) راغله اومقدمه شروع سوه کم وخت چی دشاهد ضرورت سو نوامام صاحب پټ سو اوښځی ته یی ښودنه وکړه چی ته داسی ووایه چی زما نکاح نه ده سوی. دقاضی اوشاهد نه لیدو په وجه هغه سړی مقدمه وبایلله. دی امام دپاره شرعًا څه حکم دی ؟ او په ده پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: داسی سړی چی په قصد سره حق پټوی، فاسق (۱) دی، لائق دامام جوړولو نه دی، اولمونځ په هغه پسی مکروه دی، کذا فی الشامی وصرح فیه انه کراهة تقدیمه کراهة تحریم (۲). فقط

**دحدیث دمنکرینو امامت**: **سوال**: (۸۱۹) کمه فرقه چی دحدیث څخه منکره وی په هغه پسی لمونځ صحیح دی اوکه نه؟

**جواب**: قادیانی فرقه چی دحدیثو منکره ده هغه کافره ده په هغوی پسی لمونځ درست نه دی. اودغیر مقلدو فرقه څوك چی خپل ځان ته اهلِ حدیث وایی، هغوی هم په حقیقت کی اهلِ حدیث نه دی په هغوی پسی هم لمونځ مکروه دی. امام عالم سنی حنفی مقررول پکار (۳) دی. فقط

(دحدیثو څخه دمنکرینو دډلی امامت هم درست نه دی عالمانو دهغوی دکافر کیدلو فتوٰی ورکړیده. ظفیر)

**په کم امام باندی چی دزنا شبه وی**: **سوال**: (۸۲۰) دجومات امام دی هغه دخپلی ښځی دمور سره زنا کړیده حالانکی هغه دځلورو کالو څخه کونډه وه. دهغې حمل وسو. که څه هم شاهدی دزنا ثابته نه ده. لیکن هلته دپردی په وجه بل څوك داخلیدی نسو، دهغه ښځه نابالغه وه. ددوو کالو دهغه په دی بدکار باندی شك دی. داسی سړی دامامت قابل دی اوکه نه؟

---

(۱). ومتی اخر شاهد الحسبة شهادته بلاعذر فسق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الشهادة ص ۵۱۴ ج۱ ، ط.س. ج ۵ ص ۴۶۳). ظفیر

(۲). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۰ . ظفیر

(۳). وحاصله ان کان هوی لایکفر صاحبه تجوز الصلوة خلفه مع الکراهة والا فلا هکذا فی التبیین والخلاصه وهو الصحیح هکذا فی البدائع (عالمگیری کشوری باب الامامة ص ۸۳ ج۱ ، ط. م. ج۱ ص ۸۴). ظفیر

**جواب**: کله چي دذکر سوی امام دطرفه داسی شبهه سته نوهغه امام جوړول نه دی پکار. اوهغه ته هم پکاردی چی امام جوړنه سی. لقوله ﷺ من ام قومًا وهم له کارهون (۱). فقط

**چاچي په غلطی سره په جنابت کی لمونځ ورکی**: **سوال**: (۸۲۱) زید محتلم په خطا سره لمونځ وکی اوپه خپلی خطا باندی پښیمانه دی اوتائب دی، نواوس زید قابل دامامت پاته سو اوکه نه؟

**جواب**: ددغه لمونځ قضا دی راوګرزوی، اودتوبی څخه وروسته دهغه ګناه معاف سوه، هغه دامامت قابل (۲) دی. فقط (ارشاد نبوی دی: التائب من الذنب کمن لا ذنب له، مشکوٰة باب الاستغفار ص ۳۰۲. ظفیر)

**په کم امام کی چی دا لاندینی عیبونه وی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟** **سوال**: (۸۲۲\ ۱) زید دجومات دچونی اوصفایی دپاره دکسب ګرو ډمو څخه دهغوی دحرامی ګټی څخه چنده واخسته.

(۸۲۳\ ۲) زید مذکور دیوځو پیسو دلالچ دپاره ډمانی ښځی دنذر دتاخ (طاق) ډکولو دپاره دسهار دلمانځه په وخت کی دمحراب ددننه تاخ (طاق) ډکولو دپاره جومات ته دننه پریږدی، اودهغوی په وروسته پسی هم دغه رکم لوڅی پښی اوبی طهارته دجومات دمیدان او دلمانځه دصفونو په پایمالولو سره منبرته رسیږی.

(۸۲۴\ ۳) زید مذکور ځوان دی اودهغه په خاص کمره کی اکثره مسلمانانی اوزیات تره هندوانی ځوانانی ښځی ددم اوتعویذ دپاره راځی اودنورو نسوانی آرزوګانو څخه علاوه داولاد اوبچی وړی هم وی اوپه هندوانو کی یوه مسئله د (نیوګ) هم ده، یعنی که چیری دیوی ښځی خاوند نامرد وی اوپه اولاد پیدا کولو باندی قادرنه وی نوهغه ښځه دیو بل سړی په ذریعه استقرار دحمل کولی سی.

(۸۲۵\ ۴) زید دبل چامنکوحه ښځه دکار اوخدمت په بهانه سره دهغې دخاوند دمنظوری څخه بغیر په خپل کور کی اچولی ده اوهغه خاوند ته تللو ته نه پریږدی، په داسی صورة کی زید دجومات مقررول اوپه هغه پسی لمونځ کول اوپه هغه باندی نکاح تړل جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: دزید قبیح حرکتونه په دی صورة کی داسی درج دی دکمو په وجهی سره چی دزید امامت مکروه تحریمی (۳) دی. پرزید باندی پخپله لازم دی چی کله مقتدیان دهغه

---

(۱). الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ . ظفیر

(۲). کما یلزم اخبار القوم اذا امهم وهو محدث اوجنب اوفاقد شرط اورکن الخ (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۵۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۱). ظفیر

[باقی]

دقبيحو كارونو په وجهې سره دهغه په امامت باندې ناخوښه دي نوهغه دې امام نه جوړيږي. كمافی الدر المختار: ولو ام قوما وهم له كارهون ان الكراهة لفساد فيه او لانهم احق بالامامة منه كره له ذلك تحريمًا لحديث ابی داؤد: ولا يقبل الله صلٰوة من تقدم قومًا وهم له كارهون (١). الخ. او ظاهره ده چې زيد ددې قبيحو كارونو په وجه فاسق دی اوپه فاسق پسې لمونځ مكروه تحريمي دی، اومعزولول دهغه واجب دي څنګه چې په شامي كې دي چې دفاسق امام په جوړولوكې دهغه تعظيم دی اوتعظيم دفاسق حرام دی. واما الفاسق فقد عللوا كراهة تقديمه بانه لايهتم لامر دينه وبان فی تقديمه للامامة تعظيمه وقد وجب عليهم اهانته شرعًا الی ان قال فهو كالمبتدع تكره امامته بكل حال بل مشى فی شرح المنية علی ان كراهة تقديمه كراهة تحريم لما ذكرنا قال ولذا لم تجز الصلوة خلفه اصلاً عند مالك ورواية عن احمد ؒ (٢) شامی ص۳۷۲ جلد اول. فقط

داصفحات په اصل كتاب كې چې حضرت مفتي صاحب كم ځاى كم ځاى ليكلي دي هغه دشامي مطبوعه مجتبايي ډهلي دي اوپه حاشيه كې دمصري شامي مطبوعه دار الخلافة العثمانيه حوالې درج دي. ظفير)

**<u>څوک چې دنامه لاندې وريښته نه خروي دهغه امامت</u>: سوال:** (۸۲۵) كه چيرې يوسړى دنامه څخه لاندې وريښته دكمزورۍ دوجهې څخه، نه خروي نوپه هغه پسې لمونځ كيږي اوكه نه؟ **جواب:** لمونځ دهغه صحيح دی اوهغه پسې لمونځ كيږي. (٣) فقط

**<u>دګوډ سړي امامت</u>: سوال:** (۸۲٦) ګوډ سړى كه چيرې عالم وي اوبل سړى دلمانځه دمسائلو څخه خبروي نوپه دې حالت كې ددې ګوډ عالم امامت جائزدى اوكه نه؟ دهدايې صاحب دړوند امامت ته مكروه ويلي دي، سره ددې چې نبي ﷺ عبدالله بن ام مكتوم ؓ امام جوړكړى وو، دخلګو دنفرت په وجه يې ورته مكروه فرمايلي دي.

**جواب:** داسې ګوډ چې په بعضې قدم (يعنې دپښې په بعضې حصه) باندې دريږي، دهغه امامت يې مكروه تنزيهي ليكلي دي چې كه چيرې غير اعرج (نه ګوډ) عالم دلمانځه دمسائلو څخه خبر موجودوي نوهغه اولٰى دي. په شامي كې دي: وكذا اعرج يقوم ببعض

---

(٣). ان كراهة تقديمه ای الفاسق كراهة تحريم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفير

(١). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفير

(٢). رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰ . ظفير

(٣). كه چيرې معقول عذر نه وي نوهره جمعه يې صفا كول پكاردي اودڅلويښتو ورځو څخه زيات پريښوول يې مكروه تحريمي دي. ويستحب حلق عانته وتنظيف بدنه بالاغتسال فی كل اسبوع مرة والافضل يوم الجمعة وجاز فی كل خمسة عشر وكره تركه وراء الاربعين (درمختار) ای تحريما لقول المجتبی ولاعذر فيما وراء الاربعين ويستحق الوعيد اهـ (رد المحتار. كتاب الحظر والاباحة فصل فی البيع ص ۳۵۸ ج ۵ ، ط.س. ج٦ ص ۴۰۷). ظفير

قدمه فالاقتداء بغيره اولی (۱). که چیری بل عالم دلمانځه دمسائلو موجود نه وی اوګوډ عالم موجودوی نوهم هغه ښه دی دامامت دپاره، لکه څنګه چی داعمٰی په باره کی هم فقهاوو همدغه رکم لیکلی دی، شامی: قید کراهة امامة الاعمٰی فی المحیط وغیره بان لایکون افضل القوم فان کان افضلهم فهو (۲) اولی. اوهمدغه رکم دقوم نفرت په هغه وخت کی موجب دکراهت دی چی په امام کی څه شرعی عیب یعنی فسق وغیره وی. په درمختار کی دی: ولوام قومًا وهم له کارهون ان الکراهة لفساد فیه اولانهم احق بالامامة منه کره له ذلك تحریمًا لحدیث ابی داود وان هو احق لا والکراهة علیهم (۳) الخ. فقط

**دوفات څخه وروسته داولیاوو دحیات چی څوک قائل نه وی دهغه امامت: سوال**: (۸۲۷) چی دکم سړی داعقیده وی چی اولیاء کرام دوفات څخه وروسته حیات (ژوندی) نه پاته کیږی اودهغوی څخه امداد طلب کونکی مشرکان دی، په دغه سړی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: داولیاء الله کرامات اوتصرفات دمرګ څخه وروسته هم ثابت دی، (۴) دی ته شرك ویل هم غلط دی، البته داضرور ده چی ماسوا دالله ﷻ څخه دی دهیچا څخه مدد ونه غوښتل سی لکه څنګه چی په ایاك نعبد وایاك نستعین (۵) کی مذکور دی. فقط

**کم امام چی دجومات مال په خپل ذات باندی خرڅوی دهغه امامت څنګه دی: سوال**: (۸۲۸) دطاعون په زمانه کی خلګو دجومات امام ته کالی اوکپړی اونقدی (روپی) په جومات کی دلګولو دپاره ورکړی لیکن امام هغه په جومات کی ونه لګولی بلکی په خپلو مصارفو کی یی خرڅ کړی، ددی امام دپاره څه حکم دی، دامامت لائق دی اوکه نه؟

**جواب**: داصریح خیانت دی اوضمان دهغه پرذمه لازم دی. اوکه چیری دغه امام توبه ونه کاږی اوضمان اداء نه کړی نودامام ساتلو لائق نه دی (۶). فقط

**ددروغ ویونکی ګهړی (ساعت) جوړونکی امامت: سوال**: (۸۲۹) یو مولوی صاحب یو حافظ

---

(۱). رد المحتار باب الامامت ص ۵۲۵ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۲ . ظفیر

(۲). ردالمحتار باب الامامت ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰ . ظفیر

(۳). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ . ظفیر

(۴). وقیل ببقاء الکرامة بعد الموت لعدم الانعزال عن الولایة بالموت وقیل لا لظاهر نحو اذا مات ابن آدم انقطع عمله ﷺ ویجوز التوسل الی الله تعالی والاستغاثة بالانبیاء والصالحین بعد موتهم لان المعجزة والکرامة لا تنقطع بموتهم وعن الرملی ایضاً بعدم انقطاع الکرامة بالموت وعن امام الحرمین ولاینکر الکرامة ولوبعد الموت الا رافضی. (البریقه ج ۱ ص ۲۷۰) . ظفیر

(۵). سورة الفاتحة . ظفیر

(۶). ان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

امام دمسجد ته څوك چې ګهړی ساز هم دی خپله ګهړی ورکړه چې په دی کی نوی پنر واچوه اویوه روپۍ دهغه قیمت یی هم ورکړی. ذکرسوی حافظ هم هغه پنر پکښې ولګوی اونوی پنر یی وانه چوی. په دی وجهی سره ګهړی بنده سوه. بیایی بل ګهړی ساز ته یوه روپۍ ورکړه اوپنر یی باندی واچوی. ددغه حافظ دپاره څه حکم دی، لمونځ وریسی کیږی اوکه نه؟

**جواب**: په هغه پسی لمونځ مکروه [۱] دی. فقط

**بغیر دثبوت څخه چې په کم امام باندی تهمت ولـګول سی دهغه امامت**: **سوال**: (۸۳۰) ددی ځای دمهتمم صاحب په نوم یوسړی یوخط راولیږی اودجومات پرپیش امام باندی یی دا الزام ولګوی چې ستاسی امام دخپلی مخکی منکوحی دلور سره نکاح کړیده. خط را لیږونکی خپل نوم اوپته په خط کی نه ده لیکلی. ددی خط څخه ماسوا هیڅ ثبوت او شاهد نسته، اومذکوره امام ددی معاملی څخه صفا انکار کوی. نوشرعًا په داسی خط باندی په اعتبار کولو سره په ذکرسوی امام پسی لمونځ کول پکار دی اوکه نه ؟

**جواب**: دداسی نامعلومه خط اوتحریر هیڅ اعتبار نسته، اوکله چې مذکوره امام دذکر سوی واقعی څخه انکار کوی نومحض ددغه غیر ثابت تحریر په بناء باندی امام صاحب موصوف په ذکرسوی فعل سره متهم کولی نسی اوهغه دامامت څخه معزولوی نسی او دخیرات اومبرات څخه هغه نسی محرومولی: قال الله تعالیٰ: یاایها الذین اٰمنوا اجتنبوا کثیرًا من الظن ان بعض الظن اثم، الآیة. [۲] فقط

**چې څوک دشریعت حکم نه تسلیموی دهغه امامت**: **سوال**: (۸۳۱) کم سړی چې مولانا او واعظ وی اوبیا هم خپلی جهګړی دشریعت په قانون سره دفیصله کولو څخه منعه کوی لیکن چې عوام پوښتنه ځینی وکړی، نووایی چې زه په شریعت باندی فیصلی کولو ته تیاریم، اوپر موقع باندی وایی چې که چیری زه شریعت حَکَم (فیصله کوونکی) مقررکړم نوزما نقصان دی. لهٰذا دداسی سړی دایمان اوامامت څه حکم دی او دهغه سره تعلق ساتل اوامداد یی کول څنګه دی؟

**جواب**: قال الله تعالیٰ: فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُوْا فِيْٓ أَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيمًا، [۳] نوکم سړی چې دشریعت په حکم باندی رضامند نه وی

---

(۱). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

(۲). سورة الحجرات ۲. ظفیر　　　　(۳). سورة النساء. رکوع ۹. ظفیر

اوپه زړه سره هغه نه قبلوی دهغه دنه مومن کیدلو خبر جناب باری تعالٰی ورکړی دی. او بل ځای یی دحکم الٰهی پرنه منونکو باندی دکفر اوفسق حکم فرمایلی دی، نوکم سړی چی دشریعت فیصله نه تسلیموی اودهغه په مقابله کی دعدالت فیصله کمه چی دشریعت څخه خلاف ده ناطقه ګڼی هغه ظالم اوفاسق دی او دهغه دکفر بیره ده، لهٰذا ذکرسوی سړی دامامت اوتولیت لائق نه دی. (۱) اوداسی سړی که چیری تائب نه سی نو دهغه سره ارتباط اواختلاط حرام دی. اوتعلقات پریکول ورسره واجب دی، اومدد کول دیوعاصی اوفاسق دهغه په معصیت اوفسق باندی حرام دی. قال الله تعالٰی: وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى وَلاَ تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ (۲). فقط

<u>**پرشریعت باندی رواج ته دترجیح ورکونکی امامت اوتولیت**</u>: **سوال**: (۸۳۲) کم سړی چی دعالم اواهل حدیث کیدلو سره خپلو خویندو ته دپلار دمیراث څخه حصه نه ورکوی اووایی چی موږ درواج پابند یو، ددی دپاره موږ شرعی حصی نه تقسیموو، بلکی دهغه په اشاری سره دهغه جاهل ورور په عدالت کی بیان ورکړی دی چی چونکی ښځی ناقص العقل دی، ددی په وجه دهغوی دپاره هیڅ حصه اومیراث نسته. لکه څنګه چی الله ﷻ فرمایی: وَلاَ تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ اَمْوَالَكُمْ .

بله داچی دیوعالم په پوښتلو باندی چی که چیری ته په همدی خیال کی مړ سوی نو د نجات څه صورة سته؟ هغه جواب ورکوی چی موږ دی جهنم ته ولاړسو خودا کارنه کوو. دداسی سړی امامت اودجومات متولی کیدل یادهغه سره رشته وغیره کول څنګه دی؟

**جواب**: دښځی حصه دنارینه څخه نیمه په نصِّ قطعی سره ثابته ده. کما قال الله تعالٰی: يُوصِيكُمُ اللهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ، (۳) نو دښځو دحصی څخه انکار کول دنص قطعی څخه انکاردی کم چی کفردی. اودآیت: وَلاَ تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ اَمْوَالَكُمْ، الاٰية (۴) څخه په دی باره کی استدلال کول سخت جهالت دی اوګمراهی ده اودنص قطعی مقابله ده په خپل باطل خیال سره. اودهغه داخبره چی موږ دی جهنم ته ولاړ سو صریح کفر دی. په شرح فقه اکبر کی دی: ومن قال لمن یامر بالمعروف وینهی عن المنکر ماذا اعرف العلم

(۱). ان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر
(۲). سورة المائدة رکوع ۱. ظفیر
(۳). سورة النساء رکوع ۲. ظفیر
(۴). النساء رکوع ۱. ظفیر

او ما ذا اعرف الله انی وضعت نفسی للجحیم اوقال اعددت نفسی للجحیم الخ کفر ای لانه اهان الشریعة اوایس من الرحمة فکلاهما کفر. شرح (۱) فقه اکبر. نو ذکر سوی سړی امام اومتولی جوړول او دهغه سره تعلق ساتل اوخپلوی قائمه ساتل ټول حرام اوناجائز دی. فقط

**په ږیره لنډونکي پسې لمونځ**: **سوال**: (۸۳۳) دزید ږیره پرې سویده، په مقدار دیو دوو ګوتو باقی ده، پوره څلور ګوتی نه ده، په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: په درمختارکی دی چی دڅلورو ګوتو څخه کم دږیری پریکول، حرام دی واما قطعها وهی دونها فلم یبحهه احد (۲) الخ اودغه رکم په درمختار کی دی: ولذا یحرم علی الرجل قطع لحیته (۳). نوپه ذکرسوی سړی پسی لمونځ مکروه دی، که څه هم په حکم د: صلوا خلف کل بر وفاجرٍ، په هغه پسی لمونځ صحیح کیږی. لیکن داسی سړی امام جوړول نه دی پکار. لان فی امامته تعظیمه وتعظیم الفاسق حرام. شامی (۴). فقط

**دمرزایی سره دتعلق ساتونکی امامت**: **سوال**: (۸۳۴) که چیری یو څوك مرزایی دجومات په ګنج کی دجومات دامام سره کښینی اوپه لمونځ ګذارو کی نفاق اوټولګۍ جوړیدل پیدا کوی اوامام کم چی دهغه په خبرو باندی عمل کوی، او دلمونځ ګذارو په منع کولو باندی یې هم نه منی، نوداسی امام په جومات کی دساتلو لائق دی اوکه نه؟

**جواب**: ذکرسوی امام ته دی صفاء وویل سی چی که چیری تا دمرزایی سره تعلق اوربط وساتی اوهغه دی دخپل ځان سره وساتی نوته به دامامتی څخه لیری سی. که چیری هغه بیاهم منع نه سی نوهغه دی دامامت څخه لیری (۵) سی اودغه مرزایی دی دجومات په ګنج کی ونه ساتل سی فوراً دی وایستل (۶) سی. فقط

**دکوڼ امامت**: **سوال**: (۸۳۵) کم سړی چی کوڼ وی اوبالکل نه اوری دهغه امامت څنګه دی؟

(۱). شرح فقه اکبر قبیل فصل فی الکفرة صریحة وکنایة ص ۲۱۵ . ظفیر
(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار. کتاب الصوم. باب مایفسد الصوم مطلب فی الاخذ من اللحیة ص ۱۲۵ ج ۲ ، ط.س. ج ۲ ص ۴۱۸ . ظفیر
(۳). ایضًا کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ص ۳۵۹ ج۵ ددی څخه مخکی دی : والسنة فیها القبضة ، ط. س. ج ۲ ص ۴۱۷ . ظفیر
(۴). ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰ . ظفیر
(۵). ځکه چی هغه دَخپلو افعالو په وجهی سره فاسق دی اودفاسق امامت مکروه تحریمی دی. وکراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر
(۶). ځکه چی هغه مرتددی اومرتدته پناه بالخصوص په داسی ډول چی مسلمانانوته په هغه سره نقصان ورسیږی درسته نه ده. ظفیر

**جواب**: دکوڼ امامت درست دی. فقط

**په کم امام چې شبهه وسي**: **سوال**: (۸۳۶) چي دامام پرافعالو باندی مسلمانانو ته شبهات پیداسی نوداسی امام دی وساتل سی اوکه دی لیری سی؟

**چې دچا په وجه بې اتفاقي جوړيږي، دهغه امامت**: (۸۳۷ \ ۲) چي دیوامام په وجهی سره په مسلمانانو کی بی اتفاقی اوجګړی جوړیږي، هغه پرامامت باندی ساتل ښه دی اوکه دی لیری سی؟

**جواب**: (۱) داسی سړی ته امامت کول نه دی پکار، هغه ته لیری کیدل پکاردی اوامامت دهغه مکروه دی. لحدیث من ام قومًا وهم له کارهون. الحدیث ([1])

(۲) دداسی سړی لیری کیدل دامامت څخه ښه دی. ([2]) فقط

(ځکه چي دامامت منشاء په خپلو کی تعلق داتحاد اواتفاق مضبوطول دی، اودلته هم دغه منشاء ختمیږي. ومن حکمها نظام الالفة وتعلم الجاهل من العالم. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۱۵ ج۱. ظفیر )

**دادنٰی حال مراد**: **سوال**: (۸۳۸) امام ترمقتدی ادنٰی حالاً نه دی پکار، که امام ترمقتدی ادنٰی حالاً وی نواقتداء صحیح نه ده. د: (ادنٰی حالاً) څخه مراد څه شی دی؟

**جواب**: ددی مطلب دادی چي امام نفل کوی مثلاً، اومقتدی فرض کوی نوپه نفل کونکی پسی دفرض کونکی لمونځ صحیح نه دی. باقی مطلب دانه دی کم چي سائل لیکلی دی بلکی په دی صورتونو کی لمونځ ددواړو صحیح دی، دامام هم اودمقتدی هم. مثلاً امام که چیری عالم نه وی اومقتدی ([3]) عالم وی، یادامام په سرباندی پټکی نسته اودمقتدی په سرباندی پټکی سته نوپه داشان لمونځ دټولو صحیح دی. فقط

**دلمانځه پابندی کونکی حافظ امامت څوک چي خپله شامیانه** (سایوان او خیمه) **په کرایه باندی ورکوی درست دی اوکه نه؟** **سوال**: (۸۳۶) زید حافظ دی، دپنځه وخته لمونځ پابندی یعنی په هر صورة کی دهغه ځای تراوسیدونکو ښه دی، خوهغه هندوانو او مسلمانانو ته خپله شامیانه په کرایه باندی ورکوی اوپه موقع باندی دهغه دلګولو دپاره هم ځی نوپه هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

---

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹ . ظفیر

([2]). ولوام قومًا وهم له کارهون ان الکراهة لفساد فیه اولانهم احق بالامامة منه کره الخ (ایضًا ص ۵۲۲ ج ۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹) اوکه نورڅه نه وی نوهمدا خبره کافی ده چي دده په وجهی سره دمسلمانانو په خپل مابینځ کی اختلاف دی، کم چي نهایتی بدشی دی. والله اعلم، ظفیر

([3]). ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غیره مطلقًا (درمختار) ای وان کان غیره من الحاضرین من هو اعلم واقراء منه (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج ۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

**جواب**: دبعضو ناروا موقعو مثلاً درقص، سرود دمحفلونو دپاره چی شامیانه په کرایه باندی ورکوی اوهلته تلل اولګول یی اعانت علی المعصیت دی، کم چی په موجب دحکم خداوندی ﷻ : وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى وَلا تَعَاوَنُوا عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ (۱) حرام دی. په دی وجه په هغه پسی لمونځ مکروه (۲) دی. که چیری یو بل سړی صالح اولائق دامامت موجودوی نوهغه دی امام جوړسی، کنی هم په هغه پسی دی لمونځ وکړی ولی چی دجلا لمونځ کولو څخه په هغه پسی لمونځ کول ښه دی. (۳) درمختار. فقط

**چاته چی دمتیازو شبه وی دهغه امامت**: **سوال**: (۸۴۰) زید ته اکثره بغیر احساسه دمتیازو څاڅکی راځی، اوکله راځی هم نه لیکن زید هروخت متشکك وی چی شاید قطره راغلی وی. اوهغه په اوبو سره داستنجاء کولو څخه وروسته په جامی سره ځان وچ کړی بیا په لوټی سره ځان وچ کړی بیا اودس وکړی اوکمربند هم تړی په دی ترکیب سره هغه ته قطره کمه راځی، اوکله چی قطره راسی نوبیایی صرف په لوټی سره صفا کړی، اودس وکړی او لمونځ کوی. دقطری څخه وروسته په اوبو سره صفایی نه کوی. په دی حالت کی دزید لمونځ کیږی اوکه نه؟ اوکه هغه امام هم وی، دهغه امامت صحیح دی اوآئنده به هم صحیح وی، اوکه نه؟

**جواب**: په دی حالت کی دزید لمونځ کیږی اودهغه امامت هم صحیح دی، اوآئنده هم دهغه په امامت کی هیڅ حرج (۴) نسته. فقط

**کم سړی چی حضور ﷺ ته دمشرک اولاد وایی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟ سوال**: (۸۴۱) یوسړی په ډاګه وایی چی حضور ﷺ دبت پرست یعنی مشرك داولاد څخه دی او دکافر په کور کی پیدا سوی دی. په داسی سړی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: په یوحدیث شریف کی دامضمون راغلی دی چی یوسړی دحضور ﷺ څخه دخپل پلار او دهغوی دپلار حال معلوم کی نوهغوی وفرمایل، ان ابی واباك فی النار (۵) یعنی زما او ستا پلار په دوږخ کی دی. اوپه یو روایت کی دا هم مروی دی چی حضور ﷺ

(۱). سورة المائدة رکوع ۱. ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار باب الامامة، ط. س. ج۱ ص **۵۵۹**). ظفیر

(۳). وفی النهر عن المحیط صلی خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة (درمختار) افادان الصلوة خلفهما اولی من الانفراد (ردالمحتار، باب الامامة ص **۵۲۵** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۲۲**). ظفیر

(۴). ثم اعلم ان الجمع بین الماء والحجر افضل ویلیه فی الفضل الاقتصار علی الماء ویلیه الاقتصار علی الحجر وتحصل السنه بالکل وان تفاوت الفضل (ردالمحتار فصل فی الاستنجاء ص ۳۱۳ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۳۳۷). ظفیر

(۵). رد المحتار باب نکاح الکافر مطلب فی الکلام علی ابوی النبی ﷺ ص **۵۳۰** ج۲). ظفیر

وفرمایل چی ما دخپلی والدی دپاره دمغفرت طلب کولو اجازه وغوښته نوالله ﷻ اجازه رانه کړه، اودقبر دزیارت اجازه می وغوښته نورایی کړه (۱). ظاهر ددی روایاتو همدادی چی دحضور ﷺ والدین دکفر په حالت کی وفات سوی دی. په دی کی عالمانو ډېر تفصیل اوتحقیق هم فرمایلی دی، اوبحث یی کړیدی، اوبعضی روایتونه یی داسی هم نقل کړی دی دکمو څخه یی چی دهغوی دوالدینو دوباره ژوندی کیدل اوایمان راوړل ثابت کړی دی. بهرحال په دی کی بحث کول عالمانو منع کړی دی، نوسکوت په دی کی ډیر خیر (۲) او دسلامتیا سبب دی. فقط

**ځوک چی په اجرت اخستلو سره شرعی مسئله ښیی دهغه امامت**: **سوال**: (۸۴۲) دجومات یوامام په شرعی مسئلی ښوولو باندی اجرت اخلی، په هغه پسی دلمانځه څه حکم دی؟

**جواب**: په داسی امام پسی لمونځ مکروه دی اوداسی سړی دامام جوړولو لائق نه دی ترڅو پوری یی چی توبه کښلی نه وی. (۳) فقط

**دبدعت خلاف ویونکی امامت**: **سوال**: (۸۴۳) زید متبع دسنت اوصالح دی، دیوقوم امام دی اوحافظ دقرآن دی، قوم پریوه موقع پرزید باندی دازور واچوی چی هغه دی قرآن مجید په قبر باندی وګرزوی اودنورو رواجونو مرتکب دی (هم) سی. زید چی تنګ سو نودایی وویل چی چا دقرآن مجید ګرځولو خبره را وایسته دهغه داسی داسی. یعنی ښکنځل یی وکړل. مقتدیانو په هغه پسی لمونځ کول پریښوول اوخیر خیرات یی باندی بندکی. شرعًا ددی څه حکم دی؟

**جواب**: داظاهره ده چی دزید غرض په دی ذکر سوی جملی سره دذکر سوی رواج دایجاد کونکی مذمت کول اوهغه ته بدرد ویل دی. اودا رواج په قبرونو باندی دقرآن خوانی او په دی باندی اجرت ورکول اواخستل بیشکه ناجائز اودشریعت څخه خلاف دی. لهٰذا زید دذکر سوی رسم په باره کی دمذکوره کلمی ویلو په وجهی سره مرتکب دګناه ګناه یا کفر یافاسق نه سو، ولی چی دشریعت څخه دخلافو رواجونو څخه انکار کول عین دسنت پیروی ده کمه چی موجب داجر اوثواب ده، لهٰذا هغه اوس هم لائق دامامت دی،

(۱). ردالمحتار باب نکاح الکافر مطلب فی الکلام علی ابوی النبی ﷺ ص ۵۳۰ ج۲ . ظفیر

(۲). الا ترٰی ان نبینا ﷺ قداکرمه الله تعالی بحیاة ابویه له حتٰی اٰمنا به الخ (ردالمحتار باب المرتد مطلب فی احیاء ابوی النبی ﷺ ص ۴۰۰ ج ۳ ، ط.س. ج ۴ ص ۲۳۱) دپورته ذکر سوو روایاتو څخه معلومه سوه چی کم سړی ذکرسوی کلمات وایی، دهغه امامت درست دی. خوبیا هم هغه ته سکوت کول ښه دی. په شرح فقه اکبر کی دی: ووالدا رسول الله ﷺ ماتاعلی الکفر (ص۱۳۰) . ظفیر

(۳). لان اخذ الاجرة علی بیان حکم الشرعی لایحل عندنا وانمایحل علی الکتابة لانها غیر واجبة علیه. والله اعلم (رد المحتار کتاب القاضی مطلب فی حکم الهدیة للمفتی ص ۴۳۲ ج۴ ، ط.س. ج ۵ ص ۳۷۴). ظفیر

مقتديانوته په هغه پسې دلمونځ کولو څخه احتراز کول نه دي پکار، اودهغه تذليل او تحقير کول حرام اوناجائز دي اوددي په وجه سره دامامت څخه دهغه معزوله کول درست نه دي اودهغه حقوق وربندول درست نه دي ([1]). فقط

**چي څوک وايي چي دحضورﷺ بدن دمعراج په وخت کی دخدای ﷻ دبدن سره پيوست سو**

**سوال**: (۸۴۴) يوسړی داوايي چي دمعراج په وخت کی دحضور ﷺ اودخدای ﷻ بدن بالکل يو سو، په هغه پسې لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: ددی سړی قول غلط دی اودعقيدی داهل سنت والجماعت اوداهل اسلام دعقيدی څخه خلاف دی، لهٰذا په ده پسې لمونځ مه کوی. ([2]) فقط

**داولادپه واده کی دډول رغونکی امامت**: **سوال**: (۸۴۵) زيد دخپل زوی دنکاح په خوشحالی کی پنځلس شل ورځی مخکی ډول ورغوی اونور رواجونه هم وسوه، زيدافيون هم خوری په هغه پسې لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: زيد په دی صورة کی فاسق دی په هغه پسې لمونځ مکروه دی اوهغه دامامت لائق نه دی، ترڅو پوری چی هغه توبه ونه کاږی. ([3]) فقط

**دتصوير او دبُت جوړونکی امامت**: **سوال**: (۸۴۶) دجومات يوامام تصويرونه، بُتان وغيره جوړوی، په هغه پسې لمونځ جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: په داسی امام پسی لمونځ مکروه ([4]) دی. فقط

**په لمانځه کی دبيده کيدونکی امامت**: **سوال**: (۸۴۷) (يو امام) دخوب مريض دی. په اکثرو وختونوکی بيده وی حتّٰی چی دلمانځه په حالت کی هم بيده اوسی دبل په فتحی سره په هوش کی راسی، اوتعويذ اوڅاښتونه هم کوی، اوقرآن کريم هم سم نه وايی، اودروغ هم وايی. وغيره وغيره. په داسی سړی پسی لمونځ کيدی سی اوکه نه؟ اودی دامامت قابل دی اوکه نه؟

**جواب**: په لمانځه کی په بيده کيدلو سره لمونځ نه فاسديږی او په لمانځه کی څه خلل نه

---

([1]). ولوام وهم كارهون الكراهة لفساد فيه الخ كره له ذلك الخ وان هوا حق لا والكراهة عليهم (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفير

([2]). ويكره امامة عبد الخ ومبتدع اى صاحب بدعة وهى اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول لا بمعاندة بل بنوع شبهة (الدر المختار على هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ ). ظفير

([3]). ويكره امامة عبد الخ وفاسق (در مختار) من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من يرتكب الكبائر ؒ (رد المحتارباب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفير

([4]). عن عبدالله بن مسعود ؓ قال سمعت رسول الله ﷺ يقول : اشد الناس عذابا عند الله المصورون. متفق عليه، (مشكوٰة باب التصاوير ص ۳۸۵) ، ويكره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار باب الامامة ط.س ج۱ ص۵۵۹). ظفير

راځي. البته چي په قرآءة کي څه داسي غلطي وکړي چي په هغه سره معنٰی بدله سي، او هغه غلطي لمونځ ماتوونکي وي نولمونځ به يې فاسد سي، خوپه دي کي بيده اووينښ برابردي، هم دغه رکم ثابت تعويذ کول دقرآن په آيتونو سره اومأثوره دعاګانو سره درست دي، په دي کي هم څه ګناه نسته اوپه دي وجهي سره دهغه په امامت کي څه کراهت نسته. اولمونځ په هغه پسي صحيح دي. البته دکذب اودروغ تړلو خصلت موجب دفسق اومعصيت دي، که چيري هغه توبه ونه کاړي نوپه هغه پسي لمونځ مکروه دي، او داسي سړي که چيري توبه ونه کاړي نولائق دامام جوړولو نه (۱) دي. فقط

**په ناپاکوالي کي امامت**: **سوال**: (۸۴۸) که چيري چا دناپاکوالي په حالت کي امامت کړي وي اوهغه ته دلمونځونو اومقتديانو شماريادنه وي نوهغه ته علاوه دخپل لمونځ دقضاء راګرځولو څخه، دمقتديانو دپاره څه تدبير کول پکار دي؟

**جواب**: که چيري ده ته هيڅ يادنه وي اوتعين دلمونځونو اودمتقديانو نسته نو ظاهره ده چي اطلاع کول ورته ګران دي. ددي وجه څخه پردغه مقتديانو باندي په دي صورة کي څه مؤاخذه نسته اوهغوی ته چونکه دلمونځ دفاسدوالي علم نه دی سوی نوپر هغوی باندي اعاده هم واجب نه ده کما في الشامي: واما صلوتهم فانها وان لم تصح ايضًا لکن لا يلزمهم اعادتها لعدم علمهم (۲). نوذکر سوی سړي دي خپل لمونځونه راوګرزوي او ددغه ګناه څخه دي استغفار اوتوبه وکاړي کمه چي دده څخه په ناپاکي کي په لمونځ کولو سره سويده، او دمقتديانو دپاره استغفار کول هم ښه دي. فقط

**دشيعه تبرائي امامت**: **سوال**: (۸۴۹) يوسړي دشيعه ګانو مذهب لري، اوحديث شريف او فقه نه مني، اوداصحابو کبارو رضي الله عنهم توهين کوي، ترښکنځلو پوري ورته کوي، اودشيعه ګانو په مجلسونو کي مرثيه خواني کوي. په داسي سړي پسي په ترواېحو اوپنځه وخته لمونځونو کي اقتداء کول جائزدي اوکه نه؟ بلکي داسړي درمضان شريف څخه هفته لس ورځي مخکي توبه وکاړي، اودرمضان څخه وروسته بيا ذکرسوی کارونه کول شروع کړي.

(۱). وان کراهة تقديمه ای الفاسق کراهة تحريم (ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۳** ج ۱، ط. س. ج۱ ص **۵۵۹**). ظفير

(۲). رد المحتار، واذا ظهر حدث امامه وکذا کل مفسد فی رأی مقتد بطلت فيلزم اعادتها لتضمنها صلاة المؤتم صحة وفسادا کما يلزم الامام اخبار القوم اذا أمهم وهو محدث او جنب او فاقد شرط او رکن (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص **۵۵۳**، ط.س. ج۱ ص **۵۹۱**) صلی جماعة ؏ مع امام ؏ فمن تيقن مخالفة امامه فی الجهة ؏ لم تجز صلاته ؏ ومن لم يعلم ذلك فصلاته صحيحة (ايضاً باب صفة الصلوة ج ۱ ص **۴۰۲**، ط. س. ج۱ ص **۴۳۲**). ظفير

**جواب**: دداسی سړی اقتداء دی په تراویحو اوفرائضو کی ونه سی. لیکن کم وخت چی هغه توبه وکاړی هغه وخت دهغه اقتداء درسته کیږی. اوکه چیری دتجربې اوبار بار دهغه په دی حرکت سره دابنکاره سی چی دده عقیده هم هغه ده څه چی دی درمضان شریف څخه وروسته کوی نودی دي هیڅ کله امام جوړنه سی ترڅو پوری چی دده درشتینی توبی یقین ونه سی. (۱)

**دغیر الله دسجدی دقائل امامت**: **سوال**: (۸۵۰) دزید داعقیده ده چی سجده ماسوا دالله ﷻ څخه برابره خبره ده که قبرونه وی یابل څه، حرامه ده، شرك نه ده. که چیری دمعبود په ګڼلو سره وکړی نوشرك به وی. اوکه چیری مطلقًا شرك وای نوحضرت آدمؑ اوحضرت یوسفؑ ته به سجده نه وای سوی. آیاپه دی باره کی شرك وسو اوکه نه؟ دکم سړی چی داعقیده وی په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: په درمختار اوشامی کی منقول دی چی غیر الله ته تعظیمًا اوعبادةً سجده کول حرام دی اوکفردی. نومعلومه سوه چی تعظیمًا سجده کول هم په عبادت کی داخل دی، اوسجده تعظیمی عین سجده دعبادت ده کمه چی بالاتفاق کفر دی. البته په سجده تحیه کی کمه چی دسلام پرځای وی، په دی کی اختلاف دی چی کفردی اوکه نه دی؟ لیکن په حرمت اوګناه کبیره کیدلوکی په دی کی هم اختلاف نسته. اوسجده دحضرت آدم ؑ او حضرت یوسف ؑ په دی شریعت کی منسوخ سویده. نوپه زید مذکور پسی لمونځ صحیح نه دی. په درمختار کی دی: وهل یکفر ان علٰی وجه العبادة والتعظیم کفر وان علٰی وجه التحیة لا وصار اٰثمًا مرتکبًا للکبیرة. انتهٰی (۲) ملخصًا، وفی الشامی ذکر الصدر الشهید انه لایکفر بهٰذا السجود لانه یرید به التحیة وقال شمس الائمة السرخسی ان کان لغیر الله تعالٰی علٰی وجه التعظیم کفر قال القهستانی وفی الظهیریة یکفر بالسجدة مطلقًا. شامی (۳) جلد۵. بیا ددی څخه وروسته شامی داتحقیق فرمایلی دی چی حضرت آدم ؑ ته چی کمه سجده ملائکو کړی وه، هغه منسوخه سوه. په دی حدیث

(۱). ویکره امامة عبد الخ وفاسق الخ ومبتدع ای صاحب بدعة وهی اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول (در مختار) اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لا یتهم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعا ؒ بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۰) قال المرغینانی الخ لا تجوز الصلوة خلف الرافضی (عالمګیری کشوری باب الامامة ص ۸۳ ج ۱ ، ط.م. ج۱ ص ۸۴). ظفیر

(۲). الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الحظر والاباحة باب الاستبراء ص ۳۳۷ – ۳۳۸ ج ۵ ، ط.س. ج ۶ ص ۳۸۳. ظفیر

(۳). ردالمحتار باب ایضًا ص ۳۳۸ ج ۵ ، ط.س. ج ۶ ص ۳۸۳. ظفیر

سره: ([1]) لو امرتُ احداً ان یسجد لاحد لامرت المرأة ان تسجد لزوجها ([2]). ﷺ بیا یی لیکلی دی: وکان جائزًا فیما مضی کما فی قصة یوسف ؑ قال ابو منصور الماتریدی ﷫ وفیه دلیل علی نسخ الکتاب بالسنة الخ. شامی ([3]). نوپه دی عبارت سره ټول شبهات رفع سول. فقط

**دکم ماشوم چی دېمی کره پرورش سوی وی دهغه امامت**: **سوال**: (۸۵۱) دیو هلك مور او پلار په ماشوم والی کی مړه سول هغه دېمی کره پرورش پیدا کی قرآن کریم یی هم ووایه، هغه امامت کولی سی اوکه نه؟

**جواب**: هغه هلك چاچی دېمی په کورکی پرورش پیدا کړیدی، که چیری هغه قرآن کریم ویلی وی اودلمانځه دمسائلو څخه خبر وی نودهغه امامت بغیر کراهته ([4]) درست دی.

**دچا ښځه چی سود خوره وی دهغه امامت**: **سوال**: (۸۵۲) چی دچا ښځه سود خوره وی او هغه ته علم وی نوهغه امام کیدی سی اوکه نه؟

**جواب**: که چیری خاوند هغه (خپله ښځه) ددی کار څخه منع کوی نودخاوند په امامت کی څه کراهت نسته ([5]).

**کم موچی چی په کوچنی والی کی مسلمان سی، دهغه امامت درست دی اوکه نه؟ سوال**: (۸۵۳) یوهلك دذات څخه موچی وو اوعمر یی پاؤ بالا یوکال وو، یوسید هغه واخستی اودمسلمانی په طریقه یی دهغه پرورش وکی. اوس هغه هلك بالغ دی اوداسلام په طریقه باندی قائم اومستحکم دی، په هغه پسی لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: دغه سړی امامت کولی سی لمونځ په هغه پسی صحیح ([6]) دی. فقط

**څوک چی مقتدیانو ته منافقان وایی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟ سوال**: (۸۵۴) کم پیش امام چی مسلمانانو ته عمومًا اوخپلو مقتدیانو ته منافقان وایی اوداهم وایی چی نن صبا دټولو لمونځ گذارو زړونه په وجه دمنافق کیدلو کاږه سوی دی، ددی وجه دصف سیده کولو ضرورت نسته، ددغه امام دپاره څه حکم دی؟

---

([1]). اختلفوا فی سجدة الملائکة قیل کان لله تعالی والتوجه الی آدم للتشریف کاستقبال الکعبة وقیل بل لادم علی وجه التحیة والاکرام ثم نسخ بقوله ﷺ لو امرت احدا ان یسجد لاحد لامرت المرأة ان تسجد لزوجها (رد المحتار کتاب الحظر والاباحة باب الاستبراء ص ۳۳۸ ج ۵ ، ط.س. ج ۶ ص ۳۸۳ - ۳۸۴ ). ظفیر

([2]). رد المحتار کتاب الحظر والاباحة والاستبراء وغیره ص ۳۳۸ ج ۵. ظفیر

([3]). ایضًا ، ط.س. ج ۶ ص ۳۸۳ - ۳۸۴ . ظفیر

([4]). ځکه چی په ده کی بیا هیڅ عیب نسته. ظفیر

([5]). قال الله تعالی ولاتزر وازرة وزر اخرٰی ، (القرآن) . ظفیر

([6]). قال الله تعالی: اِنَّ اکرمکم عند الله اتقٰکم (الحجرات). ظفیر

**جواب**: دا ددغه امام لوی جهالت دی اودی سخت عاصی دی. داسی امام معزولول پکار دی، په ده پسی لمونځ مکروه [۱] دی.

**چی دماخستن جمع یو ورکړی او تراویح بل، نودا جائز دی، اوکه نه؟ سوال**: (۸۵۵) زید ماخستن دفرضو جمع ورکړی اوعمر په تراویحوکی مخ ته سو او وتریی هم ورکړل نودا جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: داصورة جائزدی دتراویحو جمع ورکونکی دوترو امامت هم کولی سی کله چی هغه بالغ وی، ولی چی په نابالغ پسی نه تراویح صحیح دی اونه وتر درست دی [۲].

**دانتقال په تکبیراتو کی جهر واجب دی اوکه سنت؟ سوال**: (۸۵٦) دانتقال تکبیرونه په جهر سره ویل امام ته واجب دی اوکه سنت دی. که چیری امام یو، نیم تکبیر سهوًا په جهر سره ووایی نوآیا سجده سهوه به لازمیږی؟

**جواب**: سنت دی، ددی په ترک سره سجده سهوه نه [۳] واجبیږی. فقط

**دجومات په بی ادبی کونکی پسی لمونځ جائز دی اوکه نه؟ سوال**: (۸۵۷) یوسړی دجومات امام دی په هغه باندی دخیانت وغیره الزام دی، اویوسړی ذکرسوی امام ته وویل چی ته دجومات دصفایی وغیره خیال ساته. نوامام وویل چی زه خوبه دلته متیازی کوم. لهٰذا په داسی سړی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: داسی سړی لائق دامام جوړولو نه دی، دی معزولول پکار دی اوبل امام عالم او صالح دی مقرر سی په چاکی چی اوصاف دامامت موجودوی. دذکرسوی امام داخبره چی زه خوبه دلته متیازی کوم، دکفر خبره ده ولی چی په دی کی دجومات توهین [۴] دی لهٰذا که چیری ددی ځخه یی توبه ونه کښله، نوپه هغه پسی لمونځ جائزنه [۵] دی. اوباقی کارونه کم چی دخیانت سره تعلق لری په هغه سره هغه فاسق سو په دی وجهی سره دهغه امامت مکروه دی. بهر حال دذکر سوی امام معزوله کول واجب دی اوپه ذکر سوی حالت

---

(۱). ویکره تقدیم العبد الخ وفاسق (هدایه باب الامامة ص ۱۱۰ ج۱). ظفیر

(۲). ولایصح اقتداء رجل بامرأة وخنثی وصبی مطلقا ولوفی جنازة ونفل علی الاصح (در مختار) والمختار انه لا یجوز فی الصلوة کلها (رد المحتار باب الامامة ص ۵۳۹ وص ۵۴۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۲ – ۵۷۷ ). ظفیر

(۳). وسننها ، ترك السنة لا یوجب فسادا ولا سهوا بل اساءة لو عامدا ﴿ رفع الیدین للتحریمة ﴿ وجهر الامام بالتکبیر بقدر حاجة للاعلام بالدخول و الانتقال وکذا بالتسمیع والسلام (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب صفة الصلوة مطلب فی سنن الصلاة ص ۴۴۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۷۴ – ۴۷۵ ). ظفیر

(۴). وفی تتمة الفتاویٰ من استخف بالقرآن اوبالمسجد اوبنحوه ممایعظم فی الشرع کفر (شرح فقه اکبر ص ۲۰۵).

(۵). ځکه چی ځوك حکمًا کافر سو دهغه امامت به جائز نه وی. وقیده الخ بان لاتکون بدعته تکفره فان کانت تکفره فالصلاة خلفه لا تجوز (البحر الرائق باب الامامة ص ۳۷۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۳۴۹). ظفیر

کی هغه مؤذن ساتل هم درست نه دی. ([1]) فقط

**دزانی توبه کونکی امامت جائزدی اوکه نه؟ سوال**: (۸۵۸) یوسړی دډیری مودی راهیسی دجومات امام دی هغه دخپلی ورینداری سره ناجائز تعلق وساتی اوهغه یی دځان سره کړه، بل ځای ته ولاړی. ښځه خپل خاوند راوسته اوذکر سوی امام هم راغی. اوس دهغه دامامت په باره کی څه حکم دی؟

**جواب**: دغه سړی که چیری تائب سی اودمخکنیو خرابو کارونو څخه توبه وکاږی اواکثره لمونځ گذار دهغه په امامت باندی راضی وی نوهغه امام جوړول درست دی اودهغه په امامت کی څه کراهت ([2]) نسته. فقط

**آیا دزوړ سړی امامت مکروه دی؟ سوال**: (۸۵۹) یوسړی دځلوپښتو کالو څخه امامت کوی لیکن اوس ددرو څلورو کالو څخه دهغه په نظرکی څه فرق راغلی دی لیکن پاکی اونا پاکی پخپله لیدی سی. خلگ اعتراض کوی چی په داسی سړی پسی لمونځ مکروه کیږی، داصحیح ده اوکه نه؟

**جواب**: په ذکرسوی صورة کی په امام مذکور پسی لمونځ مکروه نه دی، بغیر دکراهته لمونځ پسی صحیح دی. فقط

**دحنفی لمونځ په شافعی پسی جائزدی اوکه نه؟** ([3]) **سوال**: (۸٦۰) دحنفی لمونځ په شافعی المذهب والا پسی صحیح دی اوکه نه؟ اوکه چیری شافعی المذهب دحنفی رعایت په نجاست او اودس وغیره کی نه کوی، نوبیا څه حکم دی؟

**جواب**: دحنفی لمونځ په شافعی المذهب والاپسی صحیح دی لیکن دغه امام ته پکاردی چی دنجاست اواودس وغیره په باره کی دی دحنفی رعایت کوی اوکه چیری هغه داسی نه کوی نوحنفی ته په هغه پسی لمونځ کول نه دی پکار. اوکه چیری یقیناً دامعلومه سی چی ددغه امام څخه یو کار داودس وغیره ماتونکی دحنفی په اعتقادکی صادر سوی ([4])

---

([1]). ان کراهة تقدیمه (ای الفاسق) کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۳** ج۱). ظفیر

([2]). قال رسول الله ﷺ التائب من الذنب کمن لاذنب له (مشکوٰة باب التوبه والاستغفار ص۲۰۲) ظفیر.

([3]). دهمدې مسئلې دزیات تحقیق دپاره دی علمآء کرام دهمدې حصې په پای کی درج سوی رساله وگوری، کمه چی دعلامه رحمت الله السندی رحمه الله تصنیف دی، اوتر نن ورځی پوری دا رساله مخطوطه وه، موږ ته یې دمصر دجامعه ازهر دکتب خانې څخه یوه نسخه په لاس راغله او الحمد لله چی دپوره تحقیق او تعلیق سره دالله جل جلاله په فضل دعلمآء او محققینو دپاره په لومړی ځل په ښکلی کتابت باندی داده دفتاوی دار العلوم دیوبند سره یو ځای دچاپ کولو سعادت رانصیب سو، اوانشاء الله کوشش به وکړو که وخت اواسباب برابرسوه چی مخ ته نورهم داسی مفید اوگټور دخپلواسلافو علمآء کرامو رحمهم الله څخه راپاته میراث دتحقیق مینانوته وړاندی کړو. حقانی

([4]). وکذا تکره خلف امرد الخ ومخالف کشافعی لکن فی وتر البحر ان یتقن المراعاة لم یکره اوعدمها لم =

دی، نو بیا په هغه پسی دحنفی لمونځ نه صحیح کیږی. فقط

**دکانه، شل اوچُغل خور امامت جائز دی اوکه نه دی؟ سوال:** (۸۲۱) کوڼ، ړوند، چغل خور، پیس، شل اودچا زنانه چی پرده نه کوی په هغوی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ اوپه دروغ ویونکی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب:** په یوې سترګی والا پسی لمونځ مکروه نه دی اوړوند که چیری دپلیتیۍ څخه ځان نه ساتی اوغیر محتاط وی اواعلم دقوم نه وی نوپه هغه پسی لمونځ مکروه دی. اوکه چیری هغه اعلم اوافضل وی نومکروه نه دی. اوپه جذامی اوشل اوچغل خورپسی لمونځ مکروه دی. اودچا زنانه چی پرده نه کوی اوهغه یی نه منع کوی اودهغوی په بی پرده ګی باندی راضی وی نوپه هغه پسی هم لمونځ مکروه دی، اوکه چیری هغه خپل کوروالا دبی پردی ګرځیدلو څخه منع کوی اودا (بی پرده ګی) بده ګڼی نوپه هغه پسی لمونځ بی کراهته صحیح دی اوپه دروغ ویونکی پسی هم لمونځ مکروه (۱) دی. فقط

**دزانی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال:** (۸۲۲) یوسړی دخپل سکه زوی دښځی سره زنا کوی، او دزوی ښځی ته په رضامندی سره دنورو سړو سره دزنا کاری اجازه ورکوی، په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ اودخپلی بالغی لور مخ مچول څنګه دی؟

**جواب:** که چیری هغه توبه ونه کاړی نوپه هغه پسی لمونځ مکروه (۲) دی.

اوخپله لور مچول دمحبت اورحمت دلاری څخه درست دی او دشهوت دلاری څخه حرام دی اوموجب دحرمتِ مصاهرت دی اوځان ساتل ددی څخه په مخکنی صورة کی هم، داحتیاط غوښتنه (۳) دی. فقط

---

= یصحها وان شك کره (الدر المختار) وبحث المحشی انه علم ان راعی فی الفروض والواجبات والسنن فلا کراهة وان علم ترکها فی الثلاثة لم یصح وان لم یدر شیئًا کره الخ (ردالمحتار باب الامامت ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲ - ۵۲۳ ). ظفیر

(۱). ویکره امامة عبد ؒ وفاسق واعمی ونحو الاعشی الا ان یکون غیر الفاسق اعلم القوم فهو اولی ؒ وکذا تکره خلف امرد وسفیه ومفلوج وابرص شاع برصه وشارب الخمر واکل الربوا ونمام (درمختار) قوله فاسق من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة ولو کان المراد من یرتکب الکبائر قوله غیر الفاسق تبع فی ذلك صاحب البحر حیث قید کراهة امامة الاعمی فی المحیط وغیره بان لا یکون افضل القوم فان کان افضلهم فهو اولی اهـ قوله ومفلوج ؒ وکذلك اعرج یقوم ببعض قدمه فالاقتداء بغیره اولی وکذا اجذم (ردالمحتار باب الامامة ص۵۲۳ ج۱ وص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰ ). ظفیر

(۲). وان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

(۳). وما حل نظره مما مرّ من ذکر او انثی حل لمسه اذا امن من الشهوة علی نفسه وعلیها لانه علیه السلام کان یقبل رأس فاطمة ؓ وان لم یامن ذلك اوشك فلا یحل له النظر والمس (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی النظر والمس ص ۳۲۳ ج ۵ ، ط.س. ج ۶ ص ۳۷۲). ظفیر

**دغلطي عقيدي لرونکي امامت څنګه دی؟ سوال**: (۸۲۳) په بعضو ځایونو کی کی رواج دی چی کله دیوسړی واده دریم وی او ددوستی خبره کیږی نو دانجلۍ مور او پلار وایی چی اول دی دناوکۍ (مصنوعی) سره واده وسی اودغه (مصنوعی) ناوکۍ دی دروازی ته مخامخ ترچوکاټ لاندی ښخه سی. دا رواج ددی دپاره کوی چی دریمه نکاح ډیره سپیره ګڼی، که چیری داسی ونه کړی نوانجلۍ به مړه سی. داعقیده څنګه ده اودکم امام چی داعقیده وی په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: داکار صحیح نه دی. اوداسی عقیده لرل جائزنه دی، اودکم امام چی داسی عقیده وی هغه امام جوړول نه دی پکار، په هغه پسی لمونځ مکروه ([1]) دی. فقط

**دناسنته حافظ امامت درست دی اوکه نه؟ سوال**: (۸۲۴) دیو حافظ قرآن عمر تقریبًا (۲۵) کاله دی، سنت یی نه دی سوی. خلګ دهغه پرامامت اعتراض کوی آیا هغه ته ختنه (یعنی سنت) کول جائز دی، اوامامت یی درست دی اوکه نه؟

**دشین اونارنجی پټکی ترونکی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال**: (۸۲۵) امامانو ته شین یا نارنجی پټکی تړل جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: (۱) هغه ته ځان سنتول ضروری دی ځکه چی داد ([2]) اسلام شعائر دی. اوامامت دهغه درست دی.

(۲) دشین اونارنجی رنګ شرعًا منع والی نسته. لهٰذا په هغه پسی لمونځ صحیح کیږی، البته دنارنجی رنګ پټکی ښه نه ([3]) دی. فقط

**څوک چی مقرر امام په زور لیری کړی او پخپله دامامتی دعوٰی وکړی په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ سوال**: (۸۲۶) یومولوی صاحب به دشلو کالو څخه دقرآن کریم اوریدلو دپاره راتلی، ددرو کالو څخه یی بالکل راتلل بندکړی وه ګواکی لادرکه وو. موږ خلګو درمضان شریف څخه شپږ میاشتی مخکی یو مولوی صاحب مقرر ساتلی وو. درمضان په شروع کی مخکنی مولوی صاحب راغی اودوهم مولوی صاحب یی دمصلی څخه لیری

---

([1]). ویکره امامة عبد الخ ومبتدع ای صاحب بدعة (درمختار) ای محرمة (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ ). ظفیر

([2]). وقیل فی ختان الکبیر اذا امکنه ان یختتن نفسه فعل والا لم یفعل والا لا یمکنه النکاح او شراء الجاریة والظاهر فی الکبیر انه یختتن ویکفی قطع الاکثر الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة باب الاستبراء ص ۳۳۷ ج۵ ، ط.س. ج۶ ص ۳۸۲). ظفیر

([3]). وکره لبس المعصفر والمزعفر الاحمر والاصفرللرجال مفاده انه لایکره لنساء ولاباس بسائر الالوان (درمختار) ففی جامع الفتاوٰی قال ابوحنیفة والشافعی ومالك یجوز لبس المعصفر وقال جماعة من العلماء مکروه بکراهة التنزیهیة (رد المحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی اللبس ص ۳۱۴ ج ۵ ، ط. س. ج۶ ص ۳۵۸). ظفیر

کی اوهغه یی ووهی اودهغه حق یی پخپله واخستی، هغه ته یی هیڅ ورنه کړل، په دی باره کی شرعی فیصله څه ده؟

**جواب**: کم مولوی صاحب چی ددری کالو څخه راغلی نه وو اوبل صاحب مقرر سوی وو، هغه ته داجائزنه وه چی نوی امام کم چی لمونځ گذارو اودمحلی خلگو مقرر کړی وو دامامت څخه منع کړی اودمصلی څخه یی لیری کړی، داکار دهغه حرام اوناجائز وو او وهل یی صریح ظلم دی، (په دی سره) هغه فاسق سو اودهغه هیڅ حق په هغه کی نسته څه چی ددوهم امام دپاره جمع سوی وه. دا ددغه مخکنی امام صریح ظلم دی چی داخپل حق گڼی (۱). فقط

**دواحد شخص اذان اوامامت کول څنگه دی؟ سوال**: (۷۲۷) شخص واحد ته اذان اواقامت علی الدوام کول مشروع دی اوکه مکروه؟

**جواب**: دی ته فقهاوو افضل ویلی دی لکه چی په درمختار کی دی: الافضل کون الامام هو المؤذن (۲) الخ. فقط

**کم امام چی دوژلو اخطار ورکوی دهغه امامت څنگه دی؟ سوال**: (۸۲۸) دیوجومات امام داوایی چی که څوك دی جومات ته دلمونځ کولو دپاره راغی نوهغه به ووژنم. نوداسی سړی امامت جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: داسی امام فاسق دی، دی معزول کول پکاردی. لمونځ په ده پسی مکروه (۳) دی فقط.

**دچاچی یوه گوته پرې سوی وی دهغه امامت څنگه دی؟ سوال**: (۸۲۹) دلته یوطالب علم، دعلم څخه ښه خبردار دی اودهغه یوه گوته دراسته لاس نسته. اوخلگ هم دهغه څخه خوشحاله دی، نودهغه امامت درست دی اوکه نه؟

**جواب**: درست (۴) دی. فقط

**دظالم دپاره ددعاء خیر کونکی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال**: (۸۷۰) کم هندو چی په خپل رعیت باندی ظلم اوستم کوی. که چیری هغه ناجوړی سی، اویو مسلمان په دنیاوی

---

(۱). والخیار الی القوم فان اختلفوا اعتبر اکثرهم الخ وامام الراتب اولی (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۸ – ۵۵۹ ). ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الاذان ص ۳۷۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۰۱ . ظفیر

(۳). ان کراهة تقدیمه (ای الفاسق) کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامت ص۵۲۳ ج۱ ط.س. ج۱ ص۵۲۰) ظفیر.

(۴). دگوتی نیستوالی شرعًا څه داسی عیبب نه دی چی دهغه په وجهی سره په امامت کی څه کراهت یافساد پیدا سی. ظفیر

طمعی سره دهغه دپاره دعاءِ خیر اوختم جلالی اوکړی اودشفاء دعاء وکړی نودهغه دپاره څه حکم دی، لمونځ په هغه پسی جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: دظالم دپاره دعاءِ خیر جائزه نه ده. اوظالم مدد کول په ظلم باندی حرام اوګناه کبیره ده. وعن اوس بن شرحبیل انه سمع رسول الله ﷺ یقول من مشی مع ظالم لیقویه وهو یعلم انه ظالم فقد خرج من الاسلام رواه البیهقی (۱). نو کم سړی چی په قصد او ارادی سره دظالم دپاره دعاءِ خیر کوی اوپه دغه ظلم کی دهغه مدد کوی نوهغه فاسق دی، په هغه پسی لمونځ مکروه دی (۲). اِلاَّ اَنْ یَّتُوْبَ. فقط

**دمعذور امامت دغیر معذور دپاره درست نه دی**: **سوال**: (۸۷۱) دیومسجد امام ته دبواسیرو مرض دی هروخت بدبویه اوبه ورڅخه جاری اوسی، مقتدیان یی تندرست دی، بعضی قرآن شریف صحیح وایی او دلمانځه دمسائلو څخه ښه خبر دی. په داسی معذور امام پسی لمونځ کیږی اوکه نه؟

**جواب**: مذکور امام شرعًا معذور دی اوپه درمختار وغیره دفقهی کتابونو کی تصریح ده چی په معذور پسی دغیر معذور لمونځ نه صحیح کیږی، لهٰذا دی امام مه (۳) جوړوی، په روغو (خلګو) کی چی کم سړی دلمانځه دمسائلو څخه خبر وی، اوقرآن کریم صحیح وایی هغه امام جوړکړی. فقط

**کم امام چی دجذامی ښځ سوی لاس راوباسی او دسوزلو حکم یی ورکی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟** **سوال**: (۸۷۲) په ریاست کی دیوقاضی په فتوٰی ورکولو سره دیو جذامی مسلمان مړه دجوسه (بدن) دښخولوڅخه دوی میاشتی وروسته وسوزل سوه. ددی متعلق څه حکم دی اوکم قاضی چی دجواز فتوٰی ورکړیده او ددرمختار او عالمګیری وغیره حواله ورکوی دهغه دپاره څه حکم دی؟ په هغه پسی لمونځ کول پکار دی، اوکه دهغه سره دی بائیکاټ (خوابدتیا) وسی؟ فقط

**جواب**: دمسلمان مړه جوسه سوزل جائزنه دی بالکل حرام دی.

کم قاضی چی دمسلمان جذامی دجوسی سوزلو حکم کړی دی هغه جاهل اوفاسق دی په هیڅ کتاب کی یی دسوزلو حکم نه دی لیکلی، داهغه غلطه حواله ورکړیده، ذکرسوی سړی چونکی بدعتی هم دی اوفاسق هم دی، ددی دپاره په هغه پسی لمونځ مکروه دی

(۱). مشکوٰة باب الظلم فصل ثالث ص ۴۳۲ . ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (در مختار) وان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۰). ظفیر

(۳). ولا یصلی الطاهر خلف من هو فی معنی المستحاضة (هدایه باب الامامة ص ۱۱۳ ج۱). ظفیر

اودی امام جوړول حرام دی ولی چی په امام جوړولو کی دهغه تعظیم دی اودبدعتی اوفاسق تعظیم حرام دی. په حدیث شریف کی دی چی: من وقر صاحب بدعةٍ فقد اعان علی هدم الاسلام ([1]). یعنی چاچی دبدعتی تعظیم وکی اوعزت یی وکی نوهغه داسلام په نړولو کی مدد وکی، والعیاذ بالله تعالی. نو ذکرسوی قاضی ته توبه کښل پکاردی، اوکه چیری هغه توبه ونه کاړی نودهغه سره سلام اوکلام پریښوول پکاردی، داسی سړی دقاضی اومقتداء جوړولو لائق نه دی. فقط

**<u>غل امام جوړول څنګه دی؟</u> سوال:** (۸۷۳) پیش امام دجومات دری پټی (غلا) کړی او دسزا تیرولو څخه وروسته راغی. په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب:** دداسی فاسق سړی امام جوړول مکروه دی په هغه پسی لمونځ مکروه تحریمی دی. لهٰذا دی معزولول اوبل امام عالم اوقاری اوصالح مقررول پکاردی. ([2]) فقط

**<u>څوک چی پرجماع باندی قدرت نه لری دهغه امامت درست دی اوکه نه؟</u> سوال:** (۸۷۴) مخنث امام کیدی نه سی لیکن که چیری یوسړی په وجه دحدوث دامراضو دجماع ناقابل سی نوامام کیدی سی اوکه نه؟ حال داچی په جماعت کی همداسړی دفضل او کمال خاوند دی.

**جواب:** دعنین یعنی نامرد امامت صحیح دی، دعنین حکم دخنثٰی غوندی نه دی لهٰذا دذکرسوی معذور امامت صحیح ([3]) دی. فقط

**<u>څوک چی سپین وریښته شکوی دهغه امامت جائز دی اوکه نه؟</u> سوال:** (۸۷۵) زید دجومات امام دخپلی ږیری سپین وریښته شکوی، په هغه پسی دلمونځ څه حکم دی؟

**جواب:** دافعل ښه نه دی، مکروه ([4]) دی، اولمونځ په هغه پسی صحیح دی، خوداسی کول نه دی پکار. فقط

---

([1]). مشکوٰة کتاب الاعتصام بالکتاب والنسنة فصل ثالث ص ۳۱.

([2]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (رد المحتارباب الامامة ص **۵۲۳** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹ – ۵۶۰**) اخرج الحاکم فی مستدرکه ان سرکم ان یقبل الله صلاتکم فلیؤکم خیارکم فانهم وفدکم فیما بینکم وبینه ربکم اھ (رد المحتار باب الامامة ص **۵۲۵** ج۱) ظفیر،

([3]). دخنثٰی امامت خو ددی وجه درست نه دی چی دهغه دښځی والی احتمال وی، والخنثٰی البالغ تصح امامته للانثٰی مطلقًا فقط لا لرجل ولالمثله لاحتمال انوثته وذکورة المقتدی (ردالمحتار باب الامامة ص **۵۴۰** ج۱، ط.س. ج۱ ص **۵۷۷**) اوپه عنین کی ددی قسم هیڅ احتمال نه وی. والله اعلم. ظفیر

([4]). قال رسول الله ﷺ لاتنتفوا الشیب فانه ما من سلم یشیب شیبة فی الاسلام الا کان له نورا یوم القیامة رواه ابوداود (کتاب الترغیب والترهیب لابن حجر ص ۱۹۲). ظفیر

**چې دچا راسته لاس دغوږ ترنرمۍ پورې نه رسيږي دهغه امامت جائز دی اوکه نه؟ سوال:**
(۸۷٦) زما راسته لاس دغوږ ترنرمۍ پورې نه رسيږي، په داسې حالاتو کې زما امامت په پنځه وخته لمونځونو اوجمعه وغيره کې جائزدی اوکه نه؟

**جواب:** په دې صورة کې دسائل امامت په پنځه وخته لمونځونو اوجمعه وغيره کې بې کراهته صحيح دی هيڅ وجه دامامت دکراهت نسته ولې چې فقهاوو رحمهم الله تعالىٰ چې کم ليکلی دی چې ابهامين دی په وخت دتحريمې کې دغوږونو دنرميو سره ولګوي، نوداپه اصل کې دمحاذات حاصلولو دپاره دی څه رکم چې دفقهاوو تحقيق اودحديث دروایاتو څخه ښکاره کيږي. نوکه چيرې دڅه عذر په وجه سره دغوږ دنرمۍ سره لاس لګول ونسي اومحاذات دابهامينو (يعنې غټو ګوتو) داذنينو (يعنې غوږونو) سره حاصل سي نو داسنت به اداء سي. په درمختار کې دی:

ورفع يديه ماسًّا بابهاميه شحمتي اذنيه هو المراد بالمحاذاة لانها لا تتيقن الا بذلك ؒ قوله (هو المراد بالمحاذاة) أي الواقعة في كتب ظاهر الرواية وبعض روايات الاحاديث كما بسطه في الحلية ووفق بينها وبين روايات الرفع إلى المنكبين، بأن الثاني إذا كانت اليدان في الثياب للبرد كما قاله الطحاوي أخذا من بعض الروايات، وتبعه صاحب الهداية وغيره، وَاعْتَمَدَ ابْنُ الْـهُمَامِ التَّوْفِيقَ بِأَنَّهُ عِنْدَ مُحَاذَاةِ الْيَدَيْنِ لِلْمَنْكِبَيْنِ مِنْ الرُّسْغِ تَحْصُلُ الْـمُحَاذَاةُ لِلْأُذُنَيْنِ بِالْإِبْهَامَيْنِ ، وَهُوَ صَرِيحُ رِوَايَةِ أَبِي دَاوُد. شامی (۱) جلد اول. اودهدايي صاحبؒ صرف محاذات واخستل يعنې دتکبير تحريمه په وخت کې دی ابهامين (يعنې غټې ګوتې) دغوږونو سره برابرې کړي. ويرفع يديه حتىٰ يحاذی بابهاميه شحمتي اذنيه. (۲) هدايه اوددی په دليل کې يې داحديث پيش کړې دی: ولنا رواية وائل بن حجر ﷺ والبراء ﷺ وانس ﷺ أن النبی ﷺ كان اذا كبر رفع يديه حذاء اذنيه ؒ هدايه (۳) ددی څخه معلومه سوه چې داحنافو په نزد اصل دادی چې ابهامين دی داذنينو سره برابر کړي. نوکه چيرې دڅه عذر په وجهې سره لاس دغوږ نرميوته ونه رسيږي اومحاذات حاصل سي نو داسنت اداء سو. فقط

**دبې نکاحه ښځې ساتونکي امامت درست دی اوکه نه؟ سوال:** (۸۷۷) زيد اوهنده نامحرمه په يو کورکې دخپلو په شان اوسي اودنکاح متعلق پرېوښتنه کولو باندې زيد وايي چې موږ په خپلو کې ايجاب او قبول کړی دی، هم خانګې يې ثابته ده ، داسې سړي دامامت

(۱). ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل تاليف الصلوة ص ۴۵۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۸۲ – ۴۸۳ . ظفير
(۲). هدايه باب صفة الصلوة ص ۹۴ ج۱. ظفير
(۳). هدايه باب صفة الصلوة ج ۱ ص ۹۴ . ظفير

قابل دی اوکه نه؟

**جواب**: ایجاب اوقبول که چیری ددوو شاهدانو په مخکی وکړی، نونکاح تړل کیږی، مثلاً په خپله سړی اوښځه ددوو شاهدانو په مخ کی ایجاب اوقبول وکړی اوڅوك دریم سړی نکاح تړونکی نه وی بیاهم نکاح کیږی. نوکه چیری زید داووایی چی موږ پخپله ایجاب اوقبول ددوو شاهدانو په موجودګی کی کړی دی نودهغوی نکاح ثابته ده، هغوی ښځه اوخاوند ګڼل پکاردی. اودبی نکاحه ښځی ساتلو الزام پرهغه باندی لګول نه دی پکار، اولمونځ په هغه پسی (۱) صحیح دی.

**دنوی مسلمانی ښځی دجائز زوی امامت درست دی**: **سوال** : (۸۷۸) زید دنوی مسلمانی هندی، سره دشریعت حقه مطابق نکاح وکړه، دنکاح څخه وروسته دنوی مسلمانی دنس څخه یوهلك پیدا سو. هغه چی دبلوغ څخه وروسته دشرعی احکامو څخه ښه خبردار سی نولمونځ ورکولی سی اوکه نه؟ که چیری دهغه امامت جائزوی نوچی څوك ورته ناجائز وایی هغه ګنهګار وی اوکه نه ؟

**جواب**: دهغه امامت بغیر دکراهته صحیح دی اوکم سړی چی داوایی چی په ده پسی لمونځ جائز نه دی هغه پرغلطی باندی دی، هغه ته مسئله معلومه نه ده (۲). فقط

**چی څوك تراوږو پوری وریښته ساتی دهغه امامت جائزدی اوکه نه؟** **سوال**: (۸۷۹) دچا وریښته چی تراوږو پوری وی دهغه امامت جائزدی اوکه نه ؟ بکر وایی چی دداسی سړی امامت جائز نه دی.

**جواب**: دبکر قول غلط دی، دزید امامت په دی وجه سره مکروه نه دی ولی چی بعضی وخت به دحضور ﷺ وریښته مبارك تر اوږو پوری رسیدل. لکه چی امام نووی ؒ فرمایی:

ووجه اختلاف الروايات فی قدر شعره اختلاف الأوقات فاذا غفل عن تقصيرها بلغت المنكب واذا قصر ها كانت الٰى انصاف الاذنين. (۳) فقط

**دچا دزخم څخه چی زوی راوزی دهغه امامت جائزدی اوکه نه؟** **سوال**: (۸۸۰) دکم سړی دمقعد په یوه حصه کی چی ننکی (دانی) وی او دهغه څخه اوبه ، زوی راوزی ، کله بندی

---

(۱). وينعقد متلبسا بايجاب من احدهما وقبول الاخر ... وشرط كل من العاقدين لفظ الاخر ليتحقق رضاهما وشرط حضور شاهدين حرين مكلفين سامعين قولهما معا على الاصح (الدر المختار على هامش رد المحتار كتاب النكاح ص۳۲۱ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۹). ظفير

(۲). والاحق بالامامة تقديما بل نصبا الاعلم باحكام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة وحفظه قدر فرض وقيل واجب وقيل سنة (درمختار) اى وان كان غيرمبتحر فى بقية العلوم وهواولى من المتبحر (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفير

(۳). شرح نووی للمسلم باب صفة شعره ﷺ ص ۲۲۸ ج۲ . ظفير

هم سی نو داسی سړی مستقل دجومات امام کیدی سی اوکه نه؟

**چی دچا دپلار حال معلوم نه وی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟ سوال**: (٨٨١) دکم سړی دپلار حال چی معلوم نه وی چی څوك وو، آیا هغه دجومات مستقل امام کیدی سی اوکه نه؟

**جواب**: (١) په کم حالت کی چی زوی اواوبه وغیره دهغه څخه بهیږی، په هغه حالت کی په هغه پسی لمونځ صحیح نه دی اوپه کم حالت کی چی بندوی، په هغه وخت کی په هغه پسی لمونځ صحیح دی اوپه دی کی قول ددغه امام معتبر دی. ([1])

(٢) که چیری هغه پخپله دامام جوړولو لائق دی مثلاً دلمونځ دمسائلو څخه خبردی او قرآئت صحیح وایی اودفسق اوفجور څخه ځان ساتی نوهغه امام جوړولی سی. په شامی کی تصریح ده چی که چیری ولد الزنا پخپله صالح اوعالم وی، نو دهغه امامت بغیر کراهته صحیح ([2]) دی. فقط

**دشافعی المذهب اقتداء؟** ([3]) **سوال**: (٨٨٢) دشافعی المذهب اقتداء په حنفی المذهب امام پسی درسته ده اوکه نه؟ یوسړی په حنفی پسی دشافعی المذهب اقتداء ته ناجائز وایی، اوپه عدم جواز باندی یی دلاندینی عبارت حواله درج کړیده اویوخط یی درجستیر په ذریعه رالیږلی دی، چی په هغه سره په خپلوانو کی تفرقه راغلی ده. هغه عبارت دادی: قال شیخنا إبن حجر الهیثمی تبعا لشیخه الزکریا الانصاری: وکذا لو کان الامام لا یعتقد وجوب بعض الارکان او الشروط وان اتی بها لانه یقصد بها النفلیة وهو مبطل عندنا کما فی فتح المعین ؒ

**جواب**: په حنفی مذهب کی په دی باره کی تحقیق دادی چی اقتداء دحنفی په شافعی المذهب امام پسی جائز ([4]) ده. اودشوافعو په نزد هم معتبره (خبره) همدا معلومیږی چی

---

([1]). ولا یصلی الطاهر خلف من فی معنی المستحاضة (هدایه باب الامامة ص ١١٣ ج١) . ظفیر

([2]). ولد الزنا هٰذا ان وجد غیرهم والا فلا کراهة (درمختار) ولو عدمت ای علة الکراهة بان کان الاعرابی فضل من الحضری، والعبد من الحر، وولد الزنا من ولد الرشدة والاعمی من البصیر فالحکم بالضد ؒ ولعل وجهه ان تنفیر الجماعة بتقدیمه یزول اذا کان افضل من غیره بل التنفیر یکون فی تقدیم غیره (رد المحتار باب الامامة ص ٥٢٣ وص٥٢٥ ج١ ، ط.س. ج١ ص ٥٢٠ - ٥٢٢ ). ظفیر

([3]). دزیات تحقیق دپاره ددې حصې په پای کی رساله مسمٰی په (غایة التحقیق ونهایة التدقیق، فی تحقیق مسئلة اقتداء الحنفی بالشافعی) دعلامه سندی رحمه الله وګورئ. محمد أحمد الحقانی الأفغانی عفاالله

([4]). وکذا تکره خلف امرد (الی قوله) وزاد بن مالك ومخالف کشافعی لکن فی وتر البحر ان تیقن المراعاة لم یکره (در مختار) واما الاقتداء بالمخالف فی الفروع کالشافعی فیجوز مالم یعلم منه مایفسد الصلاة علی اعتقاد المقتدی علیه الاجماع انما اختلف فی الکراهة (رد المحتار مطلب فی الاقتداء بشافعی ص٥٢٢ ج ١، =

دهغوی په نزد هم اقتداء دشافعی په حنفی امام پسی صحیح ده، اوکم قسم روایات چې دغه منکر سړی رااخیستلی دی داقسم روایات په حنفی مذهب کی هم سته، خوهغه معتبر نه دی. دهمدی قبیل څخه دغه روایت معلومیږی، ولی چې دحرمینو دعلماوو عمل ددی خلاف دی، هلته برابر شوافع دحنفیانو اوحنفیان دشوافعو اقتداء بلا انکار کوی. باقی روایات چې هرقسم وی خواعتبار دمحققینو دقول دی. نو په داسی روایاتو سره څه تردد دشافعی داقتداء په حنفی امام سره کیدل نه دی پکار. پوره تفصیل دشوافعو دمذهب په کتابونو کتلو سره معلومیدی سی، کم چې زیات دلته موجود هم نه دی، اودکتلو فرصت یې هم نسته. (۱) فقط

**دخاوند اقتداء**: **سوال**: (۸۸۳) یوه ښځه په یوازی والی کی په خاوند پسی فرض لمونځ کولی سی اوکه نه؟

**جواب**: که چیری ښځه په خپل خاوند پسی اقتداء کوی نولمونځ یې صحیح دی خوهغه ته برابر دریدل نه دی پکار، شاته دی داودریږی. اوکه چیری یوازی نیت تړی نوبیاکه ورسره برابره ودریږی اوکه وروسته، هرډول لمونځ صحیح دی. په درمختار کی دی: واما الواحدة فتتاخر، وفیه: اما اذا کان معهن واحد ممن ذکر ای اخته وزوجته او أمَّهنَّ فی المسجد لایکره. (۲) بحر. فقط

**صرف په لنګ او دستمال سره لمونځ درست دی اوکه نه؟** **سوال**: (۸۸۴) امام چې یولنګ ووهی، اویو دستمال پرځان وپیچی نوامامت یې درست دی اوکه نه؟

جواب: درست دی. فقط

**دمصنوعی غاښ جوړونکی امام کیدل څنګه دی؟** **سوال**: (۸۸۵) یوسړی دجومات امام دی. دهغه غاښونه مصنوعی دی نو دمصنوعی غاښونو په لګولوسره قرآن کریم ویل اوامامت کول درست دی اوکه نه؟

**جواب**: درست دی. فقط (ځکه چې غاښ لګول فقهاوو درست لیکلی دی، برابره خبره ده که هغه دسپینوهم وی. بلکی امام محمدؒ دسرو زرو غاښ لګولو ته هم درست وایی: إِذَا جُدِعَ أَنْفَهُ أَوْ أُذُنُهُ أَوْ سَقَطَ سِنُّهُ ، فَأَرَادَ أَنْ يَتَّخِذَ سِنًّا آخَرَ فَعِنْدَ الْإِمَامِ يَتَّخِذُ وَذَلِكَ مِنْ الْفِضَّةِ فَقَطْ ، وَعِنْدَ

---

= ط. س. ج۱ ص ۵۲۲ – ۵۲۳).

(۱). الدر المختار ص۸۳ ج۱، ط. س. ج۱ ص ۵۲۲ . ظفیر

(۲). والمستحب ان یصلی الرجل فی ثلثة اثواب ازار وقمیص وعمامة ولو صلی فی ثوب واحد متوشحا به جمیع بدنه کما یفعله القصار فی المقصرة جاز من غیر کراهة مع تیسیر وجود الطاهر الزائد ولکن فیه ترك الاستحباب (غنیة المستملی فصل الذی یکره فی الصلوة ص ۳۳۷). ظفیر غفرله ذنوبه

مُحَمَّدٍ ﷺ مِنَ الذَّهَبِ أَيْضًا. ، (ردالمحتار کتاب الحظر والإباحة فصل فی اللبس ص ۳۱۸ ج ۵. ظفیر)

**ددهوکی ورکونکی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال:** (۸۸۶) مایو سړی ته یوه توله سره زر ورکړی وه چې ته ددی څخه گشته (۱) جوړه کړه. خلاصه داچې هغه سره زرکښې ښوول او داوسپنی کشته یې ماته راکړه اوهغه امام دی، لهٰذاپه هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب:** دغه سړی فاسق دی، په هغه پسی لمونځ مکروه دی، هغه دامامت څخه معزول کول پکار (۲) دی. یا داچې هغه توبه وکاړی. فقط

**دظلم دفع کولو دپاره چې کم سړی دروغ ووایي دهغه امامت څنګه دی: سوال:** (۸۸۷) خلاصه داچې زید په عمر باندی ددروغو دعوٰی په عدالت کی دائره کړه. حال داچې زید په څه خبره باندی مجبوره سوی وو اوعمر یې په خپلو وهلی وو، خودعوٰی په بل عنوان اونامه باندی وسوه. دعمر وکیل دعمر دطرفه قطعًا انکار وکی ولی چې په اقرار سره دسزا ورکول کیدو اندیښنه وه په داسی صورة کی په عمر پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب:** په درمختار کی دی چې دظلم دفع کولو دپاره دروغ ویل جائز دی. الکذب مباح لاحیاء حقه ودفع الظلم والمراد التعرض (۳) الخ. لهٰذا په دی صورة کی دعمر امامت صحیح دی اولمونځ په هغه پسی بغیرکراهته درست دی.

**ښځې دجومات دامام اقتداء په نژدې کور کی کولی سی؟ سوال:** (۸۸۸) دجومات سره په نژدی کورکی زنانه دجمعی اواخترونو لمونځ دامام په تکبیر باندی اداء کولی سی اوکه نه؟ جواب: کولی یې سی (۴). فقط

**چې دچا پښې پرې سوی وی دهغه امام کیدل څنګه دی؟ سوال:** (۸۸۹) دیوسړی دواړی پښی ترزنګنونو پوری پرې سوی دی چې دهغه په وجهی سره رکوع اوجلسه کماحقه نه اداء کیږی او قرآن شریف صحیح وایی، دلمانځه روژی پایبنده دی، د داسی سړی امامت

(۱). کشته: یو قسم خاص دارو کم چې دسرو زرو اونورو موادو په ګډولو سره یې طبیبان جوړوی او دطاقت زیاتولو دپاره مفید دی، دا دارو اکثره زیات مالداره خلګ استعمالوی. والله أعلم. محمّد أحمد حقانی"

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه (ای الفاسق) کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ ). ظفیر

(۳). الدر المختار علی هامش رد المحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ص ۳۷۷ ج ۵، ط. س. ج۲ ص ۳۲۲. ظفیر

(۴). والحائل لا یمنع الاقتداء إن لم یشتبه حال إمامه بسماع أو رؤیة، ولو من باب مشبك یمنع الوصول في الاصح ولم یختلف المکان حقیقة کمسجد وبیت في الاصح ولو اقتدی من سطح داره المتصلة بالمسجد لم یجز لکن تعقبه في الشرنبلالیة، ونقل عن البرهان وغیره أن الصحیح اعتبار الاشتباه فقط. (درمختار) ای ولاعبرة باختلاف المکان الخ والذی یصحح هٰذا الاختیار ما روینا ان رسول الله ﷺ کان یصلی فی حجرة عائشه رضی الله عنها والناس یصلون بصلاته الخ (رد المحتار باب الامامة ص ۵۴۸ وص ۵۵۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۶-۵۸۸). ظفیر

صحیح دی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ په هغه پسی صحیح دی لیکن ښه داده چی بل امام مقرر کړل سی دچاچی لاس اوپښی صحیح اوسالم وی، اوهغه عالم اوصالح اودامامت په صفاتو سره متصف وی. په شامی کی دی: وکذا اعرج یقوم ببعض قدمه فالاقتداء بغیره اولی تاتارخانیه وکذا (۱) اجذم الخ. ددی څخه معلومه سوه چی دپښو پریکړی امامت په درجه اولی مکروه دی. که څه هم لمونځ په هغه پسی کیږی، خوښه داده چی بل امام مقرر کړی. فقط

**په رشتینی شاهدی ورکونکی پسی لمونځ درست دی**: **سوال**: (۸۹۰) کم سړی چی دڅه ضرورت په وجه رشتینی شاهدی ورکوی په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه مکروه؟

**جواب**: رشتینی شاهدی ورکول موجب دثواب ده اوپه بعضو موقعو کی ضرورت سی، لهٰذا لمونځ په هغه پسی بغیر کراهته درست دی. فقط

**په قرآنی آیتونو سره دپیسو ګټونکی امامت**: **سوال**: (۸۹۱) دداسی سړی امامت درست دی اوکه نه څوك چی په قرآنی آیتونو سره عمل (یعنی دم اوچوپ) کوی اواجرت اخلی؟

**دسفلی عمل څخه دتوبه کونکی امامت**: (۲\۸۹۲) کم سړی چی سفلی عمل کوی اوبیا رشتینی توبه وکاږی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟

جواب: (۱) درست (۲) دی.

(۲) وروسته دتوبی څخه امامت دهغه (۳) درست دی. فقط

**کم مسلمان چی دبنګی دجنازې لمونځ کوی دهغه امامت جائز دی اوکه نه؟ سوال**: (۸۹۳) یو سړی دبنګیانو جنازه کوی، کله چی دبنګی په کور کی ماشوم پیداسی نودهغه په غوږ کی اذان ورکوی، آیا داسی سړی دامامت قابل کیدی سی، دداسی سړی دپاره شریعت څه سزا ټاکی؟

**جواب**: که چیری دغه بنګیان مسلمانان وی نو دهغوی دجنازی لمونځ کول ضروری دی اودهغوی دماشوم په غوږکی اذان ویل هم مشروع دی، لهٰذا پردغه سړی باندی اعتراض نسته (۴) اوکه چیری دغه بنګیان کافران وی، داسلام کلمه نه وایی نوبیا داکارونه ناجائز

---

(۱). ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۵** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۲۲** . ظفیر

(۲). په قرآنی آیتونو باندی په دم اوچوپ کولوباندی اجرت اخستل جائزدی. لان المتقدمین المانعین للاستیجار مطلقا جوزوا الرقیة بالاجرة ولو بالقرآن کما ذکر الطحاوی لانها لیست عبارة محضة بل من التداوی (ردالمحتار. کتاب الاجارة مطلب فی الاستیجار علی الطاعات ص ۴۸ ج **۵** ، ط.س. ج۱ ص ط.س. ج۲ ص **۵۵**). ظفیر

(۳). قال رسول الله ﷺ التائب من الذنب کمن لاذنب له (مشکوٰة باب الاستغفار فصل ثالث ص ۲۰۲) . ظفیر

(۴). وهی فرض علی کل مسلم مات خلا اربعة الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة الجنائز ص ۸۱۴ ج۱ ، ط.س. ج۲ ص ۲۱۰). ظفیر

(۱) دی. دغه امام ته ددی څخه توبه کول پکاردی او وروسته دتوبې څخه هغه امام پاته کیدی سی. فقط

**چی امام په مکروه وخت کی جمعه ورکوی نومقتدیان دی څه وکړی؟** **سوال**: (۸۹۴) د درگاه سره نژدی یو جومات دی، دهغه سجاده نشین (مشر) په آخری مکروه وخت کی لمونځ کوی اوامام اومؤذن هم دهغه دمرضی مطابق کارکوی. آیادمحلی خلګوته داحق سته چی په اول وخت کی لمونځ اداء کړی. اودغه امام لیری کړی اوبل امام مقرر کړی، داخبره درسته ده اوکه نه؟

**جواب**: اولاً واضحه دی وی چی هریو لمونځ په اول وخت کی اداء کول داحنافو په نزد مسنون اومستحب نه دی بلکی دسهار په لمونځ کی اسفار مستحب دی. هم دغه رکم په دوبی کی په ماپښین کی تاخیر مسنون دی او دماخستن په لمانځه کی دشپې تردریمی حصې پوری تاخیر مستحب دی، (۲) اودادی هم واضح وی چی مکروه وخت صرف په مازدیګر کی دی، چی مازدیګر دومره مؤخر کړی چی په لمر کی تغیر راسی اوژړوالی پکښی راسی، باقی په نورو لمونځونوکی ټول وخت کامل دی، مکروه وخت په هغوی کی نسته، البته دماخستن لمونځ دنیمی شپې څخه وروسته کول په بلی وجهی سره چی هغه تقلیل دجماعت دی مکروه (۳) دی. غرض داچی هریو لمونځ مؤخر کول مکروه نه دی بلکی دمازیګر لمونځ دغروب څخه ترمخکی پوری مؤخر کول اودماخستن لمونځ دنیمی شپې څخه وروسته کول مکروه دی. ددی څخه وروسته جواب ظاهردی چی که چیری سجاده صاحب اوامام صاحب داسی نه کوی چی دمازیګر لمونځ غروب ته نژدی کوی او دماخستن لمونځ دنیمی شپې څخه وروسته کوی نوصرف دسهار اوماپښین په لمونځ او دماخستن اومازیګر په لمونځ کی دتاخیر کولو په وجهی سره دهغوی مخالفت دی ونه سی. اومخکنی امام دی موقوف نه سی البته حتٰی الوسع داحنافو په نزدچی کم مستحب اوقات دی دهغه رعایت دی وسی لیکن که چیری یولمونځ په مکروه وخت کی نه کیږی نوبیا مخالفت کول اوجګړه کول درست نه دی. فقط

**دبرص والا امامت**: **سوال**: (۸۹۵) کم سړی چی سید او دمسائلو څخه خبر وی او پرهیزګار

---

(۱). وشرطها ستة اسلام المیت (ایضًا ص ۸۱۱ ج ۱ ، ط.س. ج۲ ص ۲۰۷). ظفیر

(۲). ویستحب الاسفار بالفجر والابراد بالظهر فی الصیف وتقدیمه فی الشتاء وتاخیر العصر مالم تتغیر الشمس فی الصیف والشتاء ویستحب تعجیل المغرب وتاخیر العشاء الی ماقبل ثلث اللیل (هدایه مختصراً ص۷۸ ج ۱).

(۳). وتاخیر عشاء (الی قوله) فان اخرها الی مازاد علی النصف کره لتقلیل الجماعة اما الیه فمباح واخر العصر الی اصفرار ذکاء (الدر المختار کتاب الصلاة ، ط.س. ج۱ ص ۳۶۸). ظفیر

وی لیکن دهغه په ګوتوکی پردوه دری ګوتو باندی دبرص داغ وی، په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب:** په ذکر سوی امام پسی لمونځ بغیر کراهته درست دی، دبرص په دومره قدر داغ سره دامام مذکور په امامت کی هیڅ کراهت نه راځی. کذا فی الشامی ([1]). فقط

**دقادیانی امامت درست نه دی؟ سوال:** (۸۹۲) په قادیانی فرقی پسی لمونځ کول جائزدی دی اوکه نه؟

**جواب:** درست نه دی ولی چی دهغوی پرکفر باندی فتوٰی ([2]) ده. فقط

**عالم دجاهل اقتداء کولی سی اوکه نه؟ سوال:** (۸۹۷) که چیری یوجاهل لمونځ ورکوی اویو عالم یاعالم دمسائلو په قدر دضرورت راغی، نودغه عالم په هغه پسی اقتداء وکړی او که نه؟ که اقتداء یی وکړه نوپه لمانځه کی یی څه قصور خو رانه غی؟

**جواب:** اقتداء دی وکړی په لمانځه کی څه قصور نسته ([3]). فقط

**کم سړی چی په استنجاء کی صرف اوبه استعمالوی دهغه امامت؟ سوال:** (۸۹۸) یوسړی عادةً لوټه نه استعمالوی متیازی وکړی اوحشفه ومینځی نو په دی وجهی سره دهغه طهارت ناقابل اعتباردی، اوهمدغه سړی لمونځ ورکوی، نواوس محتاط سړی چی کله راغی نو دی په هغه پسی اقتداء اوکړی اوکه نه؟ که چیری اقتداء نه کوی نوآیا ځان ته جلا فرض دی وکړی اوکه دی دهغه دفراغت په انتظار کی ولاړ اوسی، کله چی جمعه ختمه سی هلته دی وکړی؟

**جواب:** اقتداء دی وکړی اوهیڅ وهم دی نه کوی. ([4]) فقط

**دصاحب ترتیب اقتداء په هغه چاپسی دچا لمونځونه چی فوت کیږی:** **سوال:** (۸۹۹) دصاحب ترتیب اقتداء په هغه امام پسی کیږی اوکه نه دچاچی لمونځ فوت کیږی؟

**جواب:** کله چی امام صاحب ترتیب نه دی نودهغه لمونځ صحیح دی نوپه هغه پسی دصاحب ترتیب لمونځ هم صحیح دی ولی چی د مقتدی لمونځ دامام د لمانځه تابع دی

---

([1]). وکذا تکره خلف امرد الخ وابرص شاع برصه (درمختار) والظاهر ان العلة النفرة ولذا قید الابرص بالشیوع لیکون ظاهراً (ردالمحتار باب الامامت ص **۵۲۵** ج۱ ، **۵۲۲**). ظفیر

([2]). وان انکر بعض ماعلم من الدین ضرورة کفر بها الخ فلایصح الاقتداء به اصلا (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص**۵۲۴** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۲۱**). ظفیر

([3]). فاذا اخرج الحروف اخرجها علی الصحة لایکره ان یکون امام (عالمگیری مصری ص۸۱ ج۱ ، ط. م. ج۱ ص ۸۲).

([4]). الیقین لایزول بالشك (الاشباه والنظائر القاعدة الثالثة ص **۷۵**) ثم اعلم ان الجمع بین الماء والحجر افضل ویلیه فی الفضل الاقتصار علی الماء ویلیه الاقتصار علی الحجر وتحصل السنه بالکل وان تفاوت الفضل (رد المحتار فصل فی الاستنجاء ص ۳۱۳ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۳۳۸). ظفیر

صحةً اوفساداً ([1]) (دصحت په اعتبار سره هم اودفساد په اعتبار سره هم). فقط

**دمسبوق اقتداء**: **سوال**: (٩٠٠) يوسړی په جمعه کی هغه وخت شريك سو کله چی امام يو رکعات کړی وو دجمعی ختميدلو څخه وروسته ذکر سوی سړی خپل باقی مانده پوره کوی، په دی وخت کی دوو نورو سړيانو اودس وکی اوپه مخکنی سړی پسی يی نيت وتړی او ودريدل. مخکنی سړی خپل رکعت پوره کړی کم دوه سړی چی وروسته راغلی وه دهغوی يورکعات باقی پاته سو. ددی څخه وروسته يو يا دوو نورو سړيو اودس وکی اودهغوی څخه وروسته ودريدل. همدغه رکم پنځه واره شامليدل وسول، په دی طريقی سره اقتداء درسته سوه اوکه نه؟

**جواب**: دکم سړی چی يو يادوه رکعاته فوت سی او وروسته راسی په جمعه کی شامل سی هغه ته مسبوق وايی کم وخت چی دامام دسلام ګرځولو څخه وروسته هغه دخپل رکعات دپوره کولو دپاره ولاړيږی نوپه هغه پسی دچا اقتداء کول درست نه دی، ددغه مقتديانو لمونځ به نه صحيح کيږی کم چی به راتلل اوشامليدل به څنګه چی په درمختار کی دمسبوق په حال کی دی: لا يجوز الاقتداء ([2]) به. فقط

**دترک واجب په وجهی سره چی څوک دجماعت اعاده کوی دهغه اقتداء بل څوک نسی کولی**: **سوال**: (٩٠١) دترکِ واجب په وجهی سره په دوهمه جمعه کی که چيری څوك نوی داسی سړی شريك سی دچا په ذمه چی فرض باقی دی، يا دمخکنی جمعی مسبوق دچا چی په مخکنی جمعه کی دشريکيدلو څخه مخکی ترکِ واجب سوی وو هغه خپل لمونځ پوره کړی اوپه دوهمه جمعه کی شريك سی، ياپه مخکی جمعه کی دشريکيدلو څخه وروسته چی دامام څخه واجب ترك سو اوبيا مسبوق لمونځ پوره کی اوپه دوهمه جمعه کی شامل سو، په دی دری واړو صورتونو کی به دچا لمونځ صحيح کيږی اودکمی درجی به وی اودچا دابه نه صحيح کيږی. اويوشکل دادی چی مسبوق اخته دی خپل لمونځ پوره کوی اودوهمه جمعه شروع سوه نو دهغه شريکيدل ورسره مناسب دی اوکه نه؟

**جواب**: صحيح داده چی دترکِ واجب په وجهی سره دوباره لمونځ کول جابر دمخکی (لمونځ) دپاره دی، يعنی فرضيت مخکی اداء سو بس کم نوی سړی چی په دوهمه جمعه

---

([1]). فلا يلزم الترتيب اذا ضاق الوقت المستحب حقيقة الخ ونسيت الفائتة لانه عذر اوفاتت ستة اعتقادية لدخولها فی حد التكرار المقتضی للحرج (در المختار علی هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ص ٢٨ ج١ ، ط.س. ج١ ص **٥٩٧**). ظفير

([2]). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی المسبوق واللاحق ص **٥٥٥** ج١ ، ط.س. ج١ ص **٥٩٧**. ظفير

کی شریکیږی دهغه فرض لمونځ به نه صحیح کیږی، همداخبره محقق ابن همام رحمه الله علیه خوښه کړیده اوهمدا صحیح ده. نومسبوق ته پکار دی چی خپل لمونځ دی پوره کړی، بیا دی په دوهمه جمعه کی شریك سی، اوکه چیری مخکنی لمونځ یی مات کی اوپه دوهمه جمعه کی شریك سو نودهغه لمونځ به نه صحیح کیږی. په درمختار کی دی: والمختار انه جابر للاول لان الفرض لایتکرر الخ. فقط

**په تراویح کونکی پسی دفرض والا لمونځ درست نه دی: سوال:** (۹۰۲) دزید دعوٰی ده چی دتراویح لمونځ اوس کیږی، اوبکر چی وروسته راورسیدی نو دماخستن فرض لمونځ دی ځان ته جلا نه کوی بلکی په امام پسی دی کوی په کم حالت کی چی امام دی پخپله دی بکر دماخستن دفرض لمونځ نیت وکړی اوپه جمعه کی دی شامل سی، دبکر فرض به وسی.

**دمازیګر لمونځ کونکی اقتداء دماپښین لمونځ کونکی نه سی کولی:** (۹۰۳\۲) دزید دعوٰی ده چی دمازیګر جمعه کیږی، بکر چاچی ددی ورځی دماپښین لمونځ تراوسه پوری اداء کړی نه دی وروسته راغی نودامام سره دی دماپښین دلمانځه نیت وکړی، اوشامل دی سی، دهغه دماپښین لمونځ به وسی دمازیګر لمونځ دی وروسته وکړی.

**جواب:** (۱) دزید دعوٰی غلطه په تراویح کونکی پسی فرض نه ادا کیږی. (۱)

(۲) دادعوٰی هم دزید غلطه ده، دمازیګر په لمونځ کونکی پسی دماپښین لمونځ نه صحیح کیږی. (۲) فقط

**دمولود مروجه اوقوالی اوعرس کونکی امامت درست دی اوکه نه؟ اوکه مجبوری وی نوڅه دی وسی؟ سوال:** (۹۰۴) کم سړی چی مروجه مولود کوی اوپه هغه کی غزلی ویل کیږی اوپه عرس وغیره کی هم شریکیږی، اوقوالی اوری، په هغه پسی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟ که نه کیږی اودهغه په لیری کولو کی فتنه وی نوپه دی صورة کی څه حکم دی؟

**جواب:** لمونځ صحیح کیږی لیکن که چیری دهغه په لیری کولو کی فتنه نه وی نوهغه دی دامامت څخه لیری سی، اوکه چیری فتنه وی نوپه هغه پسی دی لمونځ کوی ځکه چی تر یوازی لمونځ کولو په هغه پسی لمونځ کول په جمعی سره ښه دی. (۳) هکذا فی الشامی

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة مطلب واجبات الصلوة ص ۴۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۵۷. ظفیر

(۲). لا یصح اقتداء رجل بامرأة الخ ولا مفترض بمتنفل (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۹). ظفیر

(۳). وفی النهر عن المحیط صلی خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة (درمختار) افاد ان الصلاة خلفهما =

وغیرها. فقط

**که په روافضو پسی یی لمونځ وکی نو صحیح سو اوکه نه؟ سوال:** (۹۰۵) رافضی (یعنی شیعه) څوك چی اصحاب ثلاثه (ابوبکر رضی الله عنه، عمر رضی الله عنه، عثمان رضی الله عنه) ته بد وایی اوحضرت علی رضی الله عنه ته ښه وایی آیا په هغه پسی لمونځ صحیح کیږی؟ که چا وکی نو راګرځول یی پکار دی اوکه څنګه؟

**جواب:** شیخینو ته په بد رد ویونکی رافضی پسی لمونځ صحیح نه دی په هغه پسی لمونځ مه کوی که کړی مو وی نو راګرځول یی پکار (۱) دی. فقط

**دنو عمر هلک امامت که چیری هغه په قرآئت کی غلطی کوی څنګه دی؟ سوال:** (۹۰۶) یو نوعمر بی ږیری اوبریتو هلك دیوجومات په امامت باندی مقرر سوی دی، هغه دقیام په حالت کی په بیباکی سره آسمان طرفته ګوری اواکثره په خپل مصنوعی تجوید کی آلله اکبر (نعوذ بالله منه) وایی، دجماعت اکثره ناخبره مسلمانان دهغه امامت جائز ګڼی اوپه هغه پسی لمونځ کوی، اوکم سړی چی په ذکر سوی وجهی سره دهغه اقتداء مکروه ګڼی اوانکار باندی کوی اوپه خپل کور کی یاپه جومات کی دجمعی دلمونځ څخه وروسته یوازی لمونځ کولو ته ترجیح کوی، دجماعت خلګ هغه ګنهګار ګڼی اوترك تکلم وغیره ورسره کوی، دذکرسوی امام امامت، دمقتدیانو دافعل اودمنکر انکار جائزدی اوکه څنګه. اقتداء کونکی پرحق باندی دی یاهغه خلګ څوك چی اقتداء نه کوی؟

**جواب:** په درمختار کی دی: وکذا تکره خلف امرد وسفیهٍ الخ اوپه شامی کی دی: الظاهر انها تنزیهیة الخ حاصل دادی چی په امرد پسی لمونځ مکروه تنزیهی یعنی خلاف اولی دی، لمونځ صحیح کیږی، لیکن که چیری یوه لمونځ ماتونکی غلطی دهغه څخه وسی نو لمونځ نه صحیح کیږی. (۲)

کم خلګ چی په ذکرسوی امرد (یعنی بی ږیری هلك) پسی لمونځ جائز ګڼی، اوکوی یی، هغوی پرحق باندی دی، لمونځ په هغه پسی صحیح دی. البته دالله پراول همزه باندی مدکول مفسد دصلوٰة دی، په داسی امام پسی لمونځ نه صحیح کیږی. (۳) لیکن که

---

= اولی من الانفراد لکن لاینال کماینال خلف تقی (ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۵** ج۱، ط.س. ج۱ ص**۵۶۲**).

(۱). ومبتدع لایکفر بها الخ وان انکر بعض ماعلم من الدین ضرورة کفر بها کقوله ان الله تعالی جسم کالاجسام وانکاره صحبة الصدیق فلایصح الاقتداء به اصلا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۴** ج۱، ط.س. ج۱ ص **۵۵۷**). ظفیر صدیقی

(۲). ردالمحتار باب الامامت مطلب فی امامة الامرد ص **۵۲۵** ج ۱، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹**. ظفیر

(۳). اذا اراد الشروع فی الصلوٰة کبر الخ بالحذف اذا مد احد الهمزتین مفسد وتعمده کفر (الدر المختار علی =

چیری هغه دامد پریږدی اوالله اکبر په صحیح طریقی سره وایی یعنی بالحذف، نولمونځ صحیح دی، نوکه چیری دمد کولو دانسبت ددغه امام طرفته صحیح وی بیا خو په دغه ذکر سوی امام پسی لمونځ پریښونکی پرحق باندی دی، په هغوی باندی طعن نسی کیدی، دامام دامردوالی په وجه سره جمعه پریښوول درست نه دی (۱). فقط

**په ناست سړي پسی دولاړ اقتداء درسته ده اوکه نه؟ سوال:** (۹۰۷) یوسړی دی، هغه په دی طریقی سره دلمونځ امامت کوی چی امام خو ناست وی اومقتدیان ولاړ اوسی.

**جواب:** دولاړ سړي لمونځ په ناست پسی درست دی لکه څنګه چی په درمختار کی دی: وقائم بقاعد یرکع ویسجد لانه ﷺ صلی اخر صلاته قاعداً وهم قیام (۲) الخ نوکه چیری امام معذور وی چی دریدلی نه سی نوهغه ته په ناسته جمعه ورکول درست دی اوپه هغه پسی ددریدونکو لمونځ درست اوصحیح دی.

**په غیر مقلد پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ سوال:** (۹۰۸) کم سړی چی غیر مقلدوی لیکن ددین امامانو ته بدنه وایی په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

**جواب:** که چیری دهغه عقائد هم داهل سنت والجماعت موافق وی اوسلفو ته بدنه وایی نو لمونځ په هغه پسی صحیح (۳) دی.

**څوک چی مړي ته غسل ورکوی دهغه امامت اوشاهدی درست دی اوکه نه؟ سوال:** (۹۰۹) کم سړی چی دمړو لمبولو کسب کوی په هغه پسی لمونځ کول اودهغه شاهدی شرعًا جائز ده اوکه نه؟ که چیری جائز وی نوفتاویٰ خیریه والا چی دمړي لمبوونکی امامت ته مکروه ویلی او دهغه شاهدی یی غیر معتبر لیکلی ده، دهغه به څه مطلب وی؟

**جواب:** مړي ته دغسل ورکولو داجرت اخستلو په جواز اوعدم جواز کی اختلاف دی. په درمختار کی دی: والافضل ان یغسل المیت مجانًا فان ابتغی الغاسل الاجر جاز ان کان تمه غیره الخ وفیه تفصیل ذکره الشامی، وعبارة الفتح : ولا یجوز الاستیجار علی غسل المیت ویجوز علی الحمل والدفن واجازه بعضهم فی الغسل ایضا ؒ شامی (۴)

---

= هامش در المحتار فصل فی تالیف الصلوة ص ج ۱) ظفیر

(۱). کله چی دفاسق مبتدع په وجهی سره دجمعی پریښولو حکم نسته نو دامرد دامام کیدلو په وجهی سره به دجمعی پریښوول څنګه درست وی. صلی خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة (در مختار) افاد ان الصلاة خلفهما اولی من الانفراد الخ (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲). ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۵۱ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۸). ظفیر

(۳). اوکه چیری بدرد ورته وایي نوددی په وجهی سره به هغه فاسق ګرځول کیږی. سباب المسلم فسوق (الحدیث) اودفاسق امامت مکروه تحریمی دی: وان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ ). ظفیر

نو مجوزین قائل دجواز دامامت بلا کراهت او دقبول دشهادت دی اوغیر مجوزین قائل دکراهت دامامت اوعدم قبول دشاهدی دی. نو قول دصاحب دفتاوٰی خیریی مطابق یعنی قول پر عدم جواز باندی دی.

**ځوک چی مغلظ طلاق ورکړی ښځه بغیر دحلالولو څخه ساتی دهغه امامت صحیح دی او که نه؟** **سوال:** (٩١٠) دجومات پیش امام خپلی ښځی ته دری ځلور واره طلاق ورکړی اود کور څخه یی وایسته اوبیا یی بغیر دحلالولو څخه په کورکی وساتله، په هغه پسی لمونځ جائز دی اوکه؟

**جواب:** دحلالولو څخه بغیر دمطلقه ثلاثه ساتل اوهغه ښځه جوړول حرام دی، دغه سړی فاسق اوزانی دی، په ده پسی لمونځ مکروه (١) دی.

**ځوک چی دکپړی آسونه جوړ کړی اودهغه تماشه خلکوته ښیی او پیسی ګټی دهغه امامت جائز دی اوکه نه؟** **سوال:** (٩١١) یوسړی دکپړی آسونه رقصوی اوتوپونه ورباندی وهی اوپه هغه باندی پیسی ګټی، په هغه پسی لمونځ جائز دی اوکه نه؟

**جواب:** په هغه پسی لمونځ مکروه دی، دغه سړی فاسق اومبتدع (٢) دی.

**دتعزیه پرست امامت څنګه دی؟** **سوال:** (٩١٢) یوسړی دجومات امام تعزیه پرستی ډیره کوی اوخلګو ته هم دهغه ترغیب ورکوی اوځوک چی نذر اونیاز ورباندی اچوی هغه په خپل مصرف کی راولی. اویو تصویر یی راوړی دی وایی چی داتصویر دامام حسین دی، دخلګو څخه روپی او پیسی اخلی اودهغه زیارت ورباندی کوی، په هغه پسی لمونځ جائز دی اوکه نه؟

**جواب:** دغه سړی فاسق اوبدعتی دی، دی امام جوړول حرام دی اوپه ده پسی لمونځ مکروه تحریمی دی. که چیری داسی سړی امام وی، نوکه چیری دی توبه ونه کاړی نودی دامامت څخه معزوله کول پکاردی. (٣)

**دنابینا حافظ امامت درست دی:** **سوال:** (٩١٣) یونابینا حافظ ځوك چی قرآن شریف صحیح

---

(٤). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ص ٨٠٤ ج١ ، ط.س. ج٢ ص ١٩٩ . ظفیر

(١). ویکره امامة عبد الخ اواعرابی الخ. اوفاسق الخ (درمختار) من الفاسق وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی واکل الربو اونحو ذالك (ردالمحتار باب الامامة. ص **٥٢٣** ج١ ، ط.س. ج١ ص **٥٦٠**). ظفیر

(٢). ویکره امامة عبد واعرابی وفاسق واعمٰی ومبتدع (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص **٥٢٣** ج١ ، ط. س. ج١ ص **٥٦٠**). ظفیر

(٣). واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامر دینه الخ بل مشٰی فی شرح المنیه علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص **٥٢٣** ج١ ، ط.س. ج١ ص **٥٦٠**) . ظفیر

وایی اودشرعی مسائلو څخه په ښه ډول خبر دی، خو دتراویحو دختم څخه علاوه پنځه وخته لمونځ اوجُمعی وغیره کی دکلی خلګ دهغه داقتداء څخه انکار کوی اووایی چی په نابینا پسی لمونځ درست نه دی. آیاپه دغه حافظ پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

**جواب**: حافظ نابینا څوك چی دشرعی مسائلو څخه خبر دی. اوصالح اومحتاط دی نو دهغه په امامت کی هیڅ کراهت نسته، بی کراهته په هغه پسی لمونځ صحیح دی، بلکی په شامی کی یی تحقیق کړی دی چی دداسی نابینا امامت دهغه بینا څخه افضل دی په کم کی چی ذکر سوی صفتونه نه وی، په حدیث کی دحضرت عبد الله ابن اُمّ مکتوم ﷛ چی نابینا صحابی وو، امام کیدل ثابت دی پخپله رسول الله ﷺ په سفر باندی دتللو وخت کی هغه دمدینی والاوو امام مقرر کړی وو. وکفٰی به حجةً (۱).

**د ګروی دمزکی څخه دفائده اخستونکی امامت څنګه دی؟** **سوال**: (۹۱۴) قاضی امام مسجد مزکه په ګروی اخیستی ده او ددغه مزکی منافع خوری، دامنافع په سود کی داخلی دی اوکه نه؟ اوپه داسی سړی پسی اقتداء کول جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: دګرو سوی مزکی نفع مرتهن ته اخستل صحیح نه دی ځکه چی په سود کی داخل دی اوداسی امام امام جوړول ممنوع دی لمونځ په هغه پسی که څه هم سره دکراهته اداء کیږی لیکن هغه دائمی امام جوړول نه دی پکار. کذا فی الشامی (۲).

**دشیخ او سید په موجود ګی کی بل سړی امام جوړیدی سی اوکه نه؟ او دتاجر امامت جائزدی اوکه نه؟** **سوال**: (۹۱۵) دشیخ اوسید په موجودګی کی بوډا امام جوړول څنګه دی او دوکاندار کم چی شریف اوپرهیزګار دی هغه امامت کولی سی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ په ټولو پسی کیږی دشیخ اوسید خاصوالی نسته. دشیخ اوسید لمونځ په غیر شیخ اوسید پسی کیږی، امام ته دامامت لائق کیدل پکاردی. دنسب په دی کی څه قید نسته. کم سړی چی دلمانځه دمسائلو څخه خبر وی اوپرهیزګار وی، هغه دامامت زیات حقدار دی، که سیدوی یادوکاندار وی، یاکسب والا وی، بوډا وی یاځوان (۳) وی.

**چاته چی دقطری ناجوړی وی دهغه امامت جائز دی اوکه نه؟** **سوال**: (۹۱۶) امام ته دقطری

---

(۱). قید کراهة امامة الاعمی فی المحیط وغیره بان لا یکون افضل القوم فان کان افضلهم فهو اولی ؒ لکن ورد فی الاعمی نص خاص هو استخلافه ﷺ لابن ام مکتوم وعتبان علی المدینة وکانا اعمیین لانه لم یبق من الرجال من هو اصلح منهما ؒ (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۲). ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) المراد به ان یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی واٰکل الربا ونحو ذالك (ردالمحتار ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

(۳). والاحق بالامامة تقدیمًا بل نصبًا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحةً وفسادًا (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفیر

ناجوړی ده، بعضی وخت نیت مات کی او اودس وکړی اواستنجاء صفا کړی کله چی دهغه څخه ښه سړی موجود وی نو دهغه دجواز دامامت څه حکم دی؟

**جواب**: که چیری هغه شرعی معذور نه وی، کله کله ورته قطره راځی نوپه کم حالت کی چی هغه ته قطره نه راځی لمونځ په هغه پسی درست (١) دی. فقط

**دشکرانو دشی خوروںکی امامت درست دی اوکه نه؟** **سوال**: (٩١٧) کم سړی چی د(زیارتونو) دشکرانو شیان خوری په هغه پسی لمونځ جائز دی اوکه نه؟ اوهغه دی قاضی جوړسی اوکه نه؟

**جواب**: داسی سړی کم چی دشریعت پایبند نه وی اوپه بدعاتو کی مبتلاوی اودشکرانی (نذر دشی) څخه پرهیز نه کوی هغه دامام جوړولو لائق نه دی (٢) اوهغه دی قاضی هم جوړنه سی.

**په افیونی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟** **سوال**: (٩١٨) کم سړی چی غیر متشرع دلمونځ روژی پایبند نه وی اوافیونی وی په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: په داسی امام پسی لمونځ مکروه دی، ولی چی هغه فاسق دی، اودفاسق امامت مکروه تحریمی (٣) دی.

**دقاتل او دخُمارګر امامت څنګه دی؟** **سوال**: (٩١٩) یوسړی بل سړی په خپل لاس سره قتل کی یادبل چاپه ذریعه یی وژلی وو اودخُمار عادی هم وو. خودڅو ورځو څخه اوریدل کیږی چی خُمار وغیره یی پریښوول. داسی سړی دیوجومات امام جوړول اوپه هغه پسی لمونځ کول جائزدی اوکه مکروه؟

**جواب**: دامسلمه ده. التائب من الذنب کمن لا ذنب له. (مشکوٰة، باب الاستغفار والتوبة، فصل ثالث ص ٢٠٩. ظفیر) نوکله چی مرتکب دکبیری دګناه څخه توبه وکاږی او فسق دهغه مرتفع (یعنی لیری) سو نو امامت دهغه بغیر دکراهته درست دی.

**دسودی قرض اخیستونکی اووعده نه پوره کونکی امامت درست دی اوکه نه؟** **سوال**: (٩٢٠) زیدقرض داری دی، اوقرض سره دسوده اوبغیر دسوده دواړه قسمه دی وعدی دهرقسم کوی، خوپوره والی دهیڅ یوه نه کیږی. په داسی صورة کی په زیدپسی لمونځ درست دی

---

(١). ولاطاهر بمعذور هٰذا ان قارن الوضوء الحدث اوطرأ علیه بعده وصح لوتوضا علی الانقطاع. ایضًا ص ٥۴١ ج١ ، ط.س. ج١ ص ٥٧٨). ظفیر

(٢). ویکره امامة عبد (الی قوله) ومبتدع ای صاحب بدعة (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة مطلب البدعة خمسة اقسام ، ط.س. ج١ ص ٥٢٠). ظفیر

(٣). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (در مختار) اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه الخ بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٣ ج١ ، ط.س. ج١ ص ٥٢٠). ظفیر.

اوکه نه؟

**جواب:** لمونځ په هغه پسی صحیح دی. لیکن که چیری سود قرض اخلی نوګنهګار دی په دی حالت کی لمونځ په هغه پسی مکروه (۱) دی.

**چی پرچا باندی دزنا تهمت ولګول سی خو شاهد هیڅوک نه وی، دهغه امامت څنګه دی،**

**سوال:** (۹۲۱) زیدپه یوجومات کی امام دی، عاموخلګو دامشهوره کړیده چی زید هندی سره زنا کړیده عین شاهدی هیڅوك نه ورکوی دیو بل څخه اوریدلی وایی. په دی صورة کی په زید پسی لمونځ کول درست دی اوکه نه؟ اوکمو خلګو چی تهمت لګولی دی دهغوی په باره کی څه ارشاد دی؟

**جواب:** بغیر دڅه ثبوت څخه پرزید باندی داسی تهمت لګول حرام اوناجائز دی تهمت لګونکی ګنهګاران اوعاصیان دی، هغوی دی توبه وکاږی (۲). اودزید امامت درست دی، بی تامله په هغه پسی لمونځ کوی.

**په مشرک تعزیه پرست پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ سوال:** (۹۲۲) مشرك تعزیه پرست، جنډه پرست وغیره پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ اوذبیحه دهغه حلاله ده اوکه نه، کله چی په بسم الله الله اکبر ویلو سره ذبحه کوی؟

**جواب:** په حدیث شریف کی دی صَلُّوا خَلْفَ كُلِّ بَرٍ وَفَاجِرٍ (الحدیث) لهٰذا تعزیه پرست چونکی کُلِّیَةً حقیقةً مشرکان نه دی، ددی وجه که چیری لمونځ په هغوی پسی وسو، نو وسو که څه هم احتیاط دادی چی ددغه لمونځ اعاده وسی او حتٰی الوسع دی په هغوی پسی لمونځ ونه (۳) سی. همدا حکم دهغوی دذبیحی دی چی حلاله ده، خواحتیاط په دی کی دی چی په هغوی باندی حلالی ونه سی.

**دزانی اولوطی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال:** (۹۲۳) یوسړی امام دی اوهغه زنا هم کوی اودهلکانو سره بدکارهم کوی، دهغه په باره کی څه حکم دی، آیادهغه امامت جائز دی اوکه نه؟

**جواب:** داسړی کم چی زانی اولوطی وی دامامت قابل نه دی فاسق او عاصی دی، که چیری هغه توبه وکاږی فَبِهَا ، کنی هغه دی امام جوړ نه سی ځکه چی لمونځ په هغه پسی

---

(۱). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) المرادبه من یرتکب الکبائر کشارب الخمر واکل الربا ونحو ذالك (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

(۲). القذف هولغة الرمی وشرما الرمی بالزنا وهو من الکبائر بالاجماع (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب حد القذف ص ۲۳۰ ج۳ ، ط.س. ج ۴ ص ۴۳). ظفیر

(۳). ویکره امامة عبد ؒ (الی قوله) ومبتدع ای صاحب بدعة ( الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

مکروه ([1]) دی.

**په عنین پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ اوپه مورزاده نامرد اوعارضی کی فرق سته اوکه نه؟**

**سوال**: (۹۲۴) په عنین پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ اوپه مورزاده نامرد اوعارضی نامرد کی څه فرق سته اوکه نه؟

**جواب**: په عنین یعنی نامرده سړی پسی بی کراهته لمونځ درست دی برابره خبره ده که هغه پیدائشی نامرد وی یاپه وجه دعارض (نامرد) سوی وی.

**امام چی څه غواړی ویل به یې کوی اوکه دمقتدی دهدایت مطابق؟ او دغزلو اوریدلو والا امامت مکروه دی اوکه نه؟** **سوال**: (۹۲۵) تابعداری مقتدی ته پکارده اوکه امام ته. اوامام چی کم قرآئت غواړی وایی به یې اوکه دمقتدیانو دوینا مطابق به یې وایی. که چیری امام غزلی اوری یا ددروغو شاهدی ورکوی نوپه هغه پسی لمونځ مکروه دی اوکه نه؟

**جواب**: په حدیث شریف کی دی: الامام ضامن، نو لمونځ دامام متبوع دی اومقتدیان دامام تابع دی اوپه قرآئت کی دی امام دمتقدیانو رعایت ساتی ([2]). که چیری امام غزلی اوری اوددروغو شاهدی ورکوی، نوهغه فاسق دی، په هغه پسی لمونځ مکروه کیږی، خولمونځ صحیح کیږی ځنګه چی په حدیث شریف کی دی. صَلُّوا خلف کل بر وفاجر. او فقهاوو دالیکلی دی چی فاسق امام معزوله کول پکاردی. ([3]) ولی چی په صالح امام پسی په لمونځ کولو کی زیات ثواب وی.

**دخلاف مسلک امام اقتداء**: ([4]) **سوال**: (۹۲۶) زید په جماعت کی شریك سو اودا معلومه نه وه چی دامام مذهب څه دی، په لمانځه کی معلومه سوه چی دامام مذهب دزید څخه خلاف دی، نواوس زید لمونځ وکړی اوکه لمونځ مات کړی؟

**جواب**: که چیری دزید مذهب مثلاً حنفی دی او دامام مذهب معلوم سو، چی شافعی دی یا مالکی دی، نودزید لمونځ په هغه پسی صحیح دی، دماتولو ضرورت نسته، بلکی دلمانځه ماتول په داسی حالت کی ([5]) ممنوع دی.

---

([1]). واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه (الی قوله) بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

([2]). قال رسول الله ﷺ : اذا صلی احدکم للناس فیلخفف فان فیهم الضعیف والسقیم والکبیر واذا صلی لنفسه فلیطول ماشاء (رد المحتار عن الصحیحین باب الامامة ص ۵۲۷ ج۱). ظفیر

([3]). واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه (الی قوله) بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

([4]). ددې مسئلې زیات تفصیل دفتاوی دار العلوم ددې دریمی ۳ حصې په پای کی درج سوی رساله کی وګورئ.

([5]). ان تیقن المراعاة لم یکره (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۲۳).

**دمحتاط حافظ قرآن نابينا امامت درست دي: سوال:** (۹۲۷) زيد نابينا دی، خومحتاط او دلمانځه اوروژی دمسائلو څخه په نسبت دنور قوم په ښه ډول خبر دی، اودقرآن حافظ دی، اوقوم ددين په مسائلو پيژندلو اودقرآن شريف په ويلو کی دده څخه کمتردی، په داسی صورة کی ددغه نابينا امام جوړول افضل دی اوکه نه؟

**جواب:** په داسی حالت کی دنابينا امام جوړول ښه دی کما فی الشامی عن البحر قيد کراهة امام الاعمٰی فی المحيط وغيره بان لايکون افضل القوم فان کان افضلهم فهو اولی ([1]).

**دهغه سړی دامامت څه حکم دی څوک چی ښځو ته دبی حيايی تلقين کوی: سوال:** (۹۲۸) زيد امام جوړول څنګه دی دچاچی دالاندينی احوال دی. زيد ښځی لمسوی اودبی حيايی طرف ته يی رابولی، اومسلمانانو ته ښکنځل کوی اودشريعت سپکاوی کوی، څه حکم يی دی؟

**جواب:** دداسی مبتدعينو سره دصحبت اوورسره دکښېنستو څخه احتراز واجب او لازم دی اوهغه امام جوړول ممنوع او ناجائزدی هيڅکله هغه امام مه جوړوی ځکه چی فاسق امام جوړول حرام دی. ([2])

**دمفسد صلوة غوندی غلطی کونکی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال:** (۹۲۹) کم سړی چی په لمانځه کی داسی غلطی وکړی په کمی سره چی لمونځ فاسد سی په هغه پسی لمونځ صحيح دی اوکه نه؟ اوهغه امام جوړول څنګه دی؟

**جواب:** که چيری په لمانځه کی داسی غلطی وکړی په کمی سره چی لمونځ فاسد سی نو په هغه پسی لمونځ صحيح نه دی. ښه په هرحال کی همدادی چی امام داسی سړی جوړ سی څوك چی قرآن کريم صحيح وايی اودلمانځه دمسائلو څخه خبر وی اوصالح اود شريعت پابينده وی ولی چی په فاسق پسی لمونځ مکروه دی. اودقرآن کريم په غلط ويلو کی داتفصيل دی چی که چيری داسی غلطی وکړی کمه چی مفسد دصلوة وی نوهغه امام مه جوړوی په هغه پسی لمونځ صحيح نه دی، اوکه چيری داسی غلطی نه کوی کمه چی مفسد دصلوة وی نولمونځ صحيح کيږی خو ښه نه دی. ([3])

**په بينک کی دروپی ايښوونکی امامت: سوال:** (۹۳۰) کم سړی چی په بينك کی روپی داخلوی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟

---

([1]). رد المحتار باب الامامة ص **۵۳۲** ج۱ . ظفير

([2]). بل مشی فی شرح المنية علی ان کراهة تقديمه کراهة تحريم لما ذکرنا (رد المحتار ص **۵۲۳** ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۶۰**). ظفير

[باقی]

**جواب**: دهغه امامت هم مکروه دی ([1]). (خو په دی زمانه کی چی غلا، ډاکه عامه ده اود روپو دحفاظت ذریعه ماسوا دبینك څخه بله نسته. په بینك کی دحفاظت په غرض ایښوول درست دی اودهغه امامت هم درست دی. والله اعلم ظفیر)

**بغیر پټکی امامت**: **سوال**: (۹۳۱) مشهوره ده چی امام بی پټکی لمونځ ورکړی نومکروه کیږی. داصحیح ده اوکه غلطه ده؟

**جواب**: بغیر پټکی لمونځ نه مکروه کیږی لیکن په پټکی سره ښه اوافضل دی، ثواب ورسره زیاتیږی ([2]).

**دقادیانی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال**: (۹۳۲) کم خلګ چی دمرزا قادیانی مریدان وی یا هغه ښه ګڼی دهغوی امامت جائزدی اوکه نه؟ په هغوی پسی داداء سوی لمونځ اعاده واجبه ده اوکه څنګه؟

**جواب**: جائز نه دی ([3]).

**کم سړی چی خلفاء ثلثه وو ته جاهل وایی هغه امام جوړول څنګه دی؟ سوال**: (۸۳۳) بکر داوایی چی خلفاء ثلثه جاهلان وه هغوی به څه فیصله کوله، وغیره الفاظ وایی، دداسی سړی امامت څنګه دی؟

**جواب**: داسی عقیده لرونکی اونازیبا الفاظ ویونکی سخت عاصی اوفاسق دی اوظالم اوجاهل دی، دامامت قابل نه ([4]) دی. والتفصیل فی الکتب.

(کم رافضی چی خلفاءِ ثلثه وو ته ښکنځل کوی هغه دبعضو فقهاوو په نزد کافردی او فاسق بالاتفاق دی، نقل فی البزازیة عن الخلاصة ان الرافضی اذا کان یسب الشیخین ویلعنهما فهو کافر. ردالمحتار باب المرتد ص ۴۰۵ ج۳. ظفیر).

**په میلو کی دشریکیدونکی امامت درست دی او که نه ؟ سوال** : (۹۳۴) یو سړی په میلو او

---

([3]). ولا غیر الالثغ به ای بالالثغ علی الاصح (در مختار) ولکن الاحوط عدم الصحة (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۴ ج۱ ط.س. ج۱ ص ۵۸۱ ، مطلب فی الالثغ) ظفیر.

([1]). وکذا تکره خلف امرد، در المختار (الی قوله) واکل الربا وتمامه فی (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ۵۲۲). ظفیر

([2]). والمستحب ان یصلی الرجل فی ثلثة اثواب ازار وقمیص وعمامة ولوصلی فی ثوب واحد متوشحًا به جمیع بدنه الخ جاز من غیر کراهة (غنیة المستملی ص ۳۳۷) . ظفیر

([3]). وان انکر بعض ماعلم من الدین ضرورة کفر بها فلا یصح الاقتداء به اصلا (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۱). ظفیر

([4]). اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه (ای قوله) بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۰). ظفیر

عرسونو کی شریکیږی، قوالی اوډولونه اوری اوپه جومات کی امامت هم کوی. آیاپه هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

**په ږیره خریلی پسی تراویح درست دی اوکه نه؟** **سوال:** (۹۳۵) یوسړی ږیره خروی اود لمانځه اوروژی پابندی نه کوی اوتراویح ورکوی آیاپه هغه پسی تراویح درست دی او که نه؟

**جواب:** (۱) په دغه سړی پسی لمونځ مکروه دی، اودشامی دتصریح څخه معلومیږی چی مکروه دی. داهم شامی تصریح فرمایله دی چی دداسی امام معزوله کول واجب دی. ([1])

(۲) دغه سړی فاسق دی اودفاسق امامت چی څنګه په فرائضو کی مکروه تحریمی دی په تراویحو کی هم مکروه دی.

**دجومات بی حرمتی کونکی او ددروغو شاهدی ورکونکی امامت درست دی اوکه نه؟** **سوال:** (۹۳۶) یوسړی قاضی دی اوهغه خپل آس دجومات په احاطه کی څروی، دهغه آس وقتًا فوقتًا دجومات په تالابو کی اوبه څښی اودجومات په صحن کی متیازی اوخاشنه کوی. دمنع کولو باوجود هغه قاضی دمسلمانانو سره ضد کوی اونه منع کیږی دحرام او حلال مال په استعمالولوکی سره دخبرتیا دریغ نه کوی. په مقدماتو کی ددروغو شاهدی ورکوی. داسی سړی دقاضی توب قابل دی اوکه نه؟ په ده پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب:** دغه سړی فاسق دی، په ده پسی لمونځ مکروه تحریمی دی اومعزول کول ددی امام لازم دی، اودی دقاضی جوړولو لائق نه دی.

**کم سړی چی دخپلی لور واده کولو ته تیار نه وی، دهغه امامت څنګه دی؟** **سوال:** (۹۳۷) یو سړی دجومات امام دی، اودهغه لور بالغه ځوانه ده، هغه دهغې واده نه کوی، وایی چی زه به هیڅکله دانه واده کوم که څه هم دا دچا سره وتښتی هم. په ده پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب:** په مشکوٰة شریف کی دابوسعید ﷺ اوابن عباس ﷺ څخه منقول دی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی : من ولد له من ولد فلیحسن اسمه وادبه واذا بلغ فلیزوجه فان بلغ

---

([1]). دجومات دبی حرمتی څخه حضور ﷺ سختی سره منع فرمایلی ده، یوامام یو وار قبلی طرف ته توکلی وه نوحضور ﷺ هغه ته دامامت څخه دلیری کولو حکم ورکی. عن السائب بن خلاد - وهو رجل من أصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم أن رجلا أم قوما فبصق في القبلة ورسول الله صلی الله علیه وسلم ینظر فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم حین فرغ : "لا یصلي لکم" . فأراد بعد ذلك أن یصلي لهم فمنعوه وأخبروه بقول رسول الله صلی الله علیه وسلم فذکر ذلك لرسول الله صلی الله علیه وسلم فقال : نعم وحسبت أنه قال : "إنك آذیت الله ورسوله" . رواه أبو داود (مشکوٰة باب المساجد فصل ثالث ص ۷۱) هم دغه رکم ددروغو پرشاهدی باندی لوی وعیدونه راغلی دی. ظفیر الدین غفرله

ولم یزوجه فاصاب اثما فانما اثمه علی ابیه. (۱)
اوپه بل روایت کی عمرؓ بن الخطاب اوانس بن مالك ؓ درسول الله ﷺ څخه روایت کوی چی هغوی فرمایلی دی: په تورات کی لیکل سوی دی چی دچالور ددولسو کالو سوه اوهغه دهغې نکاح ونه کړه، اوهغه گناه ته ورسیده، نودغه گناه دهغې پرپلار باندی ده. (۲) ددی احادیثو څخه معلومه سوه چی انجلۍ کله بالغه سی اودنکاح مناسب موقع پیداسی نوضروری دی چی دهغه په واده کولو کی تاخیر ونه کړی. اوداسی اراده کول چی هیڅکله به ددی نکاح نه کوم، بددی اودخدای ﷻ اورسول الله ﷺ دحکم څخه خلاف دی، پکارده چی ددی ارادی څخه منع سی اودهغې نکاح وکړی خاصکر دجومات امام ته دشریعت داتباع زیات خیال ساتل پکاردی اودبدخیال څخه توبه کول پکاردی، لمونځ په هغه پسی صحیح دی.

**که خائن، بې لمانځه داخترونو امامت کوی نوڅه حکم دی؟ سوال**: (۹۳۸) زید دپنځه وخته لمونځونو پابینده اوعادی نه دی شاید چی کله به یی کوی خودجدی حق دموروثیت په وجه داخترونو لمونځ ورکوی اوغلط یې هم وایی اودیندداره نه دی، په امانت کی خیانت کوی، نوپه داسی امام پسی لمونځ کول څنگه دی، اوداسی امام موقوف کول په لمانځه گذارو باندی واجب دی اوکه نه؟

**جواب**: په حدیث شریك کی دی صلوا خلف کل بر وفاجر، یعنی لمونځ کوی په هریو نیك اوبدپسی. داهل سنت والجماعت عقیده ده اودامام ابوحنیفه رحمه الله مسلك دی چی لمونځ په فاجر اوفاسق پسی کیږی. البته په فاسق پسی لمونځ مکروه دی. لیکن که چیری په هغه پسی په لمونځ نه کولوکی فتنه وی نوپه هغه پسی یی کوی، فتنه مه پورته کوی. قال الله تعالی. والفتنة اشد من القتل. (۳)

**څوک چی دناجائز زور څخه دخلاصیدلو کوشش کوی دهغه امامت څنگه دی؟ سوال**: (۹۳۹) دجومات پرامام باندی ددروغو یوه مقدمه ډگری سویده، مولوی صاحب دجومات امام دخپل عزت دخلاصولو دپاره په عدالت کی داعرض وکی چی زه دډگری سوو روپو داداء کولو څخه قاصریم. په دی صورة کی مولوی صاحب پسی لمونځ درست

(۱). مشکوٰة کتاب النکاح باب الولی فی النکاح ص ۲۷۱ . ظفیر
(۲). عن عمر بن الخطاب وأنس بن مالك ، عن رسول الله ﷺ یقول : في التوراة مکتوب: من بلغت ابنته اثنتي عشرة سنة فلم یزوجها فأصابت إثما فإثم ذلك علیه، رواهما البهقی فی شعب الایمان (مشکوٰة باب الولی فی النکاح ص ۲۷۱). ظفیر
(۳). سورة البقرة رکوع ۲۴. ظفیر

دی اوکه نه؟

**جواب**: په حدیث شریف کی دی صلوا خلف کل بر وفاجر. لمونځ کوی په هرنیك اوبد پسی. نولمونځ په دغه امام پسی صحیح دی. دومره ده چی ددروغو شاهدی ورکوونکی وغیره پسی لمونځ مکروه دی، اودظلم څخه دخلاصیدلو دپاره دروغ ویل درست دی نو دغه سړی چی ترڅو پوری مظلوم دی، فاسق به نه وی اوپه هغه پسی به لمونځ مکروه نه وی. (فقهاء لیکی الکذب مباح لاحیاءِ حقه ودفع الظلم عن نفسه. الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ص ۳۷۷ ج ۵ ظفیر).

**دغیر مطلقه ښځی سره دنکاح تړونکی امامت جائزدی اوکه نه؟** **سوال**: (۹۴۰) یوسړی چی دقاضی توب دوعده لرلو څخه علاوه دجومات امام هم دی، دیوداسی منکوحی چاته چی نه خپل خاوند طلاق ورکړی وو اونه بل څه ثبوت وو صرف دهغه دمور اوپلار په یوی پرچی لیکلو باندی چی: دضرورت په وخت به موږ کومك درکړو، دبل سړی سره یی نکاح وروتړله. آیا داسی سړی څوك چی په مذهبی معاملاتو کی دومره خبرتیا نه لری یا دقصده داسی جرأت کوی اوبغیر دڅه تحریك یاشاهدی دثبوت څخه دشریعت داحکامو څخه داسی خلاف کوی نو آیا داسی سړی دامامت لائق دی؟

**جواب**: که چیری فی الواقع ذکرسوی امام دبل چا دمنکوحی نکاح دخاوند دطلاق څخه بغیر په قصد سره دبل سړی سره تړلی وی نودی فاسق دی، دکبیری مرتکب (۱) سو. لهٰذا په ده پسی لمونځ مکروه تحریمی دی اوداسړی دامامت لائق نه دی ترڅو پوری چی توبه ونه کاږی. (۲)

**درشوت خور اودرواغجن دامامت څه حکم دی؟** **سوال**: (۹۴۱) زید دخپل وس تربریده پوری رشوت خور اوکذاب دی. دپنځه وخته لمونځ ډیر محافظ نه دی، بی وجهی یی پریږدی اوددین دبزرګانو په شان کی دبی ادبی کلمات وایی دهغه دامامت متعلق څه حکم دی؟

**جواب**: قال فی رد المحتار: وَأَمَّا الْفَاسِقُ فَقَدْ عَلَّلُوا كَرَاهَةَ تَقْدِيمِهِ بِأَنَّهُ لَا يُهْتَمُّ لِأَمْرِ دِينِهِ ، وَبِأَنَّ فِي تَقْدِيمِهِ لِلْإِمَامَةِ تَعْظِيمَهُ ، وَقَدْ وَجَبَ عَلَيْهِمْ إهَانَتُهُ شَرْعًا ، وَلَا يَخْفَى أَنَّهُ إذَا كَانَ أَعْلَمَ مِنْ غَيْرِهِ لَا تَزُولُ الْعِلَّةُ ، فَإِنَّهُ لَا يُؤْمَنُ أَنْ يُصَلِّيَ بِهِمْ بِغَيْرِ طَهَارَةٍ فَهُوَ كَالْـمُبْتَدِعِ تُكْرَهُ إمَامَتُهُ بِكُلِّ حَالٍ بل مشى فى شرح المنية على ان كراهة تقديمه كراهة تحريم لماذكرنا وقال لذا لم يجز الصلٰوة خلفه اصلاً عند مالك ورواية عن (۳) احمد رحمه الله. جلد اول

---

(۱). وامانکاح منکوحة الغیر ومعتدته الخ لم یقل احد بجوازه (ردالمحتار باب المهر ص ۴۸۲ ج۲). ظفیر

(۲). اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه الخ. واجب علیهم اهانته شرعًا (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ ). ظفیر

شامی ص ۳۷۲. باب الامامة (معلومه سوه چې دده امامت مکروه تحریمي دی، ظفیر).

**داستاذ په موجودگۍ کې دشاگرد امامت درست دی:** **سوال:** (۹۴۲) چې دامام زوی نابالغ او دمحلې خلگ دهغه دپلار دوفات څخه وروسته بل ځوك امام جوړ کړی اودغه هلك ددین علم دزده کولو دپاره ولاړسی، بیا علم حاصل کړی بیرته راسی اوهغه امام ثاني ډیر کبیره گناهونه کړی وی اوخلگو هغه معزوله کی خو ولانه ړی لمونځ به یی ورکوی. اوس خلگ غواړی چې په وجه داستحقاق داول اوفسق دثانی امام معزوله سوی، هغه معزول کړی او (دغه صاحب علم) هلك خپل امام جوړکی. که چیری معزول ووایی چې داهلك زما شاگرد دی، چې زماپر ځای ودریږی اولمونځ ورکوی نودده لمونځ به جائزنه وی. داځنگه ده که چیری معزول ددی عالم هلك څخه څه شرعی مسائل زده کړل نودده شاگرد جوړیدی سی اوکه نه؟

**جواب:** قوم ته اختیاردی چې دوهم امام معزول کړی اودمخکی امام زوی کم چې اوس بالغ سوی دی اواوس عالم دی، امام جوړ کړی، په دی کی په قوم باندی هیڅ مؤاخذه نسته بلکی داکار ددوی شرعًا مستحسن دی، ددغه هلك استحقاق که څه هم دپلار دامام کیدو په وجهی سره نه دی لیکن دعلم په وجه قوم دی امام جوړولی سی (۱). اود معزول هغه قول غلط دی. اودچا څخه چې شرعی مسائل زده سی هغه استاذ دی.

**دزاني اوبدعتی امامت جائزنه دی:** **سوال:** (۹۴۳) دجومات امام عرس ته تلل اوپه قبر باندی طواف کول اوشرکیه کلمات حلال گڼی په دی وجه لمونځ گذار ځینی ناراضه دی. آیا دداسی سړی امام جوړول جائزدی اوکه نه؟ اوددغه امام یوه مشرکه ښځه غیرمنکوحه هم ساتلی ده.

**جواب:** دبی تحقیقه خبری خو اعتبار نسته لیکن په عرس وغیره کی شریکیدل اوپه قبر باندی طواف کول اومچول حرام اوبدعتی کارونه دی خصوصًا دقبر طواف کول کفر دی ځکه چې داعبادت خاص دبیت الله سره مخصوص دی، لهٰذا دلمانځه گذارو ناراضی په ځای اوپه موقعه ده، په دی حالت کی هغه امام جوړول جائز نه دی اوپه هغه پسی به لمونځ نه صحیح کیږی (۲).

---

(۳). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ ). ظفیر

(۱). والاحق بالامامة تقدیما بل نصبا الاعلم باحکام الصلوٰة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷) ظفیر

(۲). ولا یمسح القبر ولایقبله فان ذالك من عادة النصارٰی الخ (عالمگیری کتاب الکراهیة الباب السادس ص ۳۲۲ ج۵ ، ط. م. ج۵ ص ۳۵۱) اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه الخ بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه =

**چي څوک بزه حلالوي دهغه امامت:** **سوال:** (۹۴۴) یوسړی دجومات امام دی اودلمونځ دمسائلو څخه خبر دی لیکن بزه وغیره حلالوي. بعضی خلګ دهغه په امامت پسی دذابح کیدلو په وجه اعتراض کوي، دداسی امام امامت جائز دی اوکه نه؟

**جواب:** ذابح کیدل دیوسړی مانع دهغه دامام کیدلو نه دی (۱) دامامت دپاره زیات حقدار اعلم باحکام الصلوة دی کمافی کتب الفقه. نوکله چي ذکر سوی سړی دلمونځ اوروژی دمسائلو څخه خبر دی نوامامت دهغه جائز دی بلکی دهغه څخه زیات اعلم که نه وي نو افضل اوښه دی، اوذابح کیدل دهغه موجب دکراهت دامامت نه دی. دامامت په کراهت کی چي فقهاوو کم اسباب شمار کړي دي په هغه کی ذابح کیدل چانه دی لیکلی.

**دتاجر عالم اوحافظ امامت جائزدی اوکه نه؟** **سوال:** (۹۴۵) چي څوك عالم یاحافظ دتجارت کسب کوی، نوآیا په هغه پسی به لمونځ صحیح کیږی؟

**جواب:** دغه عالم یاحافظ دتجارت کاسب لمونځ ورکولی سی اولمونځ په هغه پسی صحیح دی. په فرض لمونځ اوجمعه ټولو کی هغه امام کیدی سی (۲).

**په فقیر پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟** **سوال:** (۹۴۶) یو لوستی سړی دی. لمونځ هم کوی، دفقیر قوم څخه دی اوحیوان حلالوی اودسرسایی اوزکوٰة مال خوری اودجومات خدمت هم کوی اوددی ځای خلګ دنامه مسلمانان دی. اکثره دهندوانو رواجونه کوی. که چیری په دغه سړی پسی هغه خلګ لمونځ کوی نوجائزدی اوکه نه؟

**جواب:** په دغه سړی پسی لمونځ درست دی لمونځ دی ورکوی اودغه جاهلان دی پوهوی چی کرار کرار دکفارو رواجونه (۳) پریږدی.

**چاچي په شیعه ګانو کی واده کړی وی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟** **سوال:** (۹۴۷) کم سړی چی په شیعه ګانو کی واده کړی وی په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

**جواب:** که چیری هغه سنی وی اومبتدع اوفاسق نه وی نولمونځ په هغه پسی کیږی.

**دمرثیه خوان تعزیی والا امامت څنګه دی؟** **سوال:** (۹۴۸) څوك چي په محرم کی دتعزیی مخ ته کښیني اومرثیه خوانی کوی په هغه پسی دسنیانو لمونځ درست دی اوکه نه؟

---

= کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامت ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

(۱). ځکه چي ذبح جائزده، برابره خبره که په اجرت وی اوکه بغیر اجرته، لهٰذا داپیشه درسته سوه. ویجوز الاستیجار علی الذکاة لانه المقصود منها قطع الاوداج دون افاتة الروح الخ (عالمگیری مصری کتاب الاجارة باب سادس متفرقات ص ۴۳۸ ج۴ ، ط. م. ج ۴ ص ۴۵۴) ظفیر.

(۲). تجارت جائز کسب دی. ارشاد ربانی دی احل الله البیع وحرم الربوا (بقره. ۳۸). ظفیر

(۳). والاحق بالامامة الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفساداً بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفیر

**جواب**: په هغه پسی لمونځ مکروه دی. داسی فاسق اومبتدع دی امام جوړنه سی ([1]).

**صرف دښځی په وينا باندی چی څوک نکاح وتړی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟ سوال**: (۹۴۹) که چيری يوسړی دښځی په قسمی بيان سره چی زه کونډه يم، دتحقيق کولو څخه بغير نکاح وتړی نوپه هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

**جواب**: درست دی. (ځکه چی په دی سلسله کی دښځی په بيان باندی اعتماد کول جائز دی. ظفير) ([2])

**دسود قرض اخستونکی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال**: (۹۵۰) کم سړی چی امام وی، هغه دخپل نور کار يعنی تجارت وغيره دپاره پيسی په سود باندی اخلی اوکار کوی په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

**جواب**: په سود باندی قرض اخستونکی دحديث موافق دلعنت مستحق او فاسق دی، او دفاسق امامت مکروه تحريمی دی، كما حققه في الشامي ([3]). باب الامامة جلد اول. فقط

**دفاضل لمونځ په مضفول پسی درست دی: سوال**: (۹۵۱) که چيری په دوو کسانو کی ذاتی نقيض وی نو دمفضول لمونځ په فاضل پسی کيږی اوکه نه ؟

**جواب**: لمونځ صحيح دی او داِعادې (راګرځولو) ضرورت يی نسته.

**دامامت حق چاته حاصل دی؟ سوال**: (۹۵۳) که چيری يو سړی په يوجومات باندی خپل حق ثابتوی اووايی چی داوو کالو څخه داجومات زما په قبضه کی دی، زماپلار او ورور به په دی جومات کی لمونځ ورکوی، دهغوی څخه وروسته زه لمونځ ورکوم. لهٰذا زما څخه ماسوا هيچاته په دی جومات کی حق نسته. نوپه دی جومات کی واقعی ددی امام حق دی، اوپه دی امام پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: دامام مقررول دجومات دبانی په اختيار کی دی يا دمَحلي دخلګو په اختيار کی دی. ديوامام دوراثت هيڅ حق نسته اوکه چيری هغه بانی نه وی نو دادعوٰی دهغه غلطه ده چی زما پلار یاورور په دی جومات کی امام پاته سوی دی. البته که چيری دمحلی خلګ دهغه په امامت باندی راضی وی او هغه د امامت لائق وی نو دهغه امامت صحيح

---

([1]). ويكره امامة عبد الخ ومبتدع اى صاحب بدعة وهى اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول لا يكفر بها (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰ ) ظفير.

([2]). وحل نكاح من قالت طلقنى زوجنى وانقضت عدتى اوكنت امة لفلان واعتقنى ان وقع فى قلبه صدقها (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الحظر والاباحة فصل فى البيع ص ۳۷۱ ج۵ ، ط.س. ج۲ ص ۴۲۰). ظفير

([3]). وكذا تكره خلف امرد الخ واكل الربوا ونمام ومراءٍ متصنع (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲). ظفير

دی اولمونځ ورپسی ([1]) درست دی. فقط

**دفتنی اچونکی امامت جائزدی اوکه نه؟ سوال**: (۹۵۳) داسی مفسد سړی څوك چی په مسلمانانو کی جګړی جوړوی اوغلطی مسئله ښیی، امام جوړول یی جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: داسی مفسد دی امام جوړ نه سی ([2]).

**څوک چی نه مقلدوی اونه غیر مقلد دهغه امامت څنګه دی؟ سوال**: (۹۵۴) زید ځانته حنفی وایی، اوبعضی وخت دغیر مقلدو سره سی اودفاتحه خلف الامام اودغیر مقلدو دډیرو مسائلو معتقددی. غرض داچی نه پوره حنفی دی اونه پوره غیر مقلد دی اودلسو ۱۰ اتو ۸ کالو راهیسی دهغه په کورکی یوځوان هلك اوسیږی دهغه ښځه ددغه هلك څخه پرده نه کوی اوخلګ یی دهغه سره متهم کوی، داسی سړی امام جوړول جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: دغه سړی دامام جوړولو لائق نه دی، دی دي امام مقررنه سی ([3]). فقط

**ددرواغجن امامت درست دی اوکه نه؟ سوال**: (۹۵۵) یو سړی ځانته مولوی وایی، او وایی چی زه حاجی یم. په تحقیق سره معلومه سوه چی ده هیڅکله هم حج نه دی کړی، کله چی دی دجومات په نوم سره چنده وصولوی، اوخوری یی. ددی کارونو څخه توبه کښل هم وغوښتل سوه ورڅخه ، لیکن بیا هم منع نه سو ، اوخلګوته وایی چی په ما پسی لمونځ په جمعه کوئ، آیا په داسی سړی پسی لمونځ صحیح دی ؟

**جواب**: داسی سړی کم چی په دینی کارونو کی صریح دروغ وایی یاپه دهوکی ورکولو سره دجومات په نوم باندی چنده وصولوی اوپخپله یی خوری فاسق او کذاب دی، په هغه پسی دجمع اوپنځه وخته لمونځ مکروه دی یعنی لمونځ کیږی خوداسی سړی عمداً امام جوړول نه دی پکار ([4]). فقط

**دمسائلو څخه دناخبره غیر دیندار امامت څنګه دی: سوال**: (۹۵۶) یوسړی زموږ په جومات

---

([1]). ولایة الاذان والاقامة لبانی المسجد مطلقا وکذا الامامة لو عدلا (درمختار) وفی الاشباه اولاد البانی وعشیرته اولی من غیرهم اهـ وسیجیئ فی الوقف ان القوم اذا عینوا مؤذنا واماما وکان اصلح مما نصبه البانی فهو اولی (رد المحتار ص ۳۷۲ ج۱ باب الاذان ، ط.س. ج۱ ص ۴۰۰). ظفیر

([2]). ځکه چی دی فاسق سو اودفاسق امامت مکروه دی ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰) ظفیر.

([3]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) لعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی واکل الربوا اونحو ذالك (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰). ظفیر

([4]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی واکل الربوا ونحو ذالك (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰). ظفیر

کی امام مقرردی لیکن څه دیندار سړی نه دی اونه داودس اولمونځ اوامامت دمسائلو څخه پوره خبر دی اونه قرآن کریم صحیح وایی اوپه لمونځ کی په امیر اوغریب کی فرق کوی یعنی دامیرانو په انتظار کی ناوخته کوی اوغریبان سپك گڼی اودتمباکو دوکان هم کوی په دی وجه جامی یی هم خرابی وی. نوداسی سړی امام جوړول درست دی اوکه نه؟

**جواب**: په حدیث شریف کی دی صلوا خلف کل بر وفاجر، الحدیث. (۱) یعنی په هرنیك او بد پسی لمونځ کوی اودفقهاوو دتصریحاتو څخه معلومیږی چی په هر نیك اوبد پسی لمونځ کیږی لیکن دامامت دپاره ښه هغه سړی دی، څوك چی دلمانځه دمسائلوڅخه خبر وی اوقرآن شریف صحیح وایی، دشرعی منهیاتو څخه منع اوسی، اومتقی او پرهیزگار وی (۲). نو حتی الوسع داسی امام مقررکی، اوترڅو پوری چی داسی څوك وه نه وینی په همدی موجوده امام پسی لمونځ کوی ځکه چی لمونځ په ده پسی هم صحیح کیږی، اوکم افعال اواقوال چی دشریعت څخه خلاف دده څخه صادر سوی وی دهغه څخه توبه باندی وکاږئ. فقط

**کم امام چی جاهلانه جواب ورکوی دهغه امامت څنگه دی؟ سوال**: (۹۵۷) کله چی موزید ته سهار داخبره وکړه چی ماښام تا دروازه ولی خلاصه نه کړه، نوزید په درد کی جواب راکی چی لمونځ کول په جومات کی منحصر نه دی کورکی به دی کړی وای. اوچی کله موزید ته هغه حدیث ووایه په کم کی چی دا ارشاد دی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی که چیری ماته دخپل امت خیال نه وای نومابه حکم کړی وای چی کم خلگ سره دتندرست والی په جومات کی لمونځ نه کوی اوپه کورونو کی لمونځ کوی دهغوی کورونو ته اور ولگوی، زید وویل چی داسی حدیثونه ډیر دی زه یی نه اورم ! په داسی سړی پسی لمونځ کول درست دی اوکه نه؟

**جواب**: دزید جواب جاهلانه دی، داسی سړی دامام جوړولو لائق نه دی، که چیری هغه توبه ونه کاږی نولمونځ ورپسی مه کوی. (۳)

**دخود غرضه امام امامت څنگه دی؟ سوال**: (۹۵۸) دزید کار چی په چا کیږی، دهغه خاطر ساتی اوچی په چا یی کار نه کیږی (یعنی فائده یی نه وی ورته) دهغه سره حسد کوی. په داسی سړی پسی لمونځ کول څنگه دی؟

---

(۱). غنیة المستملی ص ۳۵۱ . ظفیر

(۲). والاحق بالامامة تقدیما بل نصبا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة وحفظه قدر فرض (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفیر

(۳). التائب من الذنب کمن لاذنب له (مشکوة باب التوبة ص ۲۰۶) . ظفیر

**جواب**: داسی سړی هم دامام جوړولو لائق نه دی (۱).

**دزانی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال**: (۹۵۹) دجومات یوامام دیوسړی منکوحه ښځه وتښتوله اودهغې سره یې زنا وکړه او ولد الزنا هم ځینې پیداسو. په همدی بنا باندی خلګ هغه ډیر بد اومکروه ګڼی. داسی سړی ته امامت کول جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: په درمختار کی دی ولوأم قومًا وهم له کارهون ان الکراهة لفساد فیه اولانهم احق منه بالامامة کره له ذلك تحریمًا لحدیث ابی داود لایقبل الله صلوٰة من تقدم قومًا وهم له کارهون. الخ. (۲) ددی عبارت څخه واضحه ده چی په صورة مسئوله کی دی بدکارزانی سړی ته امام کیدل مکروه تحریمی دی اودده هیڅ حق په امامت کی نسته.

**چاچی شیعه ته خپله لور ورواده کړه دهغه دامامت څه حکم دی؟ سوال**: (۹۲۰) زید حنفی خپله لور په قصد سره شیعه ته واده کړیده اودشیعه ګانو په مجلسونو کی شریکیږی دهغه دامامت څه حکم دی؟

**جواب**: داکار دهغه بد دی. اودروافضو په مجلسونوکی شاملیدل درفض علامه ده، داسی سړی امام جوړول نه دی (۳) پکار.

**دفاتحه خلف الامام په قائل پسی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟ سوال**: (۹۲۱) کم سړی چی په امام پسی دفاتحی ویلو قائل وی په هغه پسی حنفیانو ته شرعًا لمونځ کول ممنوع دی نو اکثره داحنافو علماء اوصوفیاءِ کرام څوك چی دقرآئت خلف الامام قائل وه، دهغوی اقتداء هم جائز وه اوکه نه ؟

**جواب**: په امام پسی فاتحه شوافع هم وایی اوضروری یی ګڼی، دهغوی اقتداء هیڅ حنفی نه منع کوی، جګړه ټوله پرتقلیدنه کولو باندی ده، چونکی تقلید نه کونکی ډله، یاداسی induction وایه چی دامامانو تقلید کونکو ته دمشرك خطاب ورکونکی ډلی، په اعتبار دعقائدو

---

(۱). امام ته متقی، دیندار کیدل پکاردی. والاحق بالامامة تقدیما بل نصبًا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة (درمختار) کذافی الدرایة وعبارة الکافی وغیره الاعلم بالسنة اولی الا ان یطعن علیه فی دینه لان الناس لا یرغبون فی الاقتداء به (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۱۸ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۲ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ . ظفیر

(۳). ویکره امامة عبد ... وفاسق (درمختار) فاسق من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی واکل الربا ونحو ذلك الخ وفی المعراج قال اصحابنا لا ینبغی ان یقتدی بالفاسق ... اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانة شرعًا الخ بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم لما ذکرنا (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰ ). ظفیر

سره داهل سنت والجماعت دطریقی څخه لیری په نظر راځی اوپه ټولو سلفو صالحینو خصوصاً پرامام همام ابوحنیفه رضی الله عنه باندی څوك چی په بشارت د: والسابقون الاولون من المهاجرین والانصار والذین اتبعوهم باحسان، الآیة کی یقیناً داخل دی په هغوی باندی طعن کول یی خپل دین جوړ کړی دی. په دی وجه علماء احناف احوط ګڼی چی غیر مقلد دی امام جوړنه سی. کاشکی که دغه سړی شافعی سوی وای اوقرآئة خلف الامام یی کولی اوپه خپل ځان مجتهد ګڼلو سره په خطاء کی نه پریوتلی نوهیڅ اعتراض اواحتراز به نه وای. (۱) فقط

**دتعزیه لرونکی بدعتی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال**: (۹۲۲) یوسړی بدعتی دی اوتعزیه لرونکی دی اودا سړی دهغه بزی غوښه کمه چی پرقبر باندی (دمننی په طور) حلالیږی بی تکلفه خوری، داسی سړی دجومات امام جوړ کړو اوکه نه؟ اوپه هغه پسی به لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟

**جواب**: داسی بدعتی تعزیه پرست امام جوړول درست نه دی. ولی چی په هغه پسی لمونځ کول مکروه تحریمی دی اوپه شامی کی دی چی دفاسق په امام جوړولو کی دهغه تعظیم کیږی اوتعظیم دفاسق حرام دی اوظاهره ده، چی بدعتی فاسق دی (۲). فقط

**صرف په اوبو سره داستنجا کونکی امامت څنګه دی؟ سوال**: (۹۲۳) که چیری یوسړی په لوټه سره اودس نه وچوی بلکی صرف په اوبو سره استنجاء وهی دهغه دامامت څه حکم دی؟

**جواب**: امامت دهغه صحیح دی. دفقهی په کتابونو کی دی چی صرف په اوبو یا صرف په لوټی سره په استنجاء کولو سره هم داستنجاء سنت حاصلیږی لیکن افضل اوښه دادی چی په لوټی اواوبو دواړو سره استنجاء ووهی، په شامی کی دی: ثم اعلم ان الجمع بین الماء والحجر افضل ویلیه فی الفضل الاقتصار علی الماء ویلیه الاقتصار علی الحجر وتحصیل السنة بالکل الخ (۳). فقط

**دتاش** (یوقسم دپاڼو لوبه) **کونکی امامت جائزدی اوکه نه؟ سوال**: (۹۲۴) که چیری دجومات امام دتاش کونکو سره ناست اوسی یا دلوبی طریقه ورته ښیی نوڅه حکم دی،

---

(۱). زاد ابن ملك ومخالف کشافعی لکن فی وتر البحر ان تیقن المراعاة لم یکره (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲) ظفیر.

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق الخ ومبتدع ای صاحب بدعة (درمختار) واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامر دینه الخ وقد وجب اهانته شرعا الخ بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰ ). ظفیر

(۳). ردالمحتار فصل فی الاستنجاء ص ۳۱۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۳۳۸ . ظفیر

او امامت دهغه څنګه دی؟

**جواب**: په درمختار کی دی وکره تحریمًا اللعب بالنرد وکذا الشطرنج، ([1]) الخ. نوکله چې دشطرنج لوبه حرامه سوه نودهغه تعلیم ورکول اوښوول ښکاره ده چې حرام دی او ددغه لوبیدونکو سره کښېنستل اوورته کتل هم حرام دی. پس امامت دهغه مکروه دی ([2]).

**دفحش ګو او نقال امامت درست دی اوکه نه؟ سوال**: (۹۲۵) زید همیشه فحش عبثیات وایی بلکی کله په جومات کی دننه هم فحش الفاظ استعمالوی، اوښکنځل هم کوی او غیبت کوی او دنورو لمونځ ګذارو دلمانځه دنیت نقلونه کوی چې په هغه سره لمونځ ګذارو ته په لمانځه کی خندا ورځی، اوبعضی وخت په لمانځه کی خاندی. آیا داسړی دامامت قابل دی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ په هغه پسی اداء کیږی لقوله ﷺ صلوا خلف کا بر وفاجر. لیکن په امامت سره اولی اوالیق هغه سړی دی چې داعلم اواقرأ کیدلو سره صالح اومتقی وی. ولی چې په فاسق پسی لمونځ که څه هم صحیح دی خومکروه تحریمی دی. اوپه شامی کی دی چې فاسق امام مقررول ممنوع دی ولی چې په امام جوړولو کی دهغه تعظیم دی اوتعظیم دفاسق ممنوع ([3]) دی. فقط

**دبدعتی دامامت څه حکم دی؟ سوال**: (۹۲۶) کم سړی چې بالکل جاهل وی اوقرآن مجید ماسوا دیوځو سورتونو څخه پوره نسی ویلی، اوقبر پرستی ښه ګڼی. رسول الله ﷺ ته عالم الغیب اوحافظ اوناظر وایی، بلکی علی الاعلان وایی چې په الله ﷻ اورسول ﷺ کی هیڅ تمیز (یعنی فرق) نسته. په نڅا، رقص وغیره کی شاملیږی، دی امام جوړول جائز دی اوکه څه حکم دی ؟

**جواب**: داسی سړی دامام جوړولو لائق نه دی، امام جوړول دده حرام دی او دامامت څخه معزله کول دده لازم دی. ټولو مسلمانانو ته پکاردی چې اتفاق دی وکړی اودی دي دامامت ([4]) څخه لیری کړی. اویو بل عالم اوصالح اومتقی دی امام جوړ کړی. فقط

---

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ص ۳۴۷ ج۵ ، ط.س. ج۱ ص ۳۹۴. ظفیر

([2]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰) ظفیر.

([3]). واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانة شرعًا ولا یخفی انه اذا کان اعلم من غیره لا تزول العلة فانه لایؤمن ان یصلی بهم بغیر طهارة فهو کالمبتدع تکره امامته بکل حال، بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم لما ذکرنا قال ولذا لم تجز الصلاة خلفه اصلا عند مالك وروایة عن احمد (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

**دږيرې خريلي امامت جائزدي اوکه نه؟ سوال:** (٩٦٧) کم مسلمانان چې ږيره خروي يا ديو موټې څخه کم يې لنډوي په هغوي پسې لمونځ جائزدي، اوکه نه؟

**جواب:** کم مسلمانان چې ږيره خروي يا ديوموټ څخه کم يې لنډوي هغوي فاسقان دي، په هغوي پسې لمونځ مکروه دي [1].

**دهندو تهذيب اختيارونکي امامت: سوال:** (٩٦٨) که چيرې يو مسلمان دهندوانو داسې نوکرې کوي چې هندوان دعبادت دپاره دبت ځاى ته رسوي اوخپل شکل دهندوانو په شان ساتي، دپاره ددې چې هندوان يې دنوکرۍ څخه ليرې نه کړي په داسې سړي پسې لمونځ جائز دي اوکه نه؟

**جواب:** کم مسلمان چې داسې کار کوي هغه فاسق دي اوسخت ګنهګاردي، اودا کار ښه ګڼونکي هم فاسق دي، لائق دامام جوړولو نه دي. ([2]) فقط

**دتعزيه لرونکي اوتورو نکريزو لګونکي امامت: سوال:** (٩٦٩) په تعزيه لرونکي او تور خضاب لګوونکي پسې دلمانځه څه حکم دي؟

**جواب:** تعزيه لرونکي فاسق دي په هغه پسې لمونځ مکروه کيږي اوتور خضاب ته بعضو فقهاوو جائز فرمايلي دي اوبعضو مکروه. اوهمدا (قول) صحيح ([3]) دي. لهٰذا دتور خضاب لګونکي امام جوړول ښه نه دي که څه هم لمونځ پسې صحيح کيږي.

**دچاپه کورکې چې غلط رسمونه کيږي اوهغوي يې نه منع کوي دهغوي امامت: سوال:** (٩٧٠) دډيرو خلګو کره په واده اوښادي کې دکور ښځې ډولکي ږغوي، سندرې وايي، اودنورو کورونو ښځې ورکره راسي اوپه يوځاى سندرې وايي، دهغوي نارينه هغوي ددې کارڅخه نه منع کوي په هغوي پسې لمونځ کول څنګه دي ډيرخلګ دصفر دمياشتې اولنۍ ديارلس ورځې، دوولسم، او دريم، او ديارلسم، او اتم، او اتلسم، او اته ويشتم

---

([4]). ويکره امامة عبد الخ ومبتدع اى صاحب بدعة (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٣ ج١، ط.س. ج١ ص ٥٢٠). ظفير

([1]). ويکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) وکراهة تقديمه کراهة تحريم (ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٣ ج١ ، ط.س. ج١ ص ٥٥٩ – ٥٢٠ ) ولاباس بنتف الشيب واخذ اطراف اللحية والسنة فيها القبضه الخ ولذا قال يحرم على الرجل قطع لحيته (الدر المختار على هامش ردالمحتار. کتاب الحظر والاباحة ص ٣٥٩ ج ٥ ، ط.س. ج ٦ ص ٤٠٧). ظفير

([2]). ويکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) وکراهة تقديمه کراهة تحريم (رد المحتار ص ٥٢٣ ج١ باب الامامة ، ط.س. ج١ ص ٥٥٩ – ٥٢٠ ). ظفير

([3]). ويستحب للرجل خضاب شعره ولحيته ولو فى غير حرب فى الاصح والاصح انه ﷺ والصلوة لم يفعله ويکره بالسواد وقيل لا (الدر المختار على هامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة باب فى البيع ص ٣٧٢ ج ٥ ، ط. س. ج ٦ ص ٤٢٢). ظفير

تاریخ سپیره (بد) گڼي، په دي تاریخونو کې واده ښادي نه کوي. په داسې خلګو پسې دلمانځه څه حکم دی؟

**جواب:** کم خلګ چې خپلې ښځې دذکر سوو کارونو څخه نه منع کوي هغوی ګنهګاردی دهغو امام جوړول ښه نه دی که څه هم لمونځ پسې صحیح کیږي. اوکم خلګ چې ذکر سوی تاریخونه سپیره ګڼي اوپه دغه تاریخونو کې نکاح وغیره نه کوي دابې اصله خبره ده ټولي ورځې اوتاریخونه مبارك دي اوداسې بده عقیده لرونکی دامام جوړولو لائق نه دی (۱). فقط

**دبدکار اوفاسق امامت مکروه تحریمي دی: سوال:** (۹۷۱) څوك چې ولد الزنا وي، فاسق وي، اودهلکانو سره په ناجائزکار کې نیول سوی وي. بدعتي جاهل وي، دجومات آمدن یې پخپله خوړلی وي وغیره. دداسې سړي دامامت څه حکم دی؟

**جواب:** دغه سړی دکم چې دغه افعال دی کم چې په سوال کې ذکرسوی دی، فاسق دی، لائق دامام جوړولو نه دی، په فاسق پسې لمونځ مکروه تحریمي اوتعظیم دفاسق حرام دی بلکې هغه واجب الاهانة دی، لهٰذا فاسق دی امام جوړ نه سي خصوصاً دائمي امام دي هیڅکله داسې سړي مقرر نه سي (۲). فقط

**دپلار په قرض کې مجبوراً دسود اداء کونکي امامت درست دی اوکه نه؟ سوال:** (۹۷۲) زما والد څه مزکه دګرو (هندو) سره ګرو کړې وه، والد مې وفات سو، اوزما سره روپۍ دهغه (مزکې) دخلاصولو دپاره نسته اومجبوره یم، اومجبوراً سود ورکوم، پرما باندې څه مؤاخذه سته اوکه نه؟ اوپه ما پسې لمونځ درست دی اوکه نه؟

**جواب:** چونکې ته مجبوره یې په دې وجه باندې مؤاخذه نسته اولمونځ په تا پسې بغیر دکراهته صحیح (۳) دی. فقط

**ددوه ویشت ۲۲ کلن کوسه امامت مکروه دی اوکه نه؟ سوال:** (۹۷۳) یوسړی عاقل بالغ دشلو ۲۰ دوه ویشتو ۲۲ کالو عمر والا، دمسائلو وغیره څخه هم ښه خبرداردی، لیکن لا تر اوسه یې ږیره اوبریتونه راوتلي نه دي، دهغه دامامت درست دی اوکه نه؟

یو سړی وایي چې دده اذان او اقامت هم درست نه دی، دده شمار په ښځو کې دی، دصحاح سته په احادیثو کې مذکور دي چې که تر ډیر عمر پوري د چا ږیره بریت را ونه

---

(۱). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) وکراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (ردالمحتار ص **۵۲۳** ج۱ باب الامامة، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹** - **۵۶۰**) ظفیر.

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) وکراهة تقدیمه (ردالمحتار ص **۵۲۳** ج۱ باب الامامة). ظفیر

(۳). الضرورات تبیح المحذورات (الاشباه والنظائر ص .... ). ظفیر.

وزی نو دامامت قابل کیدی نه سی. یایی څه حد مقرر دی. بینوا تؤجروا
**جواب**: ددغه سړی قول غلط دی. په بی ږیری، بی بریتو سړی پسی کله چی دهغه عمرشل ۲۰ دوه ویشت ۲۲ کاله وی اوهغه دلمانځه دمسائلو څخه هم خبر وی، لمونځ بغیر کراهته درست دی. په شامی اول جلد ص ۳۷۸ باب الامامة کی دی: سُئِلَ الْعَلَّامَةُ الشَّيْخُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عِيسَى الْـمُرْشِدِيِّ عَنْ شَخْصٍ بَلَغَ مِنْ السِّنِّ عِشْرِينَ سَنَةً وَتَجَاوَزَ حَدَّ الْإِنْبَاتِ وَلَمْ يَنْبُتْ عِذَارُهُ الی ان قال : فَهَلْ حُكْمُهُ فِي الْإِمَامَةِ كَالرِّجَالِ الْكَامِلِينَ أَمْ لَا أَجَابَ : سُئِلَ الْعَلَّامَةُ الشَّيْخُ أَحْمَدُ بن یونس ﷺ عَنْ مثل هَذِهِ الْمَسْأَلَةِ فَأَجَابَ بِالْجَوَازِ مِنْ غَيْرِ كَرَاهَةٍ وناهيك به قدوة. (۱) فقط

**ځوک چی دمسائلو څخه ناخبره وی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟ سوال**: (۹۷۴) که چیری امام داسی سړی وی ځوک چی دلمانځه داحکامو څخه پوره خبر نه وی بلکی دلمانځه مفسدات هم نه پیژنی، که چیری دهغه په موجودگی کی بل سړی لمونځ ورکی نودامام موصوف لمونځ گذاروته داویل چی زما داجازی څخه بغیر لمونځ نه سو صحیح څه حکم لری، اوپه داسی سړی پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟
**جواب**: داقول چی زما اجازه نه وه، لهٰذا لمونځ نه سو صحیح، (۲) غلط دی. اودلمونځ دامامت دپاره اعلم بمسائل الصلوٰة زیات ښه اوحقدار دی لیکن لمونځ په غیرِعالم پسی هم صحیح دی په دی شرط چی دهغه څخه څه کار دلمونځ ماتونکی صادر سوی نه وی. (۳) فقط

**دچاسره چی ملوّث وی دهغه اقتداء درسته ده اوکه نه؟ سوال**: (۹۷۵) کریم اوگُلو دوه هلکان وه کریم دگلو سره اغلام وکی نودکریم لمونځ په گلو پسی ځوک چی دمسجد امام دی جائزدی اوکه نه؟
**جواب**: دکریم لمونځ په گلو پسی صحیح دی.

**دپټکی والاوو لمونځ په بی پټکی امام پسی صحیح دی اوکه نه؟ سوال**: (۹۷۶) اگر مقتدیان همه یا بعض بعمامه و امام بی عمامه یا بالعکس نماز گذارند ، در وی چی نقص افتد؟

---

(۱). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲ . ظفیر
(۲). واعلم أن صاحب البيت ومثله إمام المسجد الراتب أولى بالامامة من غيره مطلقا إلا أن يكون معه سلطان أو قاض فيقدم عليه لعموم ولايتهما، وصرح الحدادي بتقديم الوالي على الراتب (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر
(۳). والاحق بالامامة تقديما بل نصبًا الاعلم باحكام الصلوٰة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة الخ (ایضًا ص ۵۲۰) ظفیر.

بینوا بالاحادیث الصحیحة تؤجروا بالنعماء العظیمه.

**جواب**: درآن نماز، هیچ نقص نیست درهر دوصورة. لحدیث: اوکلکم یجد ثوبین (۱)، وفی شرح المنیة والمستحب ان یصلی الرجل فی ثلثة اثواب ازار، وقمیص وعمامة، ولو صلی فی ثوب واحد متوشحا به جمیع بدنه کما یفعله القصار فی المقصرة جاز من غیر کراهة مع تیسیر وجود الطاهر الزاید ولکن فیه ترک الاستحباب الخ ص **۳۳۷**. فقط والله اعلم.

**دخائن اوفاسق امامت درست دی اوکه نه؟ سوال**: (۹۷۷) دداسی سړی امامت دچا دولدالزنا کیدلو یقین چی کامل وی، فاسق فاجر جاهل بدعتی هم وی اوپه عدالت کی خائن هم ثابت سوی وی امامت یی جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: دداسی ولد الزنا امامت دچاچی حال هغه دی کم چی په سوال کی درج دی مکروه دی اوچونکی علاوه دولد الزنا کیدلو ځخه هغه فاسق هم دی، نودده امامت مکروهِ تحریمی دی اوداسی امام لائق دی دمعزول کولو، لکه چی علامه شامی تحریر فرمایلی دی: واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعًا الخ (۲) ص **۴۱۴** مصری، جلد اول شامی، وفی الدر المختار وولد الزنا الخ قوله وولد الزنا اذ لیس له اب یربیه ویود به ویعلمه فیغلب علیه الجهل بحر او لنفرة الناس عنه. شامی (۳) ص **۴۱۵** جلد ۱. فقط

**دبدعتی په امامت کی یی چی کم لمونځ وکی آیا دهغه اعاده ضروری ده؟ سوال**: (۹۷۸) حضرت اقدس مولانا اشرف علی صاحبؒ لیکلی دی چی په بدعتی پسی لمونځ کیږی. داعادی ضرورت یې نسته، خوحضرت مولانا رشید احمد صاحب نور الله مرقده مکروه تحریمی واجب الاعاده تحریر فرمایلی دی. لهٰذا داختلاف راتلو په صورة کی دی څه طرز عمل اختیار سی؟

**جواب**: په درمختار کی دی: وفی النهر عن المحیط صلی خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة اوپه شامی کی دی: قوله نال فضل الجماعة افاد ان الصلوة خلفهما اولی من الانفراد لکن لا ینال کما ینال خلف تقی ورع (۴) الخ. ددی عبارت ځخه واضحه کیږی چی

---

(۱). داحدیث په دار قطنی کی دی حواله یې مخکی تیره سویده. ددی سلسلی نور هم ډیر حدیثونه دی، وګوری مشکوٰة باب الستر ص ۷۲. ظفیر.

(۲). ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۳** ج۱، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹**. ظفیر

(۳). ردالمحتار. باب الامامة ص **۵۲۵** ج۱، ط.س. ج۱ ص **۵۲۲**. ظفیر

(۴). ردالمحتار. باب الامامة ص **۵۲۵** ج۱، ط.س. ج۱ ص **۵۲۲**. ظفیر

په بدعتی پسی لمونځ صحیح کیږی بلکی دیوازی لمونځ کولو څخه ښه دی. باقی چونکی په بدعتی بدعتی کی فرق وی. بعضی بدعات دکفر اوشرك حد ته رسیدلی وی، که چیری په داسی بدعتی پسی لمونځ وکړی نودهغه راګرځول ضروری دی، همدا صورة دتطبیق کیدی سی، یا چاچی داعادی حکم ورکړی دی، هغه به احتیاط وی، یا اختلاف روایات. اوپه بدعت فی العقیده کی هم ددرجاتو تفاوت دی ترڅو پوری چی دامعلومه نه وی چی دهغه عقیده دکفر حدته رسیدلی ده ترهغه وخته پوری به په هغه پسی دلمانځه دفساد حکم نسی کو کیدلی. کذا فی الدر المختار (۱). فقط

**څوک چی په هندوستان کی جمعه جائز نه ګڼی دهغه دجمعی امامت درست دی اوکه نه؟**

**سوال**: (۹۷۹) یوسړی دی دجومات امام دی. داعقیده یی ده چی په هندوستان کی جمعه نه صحیح کیږی په دی وجه چی دبادشاه اودهغه دنائب شرط مفقود دی. اودټولو لمونځ ګذارو داعقیده ده، چی جمعه کیږی. نودلمونځ ګذارو دجمعی لمونځ په داسی امام پسی کیږی اوکه نه؟

**جواب**: صحیح داده چی دهندوستان په ښارو کی جمع صحیح ده. دمسلمان بادشاه شرط فقهاوو لیکلی دی چی (۲) ساقط دی. نو دذکر سوی امام عقیده غلطه ده اودهغه په داسی عقیده لرلو سره په جمعه کی څه فرق نه راځی ولی چی داعقیده دهغه غلطه ده. لهٰذا ددغه مقتدیانو کم چی دجمعی دلمانځه دفرضیت قائل دی په امام مذکور پسی لمونځ صحیح دی. فقط

**ددروغو څخه دتوبه کولو څخه وروسته امامت درست دی اوکه نه؟ سوال**: (۹۸۰) زید به خلګو ته دروغ ویل اودهوکه بازی به یی کوله، خواوس هغه توبه وکښله، اوخلګو هغه امام کړی دی. آیاپه هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

**جواب**: په حدیث شریف کی دی. التائب من الذنب کم لاذنب له (۳). نودتوبی څخه وروسته په هغه پسی لمونځ بی کراهته درست دی.

**دکسب ګر سندر غاړی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال**: (۹۸۱) په مطرب یعنی ډم پسی اقتداء جائزده اوکه نه؟ یعنی مراثی خوانده (مدحه خوان) که چیری امامت کوی نو شرعًا جائزدی اوکه نه؟

---

(۱). وان انکر بعض ماعلم من الدین ضرورة کفر بها الخ فلا یصح الاقتداء به اصلا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۱). ظفیر

(۲). فلو الولاة کفار ایجوز للمسلمین اقامة الجمعة (رد المحتار باب الجمعه ص ۷۵۴ ج۱). ظفیر

(۳). مشکوة باب التوبه والاستغفار ص ۲۰۶ فصل ثالث . ظفیر

**جواب**: که چیری هغه دخپلی حرامی پیشی غناء اومزامیرو څخه توبه کښلی وی، نوپه هغه پسی لمونځ بی کراهته درست دی کنی مکروه (١) دی.

**درقص اوسرود څخه دتوبه کونکی امامت درست دی**: **سوال**: (۹۸۲) دجومات یوامام دی اکثر رقص اوسرود ته ځی، که چیری داسی سړی توبه وکاړی نوپه هغه پسی لمونځ کول به دکراهت څخه خالی وی اوکه نه؟

**جواب**: امام مذکور فاسق دی اوپه فاسق پسی لمونځ مکروه دی. که چیری هغه توبه وکاړی نوکراهت به لیری سی. لان التائب من الذنب کمن لاذنب له (٢). فقط

**دغلط ویونکی امامت درست دی اوکه نه؟** **سوال**: (۹۸۳) زید دیوجومات امام دی، هغه حافظ نه دی، حرکتونه دومره اوږدوی، چی الف او واو هم په ښه شان ښکاره کیږی او دانَّ پرځای چی انَّا راسی نومعنی به یې بدله سی، دیضربون پرځای صفا یدربون وایی، تَطَّلِعُ یی یووار تَطّلِیُ ووایه. په ث او ص او س کی ډیر کم فرق کوی او ددوی ددرست کولو کوشش نه کوی. په داسی سړی پسی په لمانځه کی څه کراهت سته اوکه نه؟

**جواب**: په دغه رکم قرآن کریم ویونکی پسی په لمونځ کولو کی دلمانځه دفساد اندیښنه ده، لهٰذا دی امام جوړول نه دی پکار، بل یوڅوك صحیح ویونکی دی امام مقرر سی (٣). فقط

**داجرت اخستونکی امامت جائزدی اوکه نه؟** **سوال**: (۹۸۴) کم سړی چی محض داجرت په کموالی زیاتوالی باندی لمونځ ورکوی دهغه امامت څنګه دی؟

**جواب**: دامامت داجرت اخستلو پرجواز باندی فتوٰی ده، ددی دپاره په هغه باندی هیڅ اعتراض نسته (٤). فقط

**دغیر مقلد امامت جائز دی اوکه نه؟** **سوال**: (۹۸۵) اگر غیر مقلد امام شود درین حالت مذهب حنفیه اقتداء نماز کند روا باشد یانه ؟

**جواب**: فقهاء تصریح فرموده اند که اگر مخالف مذهب امام شود پس اگر مراعات خلاف کند نمازخلف اوصحیح است واگرمراعات خلاف نه کند پس اگرمرتکب مفسدصلوة شود

---

(١). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) ولعل المراد به ای بالفاسق من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی واکل الربا ونحو ذالك (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰ ). ظفیر

(٢). مشکوٰة باب التوبه والاستغفار فصل ثالث ص ۲۰۶ . ظفیر

(٣). ولاغیر الالثغ به ای بالالثغ علی الاصح الخ فلایؤم الامثله ولاتصح صلاته اذا امکنه الاقتداء بمن یحسنه (درمختار باب الامامة ط.س. ج۱ ص ۵۸۱ - ۵۸۲ ). ظفیر

(٤). ویفتی بصحتها (ای الاجارة) لتعلیم القرآن والفقه والامامة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاجارة الفاسدة ص ۴۲ ج۵ ، ط.س. ج۶ ص ۵۵). ظفیر

نماز خلف اودرست نیست (١) واگر مرتکب مفسد نه شود مکروه است، قال فی الدر المختار وکذا تکره خلف امرأ سفیه الی ان قال ومخالف کشافعی لکن فی وتر البحر ان تیقن المراعات لم یکره اوعدمها لم یصح وان شك کره (٢). وتفصیله فی الشامی. بهر حال احتیاط درترك اقتداء است خصوصـاً وقتیکه امام غیر مقلد باشد که از ارتکاب مفسدات ومکروهات امن نیست. فقط

**دانگریزانو داشپزانو لمونځ اوامامت درست دی اوکه نه؟ سوال:** (۹۸۶) دانگریزانو داشپزانو ـ ځوك چی ډوډی پخوی، دخنزیر غوښه پخول اوخوړل پکښی وی، اوشراب تقسیموی، کله چی داخلگ داسی کار کوی نوددوی لمونځ وغیره قبلیږی اوکه نه؟

(۲) که چیری په دوی کی یو سړی دلمانځه ورکولو قابل وی نودهغه لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب:** (١) چونکی دغه خلگ په اسلام کی داخل دی، ددی وجه لمونځ او روژه ددوی قبول دی، دګناه څخه دی توبه کاږی.

(۲) امام جوړول داسی سړی مکروه دی لیکن لمونځ ورپسی دکراهت سره درست (٣) دی. فقط

**ددین بزرگانو ته دکافر ویونکی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال:** (۹۸۷) کم سړی چی ددین حضراتو بزرگانوته کافر وایی اوځوك چی ورته کافر نه وایی هغه ته هم کافر وایی نو په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

**جواب:** په حدیث شریف کی دی من عادىٰ لِی ولیًّا فقد اٰذنته بالحرب (٤) اوکما قال ﷺ. یعنی چاچی زما ددوست اوولی سره دښمنی وکړه، هغه ته زه دځپل جنگ خبرداری ورکوم. یعنی دهغه مقابله زما سره ده. نو ښکاره ده چی دکم مردود مقابله دالله ﷻ سره وی دهغه ټیکانه چیری ده ماسوا دجهنم څخه. وقال ﷺ سباب المسلم فسوق وقتاله کفرٌ الحدیث (٥). نوپه داسی مردود پسی ځوك چی دربانی عالمانو اواولیاء الله توهین کوی

---

(١). وزاد ابن ملك ومخالف کشافعی لکن فی وتر البحر ان تیقن المراعاة لم یکره اوعدمها لم یصح وان شك کره (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۲** ج١ ، ط.س. ج١ ص **۵۲۲**). ظفیر

(٢). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۳** ج١ ، ط.س. ج١ ص **۵۵۹ – ۵۶۰**). ظفیر

(٣). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۳** ج١ ، ط.س. ج١ ص **۵۶۰**). ظفیر

(٤). مشکوٰة باب ذکر الله عز وجل ص ١٩٧ . ظفیر

(٥). مشکوٰة باب حفظ اللسان والغیبة والشتم ص ۴١١ . ظفیر

اوهغوی ته کافر وايي لمونځ درست نه دی. (۱) فقط

**دحقير اورسوا امامت درست دی اوکه نه؟ سوال**: (۹۸۸) زيد درپه در ډوډی غواړی اوپه اجرت باندی سړی هم لمبوی اوښځه يی بی پردی ګرځی، داسی سړی امامت کولی سی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ خوپه هغه پسی کيږی ليکن دداسی سړی امامت دنورو لائق امامت صالحانو سړيو په موجودوالی کی ښه نه دی (۲). فقط

**دمتهم امامت**: **سوال**: (۹۸۹) يوسړی حافظ قرآن دی خوپه هغه باندی يوڅو الزامات لګول کيږی چی دهغه په کورکی دغير مذهب بی نکاح ښځه ده ليکن حافظ صاحب ورسره نکاح کول ښکاره کوی اومسلمانول يی هم ظاهروی خوکامل ثبوت يی نسته. دهغه امامت صحيح دی اوکه نه؟

**جواب**: چونکی پرمسلمان باندی ښه ګمان کول پکاردی اوبدګمانی پکار نه ده قال الله تعالیٰ: ان بعض الظن اثمٌ (۳). لهٰذا کله چی دغه امام صاحب ددې ښځی مسلمان کيدل، اوپه نکاح کول بيانوی، نوپه دې باندی اعتبار کول پکار دی، اودګناه الزام دی پر دغه امام صاحب باندی نه لګول کيږی، اوامامت دهغه صحيح دی. فقط

**په حيلی او بهانی سره دسود اخستونکی امامت**: **سوال**: (۹۹۰) نامداره په احسان علی سره دځای مرشد آباد قاضی اوپيش امام دی. پنځه شپږ کاله وسوه چی مسمیٰ احسان علی دتحريری تمسك داسنادو په ذريعی سره په دی طريقی سوداخستل شروع کړل چی اسناد يی دخپل لمسی اوزوی په نوم ليکل شروع کړل اودبعضو بعضو څخه يی سودهم وصول کی. چی پوښتنه ځينی وسوه نوجواب يی ورکی چی زه دانه کوم بلکی زما هلکان داسی کوی. داحيله تش په نامه ده. احسان علی دامام کيدلو قابل دی اوکه نه؟

**جواب**: مسمّیٰ احسان علی په دی صورة کی لائق دامام جوړولو نه دی، که چيری هغه تائب نه سی نومعزول دی سی اوبل صالح امام دی مقرر سی (۴). فقط

**دقانونی کاروايی کونکی امامت**: **سوال**: (۹۹۱) حکيم محمد فخر عالم متبع دشريعت اود لمانځه روژی پايبند دی، مولوی اوحافظ هم دی، چونکه حکيم محمد فخرعالم څه موده

---

(۱). ويکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل قال فی شرح المنية کراهة تقديمه کراهة تحريم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱ ، ط.س. ج ۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰ ). ظفير

(۲). ولو أم قوما وهم له کارهون ان الکراهة لفساد فيه اولانهم احق بالامامة منه کره له ذالك تحريما لحديث ابی داود الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج ۱ ، ط.س. ج ۱ ص ۵۵۹) ظفير.

(۳). سورة الحجرات: ۲ . ظفير

(۴). وکذا تکره خلف امرد الخ واکل الربا (درمختار باب الامامة ، ط.س. ج ۱ ص ۵۲۲) ظفير.

دزراعت اوټیکه داری کارهم وکی چی دهغه په وجهی سره مقروض سو. اول یی څه جائیداد خرڅ کی اوقرض یی اداء کی لیکن کله چی په دی باندی هم اداء کیدل ناممکن وګڼل سوه نودخپلو مخالفینو دبیری څخه یی خپل جائیداد په عدالت کی پیش کړی او انساموننټ سو. نو دحکیم محمد فخر عالم دامامت په باره کی څه حکم دی؟

**جواب**: دحکیم محمد فخر عالم امامت درست دی او دانساموننټ حقیقت بنده ته (یعنی ماته) معلوم نه دی، که چیری دا دڅه معصیت ته متضمن نه وی اودحقدارو حقونه تلف سوی نه وی نوپه دی وجهی سره څه کراهت دهغه په امامت کی نسته. فقط

**<u>دچاچی ږیره نه وی راغلی دهغه امامت</u>**: **سوال**: (۹۹۲) دچاچی عمر درویشت کاله وی او او ږیره او بریت یی اوس راوتل شروع سوی وی، دهغه امامت جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ په هغه پسی صحیح دی. کذافی الشامی وغیره. (۱) فقط

**<u>دیو سړی په بی وجهی ناراضګی سره په امامت باندی څه اثر نه کیږی</u>**: **سوال**: (۹۹۳) دیو مولوی سره دیوسړی جګړه سوی وه دامعلومه نه ده چی ملامتیا دچاوه اوس هغه مولوی دمحلی په جومات کی امام سوی دی دهغه په امامت باندی دمحلی ټول خلګ خوشحاله دی صرف هغه سړی دکم سره چی جګړه سوی وه ناراضه دی. اوریدلی مودی چی په دغه امام پسی لمونځ نه صحیح کیږی؟

**جواب**: که چیری سبب ددغه سړی دناراضګی دامام څه قصور نه وی اوپه امام کی څه شرعی نقص نه وی نوددغه سړی دناراضګی اعتبار نسته، لمونځ په دغه امام پسی بی کراهته صحیح (۲) دی. فقط

**<u>دناجائزی جرمانی کونکی امامت</u>**: **سوال**: (۹۹۴) یو مسلمان یوه (غیر مسلمه) موچی ښځه مسلمانه کړه او دهغې سره یی نکاح وکړه، په دی خبره یوسړی چی نوم یی قاضی وزیر شاه دی هغه دکورنی څخه جلا کی اواوبه یی ورباندی بند کړی اونکاح ته یی ناجائز وایی او وزیر شاه دټیکس اوجرمانې پنځه روپی هم ورڅخه واخستی. دداسی سړی دامامت شرعًا څه حکم دی په هغه پسی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟

---

(۱). سُئِلَ الْعَلَّامَةُ الخ عَنْ شَخْصٍ بَلَغَ مِنْ السِّنِّ عِشْرِينَ سَنَةً وَتَجَاوَزَ حَدَّ الْإِنْبَاتِ وَلَمْ يَنْبُتْ عِذَارُهُ، فَهَلْ يَخْرُجُ بِذَلِكَ عَنْ حَدِّ الْأَمْرَدِيَّةِ، وخصوصاً قد نبت له شعرات فی ذقنه تؤذن بانه لیس من مستدیری اللحی فهل حکمه فی الامامة کالرجال الکاملین ام لا الخ فاجاب بالجواز (ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۵** ج۱، ط.س. ج۱ ص **۵۲۲**). ظفیر

(۲). فان اختلفوا اعتبروا اکثرهم (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۲** ج۱، ط.س. ج۱ ص **۵۵۸ – ۵۵۹**). ظفیر

**جواب**: دوزیر شاه دامعامله کمه چې هغه ددغه مسلمان اونوی مسلمانی (ښځې) سره وکړه اوهغه یې دکورنی څخه جلا کې دشریعت څخه خلاف ده، اوحرامه اوناجائزه ده او مسلمانیدل ددغه نومسلمې اونکاح ورسره کول شرعًا درست دی اوصحیح دی. دقاضی مذکور دی ته ناجائز ویل غلط دی اوسخت جهالت دی او ټیکس اوجرمانه اخستل یې حرام اوباطل (۱) دی. داسی سړی دامامت قابل نه دی په هغه پسی لمونځ مکروه کیږی او دهغه دامامت څخه معزوله کول ضروری دی. (۲) فقط

**دزانی امامت**: **سوال**: (۹۹۵) یوسړی دمسجدامام دیوزمیندار لور وتښتوله. اودهغې سره یې نکاح وکړه اوخپله مخکنی ښځه یې قتل کړه. څه موده وروسته ذکرسوی امام یوه انجلۍ ناواده سوی وتښتوله اوبل ځای ته یې بوتله. وروسته دهغې وارثانو انجلۍ دهغه څخه جلا کړه اوپه بل ځای کی یې په نکاح ورکړه. اوس بیا دکلی یوڅو مسلمانانو دغه سړی خپل امام جوړکړی دی، په داسی صورة کی هغه امام جوړول پکاردی اوکه نه؟

**جواب**: که چیری ذکرسوی امام دخپلو افعالو اومعاصی وو څخه توبه نه وی کښلی امام جوړول یې مکروه تحریمی دی اولمونځ په هغه پسی مکروه (۳) دی. اوکه چیری هغه توبه کښلی وی نوګناه دهغه معاف ده اوامامت دهغه درست دی. بحکم التائب من الذنب کمن لاذنب له (۴). فقط

**دېمو ښځو ددعوت خوړونکی امام جوړول درست دی اوکه نه؟** **سوال**: (۹۹۶) کم سړی چی دبې حیایی دکسب کارو ښځو دعوت خوری نوهغه امام مقررول څنګه دی؟

جواب: مکروه دی (۵). فقط

**دباغبان امامت درست دی**: **سوال**: (۹۹۷) یوسړی پرهیزګار اوصاحب علم دجومات امام دی، خویوڅو ورځې باغوانی یې هم کړیده نوهغه دامامت څخه معزول کیدی سی اوکه نه؟ **جواب**: دباغوانی په وجهی سره معزول کیدی نه سی. فقط

---

(۱). لا باخذ المال فی المذهب بحر وفیه عن البزازیة وقیل یجوز معناه ان یمسکه مدة لینزجر ثم یعیده له الخ وفی المجتبی انه کان فی ابتداء الاسلام ثم نسخ (در مختار) والحاصل ان المذهب عدم التعزیر باخذ المال (رد المحتار باب التعزیر مطلب فی التعزیر باخذ المال ص ۲۴۲ ج۳، ط.س. ج ۴ ص ۲۱). ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفیر

(۳). ویکره امامة عبد الخ من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی الخ (ردالمحتار باب الجماعة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفیر

(۴). مشکوٰة باب الاستغفار والتوبه ص ۲۰۲. ظفیر

(۵). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار باب الامامة، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفیر

**دبواسیرو عارضي والا امامت**: **سوال**: (۹۹۸) بنده ته دبواسیرو ناجوړی ده چی په مخرج باندی هروخت لوندوالی وی چونکی مخرج دنظر څخه غائب دی. ددی دپاره معلومه نه ده چی یو وخت دموادو بهیدل کیږی اوکه نه؟ نوپه دی صورة کی به معذور ګڼل کیږی اوکه نه؟ اوامامت به یی درست وی اوکه نه؟

**جواب**: په درمختار کی دی ثم المراد بالخروج من السبیلین مجرد الظهور ([1]). ددی څخه معلومه سوه چی پرمخرج باندی هروخت دلوندوالی موجودوالی دمعذور جوړیدلو دپاره کافی دی ولی چی په مخرج باندی دلوندوالی ظهور ناقض (داودس ماتوونکی) دی، دسیلان ضرورت په دی کی نسته. دسیلان شرط په غیر سبیلین کی دی اوعند الحنفیه معذور دطاهر امام نسی جوړیدی. ولا طاهر بمعذور ([2]). فقط

**دحیواناتو خرونکی فقیر امامت**: **سوال**: (۹۹۹) دفقیر قوم یوسړی دی، په جومات کی اوسیږی اوامامت کوی اوحیوان هم څروی اودهغه ښځه دایی توب کوی اودا سړی سرسایه هم اخلی، په داسی حالت کی دهغه امامت جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ په دغه سړی پسی کیږی. دحیوانانو څرولو په وجهی سره یاپه دی وجهی سره چی دهغه ښځه دایی توب کوی دهغه په امامت کی هیڅ کراهت نسته لیکن امام ته دامام په معاوضه کی سرسایه اودقربانی څرمن ورکول اوهغه ته یی اخستل درست نه دی. اوکه چیری دهغه دغربت اومحتاج کیدلو په وجه بعضی (حصه) دالله دپاره دهغه دامامت دخیال څخه بغیر ورکول سی نوګنجائش سته. فقط

**دکم امام څخه چی زړه صفاء نه وی په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟** **سوال**: (۱۰۰۰) زید دمسلمانانو دجماعت په مخکی دا اقرار وکی چی زما زړه دجومات امام ته صفانه دی په داسی حالت کی به دزید لمونځ په دغه امام پسی کیږی اوکه نه؟

**جواب**: دزید لمونځ په دغه امام پسی صحیح دی. فقط

**دغیر مقلد اقتداء درسته ده اوکه نه؟** **سوال**: (۱۰۰۱) زموږ په علاقه کی یو مولوی زمیندار دی اوهم هغه لمونځ ورکوی لیکن ددی عقیدی والادی چی دی مولود شریف کولو او ددین دبزرګانو زیارت کولو اویولسمه اونذر او نیاز کولو ته بدعت وایی. او دآمین (بالجهر) اورفع الیدین کولو خلګو ته ترغیب ورکوی اوداخترونو لمونځ په دوولسو تکبیرونو سره ورکوی په داسی سړی پسی داهل سنت والجماعت لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟

---

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب نواقض الوضوء ص ۱۲۴ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۱۳۵. ظفیر

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۸ . ظفیر

**جواب**: دمیلاد شریف محفل منعقدکول اویولسمه وغیره مروجه رسمونه کول بدعت دی، ددی څخه پرهیز کول پکاردی. اورفع الیدین اودوولس تکبیرونه په اخترونو کی ویل دامام شافعی مذهب دی، حنفیه رفع یدینو ته سنت نه وایی، بلکی دهغوی په مذهب کی ماسوا دتکبیر تحریمه څخه بل په هیڅ وخت کی رفع یدین نسته اوتکبیرات زوائد په هر یوه رکعات کی دری دری دی. په درمختار کی دی: وهی ثلث تکبیرات فی کل رکعة ولو زاد تابعه الی ستتة عشر لانه مأثور (۱) الخ.

نو حنفیه وو ته رفع یدین کول نه دی پکار اوزیات تکبیرونه په اخترونو کی دری دری کیدل پکاردی اوباقی رسمونه دمحفل میلاد وغیره ترك کول پکاردی، اصلی حقیقت دادی. دغه زمیندار مولوی صاحب غالبًا غیر مقلد دی چی درفع یدین ترغیب ورکوی. دهغه خبره منل نه دی پکار، اوهغه امام جوړول هم نه دی پکار. (۲)

**مشتبه اوبدنام امام جوړول څنګه دی؟ سوال**: (۱۰۰۲) کم امام چی یوازی اوسیږی اواکثره بی ږیری هلکان دهغه سره په یوازی والی کی پیداسوی وی اودهغه په باره کی په محلې کی دبدچلنی شهرت هم وی نولمونځ ورپسی بی کراهته درست دی اوکه نه؟ دبل نیك سړی په موجودګی کی کم چی عفیف (یعنی پاك لمنی) دی، دغه سړی لمونځ ورکولو ته پرینښوول پکاردی اوکه نه؟

**جواب**: په داسی حالت کی دغه امام ته لمونځ ورکول مکروه دی ولی چی دمقتدیانو کراهت دهغه دامامت څخه دامام دخرابی په وجهی سره دی. لهٰذا داسی امام ته لمونځ ورکول نه دی پکار. قال فی الدر المختار ولوام قومًا وهم له کارهون ان الکراهة لفساد فیه اولانهم احق بالامامة کره له ذٰلك تحریمًا لحدیث ابی داود لایقبل الله صلوة من تقدم قومًا وهم له کارهون (۳). الخ

**دبرص والا امامت جائزدی اوکه نه؟ سوال**: (۱۰۰۳) زید یولوستی، ددینیات څخه خبر محتاط حنفی دجومات امام دی. بعضو احبابو په هغه پسی په دی وجه لمونځ کول پرینښی دی چی دهغه پربدن باندی دبرص یوڅو دانی دی دکمو چی هغه علاج کوی او دمحلی موجوده حاضرینو ته په هغه پسی په لمونځ کولو کی هیڅ نفرت اوکراهت نسته. په داسی سړی پسی لمونځ جائز دی او که مکروه. که چیری مکروه وی نو کراهت تنزیهی

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العیدین ص ۷۷۹ ج۱ ، ط.س. ج۲ ص ۱۷۲ – ۱۷۳ . ظفیر

(۲). تکره خلف امرد الخ ومخالف کشافعی لکن فی وتر البحر ان تیقن المراعاة لم یکره اوعدمها لم یصح وان شك کره (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲ – ۵۲۳ ). ظفیر

(۳). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ . ظفیر

دی اوکه تحریمی. اووجه دکراهت څه ده؟

**جواب:** په دغه امام پسی لمونځ بی کراهته درست دی ولی چی په ابرص پسی په هغه حالت کی فقهاوو لمونځ مکروه په کراهت تنزیهی سره لیکلی دی چی برص دهغه ظاهر اوباهر وی یعنی دبرص زیاتی نخښی وی دکمو په وجهی سره چی مقتدیانو ته تنفروی اوکله چی نه برص داسی ظاهروی اونه مقتدیانو ته تنفروی نوبیا هیڅ کراهت دهغه په امامت کی نسته. په درمختار کی دی: وکذا تکره خلفا امرد وسفیه ومفلوج وابرص شاع برصه الخ. قال فی الشامی قوله وکذا تکره خلف امرد الخ الظاهر انها تنزیهیة (۱) . الخ

**<u>دمعذور اودهغه دامامت څه حکم دی؟</u> سوال:** (۱۰۰۴) که چیری یو سړی په مختلفو مرضونو کی اخته وی، دحکیم اوډاکټر څخه یی علاج وکی لیکن څه فائده ونه سوه، دهغه څخه وروسته دغه سړی دبدن دفاسدی مادې ایستلو دپاره دحکیم په مشوری سره په لاس اوپښو کی داغ ولګوی اوپه هغه کی دنیم ددرختی یومرهم جوړ کړی اوپکښی کښی یې ښووله په هغه سره زخم پیداسو همیشه دهغه څخه لوندوالی جاری اوسی چی دهغه په وجهی سره په اکثرو امراضو کی تخفیف کیږی، داسړی شرعًا معذور دی اوکه نه؟ اوپه ده پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب:** معذور شرعًا هغه دی چاته چی دلمانځه په ټول وخت کی دومره موقع ورنه کول سی چی بغیر ددغه عذر څخه هغه اودس وکړی اولمونځ اداسی، نوپر چاچی داحالت راغلی وی هغه معذوردی. بیاترڅو پوری چی هغه په دی عذر کی مبتلاوی چی هیڅ وخت دلمانځه ددغه عذر څخه خالی نه اوسی نودی به معذور اوسی. په درمختار کی دی ان استوعب عذره تمام وقت صلوٰة مفروضة بان لا یجد فی جمیع وقتها زمناً یتوضأ ویصلی فیه خالیاً عن الحدث الخ وهذا شرط العذر فی حق الإبتداء وفی حق البقاء کفی وجوده فی جزء من الوقت ولو مرةً الخ (۲) نوکه چیری ذکرسوی سړی ته دانوبت راغلی وی چی هروخت دهغه زخم جاری وی اودلمانځه په ټول وخت کی هغه ته دومره موقع ورنه کول سوه چی اودس اوکړی اوددغه عذر څخه بغیر لمونځ وکړی نودی معذوره سو، اوس ترکمه پوری چی دده دغه زخم بهیږی یعنی دلمانځه په وخت کی په څه نه څه وخت کی دهغه څخه مواد جاری کیږی نودی به معذور اوسی. اومعذور دغیر معذورینو امام کیدی نه سی. (۳).

(۱). ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲. ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار احکام المعذور ص ۲۸۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۳۰۵. ظفیر

(۳). ولا طاهر بمعذور (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۷۸). ظ

**<u>کم غیرمقلد چی دائمه اربعه وو تقلید ته کفر اوشرک وایی دهغه امامت څنګه دی؟</u> سوال**: (۱۰۰۵) زید غیر مقلد دائمه اربعه وو تقلیدته کفر اوشرك وايي. دزيد وينا صحيح ده اوکه غلطه، اوپه هغه پسی لمونځ صحیح دی اوکه نه؟

**جواب**: ددغه غیر مقلد قول غلط دی، اوګمراهی اوخطا یی ښکاره ده، په داسی غیر مقلد پسی لمونځ صحیح نه (۱) دی. فقط

**<u>دوهمی امام جوړول څنګه دی؟</u> سوال**: (۱۰۰۶) یوسړی دومره وهمی دی چی دچاسره مصافحه نه کوی، که چیری یو مسلمان ورته څه شی ورکړی نوپه خپل لاس کی یی نه اخلی، هغه ته وایی چی په مزکه یی کیده، بیایی دمزکی څخه لوړوی. دداسی سړی څخه بیعت کول اوامام یی جوړول څنګه دی؟

**<u>دقومیت بدلونکی امامت</u>**؟ (۱۰۰۷) یو دمسجد امام خپل ذات بدل کړی دی، دداسی سړی امامت اوبیعت درست دی اوکه نه؟

**<u>دسهری</u>** (ګلانو اوډګلانو دګیډیو) **<u>تړونکی امامت</u>**؟ (۱۰۰۸) دیوسړی زوی پیداسو، هغه په خپلو دیوالونو باندی ګلان وتړل، دهغه دامامت اوبیعت څه حکم دی؟

**جواب**: (۲) (۱) داسی وهمی سړی چاته چی داتباع شریعت هیڅ خیال نسته دبیعت کولو اوپیر او مقتداء جوړولو لائق نه دی اوامام جوړول یی هم نه دی پکار، لیکن که چیری هغه لمونځ ورکی نوکه یوکارلمونځ ماتونکی ځینی سوی نه وی نولمونځ یی صحیح سو.

(۲) داسی سړی دامام جوړولو اوپیر جوړولو لائق نه دی. (۳)

(۳) داسی سړی هم لائق دامامت اوبیعت نه دی (۴). فقط

**<u>رافضی امام جوړول څنګه دی</u>: سوال**: (۱۰۰۹) یوسړی دمسجد امام دی او ړوند دی دهغه مور او پلار شیعه ګان دی، محضی دخپل نس دوجی نه خپل ځان اهل سنت ښکاره

---

(۱). داسی سړی فاسق دی اودَفاسق امامت مکروه تحریمی دی. ارشاد نبوی دی سباب المسلم فسوق وقتاله کفر (مشکوٰة) اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه لانه لایهتم لامردینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانة شرعًا الخ بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

(۲). والاحق بالامامة تقدیما ﷺ الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفیر

(۳). یکره امامة عبد الخ وفاسق ومبتدع ای صاحب بدعة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ج۱ ص ۵۲۳ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰) ظفیر.

(۴). ویکره امامة عبد الخ ومبتدع ﷺ ولا یکفر بها حتی الخوارج ﷺ وان انکر بعض ما علم من الدین بالضرورة کفر بها ﷺ فلا یصح الاقتداء به اصلا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ج۱ ص ۵۲۳ - ۵۲۴ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰) ظفیر.

کوی او لمونځ ورکوی، دداسی شخص امامت یا جنازه، نکاح او نور جائز دی اوکه نه ؟
**جواب:** که چیری هغه په حقیقت کی پرمذهب داهل سنت والجماعت وی، رافضی نه وی، نوپه ده پسی لمونځ صحیح دی اودده نکاح تړل هم صحیح دی، مګر ددې خبری تحقیق دی ضرور وسی چی آیا هغه خوبه رافضی نه وی. که چیری رافضی وی نوبیا په ده پسی لمونځ صحیح نه دی. (۱) فقط

**دقرآن هیرونکی اوجماعت ترک کونکی امامت څنګه دی؟ سوال:** (۱۰۱۰) یوسړی قرآن کریم) حفظ کی یودوه کاله یی په جومات کی ووایه هم، اوس چی راغی هیر کړی یی دی اودجماعت پابینده هم نه دی، هغه امام جوړول څنګه دی. بل سړی کم چی عالم دی او دجومات پابینده دی او قرآن کریم څنګه چی ناظره خوان یې ویل کوی هغه رکم یې وایی، دهغه دامامت څه حکم دی؟
**جواب:** قرآن کریم دیادولو څخه وروسته هیرول ګناه کبیره ده اوپر جماعت پرینبوولو باندی اصرار کول هم معصیت کبیره ده، په داسی سړی پسی لمونځ مکروه دی (حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمایلی دی: ولو انکم صلیتم فی بیوتکم کما یصلی هٰذا المتخلف فی بیته لترکتم سنة نبیکم ولوترکتم سنة نبیکم لضللتم. فتح القدیر ص ۳۰۱ ظفیر) اوبل سړی کم چی عالم اودشریعت پابینده دی او قرآن کریم صحیح وایی دهغه امامت ښه (۲) دی. فقط

**ددرواغجن سړي دامامت څه حکم دی؟ سوال:** (۱۰۱۱) کم سړی چی پنځوس روپی واخلی اودحاملی ښځی نکاح وتړی اوپه عدالت کی په دروغو قسم واخلی. په هغه پسی دلمانځه څه حکم دی؟
**جواب:** داسی سړی فاسق دی، په هغه پسی لمونځ مکروه دی، لمونځ یې صحیح کیږی خو (۳) کراهت پکښی دی. فقط

**دغوث پاک جنډه ساتونکی امامت جائزدی اوکه نه؟ سوال:** (۱۰۱۳) په ګجرات اوبمبئ کی بعضو خلګو دپیسو ګټلو داذریعه جوړه کړیده چی دلس پنځو اوږدو اوږدو بانسونو په سرکی یی داوسپنی پنجی لګولی دی اومختلفی رنګینی کپړی یی وریپوری تړلی دی

---

(۱). والاحق بالامامة تقدیما بل نصبا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۷**). ظفیر
(۲). ویکره امامة عبد ؒ وفاسق (درمختار باب الامامة ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹** – ۵۶۰ ). ظفیر
(۳). ویکره امامة عبد وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۳ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹** – ۵۶۰ ). ظفیر

اوپه کور کی یی ایښی دی، اووایی چی دادحضرت غوث پاك ښانونه (جنډی) دی. نو کله چی دوبایی مرض په زمانه کی خلګ په فقیرانو اومسکینانو باندی ډوډی خوی نو دغه ښانونه راغواړی اوتر هغه لاندی بزی حلالوی، غرض داچی ددغه ښانونو ډیر تعظیم اوتکریم کیږی اوڅوك چی دغه ښانونه ساتی هغه ته خلیفه وایی. دداسی سړی په باره کی څه حکم دی، هغه داسلام ددائری څخه خارج دی اوکه نه؟ اوپه هغه پسی لمونځ کول اولاس ورورل اوتعلق ورسره ساتل څنګه دی؟

**جواب**: په دی کی شك نسته چی دا دجاهلیت رواجونه دی اودشرك اوبدعت افعال دی ددی افعالو ارتکاب کونکو ته به مبتدع اوفاسق ویل کیږی. په کافر ویلوکی دی احتیاط وسی، اولمونځ په هغوی پسی مه کوی. اوسلام اومصافحه په داسی بدعتیانو پسی ترك کړی اوتعلقات دهغوی سره منقطع کړی اوتر دغه ښانونو لاندی بزی حلالونکی که چیری دجنډی خاوند ته دنژدیکت په خیال سره یې حلالوی نودکفر بیره ده اودغه ذبیحه حرامه ده. فقط

**<u>دجومات پرملکیت باندی دناجائز مالکانه حیثیت اختیارونکی امام جوړول څنګه دی؟</u> سوال**: (۱۰۱۳) دیو جومات سره متعلق دوه دوکانونه دی پرکموباندی چی امام صاحب مالکانه تصرف کول غواړی، مسلمانان (یعنی مقتدیان) غواړی چی ددوکانونو کرایه دجومات په مرمت اوضروری کارونو فرش وغیره کی خرڅ سی، په دی باندی امام صاحب په هیڅ شان نه راضی کیږی، که چیری امام صاحب په خپل اصرار باندی قائم اوسی نوهغه په امامت باندی قائم ولرو اوکه بل امام منتخب کړو؟

**جواب**: دجومات ددوکانونو کرایه بیشکه دجومات په مرمت اوضروریاتو کی لګول پکار دی. دامام مذکور درضا اواجازی ضرورت په دی کی نسته، اوکه چیری امام مذکور په خپل قول اوفعل باندی اصرار کوی نوهغه دی دامامت څخه معزوله سی اوبل امام صالح دی مقرر سی ([1]). فقط

**<u>دلور په واده باندی دروپو وصولونکی امامت جائزدی اوکه نه؟</u> سوال**: (۱۰۱۴) یوسړی دخپلی لور په واده کی دهلك دمور او پلار څخه دوه سوه روپی واخستی که داسی سړی امامت کوی نوجائزدی اوکه نه؟ اوس هغه توبه کاږی لیکن روپی بیرته نه ورکوی، دروپو واپس کولو څخه بغیر په توبی کولو سره هغه دامامت لائق کیدی سی اوکه نه؟

**جواب**: دانجلۍ مور او پلار ته دخاوند یا دخاوند دمور اوپلار څخه څه روپی اخستل یی

---

([1]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص **۵۲۳** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹ - ۵۶۰** )، ظفیر

په درمختار کی رشوت اوحرام ليکلی (١) دی. نو دغه روپی بيرته ورکول ضروری دی. اوتوبه دهغه همداده چی روپی بيرته ورکړی. که چيری روپی يی واپس نه کړی نوفاسق به پاته وی اودفاسق امامت مکروه دی فاسق دامام جوړولو لائق نه دی په هغه پسی اودهغه په معاونينو پسی که څه هم چی لمونځ صحيح کيږی. لقوله ﷺ صلوا خلف كل بر وفاجر. الحديث. ليکن مکروه کيږی. كذا في الدر المختار (٢) والشامي. فقط

**څوک چی درواجونو داداء کونکی سړی دعوت خوری دهغه دامامت څه حکم دی؟ سوال:**

(١٠١۵) زيد چی سند يافته عالم دی اوزموږ په ځای کی دجامع مسجد امام هم دی په يوداسی دعوت کی شريك سو په کم کی چی آتشبازی، انګريزی باجه وغيره شرعی ممنوعات وه اوډوډی وغيره يی وخوړل، شريعت مبارك په داسی سړی پسی په لمونځ کولو کی څه حکم ورکوی هغه ته توبه کښل پکاردی اوکه نه؟

**جواب:** په دی باره کی يی په درمختار کی داتفصيل کړی دی، چی که چيری په داسی دعوت اووليمه کی دتللو اوشريکيدلو څخه مخکی علم نه وو چی هلته داسی ناروا کارونه دی نوکه چيری دی مقتدا سړی وی نوده ته هلته تم کيدل اوشريکيدل نه دی پکار. اوکه چيری مقتداء نه وی نوپه زړه سره دی يی بدګڼی اوډوډی وغيره دی وخوری. اوکه چيری دتللو څخه مخکی ورته پته ولګيږی نوهيڅکله (٣) دی نه شريکيږی نو په صورة مسئوله کی امام مذکور ته توبه کښل پکاردی، او وروسته دتوبی څخه په هغه پسی لمونځ بی کراهته صحيح دی. جاء في الحديث التائب من الذنب كمن لاذنب (٤) له. فقط

**په طور ددارو دأفيونو دخوړونکی امامت: سوال:** (١٠١٢) عمر په وجه دساه لنډی افيون خوری، په دی وجه کله په لمانځه کی نشه سی، هغه دامامت قابل دی اوکه نه؟ په هغه پسی لمونځ صحيح کيږی اوکه نه؟

**جواب:** لمونځ خوپه هغه پسی صحيح کيږی په دی شرط چی يوکار لمونځ ماتونکی دهغه

---

(١). ومن السحت ما ياخذ الصهر من الختن بسبب بنته بطيب نفسه حتى لوكان بطلبه يرجع الختن به مجتبى (ردالمحتار حظر واباحت ص ۴۷۴ ج۵ ، ط.س. ج۶ ص ۴۲۴ )، ظفير

(٢). ويكره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشى في شرح المنية ان كراهة تقديمه كراهة تحريم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج١ ، ط.س. ج١ ص ۵۵۹ - ۵۶۰ ). ظفير

(٣). ولودعي الى دعوة فالواجب ان يجيبه الخ اذا لم يكن هناك معصية ولا بدعة الخ والامتناع اسلم في زماننا، الا اذا علم يقينا بانه ليس فيها بدعة ولا معصية الخ لا يجب دعوة الفاسق المعلن (عالمگيری كتاب الكراهية الباب الثاني عشر ص ۳۰۵ ج۵ ، ط. م. ج١ ص ۳۴۳). ظفير

(٤). مشكوة باب التوبة والاستغفار فصل ثالث . ظفير

څخه ونسي. لیکن که چیری بل سړی اولی بالامامت موجودوی، نودغه بل سړی امام جوړول پکاردی. فقط

**دشهوت دشدت په وخت کی امام جوړیدل څنګه دی؟ سوال**: (۱۰۱۷) زه جره یم، په بعضو ورځو کی دشهوت زوروی اوپه لمانځه کی هم خیالات راځی، اودمذی څاڅکی را څخه وزی، په داسی حالت کی لمونځ کول اوامام جوړیدل جائزدی اوکه نه؟ اوچونکی زما دنکاح کیدلو توقع نسته. ددی دپاره زما اراده ده چی داسی دارو وخورم چی په هغه سره می دشهوت ماده ختمه سی. داجائزدی اوکه نه؟

**جواب**: په حدیث شریف کی دامضمون راغلی دی چی کم سړی دنکاح اسباب اوطاقت لری هغه دی نکاح وکړی اودچا سره چی دنکاح اسباب نه وی اودهغه نکاح یوځای کیدی نه سی هغه دی روژی نیسی ځکه چی روژه نیول دهغه دپاره رجاء ده یعنی شهوت بندوی. (۱) اوحضور ﷺ دنامرد جوړیدلو څخه منع فرمایلی ده اودایی حرام فرمایلی دی داسی اراده هیڅکله کول نه دی پکار. (۲) که چیری تاسی په دی حدیث باندی عمل وکی نوامیددی چی الله ﷻ به دغیبو څخه دنکاح اسباب هم تیار وفرمایی. ع:

میدهد یزدان مراد متقی

قال الله تعالٰی ومن یتق الله یجعل له مخرجًا الآیة. (۳) ترجمه: اوخوك چی دالله ﷻ څخه بیریږی نوالله ﷻ دهغه دپاره خلاصون فرمایی. اودمذی دقطری څڅیدلو په حالت کی لمونځ نه صحیح کیږی، داسی سړی ته امام جوړیدل نه دی پکار (۴). البته کله چی په روژی نیولو سره شهوت کم سی اومذی نه راځی نوهغه وخت دی امام جوړسی. فقط

---

(۱). عن عبدالله بن مسعود قال: قال رسول الله ﷺ: یا معشر الشباب من استطاع منکم الباءة فلیتزوج فإنه أغض للبصر وأحصن للفرج ومن لم یستطع فعلیه بالصوم فإنه له وجاء. متفق علیه (مشکوٰة کتاب النکاح فصل اول ص ۲۶۷). ظفیر

(۲). عن أبي هریرة ﷜ قال قلت یا رسول الله إني رجل شاب وأنا أخاف علی نفسي العنت ولا أجد ما أتزوج به النساء کأنه یستأذنه في الاختصاء قال: فسکت عني ثم قلت مثل ذلك فسکت عني ثم قلت مثل ذلك فسکت عني ثم قلت مثل ذلك فقال النبي ﷺ: یا أبا هریرة جف القلم بما أنت لاق فاختص علی ذلك أو ذر. رواه البخاری (مشکوٰة باب الایمان بالقدر ص ۲۰). ظفیر

(۳). سورة الطلاق. رکوع۱. ظفیر

(۴). دمذی وتلو سره اودس ماتیږی اوبیا دوباره اودس دلمانځه دپاره فرض دی اوکله چی اودس باقی پاته نه سی نولمونځ به څنګه جائزوی لاعند مذی (ای لا یفرض الغسل عند خروج مذی) او ودی بل الوضوء منه ای بل یجب الوضوء منه (وګوری ردالمحتار مبحث الغسل ص ۱۵۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۱۶۵) داودس دنواقضو په سلسله کی صراحت دی: المعانی الناقضة للوضوء کل مایخرج من السبیلین الخ (هدایه فصل نواقض وضوء ص ۳۳ ج۱). ظفیر

**چي تربجلکو لاندې پرتوګ ساتي دهغه امامت**: **سوال**: (۱۰۱۸) که دامام پرتوګ تر بجلکو کښته وی ، نو دهغه لمونځ څنګه دی؟

**جواب**: که قصداً یې کښته ساتي نوپه هغه پسې لمونځ مکروه دی. (۱) فقط

**دجهينګا** (۲) **خوروونکی امامت څنګه دی؟** **سوال**: (۱۰۱۹) دلته یوسړی امام دی اوزما استاذ هم دی هغه جهينګا خوری که چیری په دی باره کی دهغه سره بحث کوو نوداستاذ والی په وجه شرم راځی، دهغه ناراضګی نه غواړم، په دغه سړی پسی لمونځ صحیح کیږی او که نه؟

**جواب**: واضحه دی وی چی ددین په مسئله کی دچا څخه شرم نه دی پکار اودهغه دناراضوالی اوخفه والی خیال نه دی پکار اوکم سړی چی دحرام کارمرتکب دی هغه فاسق دی په هغه پسی لمونځ مکروه تحریمی دی. باقی تاسی داتشریح په سوال کی ونه کړه چی دجهينګا څخه ستاسی مراد ماهی دی اوکه داجهينګا کم چی په کورونوکی وی. هغه خوپه حشرات الارض اوخبائثو کی دی دهغه خوړل خوحرام دی. (۳) اوکم جهينګاچی دریابی دی کم ته چی جهينګا ماهی وایی که چیری هغه دماهی دقسم څخه وی خودرست (۴) دی اوکه چیری دماهی دقسم څخه نه وی، نوحرام دی. ددی خبری تحقیق کول پکار دی. فقط

**دنوی مسلمان سوی ځوان شخص امامت چی سنتیا یی نه وی سوی څنګه دی؟** **سوال**: (۱۰۲۰) کم سړی چی دځوانی په عمر کی اسلام راوړی وی اومسلمان سوی وی هغه ته ختنه (یعنی سنت) کول پکاردی، اوکه نه؟ اودختنی کولو څخه مخکی په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

**جواب**: دنومسلم ختنه موافق دسنت نبویه علی صاحبها الصلوة والتحیه کول پکاردی ولی چی ختنه کول داسلام دشعائرو څخه دی اودضرورت په وجه کله چی هغه پخپله ختنه نسی کولی دختان (ختنه کوونکی) په ذریعه ختنه کول درست دی او دضرورت په

---

(۱). قال رسول الله ﷺ ما اسفل من الكعبين من الازار فی النار رواه البخاری (مشكوٰة كتاب اللباس ص ۳۷۳) کله چی داناجائز سو نوچی څوك ددی مرتکب سی هغه فاسق سو او دَفاسق امامت مکروه دی. ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار باب الامامة ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ ). ظفیر

(۲). **جهينګا**: یوقسم دریابی چینجی دی چی خلګ یې ماهی ګڼی ، په پښتوکښې ورته (مکړی) وایی، او هندوان یې خوری. نسیم اللغات ص ۳۲۳ ، فیروز اللغات ص ۵۰۱ . حقانی"

(۳). ولا یحل ذوناب الخ ولا الحشرات هی صغار دواب الارض (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الذبائح ص ۲۲۵ ج۵ ، ط.س. ج ۶ ص ۳۰۴). ظفیر

(۴). وهل الجراد الخ وانواع السمك بلا ذكاة (ایضاً ص ۲۲۸ ج ۵ ، ط.س. ج۶ ص ۳۰۷) ظفیر.

وجه دختّان نظر دختنی پرځای باندی درست دی کما فی الدر المختار کتاب الحظر والاباحة: ینظر الطبیب الی موضوع مرضها بقدر الضرورة اذا الضرورات تتقدر بقدرها وکذا نظرقابلة وختان الخ قوله وختان کذا جزم فی الهدایة والخانیة وغیرهما. (۱) الخ شامی اوترڅو پوری چی هغه ختنه ونه کړی بیاهم په هغه پسی لمونځ صحیح دی. فقط

**څوک چي دلمونځ او روژې پابند نه وي اوظلم کوي دهغه امامت درست دي اوکه نه؟ سوال:**

(۱۰۲۱) کم سړی چی دلمانځه او روژې قطعی پابند نه وی، دروغ ډیر وایی، دظلم او زیاتی عادی وی، زانی وی، ددین بزرگانو ته بدوایی، سره ددی ټولو بدو کارونو خپل ځان ولی ښکاره کوی په هغه پسی لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟

**جواب:** دحق تعالی ارشاد دی: ان اولیاءه الا المتقون (۲). اوفرمایلی یی دی: الا ان اولیاء الله لاخوف علیهم ولاهم یحزنون الذین اٰمنوا وکانوا یتقون. (۳) ددی آیتونو څخه معلومه سوه چی دالله ﷻ ولی هغه دی څوک چی متقی وی بدعمله سړی ولی نه دی، اودا دعوٰی دهغه دروغ ده کم سړی چی دحق تعالٰی نافرمان وی هغه دالله دښمن دی، دهغه څخه مرید کیدل درست نه دی اوهغه امام جوړول مکروه دی. (۴)

**دمحرم جوړوونکی اوشدت پرست امامت: سوال:** (۱۰۲۲) دشدت پرست اوپه محرم کی درواجونو اداء کونکی امامت څنګه دی. ددی څخه علاوه هغه په قرآئت کی اکثره غلطی هم کوی.

**جواب:** قال فی الدر المختار : ویکره تنزیهًا امامة عبد الخ واعرابی وفاسق الخ ومبتدع ای صاحب بدعة لا یکفر بها الخ وان کفر بها فلا یصح الاقتداء به اصلاً الخ وفی الشامی : واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعًا ، ولا یخفی انه اذا کان اعلم من غیره لا تزول الْعِلةُ ، فَإِنَّهُ لَا یُؤْمَنُ أَنْ یُصَلِّيَ بِهِمْ بِغَیْرِ طَهَارَةٍ فَهُوَ کَالْـمُبْتَدِعِ تُکْرَهُ إمَامَتُهُ بِکُلِّ حَالٍ بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (۵) لماذکرنا الخ ص ۳۷٦ ، شامی جلد اول . ددی عبارت څخه واضحه سوه چی په فاسق اومبتدع پسی لمونځ مکروه تحریمی دی اوهغه دامام جوړولو

---

(۱). ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی النظر والمس ص ۳۲۵ -۳۲۲ ج۵ ، ط.س. ج۲ ص ۳۷۰ . ظفیر
(۲). سورة الانفال رکوع ۴. ظفیر
(۳). سورة یونس رکوع ۷. ظفیر
(۴). یکره امامة عبد الخ وفاسق (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰ ). ظفیر
(۵). رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰ . ظفیر

لائق نه دی. نوذکر سوی سړی مبتدع هم دی اوفاسق هم دی، اوددی څخه علاوه قرآن کریم هم غلط وایی، لهٰذا هغه په هیڅ شان دامام جوړولو لائق نه دی. فقط

**دامام رکوع اوسجده اوږدول څنګه دی؟** **سوال:** (۱۰۲۳) زموږ پیش امام صاحب چې موږ ته دسهار لمونځ راکوی نوپه رکوع اوسجده کی دومره وخت تیروی چې مقتدیان پنځوس شپیته واره تسبیح ووایی اوکله چې هغه ته دوخت تیرولو شکایت وسی نوهغه وایی چې په لمانځه کی دومره وخت تیرول دزیات ثواب اواجر باعث دی. په موږ کی اکثره دنیا دار کار وبار والادی اوبعضی مریضان اوکمزوری دی نوپه دی صورة کی څه حکم دی؟

**جواب:** په درمختار کی دی: ویکره تحریمًا تطویل الصلوة علی القوم زائدا علی قدر السنة فی قرآئة واذکار رضی القوم اولا، لاطلاق الامر بلتخفیف) وهوما فی الصحیحین اذا صلّی احدکم للناس فلیخفف فان فیهم الضعیف والسقیم والکبیر واذا صلی لنفسه فلیطول ماشاء ([1]) الخ شامی، ددی څخه معلومه سوه چې دامام رکوع اوسجده دومره (زیات) اوږدول مکروه تحریمی دی اوداکار دهغه ناجائز دی اودا دهغه دجهالت دلیل دی. داسی سړی دی امام جوړنه سی ولی چې په یوحدیث کی یی داسی سړی ته فتان فرمایلی دی یعنی فتنه کی اچونکی. نوامام ته رعایت دمقتدیانوضروری دی اوپه قرآئت اورکوع اوسجده کی تخفیف لازم دی. فقط

**دګوډ په امامت کی څه خرابی خونسته:** **سوال:** (۱۰۲۴) یوعالم باعمل (په پښه) ګوډ دی خوتګ راتګ کولی سی، ځکه نودیو جومات امام دی. خلګ وایی چې په ده پسی لمونځ درست نه دی. په دی صورة کی څه حکم دی؟

**جواب:** په ګوډ پسی لمونځ صحیح کیږی لکین که چیری بل امام مقرر سی نودابنه ده کما فی الشامی. وکذا اعرج یقوم ببعض قدمه فالاقتداء بغیره اولی الخ ([2]). فقط

**صرف دیوامام پیروی کونکی امامت جائزدی اوکه نه؟** **سوال:** (۱۰۲۵) کم خلګ چې صرف دیوامام پیروی کوی اودباقی دری امامانو دپیروی څخه انکار کوی په هغوی پسی لمونځ جائز دی اوکه نه ؟

**جواب:** مقلدین صرف دیوامام پیروی کوی اوهغوی ته صرف دیوامام تقلید کول پکار دی. مثلاً کم خلګ چې دامام ابوحنیفه رحمه الله سابق الائمه مقلد دی هغوی به صرف دامام ابوحنیفه پیروی کوی. دامام شافعی وغیره رحمهم الله پیروی به نه کوی. ([3]) فقط

---

([1]). رد المحتار باب الامامة جلد اول ص ۵۲۷ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۴ . ظفیر

([2]). ردالمحتار باب الامامة جلد اول ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲ . ظفیر

**دغير مطلقي نكاح تړونكي امامت**: **سوال**: (۱۰۲۶) يوه ښځه دخپل خاوند دكور څخه ووته اوتړېري مودې يې ديوغير سړي سره ناجائز تعلق ودرلودى. بيازيد مړسو نوښځې دعمر سره ناجائز تعلق جوړكي اوحامله سوه. عمر دښځې سره نكاح كول وغوښتل نومولوى صاحب دښځې دخاوند څخه طلاق طلب كې. كله چې هغه طلاق ورنه كې نوبغير طلاقه يې دښځې نكاح وتړله. په مولوى نكاح خوان اوشريكانو باندې څه حكم دى. دداسې مولوى اقتداء درسته ده اوكه نه؟

**جواب**: دمخكني خاوند دطلاق وركولو څخه بغير دعمر سره نكاح ددغه ښځې ناجائز اوباطله ده اوكم خلگ چې دجواز فتوٰى وركونكي دي اوپه دې نكاح كې مُعِين دي هغوى فاسقان اوعاصيان دي، توبه دې وكاږي اواعلان دې وكړي چې دانكاح نه ده سوې اوجدايي دې راولي. بغير دتوبې څخه داسې مولوى داقتداء لائق نه دى. (۱) فقط (په قرآن كريم كې چې كم ځاى دمحرماتو ذكردى حرمت عليكم امهاتكم الآية. هلته يې په محرماتو كې واده سوې ښځې هم شماركړې دي. والمحصنٰت من النساء، ظفير)

**دمختلفي درجې قرآن كريم ويونكو امامت ديو بل دپاره**: **سوال**: (۱۰۲۷) دصوبه بهار نا لوستونكي خلگ دذال، زاء، ضاد پرځاى جيم وايي يعني ذاكر ته جاكر اوزور ته جور اوضماد ته جماد اوظاهر ته جاهر وايي. همدغه ركم دثاء، شين، صاد پرځاى سين اود خاء پرځاى كاء، اودعين پرځاى الف، دغين پرځاى گاف، اوپه لمانځه كې دقرآن كريم الفاظ هم همدغه ركم اداء كوي، اولوستونكي عوام ذال، ضاد، ظاء په زاء سره ادا كوي، اوثاء اوصاد، په سين سره ، اوعين په الف سره ادا كوي، لكه څنگه چې اردو ويل كيږي اوپه لمانځه كې قرآن كريم هم په همدغه ركم وايي اوفتحه اوضمه اوكسره دومره راكشوي چې الف، ياء، واو ته نژدې سي نودلوستونكو خلگو لمونځ به په نالوستو پسې درست وي اوكه نه؟ على هٰذا كم خلگ چې دتجويد څخه خبر دي، حروف دمخارجو څخه اواعراب په صحيح طور سره اداء كوي دهغوى لمونځ به په پورتنيو دوو قسمونو پسې درست وي اوكه نه؟ چيرې چې دوهم قسم امام وي اودلمانځه اوروژې دمسائلو څخه خبر وي اوپه دريم قسم پسې په سبب داختلاف مذهب څه ركم چې داهل حديثو اوغير مقلدينو اختلاف دى يادبدعت اودعدم بدعت. لمونځ كول جائزنه گڼي نوددې دريم سړي

(۳). وان الحكم المفلق باطل بالاجماع (درمختار) والتلفيق باطل فصحته منتفية اهـ (ردالمحتار مقدمه مطلب فى حكم التقليد الخ ص ... ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۷۴). ظفير

(۱). ويكره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) اما الفاسق فقد عللوا كراهة تقديمه الخ بل مشى فى شرح المنية على ان كراهة تقديمه كراهة تحريم (رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۳ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰). ظفير

**جمعه اوجماعت په دغه امام پسی جائزدی اوکه نه؟ اوکم سړی چی حروف دمخارجو څخه نه اداء کوی هغه ته دهغه چاپه مقابله کی چی اداء کوی داویل کیږی اوکه نه؟ چی قرآن کریم نه وایی؟**

جواب: په درمختار کی دی: ولا غير الالثغ بالالثغ على الاصح كما فى البحر عن المجتبى وحرر الحلبى وابن الشحنة انه بعد بذل جهده دائما حتما كالأمى فلا يؤم الا مثله ولا تصح صلاته اذا امكنه الاقتداء بمن يحسنه او ترك جهده اووجد قدر الفرض مما لا لثغ فيه هذا هو الصحيح المختار فى حكم الالثغ وكذا من لا يقدر على التلفظ بحرف من الحروف او لا يقدر على اخراج الفاء الا بتكرار الخ قال فى الشامى فى شرح قوله وكذا من لا يقدر الخ وذلك كالرحٰمن الرحيم والشيتان الرجيم ، والآلمين ، واياك نأبد واياك نستئين ، السراط ، انأمت ، فكل ذلك حكمه ما مرّ من بذل الجهد دائمًا والا فلا تصح الصلوٰة به الخ شامى ([1]) وفيه قوله فلا يؤم الا مثله يحتمل ان يراد المثلية فى مطلق اللثغ فيصح اقتداء من يبدل الراء المهلة غينا معجمة بمن يبدلها لامًا وان يراد مثلية فى خصوص اللثغ فلا يقتدى من يبدلها غينًا وهذا هو الظاهر كاختلاف العذر فليراجع ([2]) وفى الدر المختار ايضاً ولا حافظ أية من القرآن بغير حافظ لها وهو الامى ولا امى باخرس الخ ([3]) قوله بغير حافظ شمل من يحفظها او اكثر منها لكن بلحن مفسد للمعنى لما فى البحر عندنا من لا يحسن القراءة المفروضة الخ قوله ولا امى باخرس اما اقتداء اخرس باخرس او امى بامى ([4]) فصحيح .

نو ددی تحقیقاتو څخه واضحه سوه چی دمخکنی اودوهم قسم غلط ویونکی امیان دی اودامی لمونځ په امی پسی صحیح دی لیکن شامی چی کم فلا یؤم الا مثله کی تحقیق نقل کړی دی په هغه کی یی داښکاره کړیده چی دیوقسم لمونځ دی په بل قسم پسی صحیح نه وی، خو دامی لمونځ دصحت اطلاق په امی پسی دصحت مقتضی دی اوکم خلګ چی قرآن کریم صحیح سره دتجوید دقاعدو وایی ښکاره ده چی دهغوی لمونځ به په مخکنیو دوو قسمونو پسی صحیح نه وی. اودمخارجو څخه دحرفونو اداء کولو په مراتبو کی داعلٰی درجی مجود چی څه رکم هریو حرف دخپل مخرج څخه باسی نور خلګ که څه هم قرآن کریم صحیح وایی لیکن ددی درجی څخه قاصردی، نوددی کمی درجی

---

([1]). الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ج١ ص ٥٤٤ ، ط.س. ج١ ص ٥٨١ – ٥٨٢ . ظفير

([2]). رد المحتار باب الامامة ج ١ ص ٥٤٥ ، ط.س. ج١ ص ٥٨٢ . ظفير

([3]). رد المحتار باب الامامة مطلب فى الالثغ ج ١ ص ٥٤٤ - ٥٤٥ ، ط.س. ج١ ص ٥٨٢ . ظفير

([4]). الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ج ١ ص ٥٤٢ ، ط.س. ج١ ص ٥٧٩ . ظفير

صحیح ویونکو ته دا خو نسو ویلی چی دوی قرآن کریم غلط وایی البته تجوید والا به ورته جید نه وایی. اونه ویلی سو چی داصحیح ویونکی خلگ ددی حرفونو بدلونکو په شان دی څوك چی ظا اوضاد زا یاذال وایی اوطا په تاء وایی. کمالِ تجوید کم چی دحرفونو په پوره شان سره دمخارجو څخه اداء کول وغیره دی دا دمحسناتو (یعنی ښه څخه دی. فقط

**دآمین بالجهر کونکی امامت**: **سوال**: (۱۰۲۸) دآمین په لوړ آواز سره ویونکو پسی دحنفیانو لمونځ درست دی اوکه نه؟

**جواب**: په دی کی څه تفصیل دی عمومًا نه سو ویلی چی صحیح نه دی اونه داچی صحیح دی. خلاصه داچی حتی الوسع دی غیر مقلدین امامان جوړنه سی ځکه چی په وجه دفساد دبعضو عقائدو دغیر مقلدینو احتمال دلمانځه دفساددی. اوکه چیری اتفاقًا یی په هغوی پسی لمونځ وکی نوپه حکم دصَلُّوا خلف كلّ برّ وفاجر الحدیث. هغه لمونځ صحیح سو. فقط

**درفع یدین والا امامت**: **سوال**: (۱۰۲۹) که چیری حنفی په هغه امام پسی لمونځ وکړی څوك چی په لوړ آواز سره آمین وایی اورفع یدین کوی نولمونځ یې صحیح سو اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ صحیح سو، په دی شرط چی څه خبره دلمونځ ماتونکی په امام کی ښکاره نه سی (۱).

**آمین بالجهر درست دی اوکه نه؟** **سوال**: (۱۰۳۰) حنفی مسلمانانو دپیش امام څخه پوښتنه وکړه چی آیامونږ حنفیان هم آمین په لوړ آواز سره ویلی سو اوکه نه؟ نوامام صاحب وفرمایل چی هو! ویلی سی. آیا مونږ یې ویلی سو؟

**جواب**: داجواب ددغه امام درست نه دی بلکی آمین کرار ویل پکاردی. ځنگه چی دآیت: ادعوا ربکم تضرعًا وخفیة (۲) اودحدیث اخفاءِ آمین څخه ثابت (۳) دی، اودآمین بالجهر تاویل سوی دی چی یاپه غرض دتعلیم دی کَماثبت عنه ﷺ الجهر بالقرآءة فی بعض الصلوة التی یقرأ فیها سرًا. یامحمول دی پرابتداء باندی. فقط

---

(۱). وکره امامة عبد الخ ومخالف کشافعی لکن فی وتر البحر ان تیقن المراعاة لم یکره اوعدمها لم یصح وان شك کره (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة مطلب فی الاقتداء بشافعی ونحوه ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۳ ). ظفیر

(۲). سورة الاعراف رکوع ۷. ظفیر

(۳). عن وائل بن حجرؓ قال صلی بنا رسول الله ﷺ فلما قرأ غیر المغضوب علیهم ولا الضالین قال امین واخفی بها صوته رواه احمد. (آثار السنن، باب ترك الجهر بالتامین جلد اول ص ۹۲). ظفیر

**کم امام چې دحق تبلیغ څخه بندول کوي، هغه امام جوړول څنګه دي؟ سوال:** (۱۰۳۱) یو واعظ دقرآن اوحدیث مطابق وعظ بیانوي. بل سړی امام دمسجد ورته وایي چې داسې وعظ مه وایه، ولې چې ته ټول مسائل واضح بیانوي، په دې سره موږ ته هیڅ نه راکول کیږي، څه دملایانو خلګو حق هم ساتي. وعظ کونکي دنورو خلګو څخه منع کوي. دبهشتي زیور مسائل نه مني. په داسې سړي پسې لمونځ کول جائزدي اوکه نه؟

**جواب**: وعظ کونکي ته دشریعت مسائل دفقهي کتابونو موافق بیانول پکاردي. دچا دویلو اوریدلو اوبدو ردو ویلو په وجهې سره دحقو مسائلو مفتیٰ بها ضروریه وو څخه بندیدل نه دي پکار. اوکم سړي چې په دنیاوي غرض سره حقاني واعظ دمسائل حقه مفتیٰ بها ضروریه دبیانولو څخه بندوي، هغه په خطا باندي دي اوعاصي دي، امام جوړول دهغه مکروه دي اوپه هغه پسې لمونځ مکروه کیږي. داسې امام دشریعت مخالف دمعزولولو قابل (۱) دي. اوبهشتي زیو دیومعتبر عالم تصنیف کړي (کتاب) دي، دهغه مسائل کم چې مفتیٰ بهادي دهغه په معتبروالي کي هیڅ شبه نسته. اوهیڅ حقاني عالم عمومًا دهغه په مسائلو باندي اعتراض نسي کولی. باقي که چیری څه مسئله په هغه کي سهوًا خلاف راجح یاغیر مفتیٰ بها لیکل سویده. دهغه تحصیح پخپله مؤلف علام اخته دي کوي. فقط

**دظالم امامت**: **سوال**: (۱۰۳۲) زید اوعمر دیوخاندان دي. په دواړو کي دنیاوي دښمني زیاته سویده. عمر کمزوري دي اوزید ډله اوپارټي لري. ددي وجه چې څه غواړي کوي یي، یوه ورځ عمر په جومات کي لمونځ کوي، زید دخپلو ملګرو په ملګرتیاکي ددروازي پرشا اوخوا ګیره (محاصره) واچوله. کله چې عمرفارغه سو اودمسجد فرش ته راغی نو عمر ته زید ښکنځل کول شروع کړل. عمر پردیوال باندي وځغاستل او وتښتیدي، زید ورپسې ملګري وځغلول اوراوي نیوي، وهل ټکول شروع سوه زید دعمر ږیره وشکوله، دهمدغه ورځي څخه عمر دبیري په وجه دغه جومات ته دلمانځه دپاره نه ځي اوپه کور کي لمونځ کوي یاکله بل جومات ته ولاړسي اولمونځ وکي. دعمر لمونځ په زید پسې درست دي اوکه نه؟ دزید امامت څنګه دي؟

**جواب**: دزید ظلم اوزیاتي ظاهردي، په دي وجهې سره هغه فاسق دي. لائق دامامت جوړولو نه دي. ددي ټولو خبرو سره دعمر لمونځ په زید پسې صحیح دي، لیکن په فاسق امام پسې لمونځ دټولو مقتدیانو مکروه دي، دعمر لمونځ به هم مکروه (۲) وي. اوعمر ته

---

(۱). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنية ان كراهة تقديمه ای الفاسق كراهة تحريم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰). ظفير [باقی]

دذکر سوی بیری په وجهی سره دغه جومات ته نه راتلل اوددغه جومات جماعت ترک کول درست دی لیکن حتی الوسع په بل جومات کی په جمعه کی شریکیدل پکاردی، دا عذر مطلقًا دجماعت پریښوولو نسی کیدی، البته که چیری دکور څخه دباندی په وتلو کی هم بیره دوهلو اوښکنځلو وغیره وی او دفساد اندیښنه وی نوعمر ته په کور کی لمونځ کول درست دی. (۱) فقط

**دصحیح ویونکی په موجود ګی کی دغلط ویونکی امامت: سوال:** (۱۰۳۳) دیوجومات امام قرآن شریف غلط وایی په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ بل حافظ موجود دی، دامام غلط ویونکی امامت صحیح یادرست دی اوکه دحافظ. امام غلط ویونکی په : اَلَمْ تَرَ کَیْفَ، سره تراویح ورکوی اوحافظ په دغه جومات کی بل ځای قرآن کریم ویل شروع کړل. په یووخت کی په دواړو جماعتونو کی کم یوجماعت صحیح سو. اوکم سړی چی په تراویحو کی دقرآن اوریدلو څخه انکارکوی هغه څنګه دی؟

**جواب:** دامامت دپاره ښه دفقهاوو دتفصیل مطابق اعلم او اقرأ وغیره دی. (۲) اوکم سړی چی په لمانځه کی په قرآئت کی داسی غلطی وکړی کمه چی لمونځ ماتونکی وی نو لمونځ به صحیح نه وی اوکه چیری هغه غلطی لمونځ ماتونکی نه وی نولمونځ صحیح دی، لیکن داضروری ده چی غلط ویونکی دی امام جوړنه سی. ولی چی ممکنه ده چی دهغه څخه څه غلطی دلمونځ ماتونکی واقع سی (۳). اوپه: اَلَمْ تَرَکَیْفَ سره تراویح ورکول درست دی. په دغه جومات کی دتراویحو بل جماعت دمخکی جماعت په موجودوالی کی درست نه دی. (۴) اوتخفیف دقرآئت دمقتدیانو درعایت په وجه ماموربه دی. بناءً علی هذا که چیری دمقتدیانو دپوره قرآن کریم اوریدلو همت نه وی نوپه : اَلَمْ تَرَ کَیْفَ سره تراویح وکی. اوپه اَلَمْ تَرَکَیْفَ سره پرتراویح کونکو باندی دی طعن ونه سی(۵). فقط

---

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه الخ بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ ) ظفیر.

(۱). فلا تجب علی مریض الخ خوف علی مالها ومن غریم او ظالم (درمختار) اوظالم یخافه علی نفسه اوماله (رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص ۵۱۹). ظفیر

(۲). والاحق بالامامة تقدیما بل نصب الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفساد الخ ثم الاحسن تلاوة وتجویدا للقرآءة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفیر

(۳). ولاغیر الالثغ به ای بالالثغ علی الاصح الخ فلایوم الا مثله ولا تصح صلاته اذا امکنه الاقتداء بمن یحسنه (در مختار) وفی الظهیریة وامامة الالثغ لغیره تجوز وقیل لا الخ وظاهره اعتماد هم الصحة الخ ینبغی له ان لایؤم غیره (رد المحتار باب الامامت ص ..... ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۱ – ۵۸۲ ). ظفیر

(۴). ولوصلی التراویح مرتین فی مسجد واحد یکره کذا فی فتاوٰی قاضیخان (عالمگیری مصری باب التراویح ص ۱۰۹ ج۱، ط. م. ج۱ ص ۱۱۲). ظفیر

**دهغه زنا کار امامت چاچې توبه کښلي وي؟ سوال**: (۱۰۳۴) یوسړی یوه نکاح سوی ښځه دچاچې خاوند ژوندی وو وتښتوله اوتردوو کالو پوری یی بی نکاح وساتله. بیا دهغې خاوند مړسو اودعدی څخه وروسته هغه سړی ددغه ښځی سره نکاح وکړه اوتوبه یی وکښله. نوامامت اواذان دهغه جائزدی اوکه نه؟ اوپه چا باندی چی داشبه وی چی دی زانی دی اوشاهدان باندی نه وی نو دهغه امامت جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: که چیری دغه ښځی دخاوند دمرګ څخه وروسته دمرګ عده یعنی څلور میاشتی اولس ورځ پوره کړی اودهغه څخه وروسته ورسره دغه سړی نکاح وکړه نونکاح صحیح سوه، اودغه سړی دبل دښځی تښتولو په وجهی سره فاسق سو، زنا ثابته وی اوکه نه وی فاسق کیدل دهغه مسلم سوه. اوس که چیری هغه دزړه په صدق سره توبه وکاږی اوآئنده دداسی خرابو کارونو څخه منع سی اوپښیمانه سی نوامامت دهغه صحیح دی اولمونځ په هغه پسی بی کراهته درست دی. اواذان کول دهغه جائز (۱) دی. فقط

**دشبهی په وجهی سره دجماعت اعاده اوپه هغه کی شرکت**: **سوال**: (۱۰۳۵) امام ته په لمانځه کی شبه پیدا سوه چی څه فرض یاواجب ترك سوه. امام دوباره لمونځ ورکی نوکم مقتدیان چی وروسته شامل سوی دی دهغوی لمونځ صحیح سو اوکه نه؟ یاداچی امام ته محض شبه وسی فرض یاواجب ترك نه وی دشبهی په وجهی سره یی لمونځ راوګرزوی نوکم مقتدیان چی وروسته شامل سوه دهغوی لمونځ صحیح سو اوکه نه؟

**جواب**: که چیری دشبهی په وجهی سره لمونځ راوګرځول سو نوپه لمانځه کی دشاملیدونکو نورو سړیانو لمونځ ونه سو هغوی ته بیا لمونځ کول پکار (۲) دی.

**ددوهم رکعات په قومه کی تاخیر**: **سوال**: (۱۰۳۶) حنفی امام دسهار په لمانځه کی ددوهم رکعات په قومه کی دومره تاخیر کوی چی شافعی مقتدیان تقریبًا دعاءِ قنوت ختم کړی، آیا داعمل جائز دی اودحنفی مقتدی په لمانځه کی خوبه دڅه خرابی باعث نه وی. که چیری وی نو آیا په داسی امام پسی لمونځ کول پریږدو؟

**جواب**: امام ته رعایت د مقتدی شافعی مثلاً مستحب دی، لیکن تر هغه وخته پوری چی

---

(۵). واختار بعضهم فی کل رکعة وبعضهم سورة الفیل ای البداءة منها ثم یعیدها وهٰذا احسن (رد المحتار مبحث التراویح ، ط.س. ج۲ ص ۴۷). ظفیر

(۱). قال رسول الله ﷺ التائب من الذنب کمن لاذنب له ، (مشکوٰة باب الاستغفار والتوبه ص ۲۰۲). ظفیر

(۲). ولها واجبات لاتفسد بترکها وتعاد وجوبا الخ والمختار انه جابر للاول لان الفرض لایتکرر (درمختار) قوله المختار انه ای الفعل الثانی جابر للاول بمنزلة الجبر بسجود السهو وبالاول یخرج عن العهدة وان کان علی وجه الکراهة علی الاصح کذا فی شرح الاکمل علی اصول البزدوی (رد المحتار باب صفة الصلوة ص ۴۲۴ - ۴۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۵۲ - ۴۵۸ ، مطلب واجبات الصلوة) . ظفیر

دخپل مذهب موافق دځه مکروه کار ارتکاب ونسی اوپه مذکوره صورة کی امام ته په قومه کی دومره طول کول چی تاخیرسجده من القومه دومره لازم سی چی موجب دسجده سهوی سی درست نه دی. لهٰذا امام ته داسی کول دمقتدیانو درعایت په وجه درست نه دی لیکن دحنفیانو مقتدیانو لمونځ صحیح دی البته په بعضو صورتونو کی دلمانځه دنقصان احتمال دی، لهٰذا ښه داده چی که چیری امام دافعل ترك نه کړی نوحنفیان دی دهغه اقتداء نه کوی. په درمختار کی دی لکن یندب للخروج من الخلاف لاسیمًا للامام لکن بشرط عدم لزوم ارتکاب مکروه مذهبه (۱) الخ . فقط

**دمتکبر اوبدعتی امامت**: **سوال**: (۱۰۳۷) زید دخپل ذاتی رعونت اوتکبر په وجه سره خپل ځان ډیر پاك لمنی اوداولی درجی صوفی اوعابد اوزاهد ګڼی، مېلو ته ځی سماع ته حلال وایی، دسودخور دکور ډوډی خوری اوداهم وایی چی ماته دخوب یامراقبی په ذریعه معلومیږی چی فلانی سړی منافق دی، دریمی، لسمی وغیره ته درست وایی. دقربانی څرمنی دخپل امامت په حق کی اخیستل روا بولی، اوزکوٰة، سرسایه وغیره اخلی حالانکه په خپله صاحب دنصاب دی. دداسی سړی امامت څنګه دی. که چیری په ده پسی څوك لمونځ نه کوی نوګنهګار خوبه نه وی؟

**جواب**: دداسی سړی امامت مکروه دی ولی چی دی مبتدع اوجاهل دی لمونځ سره دکراهته پسی کیږی اوکه چیری په ده پسی لمونځ نه کوی نوهیڅ ګناه نسته. بلکی ښه دا ده چی په ده پسی دی لمونځ نه کوی. (۲) فقط

**امام ته دشریعت پابینده کیدل پکاردی**: **سوال**: (۱۰۳۸) کم صاحبان چی دجومات امامتی کوی هغوی دی دشریعت پابینده وی اوکه درواج؟

**جواب**: هغوی ته دشریعت پابینده کیدل پکاردی. کم رسم او رواج چی دشریعت څخه خلاف وی دهغه پابیندی حرامه ده که چیری امام دخلاف شریعت رواج پابیندی کوی او شریعت پریږدی نوهغه دامامت لائق نه دی، هغه معزولول پکار (۳) دی. فقط

**دمستور الحال امامت**: **سوال**: (۱۰۳۹) زید چی دیومشتبه حالت سړی دی چی دهغه په باره کی هیچاته پته نسته چی دی په اصل کی دکم ځای اوسیدونکی دی، څه ذات یی

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار نواقض الوضوء ص ۱۳۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۱۴۷ . ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق الخ ومبتدع (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ ). ظفیر

(۳). ویکره امامة عبد الخ وفاسق الخ ومبتدع (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ ). ظفیر

دی ځومره علم یې دی، اودکم چال سړی دی، اوورسره داچې کله دهغه څخه پخپله پوښتنه وسی مثلاً داچې تاکم ځای تعلیم حاصل کړی دی نودهغه په جواب کی هغه مدرسه اسلامیه دیوبند ښیی. لیکن په تحقیقاتو سره داخبره غلطه اودروغ ثابته سویده. نوکه چیری داسی سړی دجمعی دلمونځ اواخترونو وغیره دپاره امام مقرر سی نوآیا دا جائز دی؟

**جواب**: که چیری دغه سړی په ظاهر حال صالح اولمونځ ګذار، دمسائلو څخه خبر وی نو که څه هم په هرځای کی یی زده کړه کړی وی لمونځ په هغه پسی درست دی. اوپه حدیث شریف کی دی: صلوا خلف کل بر وفاجر الحدیث. یعنی په هریو نیك اوبدپسی لمونځ کوی. مطلب دادی چی لمونځ سره دکراهته په فاسق پسی هم کیږی که څه هم اولی بالامامت عالم اوپرهیزګار وغیره دی. غرض داچی په هغه پسی په لمونځ کولو کی هیڅ حرج نسته. (۱) فقط

**دمسبوق اقتداء درسته نه ده**: **سوال**: (۱۰۴۰) په جماعت کی یوسړی په دوهم یادریم رکعات کی شریك سو. دجمعی ختمیدلو څخه وروسته هم دغه مسبوق باقی پاته لمونځ پوره کوی، چی دوروسته څخه نور کسان راغلل اوپه لا علمی سره یی په مسبوق پسی نیت وتړی. اودا وینایی وکړه چی تکبیر په آواز سره وایه موږ هم ورسره شریك سو. په همدی طریقی سره یی لمونځ پوره کی نودهغوی لمونځ صحیح سو اوکه نه؟

**جواب**: په هغه پسی دنورو اقتداء صحیح نه ده، دمقتدیانو لمونځ صحیح نه سو. کما فی الدر المختار لایجوز الاقتداء به الخ المسبوق ص ۴۰۱ جلد اول. (۲) فقط

**کم ګوډ چی دریدی نه سی دهغه اقتداء څنګه ده؟** **سوال**: (۱۰۴۱) یوسړی ګوډ دی دریدی نه سی په ناسته لمونځ کوی. که چیری هغه امام سی نو دمقتدیانو لمونځ (کم چی دهغه څخه ښه دی اوپه ولاړه لمونځ کوی) وبه سی اوکه نه؟

**جواب**: په ناست پسی دولاړ لمونځ (۳) درست دی. لیکن دداسی ګوډ څخه بل امام ښه دی څوك چی ګوډ نه (۴) وی. فقط

---

(۱). الاحق بالامامة تقدیمًا بل نصبًا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحةً وفسادًا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهره وحفظه قدر فرض الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۰ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة مطلب فی احکام المسبوق ص ۵۵۸ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۹. ظفیر

(۳). وصح اقتداء متوضی لا ماء معه بمتیمم الخ وقائم بقاعد یرکع ویسجد لانه ﷺ اخر صلاته قاعدا وهم قیام (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۵۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۸). ظفیر

(۴). وکذالك اعرج یقوم ببعض قدمه فالاقتداء بغیر اولی (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط. س. ج۱ =

**دغلط ويونكي په خوا كې چې صحيح ويونكي راسي او لمونځ شروع كړي نوڅه حكم دي؟**

**سوال:** (۱۰۴۲) يوسړى ناويونكى څوك چې دقرآن كريم الفاظ په صحيح طور سره اداء كولى نه سي فرض لمونځ اداء كوي. كه چيرى يوبل صحيح ويونكى په همدغه ځاى باندى دهغه څخه بيل لمونځ شروع كړي نوپه دواړو پسى لمونځ درست دى اوكه نه؟ څوك چې قرآن كريم صحيح نسى ويلى په هغه پسى دصحيح ويونكى لمونځ صحيح كيږى اوكه نه ؟

**جواب:** ددا سي سړى حكم دامى غوندى دى چې هغه دصحيح ويونكى امام كيدى نه سي اودصحيح ويونكى په موجودګى كې دهغه لمونځ نه صحيح كيږى. وحرر الحلبى وابن الشحنة انه بعد بذل جهده دائمًا حتمًا كالامى فلا يؤم الا مثله ولاتصح صلاته اذا امكنه الاقتداء بمن يحسنه الخ هذا هوالصحيح المختار فى حكم الالثغ وكذامن لايقدر على التلفظ بحرف من الحروف اولايقدر على اخراج الفاء الابتكرار الخ. درمختار (۱). فقط

**دجومات حق تلفي كونكي امامت:** **سوال:** (۱۰۴۳) كم سړى چې امامت كوى اونور خدمت، خو دجومات حق تلفى كوى اوپخپله يې خورى، هغه دامامت قابل دى اوكه نه؟

**جواب:** كم سړى چې دجومات آمدن بغير داستحقاق څخه په خپل صرف كې راولى هغه فاسق دى، امامت دهغه مكروه (۲) دى. فقط

**دبدشكله، چيچک مخي اوزكوٰة خور امامت:** **سوال:** (۱۰۴۴) يوسړى كوڅه ګرد دى. ددوكاندارانو هم كهاته ليكى. زكوٰة اخلى، په لمانځه كې يوه پښه لوړوى، چيچك مخى او بدشكله دى، مقتديان وريسى لمونځ نه كوى. په دى صورة كې په دغه سړى پسى لمونځ جائزدى اوكه نه؟

**جواب:** په دى ذكرسوو خبرو كې هيڅ خبره داسى ذكرسوى نه ده كمه چې مطلقًا موجب دعدم جواز دامامت اودكراهت دامامت وى. البته كه چيرى باوجود دصاحب نصاب كيدلو زكوٰة اخلى نودا بددى اوكه چيرى هغه ګوډ وى چې په بعضى قدم باندى دريږى نودهغه امامت يې هم مكروه ليكلى دى اوكه چيرى څه بله خبره په دغه امام كې موجب دفسق وى ياهغه مبتدع وى نوامامت دهغه مكروه دى. باقى لمونځ دهغه بهر حال كيږى

---

= ص ۵۲۲). ظفير

(۱). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة مطلب فى الالثغ ص ۵۴۴ – ۵۴۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۲ . ظفير

(۲). ويكره امامة عبد الخ وفاسق (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ ). ظفير

([1]) لقوله ﷺ صلوا خلف کل بر وفاجر. الحدیث الخ . فقط

**<u>په قیدي پسې لمونځ جائزدي اوکه نه؟</u> سوال:** (۱۰۴۵) که چیری یو مسلمان حنفي په قید کی وی نوپه قیدی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب:** په قیدی حنفي پسی لمونځ درست دی. قیدی کیدل دامامت دپاره مانع نه دی. فقط

**<u>ددروغو شاهدی ورکونکی نابینا پسی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟</u> سوال:** (۱۰۴۶) یوړوند دلالچ (چل اوفریب) په وجهی سره ددروغو شاهدی ورکوی اوپه طهارت اونجاست کی فرق نه کوی. په داسی ړوند پسی لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟

**جواب:** کله چی دغه ړوند محتاط نه اوسی اودکبائرو دمرتکب کیدلوپه وجهی سره فاسق سو نودهغه امامت مکروه ([2]) دی. فقط

**<u>دولد الزنا په اولاد پسی لمونځ درست وی اوکه نه؟</u> سوال:** (۱۰۴۷) یوسړی حرامی وو دهغه نکاح دقرآن اوحدیث دفرمان مطابق وسوه. دهغه دنطفی ښځه چی کم اولاد وسو په هغوی پسی به لمونځ درست وی اوکه نه؟

**جواب:** که چیری دهغه اولاد صالح اوعالم وی نوپه هغوی پسی لمونځ صحیح دی بلا کراهته، بلکی افضل اوښه دی اوپخپله هغه سړی ولد الحرام پسی هم درست دی بلا کراهته کله چی هغه پخپله صالح وی. قال الله تعالی: وَلَاتَزِرُ وَازِرَةٌ وِزرَ اُخرٰی. ([3]) الآیة. فقط

**<u>دعنین اقتداء جائزده اوکه نه؟</u> سوال:** (۱۰۴۸) په عنین (یعنی نامرده) پسی دغیر عنین لمونځ درست دی اوکه نه؟

**جواب:** په عنین پسی دغیر عنین لمونځ درست دی، ولی چی فقهاوو دعنین امامت ناجائز یامکروه هیڅ ځای نه دی لیکلی اودکمو خلګو امامت یی چی ناجائز اومکروه لیکلی دی په هغوی کی یی عنین نه دی شمارکړی. وګوری درمختار ([4]) وهدایه وغیره. فقط

**<u>کم شاګرد چی دخپل استاذ مخالفت کوی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟</u> سوال:** (۱۰۴۹)

---

([1]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق الخ ومبتدع (درمختار) وکذالك اعرج یقوم ببعض قومه فالاقتداء بغیره اولی (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ ). ظفیر

([2]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ص۵۲۳ ج۱ ). ظفیر

([3]). سورة بنی اسرائیل رکوع ۲. ظفیر

([4]). وګوری الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۳ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰. ظفیر

زید دیوجومات امام دی اوزید یو اخنبی ( دخور خاوند) دی، دهغه څخه زید دوه څلور سبقونه دعربی ویلی دی. دزید اودهغه داخنبی په کورنیو خبرو کی جګړه وسوه اخنبی وایی چی زه ستا استاذ یم تازما مقابله وکړه په تاپسی لمونځ جائزنه دی ولی چی کله په شاګرد اواستاذ کی مخالفت وی نوپه شاګرد پسی لمونځ نه صحیح کیږی داصحیح ده اوکه نه؟

**جواب**: داخبره خوغلطه ده چی که چیری په استاذ اوشاګرد کی خلاف وی نوپه شاګرد پسی دی لمونځ جائز نه دی. البته بی وجهی ددینی علم داستاذ مخالفت اوعداوت کول اوتوهین کول معصیت دی. اوپه شامی کی دی: وقال الزندویستی: حق العالم علی الجاهل وحق الاستاذ علی التلمیذ واحد علی السواء الخ وحق الزوج علی الزوجة اکثر من (1) هذا الخ ددی حاصل دادی چی دعالم حق په جاهل باندی اوداستاذ حق په شاګرد باندی برابردی اودخاوند حق دهغه په ښځی باندی ددی څخه زیات دی. فقط

**دعلم غیب قائل اواحمد رضا په معتقد پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟** **سوال**: (۱۰۵۰) کم سړی چی (دغیر الله دپاره) دعلم غیب قائل وی اواحمد رضا ته عقیده لری یایی مریدوی په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: دغه سړی مبتدع دی، په هغه پسی لمونځ مکروه تحریمی دی کما فی الشامی: واماالفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامردینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعًا ولا یخفی انه اذا کان اعلم من غیره لا تزول العلة الخ فهو کالمبتدع تکره امامته بکل حال بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم لماذکرنا (2) الخ ص ۳۷۲ جلد اول شامی ، لیکن که چیری په هغه پسی په لمونځ نه کولو کی دفتنی اندیښنه وی یاجماعت فوت کیږی، نوپه هغه پسی دی لمونځ وکړی څنګه چی په درمختار کی دی: هذا ان وجد غیرهم والا فلا کراهة ، بحر، وفی النهر عن المحیط صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة الخ اوپه شامی کی دی: قوله نال فضل الجماعة : افاد ان الصلوٰة خلفهما اولی من الانفراد (3) الخ. فقط

**دروح نبوی متعلق عقیده اودهغه امامت**: **سوال**: (۱۰۵۱) یوامام دمسجد وایی چی روح پُرِ فتوح دفخر عالم ﷺ په روضه انور کی یاپه مقام قرب دخداوند عالم کی دی لیکن هغه دیو مسلمان کورته یادمیلاد دمبارك ذکرپه وخت کی نه حاضریږی. اودعامو مسلمانانو

---

(1). رد المحتار مسائل شتی ص ۲۲۰ ج۵ تحت قوله وهم اولو الامر علی الاصح ، ط.س. ج۶ ص ۷۵۲ . ظفیر
(2). رد المحتار باب الامامة جلد اول ص ۵۲۳ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰ . ظفیر
(3). رد المحتار باب الامامة جلد اول ص ۵۲۵ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲ . ظفیر

متعلق هم هغه داوايي چې روح يې په مقام عليين كې درج اومقام دهغوی عالم برزخ دی، دهغوی كورونو ته په راتللو سره څه كاردی، اوپه دليل كې دا آيت پيش كوی: اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ الخ. او داولياوو دقبرونو څخه استمداد طلب كولو ته ناجائز وايي اووايي چې الله ﷻ فرمايي چې اهلِ قبور داوريدلو طاقت نه لري: وما انت بمسمع من فی القبور. اوكله چې هغه ته څوك داجواب وركړي چې يوسړي دحضرت عائشی رضی الله عنها په خدمت كې عرض وكی چې حضور ﷺ سماع موتٰی فرمايلی ده. نوامام صاحب داجواب وركوی چې حضرت عائشی رضی الله عنها هغه سړي ته فرمايلي وه چې ته په رسول الله ﷺ باندې دروغ وايي. اوداحديث دبخاري شبيې. دكم امام چې داسې عقيده وي په هغه پسې لمونځ جائزدی اوكه نه؟

**جواب**: دامام مذكور عقيده په باره دروح مبارك دحضور ﷺ اوارواح دمؤمنينو كې صحيح ده، اواستمداد دقبرونو څخه هم درست نه دی. اوپه سماع موتٰی كې بيشكه حضرت عائشی رضی الله عنها صديقی انكار كړی دی اود: مَا اَنْتُمْ بِاَسْمَعَ مِنْهُمْ تاويل يې په ما اَنْتُمْ بِاَعْلَمَ مِنْهُمْ سره فرمايلي دی، اودهمدې آيتونو: اِنَّكَ لَاتُسْمِعُ الْمَوْتٰى او وَمَا اَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَنْ فِي الْقُبُوْرِ څخه يې استدلال فرمايلي دی اوهمدا مذهب مشهور دامام ابو حنيفه رحمه الله دی. (۱) غرض داچې په امام مذكور پسې لمونځ صحيح دی، څه كراهت وغيره پكښې نشته. فقط

<u>**په غلطه عقيده باندې درد كوونكي امامت**</u>: **سوال**: (۱۰۵۲) امام صاحب وايي چې كم سړی داعقيده لري چې زه به تش په محفل ميلاد كولو سره وبخښل سم اولمونځ زكوٰة وغيره به نه اداء كوم، نو داعقيده باطله ده بلكې الله ﷻ به دفرائضو ترك كونكې په دوزخ كې اچوی. داخبره درسته ده اوكه نه؟ اوپه داسې عقيدې والا پسې لمونځ درست دی اوكه نه؟

**جواب**: داقول دامام مذكور صحيح دی. دلمانځه، روژې اوزكوٰة فرائض پريښوول اود ميلاد شريف په مجلس كولو سره دمغفرت اوبخښنې اميد لرل باطل خيال اوفاسده عقيده ده. باقي په قطعي طور سره داويل چې دهغه مغفرت به نه كيږي صحيح نه دی، ځنګه چې الله ﷻ فرمايلي دی: اِنَّ اللهَ لاَ يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَادُوْنَ ذَالِكَ لِمَنْ يَّشَاءُ (۲). ماسوا

---

(۱). قال ابن همام فی شرح الهداية اعلم ان اكثر مشائخ الحنفية علی ان الميت لا يسمع علی ما صرحوا به فی كتاب الايمان ؒ مردود من عائشة رضی الله عنها قالت كيف يقول رسول الله ﷺ ذلك والله تعالی يقول وما انت بمسمع من فی القبور انك لا تسمع الموتٰی ؒ (مرقاة شرح مشكوٰة باب فی حكم الاساریٰ ص ۲۴۲ ج۲). ظفير

(۲). سورة النساء، ركوع ۷. ظفير

دکفر اوشرك څخه دټولو ګناهونو مغفرت کيدی سی که چيری الله ﷻ وغواړی، ها! قاعده داده چی دفرائضو تارك او دکبائرو مرتکب به په قدر دګناهونو په دوزخ کی اچول کيږی اوپه آخره کی به يی نجات کيږی. ليکن که چيری حق تعالی څوك همداسی بخښل وغواړی نووبه يی بخښی دوعيد څخه خلاف کيدی سی. هکذا فی الکتب المعتبره. فقط

**__دلا مذهبه امامت__**: **سوال**: (۱۰۵۳) ديو سړی سره دمذهب ذکر کيدی، هغه ته مو مجموعه مولود تصنيف دمولانا اشرف علی صاحب وښووی په کم کی چی آيتونه اواحاديث موجود دی. ذکرسوی سړی دذکرسوی کتاب په باره کی څو واره دا الفاظ وويل چی زه په دی کتاب باندی متيازی کوم. په ډاګه يی دا الفاظ وويل. په داسی سړی پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ اودغه سړی ګنهګار دی که کافر. اوڅوك چی هندوان اومسلمانان برابر ګڼی دهغه په باره کی څه حکم دی؟

**جواب**: دغه سړی فاسق اوعاصی دی. ولو لا احتمال التاويل لحکم بکفره. اوپه داسی لا مذهبه پسی لمونځ درست نه دی. اوکم سړی چی هندوان اومسلمانان يوشان ګڼی هغه هم ګنهګاردی. اوکه چيری کفر اواسلام يوشان ګڼی نوکافر دی. غرض داچی دداسی سړی دصحبت څخه ځان ساتل لازم (۱) دی. فقط

**__دفاتحی خلف الامام قائل پسی لمونځ جائزکيږی اوکه نه؟__** **سوال**: (۱۰۵۴) محمود دفاتحی خلف الامام عامل دی، اودرفع اليدين اوآمين بالجهر داهل جماعت په لمانځه کی څه حرج کيږی اوکه نه؟

(**۱۰۵۴**\ ۲) دفاتحی خلف الامام اورفع اليدين اوآمين بالجهر عامل که چيری پخپله جمعه ورکوی نوآيا داهلِ جماعت په لمانځه کی دقرآن اوحديث په روسره څه حرج کيږی اوکه نه؟

**جواب**: (۱) صرف په دی عمل سره خوداهل جماعت په لمانځه کی هيڅ حرج اوضرر نه کيږی ليکن په دی زمانه کی چونکی ددی عمل کونکی اکثره هغه خلګ دی څوك چی ددين دامامانو مقلد نه دی اومحض دخپلو خواهشاتو موافق داحاديثو په معنٰی ځان پوهوی اوپه هغه باندی عمل کوی. ددی وجه په اکثرو احکاموکی دمخالفت نوبت راځی په دی وجهی سره حرج اوضرر کيږی (۲).

(۱). وان انکر بعض ماعلم من الدين ضرورة کفر بها الخ فلايصح الاقتداء به اصلا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۵** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۲۱ - ۵۲۲** ). ظفير

(۲). وکذاتکره خلف امرد ؒ ومخالف کشافعی لکن فی وتر البحر ان يتقن المراعاة لم يکره اوعدمها لم يصح =

(۲) دداسی سړی امامت فی نفسه جائزدی، لیکن دبعضو خارجی وجوهو په وجهی سره ورته ناجائز ویل کیږی. ([1]) فقط

**دغیر مقلد امام جوړول څنګه دی؟ سوال:** (۱۰۵۵) محمود دحدیث نبوی په مخکی په اجتهادی مسائلو باندی عامل نه دی، لیکن دحدیث نبوی په عدم موجودګی کی داجتهادی مسائلو قائل دی. نو دداسی سړی امامت جائزدی اوکه نه؟

**جواب:** دداسی سړی امامت فی نفسه جائزدی خوچونکی په دی زمانه کی چی کم خلګ دائمه اربعه وو تقلید نه کوی اوپه خپل ګمان کی پخپله په حدیث باندی دعمل کولو دعویدار دی دهغوی بعضی افعال داسی دی کم چی دلمانځه مفسد ګرځی. مثلاً هغوی په لوټی سره اودس نه وچوی اوپه دی زمانه کی دقطری راتلل عمومًا یقینی سوی دی، ددی دپاره دداسی خلګو پرتوګونه اکثره ناپاك وی. په دی وجه دی ددوی دامامت څخه احتراز وسی.

**دامام فاسق کیدلو په صورة کی جمعه بیله وسی اوکه نه؟ سوال:** (۱۰۵۶) په کم ښار کی چی صرف یو جومات وی اودهغه امام فاسق وی نوحنفیان خلګ خپل جماعت بیل قائم کړی اوکه په هم هغه پسی لمونځ وکړی، شرعًا څه حکم دی؟

**جواب:** دجماعت دتفریق څخه دابنه ده چی هم په هغه پسی لمونځ وسی، څنګه چی یی په درمختار کی دنهر څخه نقل کړی دی: وفی النهر عن المحیط صلی خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة. ([2]) اوبله جمعه کول بد دی. فقط

**په غیر محرمو ښځو کی دکښېنستونکی سړی امامت: سوال:** (۱۰۵۷) کم سړی چی امام وی اوپه غیر محرمو ښځو کی کښیني، په هغه پسی لمونځ کول څنګه دی؟

**جواب:** داسی امام کم چی په غیر محرمو ښځوکی کښیني یعنی فاسق وی په هغه پسی لمونځ مکروه ([3]) دی (دغیر محرموپه سلسله کی یی لیکلی دی: فان خاف الشهوة اوشك

---

وان شك کره (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة مطلب فی الاقتداء بشافعی ونحوه ص ۵۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲). ظفیر

([1]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنية ان کراهة تقديمه کراهة تحريم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰ ). ظفیر

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱. علامه شامی لیکلی دی: افاد ان الصلاة خلفهما اولی من الانفراد. لکن لاینال کماینال خلف تقی ورع لحديث من صلّی خلف عالم تقی کانما صلّی خلف نبی (ردالمحتار ایضًا ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲). ظفیر

([3]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنية ان کراهة تقديمه کراهة تحريم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰ ). ظفیر

امتنع نظره الی وجهها فحل النظر مقید بعدم الشهوة وهٰذا فی زمانهم واما فی زماننا فمنع من الشبابة، (الدر المختار علی هامش رد المحتار، کتاب الحظر والاباحة. فصل فی النظر والمس ص ۳۵۲ ج۵ ظفیر)

**دباغوان اونانبای وغیره امامت**: **سوال**: (۱۰۵۸) کم امام چی تنخواه داروی، دجولا قوم ځخه وی، یاباغوان، یانانبای یاحجام وی نوپه داسی خلګو پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: په امام تنخواه دار پسی لمونځ بغیر کراهته درست دی اوجولا اوحجام اونانبای اوباغوان وغیره که دهریو قوم ځخه وی چی صالح اومتقی وی اودلمونځ دمسائلو ځخه خبروی نوپه هغه پسی لمونځ بی کراهته جائزدی بلکی شیخ، سید وغیره که چیری فاسق وی نودهغوی ځخه ښه دی کماقال الله تعالی: اِنَّ اکرَمَکُمْ عندالله اتقکم، الاٰیة. [۱] فقط

**ددرواغجن سړی امامت**: **سوال**: (۱۰۹۵) زید دښار قاضی وو اودجمعی اواخترونو لمونځ به یی هم ورکوی. په ښارکی دننه دزید دکورسره نژدی یوقبرستان وو اودهغه سره متصل دیوهندو کنبت دی، هندو دهغه احاطه کول وغوښتل. زید چونکی دحکومتی اداري غړی (ممبر) دی هغه دتعمیر اجازه ورکړه. دغه هندو وروسته دحاصلیدلو داجازی ځخه هغه قبرستان وکیندی اوپه کنبتوکی یی شاملول وغوښتل اوزیدسره ددی چی دقبرستان ځخه خبر وو دتعمیر اجازه یی ورکړه. خبره عدالت ته ورسیده، هلته زید ددی خبری په دروغو شهادی ورکړه چی دلته قبرستان نسته. غرض داچی بالکل یی دقبرستان ځخه انکار وکی اوپه همدی وجهی سره هغه قبرستان هندو ته ورکول سو. په دی صورة کی زید امام جوړول اوپه هغه باندی نکاح تړل درست دی اوکه نه؟

**جواب**: په دی صورة کی زید فاسق دی، هغه امام جوړول اوپه هغه باندی نکاح خوانی کول اوهغه مقتداء ګڼل درست نه دی اوپه هغه پسی لمونځ مکروه تحریمی [۲] دی. فقط

**دچاچی راسته لاس وچ وی اوټول کار په چپه لاس سره کوی دهغه امامت**: **سوال**: (۱۰۶۰) اگر کسی شخص را یدِ یمنٰی خشك شده محض بیکار شده باشد وکلوخ واستنجاء ومضمضه واستنشاق ووضو واکل وشرب وغیره افعال حمیده وقبیحه بید یسرٰی می نماید وطبائع ناظرین ازو متنفر می شوند این چنین شخص قابل امامت هست یانه ؟

**جواب**: امامت این چنین شخص مکروه تنزیهی یعنی اولی است اگر مقتدیان ازو تنفر کنند: فی الشامی وکذا اعرج یقوم ببعض قدمه فالاقتداء بغیره اولی وکذا اجزم ومجبوب وحاقنٌ ومن

---

(۱). الحجرات . ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰ ). ظفیر

له يد واحدة الخ والظاهر ان العلة النفرة الخ ([1]). فقط

**دبدو کلماتو ویونکی امام کیدل څنګه دی؟ سوال:** (۱۰۲۱) که چیری یو مسلمان حافظ دقرآن دلمانځه اوروژی پایبند دیوخو مسلمانانو په مخکی په لوړ آواز سره نوم واخلی اووایی چی که چیری خدای ﷻ دفلانی مولوی مردود په وجهی سره جنت راکوی نوزه به یی هیڅکله قبول نه کړم بلکی ددی خبیث په عوض کی ددوږخ خواهشمند یم. اومولوی موصوف پرکم باندی چی لفظ دمردود وویل سو داسی په ټولو صفتونوموصوف وی چی دنیمی دنیا خلګ یی ښه ګڼی اواعتقاد ورسره هم لری. داسړی دکمی ګناه مرتکب سو او په ده پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

**جواب:** معصیت کیدل ددی ښکاره دی اوپه داسی کلماتو کی بیره دکفر ده، دتوبی کولو څخه بغیر په ده پسی دلمانځه کولو څخه احتراز وکی اوکه چیری دی ملا وی نوددی حدیث مصداق دی: ان من شر الشر شرار العلماء ([2]). چی دټولو څخه بدتر شریر علماء دی. نوچاته چی حضور ﷺ بدتر وفرمایی. نوهغه ته بدتر ویل بی ځایه نه دی. فقط

**په معذور پسی دغیر معذورینو لمونځ درست نه دی: سوال:** (۱۰۲۲) زید ته دبادو عارضه ده اوهغه خپل لمونځ پوره نسی کولی که چیری سنت په اوداسه کی وکړی نوفرض وغیره نسی کولی. که چیری څوك بل سړی ددی قابل نه وی چی امامت وکړی نوزید امام کیدی سی اوکه نه؟

**جواب:** که چیری هغه دمعذور درجی ته رسیدلی وی نو دهغه امامت دغیر معذورینو دپاره صحیح نه دی. او دمعذور تعریف ابتداءًا دادی چی دلمانځه په ټول وخت کی ورته دومره وخت پیدا سی چی اودس وکړی اوفرض لمونځ بغیر ددغه حدث څخه اداء سی. نو که چیری هغه داسی سوی وی نوپه هغه پسی به دغیرمعذورینو لمونځ نه صحیح کیږی. ([3]) فقط

**داصطلاحي وکیل امامت درست دی اوکه نه؟ سوال:** (۱۰۲۳) یوسړی مولوی دلمانځه روژی پایبنده دی خودهغه کسب وکالت دی. ددروغ اورشتیا هرقسم مقدمو پیروی کوی، ددی څخه علاوه حرفونه په قرآئت کی اداء کولی نسی بلکی په بعضی ځای کی دولاړ اوپروت حرف هم لحاظ نه صحیح کیږی. دصاد په ځای سین اودضاد په ځای دال اداء کوی. داسی سړی دامامت لائق دی اوکه نه؟

---

([1]). مشکوٰۃ کتاب العلم ص ۳۷ فصل ثالث. ظفیر

([2]). ولاطاهر بمعذور (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۸). ظ

([3]). ولاطاهر بمعذور (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۸). ظ

**جواب**: داسی سړی دامامت لائق نه دی، ولی چی دامامت دپاره اولاً دلمانځه دمسائلو څخه خبر کیدل اودقرآن کریم صحیح ویل ضروری دی. ثانیًا دامام صالح اومتقی کیدل بنه دی. نودغه سړی کم چی دخلاف شرع احکامو مرتکب دی اودباطل تائیدکوی اوقرآن شریف صحیح نه وایی دی دامام جوړولو لائق نه دی. (۱) فقط

**دفاسق پیر امامت جائز دی اوکه نه؟ سوال**: (۱۰۷۴) یك پیر امام مسجد است روزی یك مقتدی ازو پرسید که امروز بکدام کار رفته بودید؟ جواب دادکه امروز یك خوگ راختم قرآن بود درانخانه ختم قرآن خوانده ام وآن خوگ دیگر خوگان جمع نمود آن نیز ختم قرآن خواندند آن صاحب ختم عین خوگ است وصاحبان ختم بغیر من خوگان اند. این چنین پیر چه حکم دارد ونماز خلف او جائز است یا چه ؟

**جواب**: این چنین پیر یا وه گو لائق مقتدا بودن وامام شدن نیست نماز خلف چنین کس مکروه است وحسب تصریح فقهاء آن کراهت تحریمی است: لان فی جعله امامًا تعظیمه وتعظیم الفاسق حرام، پس باید که آن امام رامعزول کنند وکسی دیگر صالح خبر مسائل نماز را امام مقرر کنند (۲). فقط

**ځوک چي په میلاد کی نه شریکیږي دهغه امامت**: **سوال**: (۱۰۷۵) یوسړی دوهابی فرقی دحنفیة اهل سنت والجماعت دجومات دیوڅو ورځو څخه امام دی، په حُسنِ اتفاق سره دغه جومات ته دوو عالمانو واعظانو تشریف راوړی اوپه وعظ کی یی درسول الله ﷺ حمد اوثنا بیان کړه. دجومات امام په هغوی پسی لمونځ کول پریښوول. هم دغه شپی ته یو سړی پرخپل کور باندی په راتلونکی مولوی صاحبانو باندی دمولود شریف مجلس وکی. دجومات امام پکښنی شامل نه سو. او دذکر سوی امام پلار به په ډوډئ باندی فاتحه ورکول بد گڼل. نوپه دی صورة کی په داسی سړی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: داصحیح ده چی دنن صبا په مجلس دمیلاد شریف کی چونکی ډیری ناجائزی خبری شاملی دی، ددی وجه په دی کی شرکت جائزنه دی. مثلاً ضعیف اوموضوع روایات بیانیدل، اودحضور ﷺ دولادت دذکر کیدلو وخت کی دقیام خاص والی کم چی ثابت نه

---

(۱). والا حق بالامامة تقدیما بل نصبا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة وحفظه قدر فرض وقیل واجب وقیل سنة ثم الاحسن تلاوةً وتجویدا للقرآة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفیر

(۲). واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب اهانته شرعًا الخ بل مشٰی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تریحم لما ذکرنا (رد المحتار باب الامامة ص۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

دی، همدغه رکم ډیر کارونه په دی کی ناجائز دی کم چی دحضرت مولانا گنگوهی قدس سره اوحضرت مولانا احمد علی سهارنپوری دفتوٰی څخه ښکاره دی، کمه چی چاپ سوی اوشائع سویده، هغه ضرور وگوری. اوپه ډوډی باندی فاتحه هم بی دلیله ده ددی هیڅیری ثبوت نسته. په دی وجهوسره به دجومات امام یادهغه پلار دفاتحه خوانی څخه اودمیلاد شریف په مجلس کی دشرکت کولو څخه احتراز کړی وی نودا خبره موجب دطعن نه ده. فقط

**دعرس کونکی اوسینما کتونکی امامت**: **سوال**: (۱۰۲۲) کم عالم چی سینما یاعرس وغیره ته ځی په هغه پسی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟

**جواب**: په هغه پسی لمونځ مکروه (۱) دی؟ فقط

**په سود قرض اخستونکی او دشیعه گانو سره دتعلق ساتونکی امامت**: **سوال**: (۱۰۲۷) یوسړی په سود قرض اخلی اوکمه معامله چی دشیعه گانو، سنیانو وی په هغه کی په هر شان دشیعه گانو امداد کوی اودسنیانو مخالفت کوی داسی سړی امام مقررول اوپه هغه پسی لمونځ کول څنگه دی؟

**جواب**: داسی سړی لائق دامام جوړولو نه دی اولمونځ په هغه پسی مکروه دی. (۲)

**دږیری خلاف قولاً او عملاً دمظاهره کونکی امامت**: **سوال**: (۱۰۲۸) یو مولوی صاحب دیو جومات امام اوخطیب دی. محدث اوطبیب دی. ږیره کونډی ساتی اوپه اثبات دمدعا کی وایی چی ږیره ساتل دیو صحیح واجب العمل حدیث څخه ثابت نه دی. خریل یا دموټ څخه زیات پرې کول حرام خوڅه کړی چی مکروه تحریمی هم نه دی اوکله کله دجوش اوجذبی په وخت کی داهم وایي چی دږیری خریونکو دوستانو سردار او پیشوا یم. ږیره خریل یاپرې کول حرام دی یامکروه. قبضه دیو حدیث څخه ثابته ده اوکه نه؟ او داسی سړی امامت درست دی اوکه نه؟

**جواب**: په صحیح حدیث کی دږیری اوږدولو اوساتلو حکم دی لکه څنگه چی دمسلم په حدیث کی دی: عشر من الفطرة قص الشارب واعفاء اللحية (۳). الحديث ددی څخه دږیری لنډول حرام ثابت سو. او فقهاوو ږیره خریل او دموټی څخه کمه لنډول حرامه لیکلی ده: كما فی الدر المختار ولذا يحرم على الرجل قطع اللحية الخ. والسنة فيها

(۱). وکره امامة العبد والاعرابی والفاسق والمتبدع (کنز) والفاسق لامر دینه (البحر الرائق باب الامامة ص ۳۲۹ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۳۴۸). ظفیر

(۲). ویکره تقدیم العدة ؒ والفاسق لانه لایهتم لامردینه (هدایه باب الامامة ص ..... ج۱). ظفیر

(۳). قال رسول الله ﷺ اوفروا اللحی (مشکوٰة باب الترجل ص ۳۸۰). ظفیر

القبضة (۱) الخ. نومعلومه سوه چې ږیره دموټ څخه کمه لنډول یاخریل حرام دی. او د دغه سړی داوینا چې ږیره ساتل دهیڅ صحیح حدیث څخه ثابت نه دی اوخریل اودموټ څخه کم لنډول حرام اومکروه نه دی بالکل غلطه ده، اوامامت ددغه سړی مکروه تحریمی دی ولی چې دی فاسق دی اوامامت دفاسق مکروه تحریمی دی کذا فی الشامی (۲) فقط

**<u>چې په مقرر وخت باندې امام راونه رسیږي نوڅه دې وسي؟</u> سوال**: (۱۰۶۹) په کم ځای کې چې امام مقرر دی اودلمانځه وخت هم مقرر دی که چیرې امام په څه وجه سره په وخت باندې رانه سی نوڅه دې وسی؟

**جواب**: په داسې حالت کې چې ترڅومره پورې مناسب وي او دمقتدیانو حاضرینو سره وخت وي دامام انتظاردې وسي اوکله چې حاضرینو ته حرج وي نو انتظار نه کول هم درست دی اودانتظار گنجائش ترهغه وخته پورې دی چې وخت مکروه نسی (۳). فقط

**<u>غیر مقلد څنگه دي او دهغوی امامت جائزدي اوکه نه؟</u> سوال**: (۱۰۷۰) کم خلگ چې آمین بالجهر وایي اورفع یدین کوی اوپه سینه باندې لاسونه تړي اوپه امامانو کې دچا تقلید نه کوی دوی څنگه دي؟

**جواب**: دعامي دپاره تقلید دیو امام ضروري دی، کنې دخپلي رایي چلولو او دخواهشِ اتباع په وجهي سره اکثره گمراه کیږي څنگه چې دموجوده زمانې دغیر مقلدینو احوال لیدل کیږي. لوی لوی عالمان هم دمجتهدینو دتقلید څخه مستثنیٰ سوی نه دی، ائمه حدیث، ائمه فقه ته وگوری چې ټول په ټوله مقلدین تیر سوی دي. موږ گورو چې غیر مقلدین په ژبې سره خودعوىٰ دعمل بالحدیث والقرآن کوی لیکن داسې متبع وي چې داجماع (۴) دمخالفت هم پروا نه کوی، محرمات شرعیه په خود رایي سره حلالوي. په (۵) عقائدو کې دسلفو څخه خلاف خبرې راباسي. بعضې متعې (۶) ته جائز وایي.

---

(۱). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ج۵ ص۳۵۹، ط.س. ج۱ ص۴۰۷.

(۲). واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه الخ بل مشیٰ فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

(۳). ویجلس بینهما بقدر مایحضر الملازمون مراعیا الوقت الندب الا فی المغرب الخ (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الاذان ص .... ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۳۸۹). ظفیر

(۴). وگورئ عرف الجادی ص ۳ اجماع چیزی نیست ، وهدیة المهدی ص ۸۲ ج۱ وص۸۳ ، وبدور الاهلة اودلیل الطالب وروضه ندیه وغیرها من کتب اهل الحدیث.

(۵). ددې دپاره دهدیة المهدی جزء اول مطالعه کول پکاردي .

(۶). وگوری مقاصد الامامه اورساله عقائد فاسده مصنفه اهل حدیث واخبار اشاعة السنة وغیرها وهدیة =

بعضی دځلورو څخه دزیاتو ښځو (۱) سره په یو وخت کی نکاح ته جائز وایی. بعضی مطلقه ثلاثه (۲) په کلمه واحده بی له حلالوالی نکاح اورجعت جائز ګڼی، سلفو صالحینو ته بدر رد ویل ددوی شعاردی. (۳) داسی خلګ په اهل سنت والجماعت کی داخل نه دی اولمونځ په دوی پسی مکروه تحریمی دی. البته دکمو غیر مقلدینو اختلاف چی صرف په فرعی مسائلو کی دی هغوی په اهل سنت والجماعت کی داخل دی اولمونځ په هغوی پسی بشرط مراعاة فی مواقع الاختلاف درست اوصحیح دی. والله تعالی اعلم

**په ناجائز طور باندی دحق خوړونکی امامت درست دی او که نه؟ سوال:** (۱۰۷۱) زید دیو جومات امام دی، اوجبرًا دخپل ګاونډی حق خوړل غواړی، اودکور دروازه مخ ته وړاندی کوی اوخپل صحن زیاتول غواړی او ددروغو دقبضې ثابتولو دپاره قسم اخلی. آیا دا قسم درست دی اوکه نه؟ اوپه هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

**جواب:** دسوال دصورة څخه معلومه سوه چی زید په دروغ قسم اخستی دی او دبکر حق یی خوړلی دی، اومبتدع هم دی. دداسی سړی امامت مکروه تحریمی دی. کما فی الشامی: فهو کالمبتدع فتکره امامته بکل حال، بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم لما ذکرنا (۴). فقط والله تعالی اعلم

**څوک چی نوی مسلمان داختر په لمانځه کی شریکیدلو ته نه پریږدی هغه څنګه دی، دهغه امامت جائزدی اوکه نه؟ سوال:** (۱۰۷۲) ددین علماء څه فرمایی دداسی سړی اقتداء او دکفر اواسلام په نسبت څوك چی یو غریب نوی مسلمان سند یافته کمینه اورذیل ګڼی او داختر په ورځ یی دمسلمانانو دجماعت څخه باسی اوپه دغه مجمع کی یی لمونځ ته نه پریږدی بلکی په ټولو جوماتونو کی یی لمونځ ته نه پریږدی؟

(۲) کم خلګ چی تعصبًا دشاهی عیدګاه درونق دخرابولو دپاره دګورستان په جومات کی لمونځ کوی دداسی حضراتو داقتداء متعلق څه حکم دی؟ اوکه چیری په یو ښار کی داختر لمونځ دوه ځایه کی کیږی یو دقبرستان په جومات کی دکم پیش امام چی مخکی ذکرسوی صاحب وی اوبل ځای په عیدګاه کی کیږی، کم امام صاحب چی دائم السکر او

= المهدی ص ۱۱۲ ج۱). ظفیر

(۱). وګوری ظفر اللاضی بما یجب فی القضاء علی القاضی ص ۱۴۱ مؤلفه نواب صدیق حسن خانصاحب نقلا عن وبل الغمام للشوکانی.

(۲). وګوری عرف الجادی ص ۱۲۳ وغیرها. کتب اهل حدیث.

(۳). وګوری افادة الشیوخ والبنیان المرصوص وغیرها کتب اهل حدیث. مهدی

(۴). رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۳، ط. س. ج۱ ص ۵۲۰. ظفیر

دطلاق اوعدی څخه بغیر په حالت دحمل کی داجرت په طمع دښځی نکاح دبل سړی سره دتړلو عادی اومجوز وی په داسی موقعه باندی دمذکوره بالا وجوهاتو په وجه اوبل درفع فساد په غرض اوبل په دی خیال چی: هیچ آفت نرسد گوشه تنهایی را، په خپل جماعت سره په ښارکی په دریم ځای کی لمونځ کوی نودا لمونځ جائزدی اوکه نه؟ اودا لمونځ دهغه ددریم لمونځ خطبه درياست درئیس په حق کی سپیره اوضروری ده اوکه بختوره اومحموده؟ او ددی لمونځ دمنحوس اومضر ښوونکی دپاره په شریعت کی څه حکم دی؟

**جواب**: (۱) دهیڅ یومسلمان خواه که هغه قدیم الاسلام وی یانوی مسلمان، بی وجهی تحقیر اوتذلیل کول او دجومات څخه ایستل حرام اوناجائز دی. مرتکب دداسی کارونو فاسق دی، لمونځ په هغه پسی مکروه دی.

(۲) عیدگاه پریښوول اودقبرستان په جومات کی داختر لمونځ اداء کول مکروه دی. په خپلو کی داختلاف اوشقاق اونفاق څخه پرهیز کول لازم دی. په حدیث شریف کی دی: صلوا خلف کل بر وفاجر. په فاسق پسی لمونځ که څه هم مکروه دی لیکن دتفرقی اچولو څخه داښه دی چی په فاسق پسی لمونځ وکړی ځکه چی فتنه اوفساد په سخت والی کی زیات دی ([۱]). قال الله تعالیٰ: والفتنه اشد من القتل ([۲]). فقط

**دنورو دحق خوړونکی امامت جائزدی اوکه نه؟ سوال**: (۱۰۷۳) علماء ددین په دی باره کی څه فرمایی چی یوسړی جاهل مطلق دی. دخپل نژدی سړی مزکه یی دروپو، سوټی اوسړو په زور سره لاندی کړیده، هروخت مرګ ته اوجنګ ته تیاردی، بد معاشیانی کړی دی، دانګریزی سرکار سزا یافته دی په جیل خانو کی یی ژوند تیر کړی دی. دبل په مزکه یی کور جوړکړی دی. اوس هغه خلګ خووفات سوه، دهغوی اولاد په همدغه طریقه باندی دی. یعنی په زور ښوولو سره دخلګو سره ګذاره کوی، په دې خلګو کی زنا هم کیږی. سردار یې دحافظ په نوم سره مشهوره دی. خوپه حقیقت کی حافظ نه دی، اووایی چی زه دشرعی پایبنده یم، خوپه کمه مزکه باندی چی دهغه والد وغیره کور جوړکړی وو په هغه باندی هم هغه رکم قابض دی اوپه ظلم باندی ملاتړلی دی. دشرعی له لحاظه په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ اودهغه شرعی حکم څه دی؟

---

([۱]). وفی النهر عن المحیط صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة اهـ (در مختار) افاد ان الصلاة خلفهما اولی من الانفراد لکن لا ینال کما ینال خلف تقی ورع اهـ ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ ردالمحتار.

([۲]). بقره. ۲۴ ، ظفیر ، وفی العالمگیریة ص ۱۴۰ ج۱ الی الجبانة فی صلوة العید سنة وان کان یسعهم المسجد الجامع علی هٰذا عامة المشائخ. جمیل الرحمٰن

**جواب**: کم سړی چی په ناحقه دبل مسلمان مزکه لاندی کړی اوپه هغه باندی یی کور جوړ کړی دی اوقابض دی شرعًا گنهگار اوفاسق دی، دهغه امامت مکروه دی. یو نیك مسلمان چی دلمانځه دمسائلو څخه خبر وی امام جوړول پکار دی. فقط والله تعالٰی اعلم.
(ویکره الی قوله) وفاسق الخ (درمختار) المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی واکل الربا ونحو ذالك کذا فی البرجندی اسمٰعیل وفی المعراج قال اصحابنا لا ینبغی ان یقتدی بالفاسق الا فی الجمعة لانه فی غیرها یجد امام غیره آھ (رد المحتار ص **٥٢٣** ج١) ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم لما ذکرنا آھ (شرح المنیة)

**خوک چی دلمانځه ارکان نه پیژنی هغه دامامت لائق دی اوکه نه؟ سوال**: (**١٠٧٤**) یوسړی حافظ دقرآن دی اودسوداگری کسب کوی. لیکن دلمانځه ارکان نه پیژنی. داسی سړی دامامت لائق کیدی سی اوکه نه؟

**دامام جوړیدو څه شرائط دی**: (**٢\١٠٧٥**) دامام دپاره دکمو کمو خبرو سته والی ضروری دی، په کمو سره چی هغه دامامت لائق کیدی سی؟

**جواب**: (١و٢) ښه داده چی امام دلمانځه مسائل پیژنی، قرآن کریم صحیح اوعمده وایی، صالح اوپرهیزگاره وی، که چیری ددی خبرو سره حافظ دقرآن هم وی نوډیره ښه ده، خودا خبره مخکی ده چی دلمانځه مسائل پیژنی دپاره ددی چی په لمانځه کی څه داسی غلطی ونه کړی په کمی سره چی لمونځ فاسد یامکروه سی. فقط (والاحق بالامامة الاعلم باحکام الصلاة ثم الاحسن تلاوة للقرآئة ثم الاورع ثم الاسن ثم الاحسن خلقا ثم الاحسن وجها ثم الاشرف نسبا الخ (تنویر الابصار ص **٥٢٠**)

**دطلاقی سوی ښځی ساتونکی سړی امامت جائزدی اوکه نه؟ سوال**: (**١٠٧٦**) یو سړی دجومات امام دی هغه خپلی ښځی ته طلاق ورکی خوتراوسه پوری یی په کورکی ساتلی ده اودطلاق څخه وروسته یی دهغه څخه بچی هم پیدا سوی دی. مقتدیان وایی چی په ده پسی زموږ لمونځ صحیح کیږی، دطلاق ورکولو گناه امام ته وسوه. خویوه ورځ یوسړی دجماعت څخه بیل سو اووی ویل چی زما لمونځ په ده پسی نه صحیح کیږی. نوامام صاحب وویل چی دی کافردی. پوښتنه ددی خبری کوو چی په دی امام پسی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟ اوهغه چی ورته کافر وویل، ددی څه حکم دی؟

**جواب**: که چیری دغه امام خپلی بی بی ته رجعی طلاق ورکړی وو نورجوع کول بغیر دنکاح څخه جائزدی. اوکه چیری بائن (یا مغلظ طلاق) یی ورکړی وو نوددغه ښځی بغیر دنکاح دتجدید (یاحلالی) څخه ساتل درست نه دی. اوکه چیری هغه داسی کړی وی نو په هغه پسی به لمونځ مکروه وی ولی چی هغه فاسق دی اودمعزولولو قابل دی. اودامام

یومقتدی ته کافر ویل گناه کبیره ده هغه ته توبه کښل پکار دی. فقط والله تعالٰی اعلم.
کتبه عزیز الرحمٰن
(ویکره الی قوله) وخلف فاسق الخ فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم لما ذکرنا الخ ردالمحتار ص ۵۲۴ ج۱. مهدی (عن ابی ذر قال قال رسول الله ﷺ لایرمی رجلاً بالفسوق ولا بالکفر الا ارتدت علیه ان لم یکن وصاحبه کذالك. رواه البخاری (مشکوٰة باب حفظ اللسان. جمیل)

**دیو اجتماعی مصلحت په وجهی سره خارجی امام جوړول درست دی**: **سوال**: (۱۰۷۷) څه فرمایی ددین عالمان په دی مسئله کی چی ددی ځای په مسلمانانو کی دټولو کفارو او نصارٰی وو دحملی په وجهی سره دټولو اسلامی فرقو لکه خوارج اوشیعه اوشوافع او احنافو په دی خبره باندی اتفاق سوی دی چی موږ ټول به په شریکه په یوسړی پسی چی سلطان دی اودخوارجوڅخه دی،داخترونولمونځ به اداء کوو، په داشان دشوافعو اوشیعه ګانو عالمانو فتوٰی ورکړیده او دستخطونه یی کړی دی او په دغه سلطان پسی یی داخترونو لمونځ کول منظور کړی دی. چونکی دلته څوك دحنفی مذهب عالم نسته په دی وجه سره داحنافو عالمانو څخه پوښتنه کوو چی احناف په دی کی شریك اوسی اوکه نه؟

**جواب**: خوارج داهلِ بدعت څخه دی اوپه مبتدع پسی په لمانځه کی اقتداء کول مکروه تحریمی دی. په رد المحتار کی دی فهو (الفاسق) کالمبتدع تکره امامته بکل حال بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم شامی (ص ۵۲۳ ج۱) لیکن په دوو حالتونو کی جائزدی یو داچی بل امام دچا امامت چی مشروع (اوغیر مکروه) وی پیدانه سی، اودا هم دنه پیدا کیدلو په حکم کی دی چی دبل امام په مقررولو کی فتنه وی، قال فی الدر المختار: هٰذا ان وجد غیرهم والا فلا کراهة. درمختار ص ۵۲۵ ج ۱، بل حالت دادی چی هغه امام شرعًا واجب الاطاعت وی. مثلاً سلطان المسلمین نافذ الامر وی اوهغه حتمًا خلګو ته په خپل ځان پسی دلمانځه کولو حکم ورکړی، فوجوب طاعة اولی الامر مسلم، اودکراهت په حالت کی هم دمنفرداً (یوازی) لمونځ کولو څخه په هغه پسی لمونځ کول ښه دی. قال فی الدر المختار: فان امکن الصلٰوة خلف غیرهم فهو افضل والا فالاقتداء اولی من الانفراد، شامی ص ۵۲۳ ج۱ (اشرف علی) بیشکه چی دسلطان دحکم کولو په صورة کی یاکه دبل چا په امام جوړولو کی فتنه وی نوپه دی صورة کی په همدغه سلطان پسی لمونځ کول پکاردی څنګه چی دذکر سوو آیتونو مفاد دی. فقط والله تعالٰی اعلم

**دتوبې څخه وروسته دګنهګار امامت څنګه دی؟ سوال:** (۱۰۷۸) یوسړی ډیر ګنهګار دی لیکن هغه توبه کاړی نوامامت دهغه درست دی اوکه نه؟
**جواب:** په داسې حالت کې کله چې هغه توبه کاړی امامت دهغه درست دی اودهغه دکور خوراك درست دی فقط (لقوله ﷺ الصائب من الذنب کمن لاذنب له. رواه ابن ماجه. مشکوٰة ص ۲۰۲ جمیل الرحمٰن) ، واخرجه لفسق وخیانة فبعد مدة تاب الی الله واقام بینة انه صار اهلا کذالك فانه یعیده. عالمګیری مصری جلد ۲ ص ۲۳۹.
**دجَذامی اوسودخور امامت: سوال:** (۱۰۷۹) دجذامی اوسود خور امامت جائزدی اوکه نه؟
**جواب:** دجذامی اوسود خور امامت مکروه دی. که چیری لمونځ ورکی نوفرض به اداء سی. کذا فی کتب الفقه ([1]). فقط کتبه اصغر حسین. الجواب صحیح، عزیز الرحمٰن عفی عنه.
**دغلا دحیوان ذبح کوونکی امامت: سوال:** (۱۰۸۰) دیو سړی ښځه بی پردی په هر ځای کی ګرځی اوهغه پخپله هم دغلا حیوانان حلالوی، اوددی څخه علاوه امامت هم کوی. دداسی سړی امامت شرعًا څه حکم لری؟
**جواب:** دداسی سړی امامت مکروه تحریمی دی. ([2]) فقط کتبه رشید احمد عفی عنه، الجواب صحیح، عزیز الرحمٰن عفی عنه.
**چې دچا پاکی او ناپاکی مشتبه وی دهغه امامت: سوال:** (۱۰۸۱) یو جومات لاوارث په کم کی چی دهیڅ قسم آمدن نسته په هغه کی یوسړی چی دهغه عمر دوه ویشت کاله دی لمونځ ورکوی، هغه ته دسخت جریان عارضه ده اوقطره هم ورته راځی په لمانځه کی او دلمونځ څخه دباندی. اوحافظ هم نه دی، قرآن ورته لږ څه یاد دی، دهغه پاکی اوناپاکی ټیك نه ده. مسائل هم ورته په ښه شان یادنه دی. کله چی هغه په سفرځی نولمونځ ګذار کم سی اوخلګ دهغه امامت نه ترك کوی. بعضی خلګ دهغه په امامتی باندی خوشحاله نه دی. خو خیال دادی چی لمونځ ګذار به بیادی جومات ته نه راځی ولی چی هغوی دا وایی چی که چیری دده په ځای بل امام مقرر سو نوموږ به دلته لمونځ بالکل نه کوو. فقط والسلام خیر ختام.
**جواب:** داسی سړی دچا پاکی اوناپاکی چی مشتبه ده اودمسائلو څخه هم ناخبره دی امام

([1]). وکذا تکره خلف امرد وسفیه ومفلوج وابرص شاع برصه وشارب الخمر واکل الربوا. شامی ص **۵۲۵** ج ۱، ط.س. ج۱ ص **۵۲۲** . جمیل الرحمٰن غفرله
([2]). قال فی الدر المختار وتکره امامة عبد وفاسق. وقال فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم لما ذکرنا ص **۵۲۳** ج۱. احمد علی سعید ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹** .

مقررول نه دی پکار. اوپخپله هغه ته هم امام جوړيدل مناسب نه دی. بلکی کله چی په لمانځه کی دقطری وغیره راتللو ګمان غالب وی نوبالکل ګرسره جائزنه دی اوکم خلګ چی عذاب په خپله ذمه اخلی او دهغه په امام جوړولو باندی ټینګوالی کوی دهغوی دخبری هیڅ اعتبار نسته ځکه چی دهغوی قول دشریعت دحکم څخه خلاف دی اوکه دداسی سړی په امام جوړیدلو سره دلمانځه ګذارو ډیروالی اولمونځ نه ورکولو سره دلمانځه ګذارو کموالی راځی نوپه دی باندی څه شرعی حکم نه لګیږی اوپه دی وجهی سره دامامت مستحق کیدی نه سی ولی چی دادخلګو ناخبرتیا ده. هٰکذا یفهم من کتب الشریعة (۱) المحمدیة صلی الله علی صاحبها، والله تعالی اعلم. کتبه الفقیر اصغر حسین عفی عنه. الجواب صحیح بنده عزیز الرحمٰن عفی عنه.

**دولد الزنا امامت**: **سوال**: (۱۰۸۲) یوسړی چی موریی بی نکاحه وی اوپلار دهغه داګنی چی مینځه بی نکاحه مباح ده اوبیا وروسته دهغې سره نکاح وکړی اوهلته دهغه څخه ماسوا بل څوك دعلم خاوند نه وی چی امامت وکړی سی نو دداسی سړی کم چی سعادت مند اوپه هرشان سره لائق وی امامت درست دی اوکه نه؟

**جواب**: ذکرسوی سړی امام مقررول ښه دی کله چی هغه په قوم کی اعلم اوافضله وی، هیڅ خرابوالی دهغه په امامت کی نسته قال فی الدر المختار، باب الامامة: والاحق بالامامة الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة الخ قال الشامی قوله بشرط اجتنابه الخ کذا فی الدراية عن المجتبٰی وعبارة الکافی وغیره الاعلم بالسنة اولا الا ان یطعن علیه فی دینه (۲) الخ. فقط رشید احمد عفی عنه

الجواب صحیح قال فی الشامی عن البحر وغیره ولوعدمت ای علة الکراهة بان کان الاعرابی افضل من الحضری والعبد من الحر ولد الزنا من ولد الرشدة والاعمٰی من البصیر فالحکم بالضد (۳). الخ

**دفاسق اوفاجر تعریف اودهغه امامت**: **سوال**: (۱۰۸۳\۱) فاسق اوفاجر چاته وایی؟ په داسی سړی پسی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟

---

(۱). والاحق بالامامة تقدیمًا بل نصبًا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحةً وفسادًا بشرط اجتنابه الفواحش الظاهرة الخ درمختار علی هامش الشامی ص ۵۲۰ ج۱ ویؤیده تعلیل کراهة امامة الفاسق قال فی الجوهرة ص ۵۸۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰، لانه لایهتم بامر دینه والاعمٰی لانه لایجتنب النجاسة وما فی الدر المختار فی بیان کراهة امامة المخالف ان تیقن المراعاة لم یکره اوعدمها لم یصح وان شك کره ص ۵۲۲ علی الشامی ، جمیل الرحمٰن ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰ .

(۲). ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰ . ظفیر

(۳). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰ . ظفیر

**چې دمقرر امام څخه علاوه بل څوک امام جوړسی لمونځ شروع کړي او امام راسی نوهغه دي څه وکړي**؟ (۲\۱۰۸۴) که دمحلی امام دڅه عذرپه وجه دلمانځه په وخت کی جومات کی نه وی اولمونځ گذار بل څوك امام کړي اولمونځ شروع کړي، بیا امام راسی نوهغه په جماعت کی شریك سی اوکه نه؟ او ددغه خلګو لمونځ به صحیح سی اوکه نه؟

**په هرمسلمان پسی لمونځ جائزدي**؟ (۳\۱۰۸۴) آیاپه هرمسلمان پسی لمونځ صحیح کیږی؟

**په امامت کی دعلم اعتبار دی اوکه دذات؟ سوال**: (۱۰۸۵ \ ۴) دامامت دپاره دذات لحاظ دی اوکه دعلم؟

**جواب**: (۱) فاسق هغه چاته وایی چی دشریعت داوامرو پرېښوونکی وی اودمنهیاتو ارتکاب کونکی وی، برابره خبره ده که دبعضو یاداکثرو یادټولو. اودفاجر څخه هم دغه مراد دی. امامت دداسی سړی مکروه تحریمی دی، لمونځ په هغه پسی صحیح کیږی خو مکروه کیږی. ([1]) فقط

(۲) په صورت مسئوله کی دټولو مقتدیانو لمونځ په بل امام پسی درست سو اوذکر سوی امام ته هم په جماعت کی ضرور شریکیدل پکاردی.

(۳) لمونځ په هرسړی پسی درست کیږی. که څه هم دامام اعلم اومتقی کیدل هم ضروری اوښه دی.

(۴) په امامت کی مقدم لحاظ دعلم دی. دعلم سته والی دضروریاتو څخه دی.

فقط رشید احمد. الاجوبة صحیحة. دستخط ، مهر (ټاپه)

**دفیشنی اوپه یوه سترګه ړوند سړی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال**: (۱۰۸۲ \ ۱) امام په یوه سترګه ړوند کیدل. په ورځ کی دری واره جوړی بدلوی، دهغه داکار څنګه دی او په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

**دلیونی امامت**: **سوال**: (۱۰۸۷) کم سړی چی کله کله لیونی کیږی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟

**جواب**: (۱) پیش امام عالم په مسائلو پوه اوصالح پرهیزګار کیدل پکار دی. په امام موجوده کی څه خبره دسوال په رو سره داسی معلومه نه سوه چی په هغه پسی لمونځ

---

([1]). کره امامة الفاسق والفسق لغة خروج عن الاستقامة وهو معنى قولهم خروج الشیئ عن الشیئ علی وجه الفساد وشرعًا خروج عن طاعة الله تعالى بارتکاب کبیرة قال القهستانی ای او اصرار علی صغیرة (فتجب اهانته شرعًا فلایعظم بتقدیمه للامامة تبع فیه الزیلعی ومفاده کون الکراهة فی الفاسق تحریمیة. طحطاوی علی مراقی الفلاح، قال فی الدرالمختار والاحق بالامامة تقدیما بل نصبًا الاعلم باحکام الصلوة فقط حجة وفساداً بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة ص ۵۲۰ ، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰ . ظفیر

ناجائزوی. په یوه سترګه ړوند کیدل دامام سبب دکراهت دامامت نه دی. علٰی هٰذا دهغه جامې بدلول هم مطلقًا موجب دعدم جواز دامامت نه دی.

(۲) جنون اولیونتوب که چیری داسی وی چی هیڅ وخت هغه په هوښ نه راځی اوپه همدی حالت کی لمونځ ورکوی نوپه هغه پسی لمونځ درست نه دی، اوکه چیری دلمانځه ورکولو په وخت کی په خپل هوښ کی وی نولمونځ په هغه پسی صحیح دی. کما فی الدر المختار وکذا لایصح الاقتداء بمجنون مطبق اومنقطع فی غیر حالة وفاقته الخ قال الشامی امافی حالة الافاقة فیصح کمافی البحر عن الخلاصة. شامی جلد اول ص ۲۰۴.

**دګنجی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال:** (۱۰۸۸) په ګنجی پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ اوپه ګنجی پسی دلمانځه دکراهت څه حدیث سته اوکه نه؟

**جواب:** په ګنجی پسی لمونځ جائزدی، کله چی هغه ښه سوی وی اوزخم یی پر سر باندی پاته نه وی نولمونځ په هغه پسی بی کراهته درست دی، په ګنجی پسی دلمانځه دمکروه والی هیڅ حدیث نسته. فقط

**ښځه امامه کیدی سی اوکه نه؟ سوال:** (۱۰۸۹ \۱) په پنځه وخته لمونځونو او تراویحو کی دښځو امام ښځه کیدی سی اوکه نه؟

**یوامام په دوه ځایونو کی امام کیدی نسی: سوال:** (۱۰۹۰) یوامام په دوو ځایونو کی خطبه اودجمعی لمونځ ورکولی سی اوکه نه؟

**جواب:** (۱) که چیری دښځو امام ښځه وی نوهر لمونځ مکروه دی (فی عالمګیریه ص ۸۰ ج۱ ویکره امامة المرأة للنساء فی الصلوة کلها من الفرائض والنوافل الخ

(۲) په بل ځای کی په دوهم واری لمونځ نه سی ورکولی. فقط دستخط

(فی الدر المختار باب الامامة لایصح الاقتداء الی قوله ولامفترض بمتنفل الخ وفی الشامی ص ۲۰۸ فی باب الجمعة: الخطبة والصلوة کشیئ واحد لکونهما شرطًا ومشروطًا الخ.

**دغیر صالح ولد الزنا امامت: سوال:** (۱۰۹۱) دولد الزنا غیر صالح اوغیر عالم امامت جائز دی اوکه نه؟

**جواب:** امامت دداسی ولد الزنا به که څه هم جائز وی خو دکراهت څخه به خالی نه وی، هٰذا ان وجد غیرهم والا فلا کراهة الخ درمختار علی الشامی ص **۵۲۵**، همدا مفتٰی به (قول) دی.

**په شیعه پسی لمونځ کیری اوکه نه؟ سوال:** (۱۰۹۲) په شیعه پسی داهل سنت لمونځ کیږی اوکه نه؟

**داهل سنت والجماعت نوم کله ایښوول سوی دی؟** (۲\۱۰۹۳) نوم داهل سنت والجماعت ددی فرقی دپاره دکله څخه ایښوول سوی دی، او وجهِ تسمیه یی څه ده؟

**څوک چی نه شیعه وی اونه اهل سنت دهغه امامت څنګه دی؟ سوال:** (۳\۱۰۹۴) کم سړی چی نه شیعه وی اونه اهل سنت په هغه پسی داهلِ سنت لمونځ جائز دی اوکه نه؟

**څوک چی تعزیه او مرثیه کوی آیا هغه اهلِ سنت دی؟ سوال:** (۴\۱۰۹۵) څوك چی مرثیه اوری یادچا دکور څخه چی تعزیه وزی یا دچاپه کور کی چی تعزیه وی یا دچاپه کورکی چی ماتم کیږی هغه په اهل سنت کی داخل دی اوکه نه؟ یا اهل شیعه دی؟

**دشیعه سره تعلق درست دی اوکه نه؟ سوال:** (۵\۱۰۹۶) اهل سنت جماعت ته دشیعه څخه پرهیز کول پکاردی اوکه تعلق دی ورسره ساتی؟

**جواب:** (۱) په شیعه پسی دسنی لمونځ نه صحیح کیږی چونکی دهغوی بعضی عقائد داسی وی کم چی موجب دکفر دی لهٰذا په دی صورة کی دلمانځه نه صحیح کیدل یقینی خبره ده اوکه چیری شیعه غالی نه وی بیاهم احتیاط لازم دی ځکه چی عقیده پټ شی دی. اوشیخینو ته بدرد ویل کم چی عند البعض کفردی اوقذف عائشه رضی الله عنها کم چی بالاتفاق کفردی، ددی څخه هیڅ یو شیعه خالی نه وی. قال الشامی ینبغی تقیید الکفر بالانکار لخلافه بما اذا لم یکن عن شبهة. الخ باب الامامة

(۲) دی ډلی ته اهل سنت والجماعت په دی وجهی سره وایی چی دافرقه اهل حق اومتبع دسنتو دحضور ﷺ ده اوداصحابو رضی الله عنهم طریقه یی مضبوطه نیولی ده وقال النبی ﷺ ان الله تعالی یغرس فی هذا الدین غرسا یستعملهم فی طاعة لایبالون من خذلهم ولا من یضرهم حتی یاتی امر الله عزّ وجل اوکما قال رواه ابن ماجه عن ابی هریرة رضی الله عنه .

(۳) دداسی سړی داقتداء څخه ځان ساتل لازم دی چاته چی دخپل دین دحفاظت خیال بالکل نسته، داسړی فاسق دی. قال النبی ﷺ الامام ضامن والمؤذن مؤتمن، رواه الترمذی.

(۴) داټول کارونه چی کم سړی کوی دروافضو شعاردی. قال النبی ﷺ من تشبه بقوم فهو منهم.

کم سړی چی مرثیه ویل یا اوریدل جائز ګڼی اوتعزیه ایستل ښه ګڼی اوپه هغه کی شریکیږی هغه سنی نه دی بدعتی دی اودروافضو شریك اوهم خیاله دی. فقط، والله تعالی اعلم

(۵) دروافضو سره تعلق ساتل نه دی پکار. قال الله تعالی: فلا تقعد بعد الذکرٰی مع القوم الظالمین.

**دستمال پیچلو ته به عمامه ویل کیږی اوکه نه؟ سوال**: (۱۰۹۷) عمامه (یعنی پټکی) خواوه یا یوولس گزه وی. نن صبا امامان چی کم دستمال وغیره دامامت په وخت کی پیچی، دې ته به عمامه څنگه وایو؟

**دکم امام ښځه چی ساړی** (یوقسم خاص جامه) **تړی دهغه امامت جائزدی اوکه نه؟ سوال**: (۱۰۹۸ \۲) دامام ښځه ساړی تړی کم چی دهندوانو ښځی اچوی. په دغه امام پسی لمونځ څنگه کیږی؟

**جواب**: داوو یا یوولسو گزو تحدید شارع ﷺ نه دی لګولی. په عرف کی چی څه ته عمامه وایی په هغه باندی به دعمامی اطلاق کول کیږی.

(۲) دپیش امام په امامت کی په دی سره هیڅ کراهت نسته. فقط والله تعالیٰ اعلم، کتبه عزیز الرحمٰن.

**دغوث الاعظم څخه دامدادطلب کونکی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال**: (۱۰۹۹) کم سړی چی داقسم اشعار وایی:

| | |
|---|---|
| امداد کن امـــداد کن | از درد وغـــم آزاد کـن |
| در دین ودنیا شاد کـن | یا غوث اعظم دستگیر |

ؒ ، داسی سړی امام جوړول څنگه دی؟

**جواب**: داسی سړی امام جوړول مناسب نه دی بلکی متقی اومتبع سنت امام جوړول پکار دی. فقط (قال عز وجل: ان الذین تدعون من دون الله عبادًا امثالکم، وقال تعالیٰ: ایاك نعبد وایاك نستعین. دا دغیر الله څخه په اشعارو کی استمداد دی کم چی حرام دی او د حرامو مرتکب فاسق، متبدع دی اوامامت دهغه مکروه تحریمی دی).

**دچا دفسق په وجهی سره چی خلک ناراضه وی دهغه دامامت څه حکم دی؟ سوال**: (۱۱۰۰) دکم پیش امام څخه چی اکثر قوم په سبب دفساد اوچغل خوری اوحاسد اومغروری او غیبتی کیدلو ناراضه وی، دهغه په وجهی سره بعضی دجمعی پریښوونکی اوبعضی دجومات پریښوونکی سوه، هغه دهمیشه امام جوړول جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: داسی سړی دچا دفسق اومعصیت په وجهی سره چی دهغه څخه خلک ناراضه وی هغه دی دائمی امام نه سی اولمونځ په هغه پسی مکروه دی، داسی سړی واجب العزول دی هغه دی معزول سی. فقط والله تعالیٰ اعلم. کتبه عزیز الرحمٰن مفتی مدرسه دارالعلوم دیوبند.

(رجل أم قومًا وهم له کارهون ان کانت الکراهة لفساد فیه او لانهم احق بالامامة یکره له ذٰلك فتاوٰی عالمگیریة ص ۸۲ ج۱ بیان الامامة، جمیل الرحمٰن)

**دتارک جماعت امامت جائزدي اوکه نه؟** **سوال:** (۱۱۰۱) خضاب مهندی جائز است یانه ، وامامت تارك جماعت جائز است یانه ؟

**جواب:** خضاب مهندی جائز است وترک جماعت بلاعذر معصیت است، امامت تارك جماعت مکروه است. (وفصل فی المحیط بین الخضاب بالسواد الی قوله ومذهبنا ان الصبغ بالحناء والوسمة حسن کما فی الخانیة ، شامی ج **۵** ص **۳۳۹**، الجماعة سنة الی قوله: وقیل واجبة وعلیه العامة (درمختار) فی الاجناس لا تقبل شهادته اذا ترکها استخفافا او مجانة، شامی ج۱ ص**۵۷۹** ، باب الامامة: ویکره امامة الفاسق الخ (کبیری).

**دپردی سړي دمنکوحې سره دواده کوونکی امامت درست دی اوکه نه؟** **سوال:** (۱۱۰۲) یو چا دخاوند لرونکی غیرِ مطلقی ښځی سره نکاح کړیده، نودا نکاح وسوه اوکه نه؟ اودهغه څخه چی کم اولاد سویدی دهغه څه حکم دی؟ اودهغه امامت جائز دی اوکه نه؟

**جواب:** دغیر مطلقی ښځی سره نکاح حرامه اوباطله ده، اولاد ئی ولد الزناء دی، امامت دهغه مکروه دی، (لقوله تعالی: حرمت علیکم امهاتکم ، الی قوله عزَّ وجلَّ: والمحصنٰت من النساء، الایة ، وفی الکبیری للحلبی رحمه الله ص **۴۷۹** : قدموا فاسقا یأثمون بناء علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم. جمیل الرحمٰن)

**په چا کښی چی دا اوصاف وی دهغه دامامت څه حکم دی؟** **سوال:** (۱۱۰۳) کم څوك چی غیرِ مقلدوی، کم چی نن سباځان ته اهلِ حدیث وایی، اوچی خپل جایداد په سودی ګروی باندی ورکوی، اودکلام الله حافظ نه وی، بلکه کلام پاك غلط وایی، او دکاروبار او د دنیوی مشاغلو په وجه دلمانځه دوختونو پابندی اکثره نه سی کولی، نو په داسی چاپسی لمونځ کیږی اوکه نه ؟ اوداسی څوك امام جوړول درست دی اوکه نه؟ خصوصاً کله چی یوبل څوك هم موجود وی کم چی دقرآن پاك حافظ اوپه ظاهره ددغه ټولو ذکر سوو خبرو څخه پاك صاف په نظر راځی، کم یوباید امام مقرر کړل سی؟ اوبل که چیری هغه مخکنی کس دمقتدیانو دناخبری په وجه سره امّ القوم (په قوم کی ډیر ښه سړی) وی، ځکه چی همیشه به یې خپل ځان حنفی المذهب ظاهروی اوددغه ټولو امورو څخه به یې پرهیز کوی، خواوس دیوځو ورځو څخه یې دامامت داستحکام په خیال خپل ځان غیرِ مقلد ظاهر کړی، اوپه نورو امامانو باندی یې سب اوشتم شروع کړل اوپورته ذکر سوی افعال ورڅخه صادر سول چی دهغه په وجه سره په اسلامی جمیعت کی فساد اوتفرقه راغلل، اوسره ددې چی اکثره مقتدیان دهغه دامامت څخه کراهت کوی، دی بیا هم په خپل امامت باندی مصروف دی، تردې پوری چی دحکومت په ستره محکمه (عدالتِ عالیه) کی ددعوې نوبت راغی او ورسره داهم وایی چی زما داجازې څخه پرته نه بل څوك

مقرریدلی سی، اونه یوسړی بلکه ټوله یا اکثره لمونځ گذاره هم مانه سی لیری کولئ، آیا په راتلونکی کی دامام دمقررولو اختیار دامام قبضې ته ولاړی ؟

**جواب**: ددې غیرِ مقلد په امامت کی یوځو خرابیانی دی کمی چی دامامت دکراهت موجب دی، لهذا دده معزولول اوبل امام مقررول لازم دی، اوددغه سړی مخکنی امام غیرِ مقلد هیڅ حق په امامت کی نسته، عزل دده لازم دی، (قال فی الدر المختار: ولو أم قومًا وهم له کارهون ان الکراهة لفساد فیه او لانهم احق بالامامة منه کره له ذلك تحریمًا لحدیث ابی داود: ولا یقبل الله صلوة من تقدم قومًا وهم له کارهون (۱) ، وفی الشامی باب الامامة ایضا) غرض داچی ذکرسوی امام په سبب دمحرماتو اوعدمِ تقلید، اوددین امامانوته په بدرد ویلو کوم چی دغیرِ مقلدینو شعار دی فاسق اومبتدع دی (۲)، اوددې دواړو مامت مکروه دی، اودمخکنی حدیث دابوداؤد څخه معلومه سوه چی کم څوك با وجود دکراهت دمقتدیانو اودهغوی دبدگڼلو، امام وی اوپردې باندی تاکید او تابید کوی، اوجبراً امام کیدل غواړی، اودمقتدیانو دهغه دامامت څخه کراهت کول په سبب دخرابۍ اوفساد دامام وی، نوداسی کس امام جوړول مکروهِ تحریمی دی، اودشامی دعبارت څخه معلومه سوه چی معزوله کول دفاسق ضروری دی (قال فی الشامی: وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعا ؒ (شامی (۳) ص ۵۸۵ باب الامامة). کتبه عزیز الرحمن عفی عنه

<u>**دحنفی لمونځ په شافعی پسی جائزدی اوکه نه؟**</u> (۴) **سوال**: (۱۱۰۴) ددې ځای اکثره امامان په لمانځه کی بسم الله هم دقرآئت سره په لوړ آواز سره وائی اورفع الیدین کوی بعض لمونځ گذار په جهرسره آمین وائی، په داسی کسانو پسی لمونځ کیږی یعنی دحنفی، او دوی په امام پسی (الحمد لله) هم وایی.

**جواب**: دامام شافعی ؒ په مذهب کی دفاتحې او دسورت سره دبسم الله جهر سته، ځکه به هغوی داسی کوی اوداحنافو په نزد دانسته اوهمدارنگه رفع الیدین اوقرائتِ فاتحة خلف الامام دامام شافعی ؒ مذهب دی، دغه خلگ کم چی داسی کوی شافعی المذهب به وی خوهغوی لره پکار دی چی په زوره دی نه وایی ولی چی په دې سره دلمونځ گذارو په لمانځه کی خلل راځی، دناخبرتیا په وجه سره هغوی داسی کوی. فقط

(۱). الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۲ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ . ظفیر
(۲). قال رسول الله ﷺ سباب المسلم فسوق وقتاله کفر. رواه مسلم، (مشکوٰة باب حفظ اللسان). ظفیر
(۳). رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۳ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰ . ظفیر
(۴). وگوره دتفصیل دپاره (غایة التحقیق ونهایة التدقیق) دهمدې حصې په پای کښې . حقانی عفا الله عنه

(که چیری دضروری خبروخیال وساتی نوبغیر دکراهت څخه یی اقتداء جائزده. ([1]) ظفیر)

**دمور اوپلار دنافرمانه امامت؟ سوال:** (۱۱۰۵) کم څوك چی دخپل مور اوپلار نافرمانه دی په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ اودخپل لاس په ګټه کی مور اوپلارته څه رسیدی سی اوکه نه؟ که چیری مور اوپلار فقیران وی نواولاد مقدم دی اوکه موروپلار؟

**جواب:** امامت دهغه مکروه ([2]) دی په سبب دفاسق کیدلو، اونکاح تړل اوذبیحه (یعنی حلاله) دهغه درسته ده ځکه چی هغه مسلمان دی. اوکه چیری دهغه مور اوپلار محتاج وی نودهغوی خرڅ اونفقه پرزوی باندی واجب ده خپل عیال اوبچیانو ته دی هم ورکوی اومور اوپلار ته دی هم ورکوی. دټولو نفقه پرده باندی لازمه ده. وتجب علی موسر (الی قوله) النفقة لاصوله الفقراء ولو قادرین علی الکسب ([3]) الخ، درمختار. فقط والله تعالی اعلم.

**په غیرمقلد پسی دمقلد لمونځ: سوال:** (۱۱۰۶) په غیر مقلد پسی دمقلد مقتدی لمونځ کیږی اوکه نه؟

**جواب:** که چیری غیر مقلد امام ددی خبری رعایت کوی چی هغه کار په لمونځ کی نه کوی په کم سره چی دحنفی لمونځ فاسد یامکروه کیږی اوهغه متعصب نه وی نواقتداء دهغه درسته ده. دحنفی فقهی په کتابونو کی ددی تفصیل درج دی. په درمختار کی دی: ان یتقن المراعاة لم یکره الخ (درمختار ص ۵۲۲ ج۱)

**ددروغو دشاهدی ورکونکی امامت: سوال:** (۱۱۰۷) ددروغو په شاهدی ورکونکی پسی لمونځ درست دی. اوکه مکروه ؟ اولمونځ کیږی اوکه نه؟

**جواب:** په هغه پسی لمونځ مکروه دی چی کله توبه وکاږی نوبیا درست دی بغیر کراهته. اولمونځ په هغه پسی په هرحال کی کیږی لیکن دتوبی څخه بغیر مکروه ([4]) دی.

**دولد الزنا اونا بالغه امامت: سوال:** (۱۱۰۸) امامة ولد الزنا هل هی جائزةٌ ام لا ؟ (۲) وامامة صبی لم یبلغ الحلم فی الفرائض والنوافل یجوز ام لا ؟

**جواب:** (۱) ان کان صالحاعالما ورعاتجوز امامته بل هواولی من غیره واذالم یکن موصوفًا بالاوصاف

---

([1]). ومن أم باجرة ومخالف کشافعی لکن فی وتر البحر ان تیقن المراعات لم یکره اوعدمها لم یصح وان شك کره (درمختار) اما الاقتداء بالمخالف فی الفروع کالشافعی فیجوز ما لم یعلم منه ما یفسد الصلوة علی اعتقاد المقتدی علیه الاجماع ؒ (رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۲ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲ – ۵۲۳ ). ظفیر

([2]). ویکره تقدیم الفاسق ایضًا لتساهله فی الامور الدینیة (غنیة المستملی ص ۳۵۱) . ظفیر

([3]). الدر المختار علی هامش رد المحتار. باب النفقة ص ۹۳۱ – ۹۳۳ ج۲ ، ط.س. ج ۳ ص ۶۲۱ . ظفیر

([4]). ویکره امامة عبد واعرابی وفاسق مختصراً (درمختار ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

المذکورة. لاتجوز کذا حققه فی الشامی وغیره. ([1])

(۲) لاتجوز امامة الصبی الذی لم یبلغ الحلم مطلقا لا فی الفرائض ولا فی النوافل التراویح وغیره. علی الصحیح من المذهب ([2]). فقط

**دګوډ امامت**: **سوال**: (۱۱۰۹) دګوډ اولنډی دامامت څه حکم دی. مکروه دی که څنګه؟

**جواب**: که چیری داسی ګوډ وی چی پوره دریدی نسی نودهغه امامت یی مکروه تنزیهی یعنی خلاف اولی لیکلی دی اودقصیر (یعنی لنډی) په امامت کی څه کراهت نسته. وکذا اعرج یقوم ببعض قدمه فالاقتداء بغیره اولی الخ شامی ([3]).

**دسوزک والا سړی امامت**: **سوال**: (۱۱۱۰) یوامام ته دسوزك ناجوړی ده. قطره هروخت ورته راځی. په داسی امام پسی لمونځ کیږی اوکه نه؟

**جواب**: که چیری دغه سړی دعذر حدته رسیدلی وی اومعذورسوی وی چی هروخت قطره ورته راځی اوهیڅ وخت دلمانځه خالی نه وی ځینی نوپه هغه پسی دغیر معذورینو لمونځ نه کیږی هغه دی امام جوړ نه سی. ([4]) فقط

**چی په شکی ورځ څوک روژه نه نیسی دهغه امامت**: **سوال**: (۱۱۱۱) په یوځای کی میاشت په یوکم دیرشم تاریخ ښکاره نه سوه ([5]) احتیاطًا (خلګو) روژه ونیوله. دغرمی په وخت کی پیش امام پخپله هم روژه ماته کړه اودخلګو روژی یی هم ماتی کړی. ماښام ته میاشت غته وه، ټولو یقین وکی چی میاشت په یوکم دیرشم راختلی ده. په دې ډول په نورو اطرافوکی په یوکم دیرشم میاشت ولیدل سوه. ددغه روژی قضا سته اوکه نه؟ او روژه ماتونکی ګنهګار سو اوکه نه؟ او دامام دپاره څه حکم دی. امامت دهغه درست دی اوکه نه؟

**جواب**: په دی صورة کی په دغه امام اوپه نورو روژی ماتونکو باندی هیڅ ګناه ونه سوه. امامت دهغه درست دی. ددغه روژی قضاء به لازمیږی.

---

([1]). وګوری شامی ص **۵۲۵** ج۱ وفی غنیة المستملی ویکره تقدیم ولد الزنا بناء علی ان الغالب فیه الجهل (الی قوله) حتی لوتحقق فیه عدم الجهل لایکره تقدیمه (ص **۳۵۱**) . ظفیر

([2]). ولایصح اقتداء رجل بامرأة الخ وصبی مطلقًا ولو فی جنازة ونفل علی الاصح (درمختار) انه لایجوز فی الصلوة کلها (ردالمحتار باب الامامة ص **۵۳۹** - **۵۴۰** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۷۲**). ظفیر

([3]). ردالمحتار باب الامامت ص **۵۲۵** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۲۲** . ظفیر

([4]). وکذا لا یصح الاقتداء بمجنون مطبق (الی قوله) ولاطاهر بمعذور (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص **۵۴۱** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۷۷**). ظفیر

([5]). ولایصام یوم الشك (الی قوله) وینظر غیرهم بعد الزوال به یفتی (درمختار کتاب الصوم، ط.س. ج۱ ص **۳۸۱**). ظفیر

**دتوبې څخه وروسته داغلام باز امامت**: **سوال**: (١١٢) مسمی عبد الغني په بچه بازۍ کې مشهور وو. اوس هغه دزړه په صدق سره توبه کښلې ده په هغه پسې لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: وروسته دتوبې څخه بې تردده اوبې کراهته په عبد الغني پسې لمونځ درست دی. څه شبهه کول نه دي ([1]) پکار.

**دغير مقلد امامت**: **سوال**: (١١١٣) په غير مقلدينو پسې لمونځ درست دی اوکه نه؟

**دقادياني امامت**: **سوال**: (٢\١١١٤) په قاديانيانو پسې لمونځ کول څنګه دي؟

**جواب**: (١) په غير مقلدينو متعصبينو پسې لمونځ کول نه دي پکار. ([2]) (٢) په قادنيانو پسې لمونځ کول نه دي پکار. ([3])

**په تراويحو کې دنابالغه امامت**: **سوال**: (١١١۴) په تراويحو کې نابالغه هلك امام کيدی سی اوکه نه؟ په نابالغه پسې تراويح درست دی اوکه نه؟

**جواب**: صحيح اومفتٰی به مذهب دحنفيه وو دادی چې په نابالغه پسې تراويح درست نه دی ([4]).

**چې پرچا باندې غلط تهمت ولګول سی دهغه امامت درست دی**: **سوال**: (١١١۵) يوسړی ښکلی قرآن کريم وايي اوشريف سړی دی. غرض داچې دټول ښار خلګ يې دامامت قابل ګڼي صرف يوسړی ورباندې دا الزام لګوي چې دی سفلي عمل (جادو) وايي. هغه دوه هندوان شاهدکړي دي چې بيشکه دی سفلي عمل وايي، دغه امام بالکل انکار کوي. اوس دا وفرمايا ست چې کم سړی پرداسې نيك امام باندې کم چې دټول ښار يې خلګ ښه ګڼي داسې الزام لګوي نو دهغه څه سزا ده ؟

**دچاپه پښو کې چې کوروالي وي دهغه امامت څنګه دي**: **سوال**: (٢\١١١٦) ديوسړي په پښو کې ګوډوالي دی اودجومات امام دی ليکن قرآن کريم ښه وايي. په داسې امام پسې

---

([1]). التائب من الذنب کمن لاذنب له (مشکوٰة ص ٢٠٢) ظفير.

([2]). په درمختار کې دي: وکذا تکره خلف امرد (الی قوله) وزاد ابن الملك ومخالف. په شامي کې دمخالف داقتداء په اړوند ذکر دي: وخالفهم العلامة الشيخ ابراهيم البيری بناء علی کراهة الاقتداء بهم لعدم مراعاتهم فی الواجبات والسنن (شامی ص ۵٢٧ ج١ ، ط.س. ج١ ص ۵٢۴) ظفير، وان انکر بعض ما علم من الدين الضرورة کفر بها (الی قوله) فلا يصح الاقتداء به اصلا (شامی ص ۵٢۴ ج١ ، ط.س. ج١ ص ۵٢١). ظفير

([3]). فلا يصح اقتداء رجل بامرأة وصبی مطقا ولوفی جنازة ونفل علی الاصح (درمختار) وفی رد المحتار قال فی الهداية وفی التراويح والسنن المطلقة جوزه مشائخ بلخ ولم يجوز مشائخنا (الی قوله) والمختار انه لا يجوز فی الصلوة کلها ص۵۴١ ج١ ، ط.س. ج١ ص ۵٧٢) ظفير.

([4]). ردالمحتار باب الامامة بعد مطلب فی امامة الامرد ص ۵٢۵ ج١ ، ط.س. ج١ ص ۵٢٢). ظفير

لمونځ کول درست دی اوکه نه؟

**ترنامه لاندي دسپين داغ والا امامت درست اوکه نه؟ سوال:** (۱۱۱۷ \۳) که ديوسړی دنامه لاندي سپين داغونه وی نوپه هغه پسی لمونځ کول څنګه دی؟

**جواب:** (۱) کله چی ددی الزام اوتهمت څه ثبوت نه وی کم چی يی په امام لګولی دی نو امامت دهغه بی کراهته صحيح دی. ددروغو الزام لګونکی فاسق دی اوعاصی دی توبه دی وکاږی.

(۲) په شامی کی دی: وکذا اعرج يقوم ببعض قدمه فالاقتداء بغيره اولی، تاتارخانيه ([1]). ددی روايت څخه معلومه سوه چی په ګوډ پسی دلمونځ کولو څه حرج نسته.

(۳) په هغه پسی لمونځ بی کراهته درست دی ولی چی فقهاوو کم دابرص امامت مکروه ليکلی دی نوپه هغه کی داقيد دی چی برص دهغه ظاهر وی اودا داغونه ظاهرنه دی. وکذا يکره خلف امرد وسفيه ومفلوج وابرص شاع برصه. ([2]) الخ

**دترک واجب په وجهی سره دلمونځونو اعاده کيږی نوځوک چی په مخکی جَمع کی شريک نه وو هغه لمونځ کولی سی اوکه نه؟ سوال:** (۱۱۱۸) دواجب پريښوولو سره لمونځ کيږی اوکه نه؟ که چيری دهغه اعاده کوی نوکم سړی چی په مخکی لمونځ کی شريك نه وو، اقتداء وکړی اوکه نه ؟ که چيری وکړی نولمونځ يی درست دی اوکه نه؟

**جواب:** دغه لمونځ ناقص وسو، اعاده دهغه واجب ده اواقتداء دهغه مفترض (فرض کونکی) ته درسته نه ده اولمونځ دهغه مقتديانو چاچی مخکی لمونځ نه ووکړی، صحيح به نه وی. ([3])

**چی مريض امام ته دقطری شبهه وی، نوهغه څه وکړی؟ سوال:** (۱۱۱۹) يوسړی دمجبوری څخه امامت کوی ولی چی بل دهغه برابر هلته ځوك سړی نسته چی امامت وکړی. که چيری دی امام ته په لمانځه کی قطره راسی نوامامت پوره کړی اوکه دی لمونځ درسره راوګرزوی، اوامام دقطری راتللو مرض لری.

**جواب:** ترڅو پوری چی يقين دقطری راوتلو نه وی نولمونځ دی پوره کړی اوسنت اونفل تړول دی وکړی. ([4])

---

([1]). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة مطلب فی امامة الامرد ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲ . ظفير

([2]). ولها واجبات لاتفسد بترکها وتعاد وجوبا الخ والمختار انه جابر للاول لان الفرض لايتکرر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ص ۴۲۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۷۰). ظفير

([3]). اليقين لايزول بالشك (الاشباه والنظائر القاعدة الثالثه ص ۷۵ ) . ظفير

([4]). ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰ . ظفير

**دظالم اوخائن امامت درست دی اوکه نه؟ سوال:** (۱۱۲۰) زید دعمر څخه یوکور په یوولس سوه واخستی اودمصلحت په وجه یی دخرڅونکی څخه دالوظ واخستی چی ددی قیمت به دولس سوه اچول کیږی، نوهمدغسی وسوه، خو درجسټری څخه وروسته چی کله روپی دهغه په قبضه کی راغلی اومشتری زائد رقم واپس اخیستل وغوښتل نو معاهده یی فسخ کړه، دزیاتی رقم ورکولو څخه یی انکار وکی چی دهغه په وجهی سره بائع مذکور په ټول ښار کی بدنام سو اوبد دیانته اوغدار مشهور سو. ددی څخه علاوه شپه او ورځ په تعدیاتوکی اونورو دشرع دڅخه په مخالفو معاهداتو کی منهمك (اخته) اوسی. نوآیا داسی سړی عند الشرع دجومات دامامت یا داسلامی مدرسو داهتمام دلوړ منصب مستحق دی اوکه نه؟ سره ددی که چیری دی په یوداسی منصب باندی برقرار ولرل سی نودخلګو بدګمانی پیدا کیږی اوددغه مدرسی په اعانت کی کمی واقع کیږی.

**جواب:** خرڅونکی ته دمقرر قیمت څخه زیاتی روپی راګرځول صریح ظلم اوخیانت دی او ظالم اوخائن دامام جوړولو اومهتمم جوړولو قابل نه دی. هٰکذا فی کتب الفقه: واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعًا الخ (رد المحتار المعروف بالشامی ([1]) وایضًا فی کتاب الوقف منه ج ۳: عن الاسکاف: ولا یولی الا امین قادراً بنفسه اوبنائبه لان الولایة مقیدة بشرط النظر ولیس من النظر تولیة الخائن لانه یخل بالمقصود.

**په یوسترګی پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ سوال:** (۱۱۲۱) زید دقرآن حافظ دی اویوه سترګی دی په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ اوکه چیری یو سړی په علم کی دهغه څخه زیات وی نوآیا هغه ته هم یوسترګی امام جمع ورکولی سی؟

**جواب:** یوسترګی حافظ په شان ددوه سترګی بینادی، دهغه څخه دزیات علم والا یا دهغه غوندی علم لرونکی لمونځ په هغه پسی بی کراهته کیږی. دنابینا دامامت دمکروه والی وجه فقهاوو دالیکلی ده چی دسترګو دنیستوالی په وجهی سره دپلیتی څخه ځان ساتل دهغه دپاره مشکل سی. (والاعمٰی لانه لا یتوفی النجاسة. هدایه باب الامامة ص ۱۱۰ ج۱. دیو سترګی سړی کار په یوی سترګی سره دغه رکم چلیږی لکه څنګه چی دبینا کار چلیږی. ظفیر)

**دسود کاغذات په اجرت باندی دلیکونکی امامت څنګه دی؟ سوال:** (۱۱۲۲) یوسړی دسود اخستونکی سره اوسیږی اودسودکاغذات په اجرت باندی لیکی، آیاپه داسی سړی پسی لمونځ درست دی؟

**جواب:** سود اخستونکی اولیکونکی فاسق دی. لهٰذا په فاسق پسی لمونځ مکروه دی.

---

([1]). ردالمحتار کتاب الوقف. مطلب فی شروط المتولی. ص ۵۳۲ ج۳ ، ط.س. ج۴ ص ۳۸۰ . ظفیر

(۱) (آنحضرت ﷺ دسود پرکاغذات لیکونکی باندی هم لعنت کړی دی هغه یی هم په هم دغه ډله کی شمار کړیدی. عن جابر قال لعن رسول الله ﷺ اکل الربوا ومؤکله وکاتبه وشاهدیه....وقال هم سواء رواه مسلم. مشکوٰة باب الربوا ص ۲۴۴).

**په نفل کونکی پسی دفرض کونکی لمونځ نه صحیح کیږي**: **سوال**: (۱۱۲۳) که چیری یوامام دوه ځایه یعنی په دوو ښارونو کی لمونځ ورکوی نودرست دی اوکه نه؟

**جواب**: چی په دوهم ځای کی دغه امام لمونځ ورکړی نوهغه ونسو ولی چی که چیری اول لمونځ دشرعی قاعدی مطابق سوی وی نودوباره چی کم لمونځ ده وکی هغه نفل دی اوپه نفل کونکی پسی فرض او واجب درست نه دی. نوکمو خلګو چی دوهم وار په هغه پسی لمونځ وکی دهغه خلګو لمونځ صحیح نه سو. (۲)

**که امام دهیچا داقتداء نیت هم ونه کړی نوهم دمقتدی لمونځ کیږي**: **سوال**: (۱۱۲۴) زید په یوځای کی امام دی اوبکر دهمدغه ځای درباری دی. په زید اوبکر کی نا اتفاقی ده، بکر په زید پسی لمونځ کوی لیکن دعداوت په وجه زید یی داقتداء نیت نه کوی نوپه دی صورة کی دبکر لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟

**جواب**: دبکر لمونځ صحیح دی ولی چی که امام دمقتدیانو دامامت نیت وکړی اوکه یې ونه کړی په هرحال کی دمقتدیانو لمونځ کیږی (۳).

**چی دتجوید دفن ماهر نه وی نو دهغه امامت درست دی اوکه نه؟** **سوال**: (۱۱۲۵) که چیری امام قرآن کریم خو صحیح وایی لیکن دتجوید په فن کی پوره ماهرنه وی نوپه هغه پسی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟

**جواب**: په لمانځه کی څه نقصان نه راځی.

**په غیر مقلد پسی دحنفی لمونځ کیږي اوکه نه؟** **سوال**: (۱۱۲۶) په غیر مقلد پسی دحنفیانو لمونځ جائزدی، اوکه نه؟

**جواب**: په دی کی څه تفصیل دی چی دهغه دلیکلو په دی ځای کی ګنجائش نسته اونه یی ضرورت دی، ولی چی کتابونه اورسالی په دی باره کی موجودی دی. مختصره داچی په غیر مقلدو پسی په لمونځ کولو کی احتیاط کول پکار (۴) دی.

---

(۱). اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه ؒ (رد المحتار باب الامامة ج۱ ص ۵۲۳ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲). ظفیر

(۲). ولا مفترض بمتنفل (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۹). ظفیر

(۳). ولایشترط لصحة الاقتداء نیة امامة المقتدی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب شروط الصلوٰة ص ۳۹۴ ج۱). ظفیر

(۴). وکذا تکره خلف امرد ؒ وزاد ابن الملك کشافعی لکن فی وتر البحر ان تیقن المراعات لم یکره اوعدمها =

**د دیندار ولد الزنا امامت درست دی او که نه؟ سوال:** (١١٢٧) د ولد الزنا سړی (څوك چی دارکان اسلام څخه پوره خبر وی اوباعمله پرهیزګار وی) اقتداء اوامامت شرعًا جائزدی اوکه نه؟

**جواب:** امامت دهغه بغیر کراهته درست [1] دی.

**کم امام چی په اخترونو کی دباجی سره ځی او راځی اوسود خور هم دی دهغه امامت څنګه دی؟ سوال:** (١١٢٨) قاضی صاحب داخترونو دلمونځ ورکولو دپاره چی کله دخپل کور څخه ووزی نوشیخ نقارچی دډول ږغولو سره دقاضی صاحب څخه مخکی مخکی ترعید ګاه پوری ځی اوهمدغه رکم دلمانځه څخه وروسته ترکوره پوری ځی. داعمل ثواب دی اوکه ګناه. اوقاضی ښکاره واضح سود اخلی او قرآن کریم هم غلط وایی.

**جواب:** دقاضی دافعل چی ډول ږغوی، درست نه دی اوپه سود خور پسی لمونځ مکروه تحریمی دی [2]. فقط

**څوک چی پلار ته ښکنځل کوی دهغه امامت درست دی، اوکه نه؟ سوال:** (١١٢٩) شخصی پدر خودرا نیك وبد دهد وهمیشه دشنام دهد. غرض بسیار سیاست میکنند ودروغ میگوید موافق کتب چی حکم دارد. وبران شخص اقتداء جائز است یانه؟

**جواب:** پدر را ایذاء دادن گناه کبیره ومعصیت سخت است اگر توبه نه کند ومعافی از پدر نخواهد نماز اومکروه است که اوفاسق است. قال الله تعالی: ولا تقل لهما اف ولا تنهرهما وقل لهما قولاً کریمًا [3].

**کم مسافر امام چی دری رکعاته کړی وی دهغه اقتداء درسته ده اوکه نه؟ سوال:** (١١٣٠) مسافر امام چی دری رکعاته وکړل، په څلورم رکعات کی مقتدی شامل سو. هغه به دری رکعاته باقی په کمی طریقی سره کوی؟

**جواب:** کله چی امام مسافردی نوهغه ته دوه رکعاته کول پکاروه، که چیری هغه سهوًا څلور رکعاته وکړی نو آخری دوه رکعاته د هغه نفل سوه. لهٰذا اقتداء د هغه مفترض په

---

= لم یصح وان شك کره (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٥ - ٥٢٢ ج١، ط. س. ج١ ص ٥٢٢). ظفیر

[1]. ویکره تنزیها امامة عبد الخ واعرابی الخ وولد الزنا (در مختار) لکن ما فی البحر صرح به فی الاختیار حیث قال ولو عدمت علة الکراهة بان کان الاعرابی افضل من الحضری والعبد من الحر ولد الزنا من الرشدة والاعمٰی من البصیر فالحکم بالضد (ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٣ ج١، ط.س. ج١ ص ٥٥٩ - ٥٦٠). ظفیر

[2]. وکذا تکره خلف امرد الخ وشارب الخمر واکل الربا ونمام ومراء ومتصنع (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٥ ج١، ط.س. ج١ ص ٥٢٢). ظفیر

[3]. سورة بنی اسرائیل: رکوع ٣. ظفیر

څلورم رکعات کی درسته نه ده اولمونځ دهغه نه سو صحیح. (۱) فقط

**دسرود اوسرنا اوریدونکی امامت**: **سوال**: (۱۱۳۱) امام اذا ذهب فی مجلس الفجرة وسمع المزامیر والدف والرقص وغیرها من انواع الهو واللعب هل یجوز الصلوٰة خلفه ام لا ؟

**جواب**: تجوز مع الکراهة، اما الجواز فلقوله ﷺ صلوا خلف کل بر وفاجر الحدیث واما الکراهة فلان فی تقدیم الفاسق تعظیم وقد وجب علیهم تحقیره کذا فی الشامی (۲). فقط

**دکسب په طور باندې دخیر غوښتونکو امامت**: **سوال**: (۱۱۳۲) دکمو فقیرانو کسب چی دخیر غوښتلو دی په هغوی پسی لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: دسوال کسب لرونکی فقیر اکثره دحرام کار مرتکب کیږی ولی چی هغوی ته سوال کول درست نه وی. په دوی کی ډیر غنیان اومالداران وی اوډیر پکښی تکړه او تندرست وی چی محنت اومزدوری کولی سی اوخوراکه ورسره موجوده وی په دی صورة کی چونکی هغه فقیر دکم چی داحال وی کم چی ذکرسو شرعًا فاسق کیږی اوپه فاسق پسی لمونځ مکروه کیږی. (۳) فقط

**قصداً دغلطی مسئلی ښوونکی امامت**: **سوال**: (۱۱۳۳\۱) که چیری امام دقربانی دڅرمنی دقیمت په معامله کی مسئله غلطه ښیی نوڅه حکم یی دی؟

**دتنخواه دار امام امامت**: **سوال**: (۱۱۳۴\۲) کم امامان چی په تنخواه اخستلو سره لمونځ ورکوی که چیری تنخواه ورنه کول سی، نو امامتی نه کوی. په هغوی پسی لمونځ جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: (۱) دامامت په معاوضه کی دقربانی دڅرمنی قیمت ورکول درست نه دی، امام که چیری غلطه مسئله وښیی نودا ګناه پرده باندی ده، اوپه ده پسی لمونځ مکروه دی. (ویکره امامة عبد واعرابی وفاسق (درمختار مختصرًا ص ۵۲۳ ج۱ ظفیر).

(۲) دهغوی لمونځ کیږی خو هغوی ته دا اخستل دامامت په عوض کی درست نه دی.

**ددیوث امامت**: **سوال**: (۱۱۳۵) دزید ښځی ته دزناکاری په وجهی سره حمل وسو اویو هلك یی پیداسوی دی. داسی ښځی ته طلاق ورکول پکار دی اوکه نه؟ زید وایی چی که الله ﷻ ماپه دوږخ کی اچوی هم نوزه به طلاق ورنه کړم. داسی سړی ته دیوث ویل جائز

---

(۱). وکذا لایصح علی تداء بمجنون الخ ولامفترض بمتنفل وبمفترض اٰخر لان اتحاد الصلاتین شرط عندنا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۸). ظفیر

(۲). وګوری ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲). ظفیر

(۳). ویکره امامة عبد واعرابی وفاسق الخ مختصرًا (درمختار) ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰ . ظفیر

دی اوکه نه؟ اوورته پردیوث ویونکی باندی څه جرم سته، اوښځه هم هغه شان په حرام کاری کی مبتلا ده. په دغه سړی پسی لمونځ کیږی اوکه نه؟
که چیری امام پر لوړ ځای باندی وی او مقتدیان پر لاندی ځای باندی وی نو لمونځ به صحیح وی اوکه نه؟

**جواب**: طلاق ورکول ضروری اوواجب نه دی کذا فی الدر المختار. داسی ویل ورته نه دی پکار. داویل حرام دی. نه. گنهگاردی. اولمونځ په هغه پسی صحیح دی لیکن که چیری هغه دخپلی ښځی په فعل باندی راضی وی، نوپه هغه پسی لمونځ مکروه دی. (۱) که زیات لوړ وی نومکروه دی، کنی درست دی. (۲) فقط

**دزانی امامت**: **سوال**: (۱۱۳۲) یوسړی دخپلی نابالغی لور نکاح ددوو شاهدانو په مخکی یوسړی ته وکړه لیکن ددغه انجلی داکا زوی هغه خپل خاوند ته ورتللوته نه پریږدی او دخپل ځان سره یی ساتلی ده. ددی سړی دپاره څه حکم دی؟ اویو ملا وایی چی ددغه سړی امامت جائزدی چاچی دوهمه ښځه خپل په کور کی ساتلی ده اووایی چی فرعون ملعون به جنت ته ځی. اویوکم دوه لکه آدمه ددی آدم څخه مخکی تیرسوی دی اوجمعه دعیسایانو په ښارونو کی جائزنه ده. اوتور خضاب مباح دی. ددی سړی په باره کی څه حکم دی؟

**جواب**: دغه سړی چاچی داښځه ساتلی ده اوخاوند ته ورتللو ته یی نه پریږدی فاسق او ظالم دی دده امامت مکروه دی. کذا فی الشامی (۳) وغیره من الکتب الفقهیه. اودغه ملا څوك چی داهلِ سنت والجماعت دعقائدو څخه خلاف عقائد ظاهروی. دی ضال او مضل دی، دده داقوالو اعتبار نسته. ده ته اعتقاد لرل حرام دی. قال ﷺ یکون فی اٰخر الزمان دجالون کذابون یاتونکم من الاحادیث بمالم تسمعوا انتم ولا اٰبائکم فایاکم وایاهم لا یضلونکم ولا یفتنونکم. رواه (۴) مسلم، وفی حدیث البخاری ومسلم حتّی اذا لم یبق عالمًا اتخذ الناس رؤسًا جُهّالاً فَسُئِلوا فافتوا بغیر علم فَضَلُّوا واَضَلُّوْا. فقط واللہ تعالٰی اعلم.

**دفاسق امام په وجهی سره دوهمه جمعه**: **سوال**: (۱۱۳۷) په کم جومات کی چی فاسق امام لمونځ ورکوی په هغه جومات کی دوهمه جمعه کول جائز دی اوکه نه؟

---

(۱). ویکره امامة عبد واعرابی وفاسق الخ متخصرا (الدر المختار باب الامامة ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰ ).
(۲). وانفراد الامام علی انه کان للنهی وقدر الارتفاع بذارع ولاباس بما دونه (درمختار) قوله للنهی وهوما اخرجه الحاکم انه ﷺ نهٰی ان یقوم الامام فوق ویبقی الناس خلفه (ردالمحتار ص ۲۰۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۴۲). ظفیر
(۳). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (هدایه باب الامامة ص ۱۱۰ ج۱) . ظفیر
(۴). مشکوٰة باب الاعتصام بالسنة فصل اول ص ۲۸ . ظفیر

**جواب**: قال فی الدر المختار صلی خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة، قال فی الشامی قوله نال فضل الجماعة افاد ان الصلوة خلفهما اولی من الانفراد الخ (۱). نو دوهمه جمعه کول په دغه جومات کی درست نه دی په هم دغه امام پسی لمونځ کول پکاردی، ولی چی دیوازی لمونځ کولو څخه په هغه پسی لمونځ کول اولی دی اودوهمه جمعه کول دمحلی په جومات کی روا نه دی. فقط

**په تنخواه دار امام پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ سوال**: (۱۱۳۸ \۱) په امامت باندی تنخواه اخستل جائزدی اوکه نه؟ اوکم امام چی تنخواه اخلی په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه مکروه (۲) دی؟

**په مقرر امام اوعالم متقدی کی څوک دامامت مستحق دی؟ سوال**: (۲\۱۱۳۹) په یوجومات کی امام مقرردی اویو عالم هم موجوددی. نولمونځ په چاپسی کول پکاردی؟ اودعالم لمونځ په دغه مقرر سوی امام پسی صحیح دی اوکه نه؟ کم امام چی تردوو میاشتو پوری سره دمعلوم والی په پلیت جای نماز باندی لمونځ وکی اوخلگوته یی لمونځ ورکی دهغه اقتداء درسته ده اوکه نه؟

**جواب**: (۱) په امامت باندی تنخواه اخستل درست دی څنګه چی دفقهی په کتابونو کی مصرح (۳) دی. نوپه تنخواه دار امام پسی په لمونځ کولو کی هیڅ کراهت نسته. اوهیڅ تردد کول نه دی پکار.

(۲) په مقرر امام پسی لمونځ کول پکاردی همدا ښه ده. اودعالم لمونځ په مقرر امام پسی صحیح دی. په درمختار کی دی: ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غیره مطلقا ای وان کان غیره من الحاضرین من هو اعلم واقرأ منه. (شامی ص**۵۲۲**)

جای نماز که چیری پلیت وی نوپر هغه باندی په لمونځ کولو کی داتفصیل دی چی که چیری دسجدی اوقدمونو ځای پاك وی نولمونځ صحیح دی کنی نه دی، او دلاسونو او زنګنونو په ځای کی خلاف دی چی لمونځ فاسدیږی (اوکه نه) نوکه چیری ماسوا ددی ځای څخه په یوځای کی جای نماز پلیت وی نولمونځ کیږی په دی صورة کی اعتراض هیڅ نسته. په درمختار باب شروط الصلٰوة کی دی: و (طهارة) مکانه ای موضع قدمیه اواحدٰهما ان رفع الاخرٰی وموضوع سجوده اتفاقًا فی الاصح لاموضع یدیه ورکبتیه علی

---

(۱). مشکوٰة کتاب العلم فصل اول ص ۳۳ . ظفیر

(۲). وګوری ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۵** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۷۲** . ظفیر

(۳). ولا لاجل الطاعات (الی قوله) ویفتی الیوم بصحتها تعلیم القرآن والفقه والامامة والاذان (الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی الاستیجاب علی الطاعات، ط.س. ج۲ ص **۵۵**). ظفیر

الظاهر الخ. په شامی کی دی: وفی البحر واختیار ابواللیث ان صلاته تفسد وصحیحه فی العیون ([1]). فقط

**یوسړی یوازی فرض لمونځ کوی بل ورسره مقتدی جوړسو ودریدی**: **سوال**: (۱۱۴۰) یوسړی یوازی په جومات کی لمونځ کوی بل سړی وروسته راغی نیت یی وتړی اومقتدی سو اومخکی سړی په امامت سره فرض لمونځ اداء کی. په دی صورة کی دهغه امامت او د هغه بله اقتداء درسته سوه اوکه نه؟

**جواب**: په دی صورة کی لمونځ صحیح سو امامت اواقتداء جائز سوه ([2]).

**په نفل کونکی پسی دفرض کونکی لمونځ**: **سوال**: (۱۱۴۱) که چیری امام نفل کوی او مقتدی فرض، نوکه په هغه پسی یی وکړی نو دمقتدی فرض به وسی اوکه نه؟

**جواب**: په دی صورة کی به دمقتدی فرض نه کیږی. په درمختار کی دی، واتحاد مکانهما وصلاتهما ([3]). فقط

**چی په لمانځه کی ښوری دهغه امامت**: **سوال**: (۱۱۴۲) کم امام چی په لمانځه کی حرکت کوی، په هغه پسی لمونځ جائزدی؟ اوکه چیری دهغه په عادت کی داخل وی نوپه دی حالت کی څه حکم دی؟

**دغسال اوخیر غوښتونکی امامت**: **سوال**: (۱۱۴۳ \۲) داسی سړی امام یاقاضی مقررول څنګه دی، څوك چی مړی لمبوی اویو سترګی اوګوډ وی اوخیر غواړی. اوهغه سړی سره دشادی شده کیدلو خپله لور خپل خاوند ته تللو ته نه پریږدی اوهغه انجلۍ فحاشه وی اودهغې فحاشه والی دهغه په اشاری سره وی نوهغه امام جوړول درست دی اوکه نه؟

**جواب**: (۱) کم سړی چی په لمانځه کی حرکت کوی په هغه پسی لمونځ مه کوی.

(۲) دمړو لمبول ګناه نه ده. په هغه پسی لمونځ صحیح دی. دیوسترګی امامت درست دی اودګوډ امامت خلافِ اولی دی اوپه خیر غوښتونکی پسی لمونځ مکروه دی. اوکم سړی چی خپله لور خپل خاوند ته نه لیږی او بی وجهی یی بنده کړی او دهغې په فحاشه ګرځیدلوباندی راضی اوخوشحاله وی‌نوهغه فاسق اوبدکاره دی امامت دهغه مکروه دی.

فقط والله تعالیٰ اعلم. ۱۳\۱۱ رجب سنه ۱۳۳۲ ھ ق.

---

[1]. رد المحتار باب شروط الصلوة ص ۳۷۴ ج ۱). ظفیر

[2]. ای من صلی مع واحدة اقامة عن یمینه (غنیة المستملی ص ۴۸۵) ویقف الواحد ولوصبیًا محاذیا ای مساویا لیمین امامه علی المذهب الخ (الدر المختار علی هامش رد المحتار ص ۵۳۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۶). ظ

[3]. الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۱۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۴. ولا مفترض بمتنفل وبمفترض فرضا اٰخر لان اتحاد الصلاتین شرط عندنا (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۴۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۹). ظفیر

**دولد الزنا امامت**: **سوال**: (۱۱۴۴) دحرامی دامامت څه حکم دی؟ خصوصاً په داسی حالت کی چی په جومات کی لس لمونځ گذاره دی په هغوی کی یوحرامی دی اوهم هغه دمسائلو څخه خبر اوعالم دی نور نهه ۹ سړی جاهلان دی. نوپه دی صورة کی دشریعت څخه جاهل دی لمونځ ورکړی اوکه حرامی؟ مشهوره ده چی په حرامی پسی لمونځ درست نه دی.

**جواب**: په حرامی پسی لمونځ درست دی اوکمه چی په خلګو کی مشهوره ده، داغلطه ده اوپه صورةِ مسئوله کی دهغه امام جوړول بغیر کراهته درست اوجائز دی ولی چی دلمانځه په احکامو دټولو څخه زیات خبر دی. اوفقهاوو دکراهت وجه دا تحریر فرمایلی ده چی دحرامی څوك شفقت کونکی پلار نه وی لهٰذا هغه جاهل اوسی. نومعلومه سوه چی که چیری جاهل نه وی نوبغیر کراهته جائزدی بلکی په دی صورة کی دټولو څخه زیات حقدار هم دی، ده ته امام جوړول پکاردی. کما فی الدر المختار: الاحق بالامامة اعلمهم باحکام الصلٰوة نصباً واماماً وقال فی الهدایة یکره تقدیم الفاسق وولد الزنا لانه لیس له اب لیشفقه فیغلب علیه الجهل وفی الشامی ولو عدمت ای علة الکراهة بان کان الاعرابی افضل من الحضری والعبد من الحر وولد الزنا من ولد الرشدة والاعمی من البصیر فالحکم بالضد (۱). فقط

**زه تاسی ته ستاسی لمونځ درکوم داسی ویل څنګه دی؟** **سوال**: (۱۱۴۵) دجومات امام یوه ورځ دمابښام لمونځ ونه کی، خلګو ځینی پوښتنه وکړه نوجواب یی ورکی چی زه خپل لمونځ نه کوم. تاسی ته ستاسی لمونځ درکوم دالفظ په کفر کی داخل دی او که نه؟ اوپه هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ اودچا په نظرکی چی نقصان وی دهغه امامت څنګه دی؟

**جواب**: (۱) دا دکفر په حکم کی نه دی. په داسی امام پسی لمونځ که څه هم درست دی لیکن مکروه تحریمی دی. واجب دی چی دی معزوله کړی اویو بل څوك امام جوړ کړی ولی چی ددی کلمی په وجهی سره به ورباندی دفاسق حکم کول کیږی.

دچاپه نظرکی چی نقصان وی خو دنجاساتو څخه ځان ساتلی سی. په هغه پسی لمونځ بی کراهته درست دی. اوکه چیری دپلیتیۍ څخه نسی ساتل کیدی نومکروه دی. په در مختار کی دی: ویکره امامة العبد ونحوه الاعمی. درمختار (۲). فقط

**دړیری خړیلی امامت**: **سوال**: (۱۱۴٦) په یو ښار کی انګریزی مدرسه ده چی په هغه کی د

---

(۱). ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۲۰ . ظفیر

(۲). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامت ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۲۰ . ظفیر

درسی تعلیم  څخه علاوه دینیات هم ورښيي ليکن په سرکاری قانون باندی عمل کول کیږی. مثلاً نن صبا دمدرسی وخت دسهار لسو بجو څخه ترماپښین درو بجو پوری دی. په منځ کی پریوه بجه دلسو منټو چهټی کیږی اوهغه وخت هغوی راجمع سی اوپه جمع سره لمونځ اداء کوی. که چیری پرطلباوو باندی په څه وجهی سره ناوخته سی نوقطع نظر دنقصان څخه دسکول دطرفه دهغه څخه جواب طلب کیږی په دی وجهه که چیری ناوخته کیږی اوامام موجودنه وی نویو طالب علم کم چی ډیره خریی لیکن حافظ دقرآن او د لمانځه اوروژی پایبنده دی اوپه نورو طلباوو کی لوړوالی لری هغه امام جوړول جائزدی اوکه نه؟ که چیری جائزنه وی نوهلکانو ته یوازی لمونځ کول اومدرسی ته تلل پکاردی اوکه نه؟

**<u>دمقرر امام داجازت څخه بغیر دهغه په موجودګی کی دبل سړی امامت</u>: سوال:** (۱۱۴۷) که چیری دمسلمانانو یوه ډله یوجومات ته ولاړه سی اوپرمقرر وخت باندی یاوروسته دامام په موجودګی یاغیر موجودګی کی دڅه ضرورت په وجهی سره په خپله ډله کی دټولو څخه مشر سړی امام جوړکړی اوپه جمع سره لمونځ اداء کړی نودجومات امام یابل چاته داحق سته، چی هغوی منع کړی اوکه داحق ورته نسته؟

**جواب:** (۱) که چیری ددغه جومات امام او لمونځ ګذار نه وی راغلی نو هلکانو ته په جومات کی جمعه کول نه دی پکار. البته که دجومات څخه خارج یو ځای وی نوپه هغه کی دی ځان ته جمع وکړی اوپه خپله ډله کی چی څوك دامامت لائق وی نوهغه دی امام جوړسی. لمونځ په هریو مسلمان پسی کیږی. دافرق ضرور دی چی نیك سړی پسی زیات ثواب دی. اوپه ډیره خریلی پسی لمونځ مکروه کیږی اوثواب یی کم دی. قال فی الجوهرة ص **۵۸** : فان تقدموا جاز لقوله ﷺ صلوا خلف کل بر وفاجر.

(۲) دجومات دمعین امام څخه ماسوا بل سړی ته ددغه جومات دامام په موجودګی کی یاغیر موجودګی کی دمعین امام داجازی څخه بغیر امام جوړیدل اوجمعه کول نه دی پکار. که چیری دمعین امام او دمحلی دلمانځه ګذارو په جمعه کی دوخت له لحاظه فرق وی نودا خلګ دی خپله جمعه دجومات څخه خارج په یو ځای دالان یاصحن یاځنګل کی وکړی. اوکه په جومات کی یی هم وکړی نولمونځ به یی صحیح سی لیکن هغوی ته په دغه رکم جمعه کول ښه نه دی. دجومات دلمانځه ګذارو اوجمعی انتظار دی وکړی، کنی جلا جلا دی وکړی. غرض داچی دمحلی دخلګو اودمقرر امام څخه ماسوا دبلی محلی سړیو ته دامناسب نه دی چی دمحلی دخلګو دجمعی څخه مخکی په دغه جومات کی جمعه وکړی اوکه وی هم کړی نو دمحلی خلګ بیا جمعه کولی سی اودمخکی جمعی

ثواب به همدوی ته ورکول کیږی. هغه جمعه کمه چی مخکی وسوه اودمخکی جمعی ثواب به هم دوی ته ورکول کیږی. هغه جمعه کمه چی مخکی وسوه دهغې به هیڅ اعتبار نه وی. هٰکذا فی کتب الفقه. فقط، دلیله قول الدر المختار: ویکره تکرار الجماعة باذان واقامة فی مسجد محلة ﷺ قال الشامی تحت قوله باذان واقامة ﷺ یکره تکرار الجماعة فی مسجد محلة باذان واقامة الا اذا صلی بهما فیه غیر اهله او اهله لکن بمخالفة الاذان (الی ان قال) والمراد بمسجد المحلة ماله امام وجماعة معلومون الخ شامی ص ۵۱۶ ج۱.

**داذان څخه وروسته په جمعه کی تاخیر وسی اوکه فوراً وسی؟ سوال:** (۱۱۴۸) داذان څخه وروسته دی جمعه فوراً ودریږی اوکه انتظار وسی؟

**جواب:** داذان څخه وروسته په جمعه کولو کی دوخت دوسعت اوقلت لحاظ دی وسی، او دلمانځه ګذارو رعایت دی وسی. چی ځنګه موقعه اومصلحت وی، هغه شان دی وسی. په شریعت کی ددی دپاره څه مینتونه مقرر نه دی چی داذان څخه وروسته په دومره مینتونو باندی جمعه کیدل پکاردی، بعضی وختونه وسیع وی په هغه کی دی دهغه موافق عمل وسی. بعضی (وختونه) تنګ دی په هغه کی دی دهغه موافق عمل وسی ([1]). فقط

**چی دبل چا ښځی سره څوک نکاح وکړی دهغه امامت څنګه دی؟ سوال:** (۱۱۴۹) دیو جومات امام دیوی ښځی نکاح کړیده کمه چی پردی منکوحه ده، او هغه طلاق نه دی ورکړی. دهغه امامت درست دی اوکه نه؟ بینوا تؤجروا.

**جواب:** امامت دداسی سړی په وجه دفاسق کیدلو مکروه تحریمی دی. فقط کتبه رشید احمد. الجواب صحیح عزیز الرحمٰن عفی عنه. ودلیله ماقال فی الدر المختار: وکره امامة عبد وفاسق وقال فی الدر المختار قال فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم. در مختار ص ۵۲۳ ج۱ اوپه عالمگیری کی دی: لا یجوز للرجل ان یتزوج زوجة غیره وکذالك المعتدة ص ۲۸۰ ج۱.

**دولد الزنا عالم دامامت متعلق فیصله وفرمایاست: سوال:** (۱۱۵۰) دزید وینا ده چی دولد الزنا صالح اوعالم امامت جائز اواولی اوصحیح دی. بکر وایی چی مکروه دی. دلائل ددواړو سره موجود دی. صحیح قول کم یو دی ؟

---

([1]). وَیَفْصِلُ بَیْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ کمِقْدَارِ رَکْعَتَیْنِ أَوْ أَرْبَعٍ یَقْرَأُ فِي کُلِّ رَکْعَةٍ نَحْوًا مِنْ عَشْرِ آیَاتٍ . کَذَا فِي الزَّاهِدِيِّ وَالْوَصْلُ بَیْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ مَکْرُوهٌ بِالِاتِّفَاقِ ، ثم قال: وَأَمَّا إذَا کَانَ فِي الْمَغْرِبِ فَالْمُسْتَحَبُّ ان یَفْصِلُ بَیْنَهُمَا بِسَکْتَةٍ یَسْکُتُ قَائِمًا مِقْدَارَ مَا یَتَمَکَّنُ مِنْ قِرَاءَةِ ثَلَاثِ آیَاتٍ قِصَارٍ . فتاوٰی عالمگیریه ص ۵۳ ج۱ مطبوعه مصر ، ط. م. ج۱ ص ۵۷. جمیل الرحمٰن

**جواب**: دزید خبره حق ده یعنی که چیری ولدالزنا صالح اوعالم وی، نوپه هغه پسی لمونځ بغیر کراهته جائزدی. کما فی الشامی: ولوعدمت ای علة کراهته بان الاعرابی افضل من الحضری والعبد من الحر وولد الزنا من ولد الرشدة والاعمٰی من البصیر فالحکم بالضد. شامی جلد اول ص ۵۲۳. کتبه عزیز الرحمٰن عفی عنه مفتی مدرسه عربیه دیوبند، مهر

**دلاندینیو اوصافو لرونکی دتولیت قابل دی اوکه نه؟ سوال**: (۱۱۵۱ \۱) زید مؤمن کامل دی. نهایتی متبع دشریعت محمدیه علی صاحبها الصلوٰة والسلام دی. دمدرسه عالیه عربیه دیوبند فارغ التحصیل دی. دمشهورو عالمانو مثلاً حضرت تهانوی، مولانا عبد الرحیم صاحب رأی پوری وغیره په نزد دهغه علمیت او صلاحیت دافتاء قابل داعتماد دی. دحضرت الحاج امدادالله صاحب رحمه الله څخه یې غائبانه بیعت دی. دحضرت ممدوح دوفات څخه وروسته دحضرت مولانا گنگوهی" څخه یې دبیعت تجدید وکی، دهغوی دوفات څخه وروسته یې دحضرت شاه عبدالرحیم صاحب رأی پوری څخه دبیعت تجدید وکی. داسلام دتبلیغ اودخلق الله دهدایت اودعوامو مومنانو داحوالو داصلاح کامله جذبه په زید مذکور کی سته، اودهمدی مطابق عمل کوونکی دی، زید مذکور طبیب هم دی، اومذهبًا اومعاشًا په جامع مسجد کلان کیرانه کی امامت کوی. داخترونو امامت هغه ته حواله دی. دضرورت مطابق په ښار اوکلیو کی داسلام دمخالفینو دحملو او اعتراضونو جواب ورکوی، په کال کی څلور پنځه واره درخصتی ورکولو څخه وروسته دشپږو ورځو دپاره دخپلو ضروریاتو یادنورو کسانو دحاجاتو دپاره دهبواد دباندی هم ځی او دمفوضه خدماتو څخه غیر حاضری دزبانی یا تحریری اجازی څخه وروسته کوی. دداسی سړی په باره کی لاندی درج سوی خبری دجواب غوښتونکی دی: (۱) چی دزبانی یاتحریری اجازی څخه وروسته زید مذکور غیر حاضری وکړی نو په دی وجهی سره زید مذکور ته څوك چی دمسجد کیرانه امام دی فحش اوخلاف شان تنبیه کونکی اوفحش خلګو ته په بدګویی باندی آماده کونکی اوتر معتد به زمانی پوری دامامت څخه معطل کونکی چی دهغه په وجهی سره تفریق بین المومنین پیدا نه سی شرعًا دوقف دتولیت قابل دی اوکه نه دی؟ اومسلمان کامل دی اوکه نه دی؟

**په چاکی چی دا لاندینی خبری وی هغه امام کیدی سی اوکه نه؟ سوال**: (۱۱۵۲\۲) که چیری یو مذهبی خبردار یاناخبره سړی دزید مذکور سره دذاتی غرض اوعداوت وغیره په زبانی یاتحریری ډول په ډیرو یالږو خلګوکی دا اعتراض وکړی چی زید دغیر حاضری دورځو دتنخواه حق نه لری، حالانکی هغه درخصتی دورځو څخه وروسته غیر حاضر

سوی دی. دمعترض غرض په دی اعتراض سره دادی چی عوام دزید څخه بد عقیده سی اوداخیال وکړی چی زید دامام کیدلو باوجود خپله روزی حراموی.
نوکه چیری زید خپل نه بلکی دټول اهل اسلام اوداسلام توهین ګڼلو سره داجواب ورکړی چی ستا ددی سره څه تعلق دی چی حلاله روزی حاصلوم، یا ناجائزه اوحرامه. زه پخپله داخبره ښه پیژنم. بیاپه ادب سه دا ووایی چی ته دخپلی روزی حلالی اوحرامی ته وګوره. کما قال الله تعالیٰ: لنا اعمالنا ولکم اعمالکم ونحن له مخلصون، ددی جواب په لحاظ سره زید دامامت قابل پاته سو اوکه نه؟ اودهغه په ایمان اواسلام کی څه نقص راغی اوکه نه؟

**<u>ددی جګړی تصفیه څه ده</u>: سوال:** (١١٥٣) په کم ځای کی چی زید مذکور امام اوواعظ اومفتی دی. هلته په سنه ١٩١١ ع کی یوباقاعده ګؤرکشه (دغوښی بندولو تنظیم) قائم سوی دی چی دهغه دکوشش اثر دهندوانو څخه متجاوز سوی دی. بعضی مسلمانانو ته هم رسیدلی دی چی هغوی په حیثیت دمنصب دار کیدلو دهغه دبقاء اودوام اومقاصدو ترسره کولو کوشش کوی. دغوښی خوړلو قباحت اودصحت دپاره دهغه مضر کیدل وغیره بیانوی اوچونکه هندو قوم غوښه خوړل مذهبًا اوګؤرکشه (غوښه نه خوړل) مذهبی عقیده ګڼی، ددی دپاره ددوو درو مسلمانانو په شرکت سره دهغه دممتاز اوباحیثیت کیدلو په وجه سخت مضرت محسوس کیږی، اوپه دی حرکت سره په مسلمانانوکی په خپلو کی دمناظرو اومباحثو نوبت راغلی دی. ددی تفریق لیری کولوپه خیال سره دبعضو دردمندو اواهل دانش دارایه سوه چی حضرت تهانوی مدظله ته دی استفتاء ولیکل سی اوجواب دی راوغوښتل سی، دپاره ددی چی هغه شرعی ناطقه فیصله وګنی اودګؤر کشی دښه والی یابدوالی څخه خبرسی. نو فتوٰی ددی حرکت څخه خلاف صادره وفرمایل سوه. چونکی حقانی عالمانو په دی فتوٰی کی داتصریح فرمایلی وه چی په ګؤرکشا کی شرکت کونکی کفر ته نژدی دی، اوهغوی ته ددی عمل څخه په تلوار سره توبه کښل فرض دی، ددی دپاره زید مذکور درمضان شریف په جمعة الوداع کی دوعظ په دوران کی دبعضو باوقعتو اودردمندو حضراتو په خواهش باندی دناخبره مسلمانانو آګاه کولو په غرض سره دحضرت تهانوی فتوٰی واوروله اودا اعلان یی وکی چی دا زما ذاتی رایه نه ده بلکی دمعتمد عالم حضرت مولانا اشرف علی صاحب تهانوی فتوٰی ده. بعضو کم فهمو خلګو ددی تذکره دګؤرکشا معاونو اوممبرانو حضراتو ته وکړه چی په دی باندی هغوی ډیر برهم سول او دمولوی عبدالله ټونکی څخه یی دمخکنی فتوٰی په جواب کی داستفتاء دعبارت په رد اوبدل کولو سره وروسته یوه فتوٰی راوغوښته اودزید مذکور

اوحضرت تھانوی په شان کی یی نازیبا الفاظ وویل اوخپل ځان یی په حقه ثابت کی او په دی خلګو باندی یی دکفر الزام ولګوی. دمولانا عبد الله صاحب ټونکی څخه په دغه اندازکی په سوال کولو سره دجواب حاصلولو باندی دمستفتی اودهغه دهم خیاله خلګو متعلق پوښتنه کول دی چی داخلګ څنګه دی؟ اوزید مذکور اوحضرت تھانوی څنګه دی؟ او دزید دامامت متعلق ددی شور جوړیدو څخه وروسته شرعًا څه حکم دی؟ او د مخالفینو دپاره داهلِ فتنه کیدلو څخه علاوه شرعی حکم څه دی؟

**جواب**: زید کم چی په مذکوره صفاتو سره متصف دی. بی شکه اوشبهی شرعًا په خصوصیت سره دامامت مستحق دی اودهغه امامت باعث دفضیلت او دحضور ﷺ دارشاد مطابق دی. دداسی سړی دامامت څخه انحراف اوناخوښی ظاهرول اودهغوی په ضرر رسولو پسی کیدل حالانکی هغه په ذکرسوو خبرو سره متصف دی ددیندارو کارنه دی. کما ورد فی الهدایه: من صلی خلف عالم تقی فکانما صلی خلف نبی. په عالم امام پسی لمونځ قبولیت ته زیات نژدی دی. لقوله ﷺ ان سرکم ان تقبل صلاتکم فلیؤمکم علمائکم، فانهم وفدکم فی مابینکم وبین ربکم، رواه الطبرانی واخرج الحاکم والبیهقی نحوه) اودده امامت خیرِ کثیر دی. قال فی شرح المنية ومن كراهة تقديم الفاسق على ما يأتى ان العالم اولى بالتقديم اذا كان يجتنب الفواحش وان كان غيره أورع منه ذكره فى المحيط. وقال فی شرعة الاسلام (فی فصل فی فضيلة الصلٰوة مع الجماعة) ويؤم الناس اعلمهم بالسنة.

(١) امام مذکور (زید) کله چی داطلاع څخه وروسته ځی نودا په غیر حاضری سره تعبیر کول سخت جهالت دی اوپردی سربیره هغه ته علی الاعلان فحش اوخلاف شان وینا کول دکاملو دینداروکارنه دی. کم خلګ چی داسی حرکت کوی هغوی واقعی په خلاف باندی دی او عالم ته بلا سببه بدویل اودهغه په شان کی ګستاخی کول واقعی فسق دی او د متولی فسق موجب دعزل دی: وان الناظر اذا فسق استحق العزل شامی ص٢٣٢ ج٣.

کم سړی چی عالم ته بدرد وایی او ښکنځل کوی دهغه په حق کی دفقهی په کتابونو کی سخت وعیدونه راغلی دی. قال فی شرح الفقه الاكبر لملا على قارى: من ابغض عالما من غير سبب ظاهر خيف عليه الكفر قلت الظاهر انه يكفر لانه اذا ابغض العالم من غير سبب دنيوى او اخروى فيكون بغضه لعلم الشريعة الخ (شرح فقه اكبر، فصلٌ فى العلم والعلماء ص ٢١٣) او دضرورت په وجه دامام دباندی ته تلل اودځو ورځو دپاره دامامت دوظیفی ورکولو څخه غیر حاضر اوسیدل دتنخواه نه ورکولو موجب نه دی: قال فى الشامى عن القنية امام يترك الامامة لزيارة اقربائه فى الرساتيق اسبوعًا اونحوه اولمصيبة او لاستراحة لاباس به ومثله عفو فى العادة

والشرع، شامی ص٥٦٤ ج۳.
غرض داچی ددی عبارت څخه په ښه شان واضحه ده چی که چیری داجازی څخه بغیر هم امام دیوڅو ورځو دپاره یوځای ولاړسی نودرست دی او دغیر حاضری دمودی تنخواه حلاله ده په دی شرط چی دا دشرعی عذر څخه بغیر حاضری په ټوله کال کی دیوی هفتی دپاره وی. کما قال فی الشامی. وهٰذا مبنی علی القول بان خروجه اقل من خمسة عشر یوماً بلا عذر شرعی لا یسقط معلومه وقد ذکر فی الاشباه فی قاعدة العادة محکمة عبارة القنیة هذه وحملها علی انه یسامح اسبوعاً فی کل شهر الی ان قال ان الظاهر ان المراد فی کل سنة. شامی ص ٥٦٤ ج۳.
غرض داچی ددی عبارتونو څخه کم چی دفقهی دمستندو کتابونوڅخه را اخیستل سوی دی، داخبره په ښه شان سره ښکاره سوه چی په دی معامله کی شریعت وسعت فرمایلی دی. نو په امر موسع شرعی باندی څوك متهم کول او بدنامول درست نه دی.
لهٰذا که چیری امام په ټول کال کی یوه هفته بغیر دشرعی عذر څخه او بغیر داجازی دمتولی وغیره څخه هم غیرحاضرسی نودا معاف ده. اودغیر حاضری ددی مودی تنخواه اخستل هم درست دی. اوکه چیری دڅه شرعی عذر په وجهی سره غیر حاضر سی او رخصت واخلی څنګه چی په سوال کی مذکور دی نودیوی هفتی تعیین هم نسته. (زیاته هم اخستی سی. عارف)
(۲) زید ته داسی جواب ورکول نه وو پکار دکم څخه چی دحلالی روزی حاصلولو څخه بی پروایی اوپه ظاهره بی رغبتی معلومیږی ولی چی حلاله روزی حاصلول، حلال خوراك اودحرام څخه بچ کیدل په نص قطعی سره مامور به دی. قال الله تعالی: یآ ایها الرسل کلوا من الطیبات واعملوا صالحا الایة. سورة مومنون پ ۱۸ رکوع ۱۴ قال المفسرون اراد بالطیبات الحلال. (خازن جلد ۵)
نوذکر سوی اعتراض جواب داورکول پکارنه وو چی ستاددی سره څه تعلق دی. ؏ دامر بالمعروف سره دهرمسلمان تعلق ضرور سته اودنیت حال حق تعالی شانه ته معلوم دی نو جواب ددی اعتراض داورکول پکار وو چی زه حلاله روزی خورم اوحلاله تنخواه اخلم، داډول تنخواه اخستل شرعًا حرام نه دی. دحلالی روزی په حاصلولو کی ماته اوتاسی ته، ټولوته اهتمام کول پکاردی. لیکن زید ددی جواب په وجه سره کافر یا فاسق نه سو چی دامامت څخه دمعزوله کولو مستحق سی اوامامت دهغه جائز پاته نه سی.
(۳) دګؤرکشا شرکت کم چی دبعضو مسلمانانو څخه صادرسوی دی هغه دسزاقابل دی، اوڅه چی حضرت مولانا اشرف علی صاحب سلمه په دی باره کی تحریر فرمایلی دی هغه

حق اوعین ایمان دی. اودحضرت مولانا سلمه داتحریر فرمایل چی دهغه حالت کفرته نژدی دی پرمزید احتیاط باندی مبنی دی کم چی دعلماء ربانیین عادت راروان دی.
كما قال فی شرح الفقه الاكبر وقدذكروا ان المسئلة المتعلقة بالكفر اذاكان لها تسع وتسعون احتمالاً للكفر واحتمال واحدة فالاولٰى للمفتى والقاضى ان يعمل بالاحتمال الثانى لان الخطاء فى ابقاء الف كافر اهون من الخطاء فى افناء مسلم واحد. شرح فقه اكبر لملاعلى القارى مجتبايى ص ١٩٩.
اودتوبی متعلق چی کم حضرت مولانا سلمه تحریر فرمایلی دی چی په تلوار سره توبه کول باندی فرض دی. دفقهی کتابونو اودشریعت محمدیه علی صاحبها الف الف سلام وتحیه مطابق دی. كما قال فى الدر المختار (عن شرح الوهبانية ما يكون كفرا اتفاقا يبطل العمل والنكاح واولاده اولاد زنا وما فيه خلاف) يؤمر بالاستغفار والتوبة وتجديد النكاح. درمختار على الشامى ص ٤١٤ ج٣. لیکن افسوس دی پرهغه حضراتو باندی چی ددی ناطق بالحق فیصلی څخه منحرف سول اوپه همدی حضراتو پسی یی بدرد ویل شروع کړل. خو دچا نقصان یی وکی؟ خپل عافیت یی خراب کی كما ورد فى الحديث الشريف من قال لاخيه ياكافر فقد باء بها احدهما (رواه البخارى ومسلم) اوعالمانو ته دبد رد ویلو متعلق چی کم عبارت دشرح فقه اکبر څخه تحریر سو هغه دغور قابل دی. خاصکر دداسی حقانی عالمانو په تکفیر پسی کیدل خپل دین اوایمان بربادول دی چی دهغه څخه ددی خلګو پرحال باندی افسوس دی اودخرابی خاتمی بیره ده. ددی خیال څخه دی رجوع وکړی کنی دخسر الدنیا والاٰخرة مصداق به جوړسی. كما ورد فى الحديث القدسى من عادٰى لى وليًا فقد اذنته بالحرب. والله لايحب الفساد وفى البحر الرائق ويكفر بقوله المسلم يا كافر عند البعض والمختار للفتوٰى انه يكفر ان اعتقده كافرا الا ان اراد شتمه انتهى ص ١٣٣ ج ٥.
اوکم خلګ چی داهل حق تکفیر کوی هغه تکفیر پر هم دوی باندی راګرځی. قال فى شرح الفقه الاكبر ومن قال ياكافر فسكت المخاطب كان الفقيه ابوبكر البلخى يقول يكفر هٰذا القاذف اى الشاتم. شرح فقه اكبر مجتبايى ص ٢٢٣.
اودګوړکشا شرکت په حقیقت کی دکفر اعانت دی اوداسلام دسپکاوی اوبربادی فکر دی. قال الله تبارك وتعالٰى: وتعاونوا على البر والتقوٰى ولاتعاونوا على الاثم والعدوان الاٰية. سورة مائده پ٦ ركوع ٥. اوپه دی کی شریکیدل او دغوښو خوړلو مذمت او مضرت ثابتول سخته بی باکی اوخطرناك دی. قال فى شرح الفقه الاكبر ولوشبه نفسه باليهود والنصارٰى اى صورة اوسيرة على طريق المزاح والهزل اى ولو على هٰذا المنوال

کفر (شرح فقه اکبر مجتبایی ص ۲۲۸) وفیه ایضًا (عن الخلاصة) من قال احسنت لما هو قبیح شرعًا اوجودت کفر (شرح فقه اکبر ص ۲۳۳) قال الله تبارك وتعالى: وَلَا یَرْضٰی لِعِبَادِهِ الْکُفْرَ الآیة (وقال الله تعالى) وَمَنْ یُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَالَهٗ مِنْ هَادٍ. اوحضرت مولانا اشرف علی صاحب سلمه بیشکه په ربانی عالمانو کی دی، دسلفو نمونه دی، الله والا دی، حق گویه دی، چی هرڅومره دهغوی تعریف وسی کم دی اوپه آیت کریمه: ولتکن منکم امةٌ یدعون الی الخیر ویأمرون بالمعروف وینهون عن المنکر واولئك هم المفلحون (الآیة) کی داخل دی اوددی مصداق دی. دهغوی سره محبت کوونکی انشاء الله کامیابی ته رسیدونکی دی اودبغض لرونکو حالت خطرناکه دی. قال (الشیخ ولی الله الدهلوی رحمه الله علیه) فی القول الجمیل (فی علامات العالم الربّانی) ومنها مواساة الفقراء وطالب العلم بقدر الامکان فان لم یقدر وکان له اخوان موافقون حرضهم وحثهم علی المواسات فاذا وجدت هذه الصفات مجتمعة فی شخص واحد فلا تشکن انه وارث الانبیاء والمرسلین وانه الذی یدعی فی الملکوت عظیماً وانه الذی یدعو له خلق الله حتی الحیتان فی جوف الماء ورد فی الحدیث فلازمه لا ینو تنك فانه الکبریت کبریت الاحمر (شفاء العلیل ترجمه قول الجمیل ص ۱۰۴).

اوپاته سوه داخبره چی بل عالم ددی حضراتو تکفیر کړی دی نودا (خبره) دتوجه قابله نه ده: واعلم من انتصب منصب الهدایة والدعوة الی الله ما اخل فی شیئ من هذه الامور فانه فیه ثلمة حتی یسدها ؒ بهرحال امام مذکور یقینًا دامامت لائق دی اودهغه عقائد، اوحالات اوصفات کم چی په سوال کی ذکرسوی دی هغه دعقائدو داهل سنت والجماعة موافق دی اودشریعت پیروی ده. که چیری فی الواقع په دی سړی کی دغه صفات سته نو دهغه په عالم ربانی کیدلو کی څه شبهه ده اودهغه متابعت اواقتداء ضروری ده. فقط والله تعالی اعلم وعلمه اتم

**په تاش (یوقسم لوبه) <u>کونکی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟</u> سوال**: (۱۱۵۴) یوسړی بغیر دګټلو او بایللو څخه تاش کوی په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: په هغه پسی لمونځ مکروه دی ولی چی دګټلو او بایللو څخه بغیر هم تاش کول ممنوع اومکروه دی. دداسی لهو اولعب څخه مسلمانانو ته احتراز لازم دی. فقط والله تعالی اعلم مفتی مدرسه

وکره تحریم اللعب بالنرد وکذا الشطرنج واباحه الشافعی وابویوسف وفی روایة وهذا اذا لم یقامر ولم یداوم ولم یخل الواجب والا فحرام بالاجماع آه (درمختار) دتاش حالت دشطرنج په شان دی. دلیله قاله فی الدر المختار ویکره کل لهو لقوله ﷺ کل لهو المسلم حرام الا

ثلاثة ملاعبته اهل وتأديبه لفرسه ومناصلته بقوسه وقال فی ردالمحتار کل لعب عبث فالثلاثة بمعنٰی واحد کما فی شرح التأویلات والاطلاق شامل لنفس الفعل ص ٣٤٧ ج ٥ .

**دهوا خارجیدلو مریض امام چی کم لمونځ ورکی دهغه څه حکم دی؟ سوال**: (١١٥٥) یو سړی دهوا خارجیدلو مریض دی. ډیر واره په بی خبری کی هم هوا ځینی خارجیږی، په داسی حالت کی هغه تردری میاشتو پوری امامت وکی. ددی څخه مخکی به یی هم کله کله لمونځ ورکوی. وروسته چی پوره معلومه سوه چی معذوره دی نولمونځ ورکول یی پریښوول. په داسی صورة کی امام اومقتدیانو دپاره څه حکم دی؟ که چیری دامام په وینا سره هغوی خپل لمونځونه راونه گرزوی نوپه هغوی باندی څه حکم دی؟ اوکم لمونځونه چی هغه کله کله په یو موقع باندی ورکړی وو دهغه څه حکم دی؟

**جواب**: که چیری دامعلومه اویقین نه وی چی کم لمونځونه هغه ورکړی دی په هغه کی هوا خارجه سویده یعنی دهوا خارجیدلو په هغه کی یقین نسته اویاد ورته نه دی نو لمونځونه دټولو وسول. کما فی الدر المختار. وصح لو توضأ علی الانقطاع وصلی کذلك. فقط والله تعالی اعلم.

واذا ظهر حدث امامه وکذا کل مفسد فی رأی مقتد بطلت فیلزم اعادتها کما یلزم الامام اخبار القوم اذا أمهم وهو محدث او جنب او فاقد شرط او رکن وهل علیهم اعادتها ان عدلا نعم والا ندبت وقیل لا لفسقه باعترافه. آهـ درمختار.

**په غیر مقلد پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ سوال**: (١١٥٦) ما قولکم رحمکم الله تعالٰی فی هذه المسئلة (اقتداء الحنفی خلف غیر المقلدین جائز ام لا ؟) بینوا تؤجروا.

**جواب**: حامدا ومصلیا اقول التفصیل عندی ان غیر المقلدین هم اصناف شتّٰی فمنهم من یختلف مع المقلدین فی الفروع الاجتهادیة فقط ، فحکمهم فی جواز الاقتداء بهم للحنفیة کالشافعیة حیث یجوز بشرط المراعاة فی الخلافیات الصلٰوتیة وفاقا وعند عدم المراعاة خلافا وبالاولی افتی الجمهور فان امر الصلٰوة مما ینبغی ان یحتاط فیه ومنهم من یختلف فی الاجتماعیات عند أهل السنة کتجویز نکاح ما فوق الاربع وتجویز المتعة وتجویز سب السلف وامثال ذلك وحکمهم کاهل البدعة حیث یکره الاقتداء بهم تحریمًا عند الاختیار وتنزیهاً عند الاضطرار وحیث یشتبه الحال فالاولٰی ان یقتدی بهم دفعاً للفتنة ثم یعید اخذاً بالاحوط، ولو کانت الفتنة فی الاقتداء فلا یقتدی صونا للمسلمین عن التخلیط فی الدین. والله تعالٰی اعلم وعنده علم الیقین والحق المبین .

الکاتب: حضرت مولانامولوی اشرف علی صاحب، ثانی یوم من ذی الحجة سنة ١٣٢٩هـ من الهجرة المقدسة.

# باب الإقتداء والصف

## فصل رابع

## (څلورم فصل)

صف، اقتداء، او دامام او مقتدی مقام

**چی په مخکی صف کی ځای نه وی نو یوازی سړی دی څه وکړی: سوال:** (۱۱۵۷) د مقتدیانو یوصف په امام پسی دی په هغه کی دبل مقتدی ځای بالکل نسته. اوس چی کم سړی راسی نوهغه کم ځای ودریږی. په دوهم صف کی یوازی، اوکه دمخکنی صف څخه څوك مقتدی راواخلی اودهغه سره ودریږی. که چیری دمخکنی صف څخه دی واخلی نودکم ځای څخه دصف دشروع څخه اوکه داخیر څخه، که چیری یې داخیر څخه راوباسی نوپه لمانځه کی به څه نقصان راسی اوکه نه ؟

**جواب:** که چیری په صف کی ځای ورپیدا نه سی نو انتظار دی وکړی چی بل څوك راسی. که چیری رانه سی نودصف څخه دی داسی سړی راکش کړی څوك چی په مسئله پوهیږی. که چیری داسی سړی په نظر رانه سی نویوازی دی په امام پسی اودصف څخه وروسته ودریږی.(۱) انتظر حتی یجیئ اخر فیقفان خلفه وان لم یجیئ حتی رکع الامام یختار اعلم الناس بهذه المسئلة فجذبه ویقفان خلفه ولو لم یجد عالما یقف خلف الصف بحذاء الامام لضرورة ، کذا (۲) فی الشامی.

**که دبالغ سره په صف کی نابالغه یو ځای سی نوڅه حرج خونسته: سوال:** (۱۱۵۸) که چیری یونابالغه هلك دجمعی راسته طرفته یا چپه طرف ته راسی اوپه لمانځه کی شریك سی یا دصف په مینځ کی دبالغو خلکو سره راغی او ودریدی نوپه لمانځه کی به څه نقصان راځی اوکه نه؟

**جواب:** که چیری یو نابالغ وی نوپه صف کی دی ودریږی، ثم الصبیان ظاهره تعددهم فلو واحدا دخل الصف (۳).

**په رکوع او سجده کی الصاق کعبین : سوال :** (۱۱۵۹) الصاق کعبین رکوع وسجود سنت

---

(۱). وکذا القیام منفردا، وإن لم یجد فرجة، بل یجذب أحدا من الصف. ذکره ابن الکمال، لکن قالوا: في زماننا: ترکه أولی، (درمختار) والاصح ما روی هشام عن محمد انه ینتظر الی الرکوع فان جاء رجل والا جذب الیه رجلا اودخل فی الصف ثم قال فی القنیة والقیام وحده اولی فی زماننا لغلبة الجهل علی العوام (رد المحتار باب ما یفسد الصلوة، ومایکره فیها ص ۲۰۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۶۴۲). ظفیر

(۲). ردالمحتار باب الامامة مطلب کراهة قیام الامام فی غیر المحراب ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص۵۶۸. ظفیر

(۳). الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص۵۳۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۱. ظفیر

است یا چی؟ آیا الصاق قدمین خود مراد است یا الصاق کعب بکعب غیر مراد است.
**جواب**: فی الدر المختار: ویسن ان یلصق کعبیه قال فی الشامی قال السید ابو السعود وکذا فی السجود (۱) ایضًا الخ. پس ظاهر این است که کعبین خود را باهم ملصق کند وممکن است که مراد محاذات کعبین باشد واز ارجاع ضمیر درکعبه بسوی مصلی احتمال ثالث ساقط شد یعنی ضم کعب خود بکعب غیر مراد نخواهد شد. فقط

**چی دمخکی څخه دامام په اړخ کی صرف یو سړی وی بیا نور خلک راسی نوڅه به کوی؟**

**سوال**: (۱۱۲۰) دامام راسته طرف ته یو مقتدی دی، وروسته څو کسان نور راغلل او په امام پسی یی دسجدی په فاصله صف جوړ کی. لمونځ صحیح سو اوکه نه؟
**جواب**: کله چی دامام سره یوسړی راسته طرف ته وو، بیا نور راغلل، نومقتدی ته یا امام ته به خپل ځای پریښوول وی اوکه چیری داسی ونه سوه اوبعضی مقتدیان دصف په فاصله ودریدل نولمونځ سره دکراهته جائزدی. شامی جلد اول: ولوقام واحد بجنب الامام وخلفه صف کره (۲) اجماعًا. فقط

**مقتدیان به څنګه دریږی**: **سوال**: (۱۱۲۱) په لمانځه کی مقتدیان اوږی داوږو سره او بجلکی دبجلکو سره یوځای کړی ودریږی اوکه څنګه؟
**جواب**: یوځای دریدل اوپه مینځ کی ځای خالی نه پریښوول سنت دی. قدم دقدم سره دیو ځای کولو مطلب دادی چی سیده اوبرابر دی وی مخ ته شاته دی نه وی. (۳) فقط

**په صف کی هوار والی به څنګه وی**: **سوال**: (۱۱۲۲) دجمعی په لمانځه کی به بجلکی برابری وی اوکه څنګه؟
**جواب**: بجلکی دبجلکو سره برابر سیده کیدل پکاردی اواوږه داوږی په برابری کی کیدل پکاردی. په دی سره به صف سیده سی په درمختار کی دی، ویسوا مناکبهم (۴). فقط

**دمینځ صفونه خالی پریښوول او وروسته دریدل څنګه دی؟** **سوال**: (۱۱۲۳) که چیری په جماعت سره لمونځ کیدی او یوڅو کسانو یو یادوه صفونه په مینځ کی پریښوول او وروسته ودریدل نو دهغوی لمونځ کیږی اوکه نه ؟
**جواب**: لمونځ یی صحیح سو خودا خلاف دسنت دی. صفونه متصل ساتل پکار دی او په

---

(۱). ردالمحتار. باب صفة الصلوة بعد الفصل ص ۴۲۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۴۹۳. ظفیر
(۲). الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۳۱، ط.س. ج۱ ص ۵۶۸. ظفیر
(۳). ویصف ای یصفهم الامام بان یامرهم بذالك، قال الشمنی وینبغی ان یامرهم بان یتراصوا ویسدوا الخلل ویسووا مناکبهم (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۳۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۶۸. ظفیر
(۴). الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۳۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۶۸. ظفیر

مینځ کی خالی ځای پرینښوول نه دی پکار. (۱) فقط

**دپردې شاته اقتداء درسته ده اوکه نه؟ سوال:** (۱۱۲۴) په جومات کی د ننه جمعه کیږی، کوچنی پردی راځړیږی، دهغه څخه دباندی چی کم سړی پرلمانځه ولاړدی دهغوی لمونځ کیږی اوکه نه؟

**جواب:** دهغوی لمونځ هم (۲) صحیح دی. فقط

**یوازې نابالغ کم ځای ودریږی: سوال:** (۱۱۲۵) که چیری نابالغه هلك یوازی وی نودسړو دصفونو څخه وروسته یوازی ودریږی اوکه دسړیو په صف کی شریك سی؟

**جواب:** یوازی هلك دی دسړیو په صف کی شریك سی. کذا فی الشامی (۳).

**چې دبالغو صف پوره نه وی اووروسته دنابالغو صف پوره سی نو وروسته راتلونکی په کم ځای کی شامل سی: سوال:** (۱۱۲۶) په امام پسی دسړیو جماعت لږدی او وړپسی دنابالغو هلکانو جماعت ډیردی. که چیری مسبوق بالغ سړی په مخکنی صف کی دریدل غواړی نو دهلکانو جماعت ته څه رکم ووایی؟

**جواب:** که چیری دهلکانو مخته ولاړسی یاصف وڅیری او دبالغانو په صف کی یوځای کیدی سی نوولاړ دی سی اودبالغو په صف کی دی شریك سی اوکه چیری ممکن نه وی او دهلکانو په صف کی ودریږی نوبیا هم لمونځ صحیح (۴) دی.

**په دستمال اینښولو سره په صف کی دځای حقدار ګرځی اوکه نه؟ سوال:** (۱۱۲۷) دلته یو جومات دی چی په هغه کی یوڅو صاحبانو زید، عمر، بکر وغیره داطریقه جاری کړیده چی دجمع څخه مخکی خپل خپل دستمال وغیره په مخکی صف کی کښیږدی او داودس وغیره دپاره ولاړسی اوپه دی کار سره خپل ځان ددغه ځای حقدار ګڼی. مثلاً خالد داذان څخه وروسته اودجمعی څخه مخکی دخپل کور یاحجری څخه په اوداسه کی تیار راسی

---

(۱). وصلی علی رفوف المسجد ان وجد فی صفه مکانا کره کقیامه فی صف خلف صف فیه فرجة (در مختار) هل الکراهة فیه تنزیهیة اوتحریمة ویرشد الی الثانی قوله ﷺ ومن قطعه قطعه الله (رد المحتار باب الامامة مطلب فی الصف ص ۵۳۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۰). ظفیر

(۲). والحائل لا یمنع الاقتداء ان لم یشتبه حال امامه بسماع اورؤیة ولو من باب مشبك یمنع الاصول (الدر المختار) قوله بسماع ای من الامام اوالمکبر قوله اورؤیة ینبغی ان تکون الرؤیة کالسماع لافرق فیها بین ان یری انتقالات الامام اواحد المتقدیین (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۸ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۶). ظفیر

(۳). ثم لصبیان ظاهره تعددهم فلو واحد دخل الصف (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۱). ظفیر الدین غفرله

(۴). فلوشرعوا وفی الصف الاول فرجة له خرق الصفوف (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۹). ظفیر

اودمخکی صف په شوق کی حاضرسی نوداصاحبان ورته یوقسم مانع جوړیږی. که چیری هغه دچاکپړه وغیره راسته یاچپه طرف ته کشوی اوسنت کوی نوهغه ته غیر مستحق اوزیاتی کونکی وایی. نوآیا زید اوعمر وغیره په دغه ذکرسوی فعل سره دمخکی صف مستحق دی اوکه خالد کم چی تیار راغلی دی اودمخکی صف دپاره حاضر سوی دی؟

**جواب**: په ردالمحتار باب الوتر والنوافل کی دی: قال فی القنية له فی المسجد موضع معین یواظب علیه وقد شغله غیره قال الاوزاعی له ان یرعجه ولیس له ذلك عندنا آهـ لان المسجد لیس ملکاً لاحد بحر عن النهاية، قلت وینبغی تقییده بما اذا لم یقم عنه علی نیة العود بلا مهلة کما لو قام للوضوء مثلاً ولا سیما اذا وضع فیه ثوبه لتحقق سبق یدیه (۱) الخ. ددی عبارت څخه معلومه سوه چی مخکی راتلونکی چاچی دستمال ایښی دی او داودس دپاره تللی دی دواپس راتلو په نیت سره چونکی دهغه قبضه مخکی وسوه نوبل سړی وروسته راتلونکی دی دهغه ځای نه اخلی. فقط

**په صف کی تنګی پیداکول څنګه دی؟** **سوال**: (۱۱۲۸) په همدی جومات کی چی جمعه ودریږی نوبعضی خلګ سره ددی چی په مخکی صف کی ځای نه وی خامخا په مخکنی صف کی راننوزی. اودا ظاهره ده چی کله په صف کی دپنځه ویشتو سړیو ځای وی اوپه هغه کی اوه ویشت سړی په زور زور راسی نوددغه زیاتو په وجهی سره صف بالکل کوږ سی اولمونځ ګذار مخ ته وروسته سی، علاوه ددی څخه لمونځ ګذارو ته سخته تنګی او تکلیف وی. نوآیا دغه بعضو زیاتو صاحبانو ته به په مخکی صف کی په راننوتلو سره دمخکی صف ثواب ورکول کیږی اوکه نه؟

**جواب**: قال فی الدرالمختار وینبغی ان یأمرهم بان یتراصوا ویسدو الخلل ویسووا مناکبهم (۲) الخ ددی حاصل دادی چی امام دی متقدیانو ته حکم وکړی چی ښه نژدی نژدی ودریږی او ددوو لمونځ ګذارو ترمینځ خالی والی مه پریږدی اوخپلی اوږی برابری کړی. نوکه چیری په مخکی صف ګنجائش وی نوبیا دذکرسوی حکم په موجب په مخکی صف کی دریدل اوپه مینځ کی فراخوالی بندول مستحب اومسنون دی اوکه چیری ځای نه وی نودمخکی صف لمونځ ګذارو ته تکلیف ورکول مناسب نه دی. (۳) فقط

(۱). ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها مطلب فیمن سبقت یده الی مباح ص ۲۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۶۲۲ . ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۸. ظفیر

(۳). قال فی المعراج الافضل ان یقف فی الصف الاخر اذا خاف ایذاء احد، قال ﷺ من ترك الصف الاول مخافة ان یؤذی مسلما اضعف له اجر الصف الاول وبه اخذ ابوحنیفة ومحمد (ردالمحتار باب الامامة ص۵۳۲ ج۱ ، ط. =

**چي هلكان ديوه څخه زيات وي نو وروسته دي ودريږي**: **سوال**: (۱۱۶۹) دوه كسان ځوانان دي اوڅلور پنځه هلكان دي هلكان په صف كي ودريږي اوكه وروسته؟

**جواب**: په دي صورة كي دي هلكان وروسته ودريږي. (۱) فقط

**بي ږيري هلک په صف کي درول څنګه دي؟** **سوال**: (۱۱۷۰) دزيد ديو نابالغه بي ږيري هلك سره محبت دي اودي هغه سره ددي چي نور نابالغه هلكان سته، دبالغانو په جمعه كي يي دخپل ځان سره دروي. ددي څه حكم دي؟

**جواب**: بي ږيري مخ والا هلك په جمعه كي په يوځاى درولو سره بعضو فقهاوو دلمانځه دفساد حكم فرمايلي دي كه څه هم اصح عدم فساد دصلوة دي، اونظر بالشهوة يي دهغه طرف ته حرام ليكلي دي. نوپه لمانځه كي داسي هلك (دځان سره) يوځاى درول نه دي پكار. (۲) اواصل مسئله داده چي كه چيري هلكان ډير وي، نودهغوى صف دسړيو څخه وروسته پكاردي. اوكه صرف يوهلك په جمعه كي وي نوهغه ته دسړيو په جمعه كي دريدل درست دي. (۳) ليكن كم صورة چي په سوال كي درج دي په دي صورة كي په هيڅ شان اوپه هيڅ حالت كي دغه هلك ځان سره درول درست نه دي. فقط

**دنابالغه په مخکي صف کي کيدل اوبالغ وروسته. دادرست دي اوکه نه؟** **سوال**: (۱۱۷۱) كه چيري يو سړي دخپل ځان سره نابالغه هلك په مخكي صف كي ودروي اونور بالغ سړي په دغه هلك پسي په دوهم صف كي ودريږي نوددغه خلكو په لمانځه كي به كراهت وي اوكه نه؟ اوتحريمي به وي اوكه تنزيهي. او دټول صف لمونځ به صحيح كيږي، اوكه ديو خاص؟

**جواب**: سنت طريقه داده چي دهلكانو صف دي په بالغانو پسي وي، ليكن په درمختار كي دي چي كه چيري دجمعي په ابتداء كي صرف يوهلك نابالغه وي، نو هغه دي دسړيو په صف كي شامل سي. ددرمختار عبارت دادي: ثم الصبيان ظاهره تعددهم فلو واحداً

---

= س. ج۱ ص ۵۶۹). ظفير

(۱). يصف الخ الرجل الخ ثم الصبيان ظاهره تعددهم (درمختار) وكذا لوكان المقتدى رجلا وصبيا يصفهما خلفه (رد المحتار باب الامامة جلد اول ص ۵۳۴ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۱). ظفير

(۲). ومحاذات الامرد الصبيح المشتهى لايفسدها على المذهب، تضعيف لما في جامع المحبوبي ودرر البحار من الفساد لانه في المرأة غير معلول بالشهوة بل بترك فرض المقام (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۹ ج۱) ولايجوز النظر اليه بشهوة كوجه امرد فانه يحرم النظر الى وجهها ووجه الامرد اذا شك في الشهوة (ايضًا باب شروط الصلوة مطلب في النظر الى وجه الامرد ص ۳۷۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۰۷). ظفير

(۳). يصف الخ الرجال ثم الصبيان ظاهره تعدد هم فلو واحد دخل الصف (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۱). ظفير

دخل الصف (۱). اوپه شامي کي يي ويلي دي چي صاحب بحر په دي باره کي دحضرت انس ﷺ حديث فصففتُ انا واليتيم وراءه الحديث (۲) څخه استدلال کړی دی. نو ددی حديث اودر مختار دروايت څخه معلومه سوه چي که چيری يوبالغ هلك په جمعه کي وی نوهغه دي دبالغانو په صف کي شامل سي، اوکه چيری نابالغه هلکان ډير وی نوهغوی دي دبالغانو دصف څخه وروسته ودرول سي.

بهر حال دامعلومه سوه چي که چيری نابالغه هلك دسړيو په صف کي ودريدی اودهغه څخه دواړو طرفوته بالغان دريدل نوددغه بالغانو په لمانځه کي څه فساد اوکراهت رانه غی. فقط

**دښځي اوخاوند جمعه درسته ده اوکه نه؟ سوال:** (۱۱۷۲) دښځي اوخاوند جمعه درسته ده اوکه نه؟

**جواب:** دښځي اوخاوند جمعه په داشان چي دواړه برابر ولاړوی څنګه چي ديومقتدی کيدلو په صورة کي حکم دی درست نه دی. په دی صورة کي به ديوه لمونځ هم ونسی (۳). فقط

(ليکن که دښځي قدمونه وروسته وي نو (لمونځ) درست دی. ظفير)

**چي امام په مصلى باندی وی اومقتديان په فرش وی نودادرسته ده اوکه نه؟ سوال:** (۱۱۷۳) چي امام په مصلى باندی ودريږی لمونځ ورکوی اومقتديان په فرش باندی همداسی وی. جائز دی اوکه نه؟ **جواب:** جائزدی. فقط

**چي امام په تخت وی اومقتديان په فرش وی، نوڅه حکم دی؟ سوال:** (۱۱۷۴) په ګرمی اوباراني هوا کي دمار، لړم دبيری څخه که چيری دماخستن اودسهار لمونځ ته امام دجومات په فرش باندی تخت واچوی اولمونځ ورکوی اومقتديان همداسی په فرش باندی وی نودا جائز دی اوکه نه؟

**جواب:** که چيری دغه تخت ديوذراع هومره لوړ وی نو مکروه دی، کني جائزدی. کما فی الدر المختار: وانفراد الامام على الدكان للنهى وقدر الارتفاع بذارع ولابأس بمادونه وقيل ما يقع به الامتياز وهو الاوجه (۱) الخ بهر حال داسی نه کول ښه دی. فقط

(۱). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۱. ظفير

(۲). ردالمحتار باب الامامت ص ۵۳۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۱ . ظفير

(۳). وقال المرأة اذا صلت مع زوجها فى البيت ان كان قدمها بخداء قدم الزوج لا تجوز صلاتهما بالجماعة وان قدماها خلف قدم الزوج الا انها طويلة تقع راس المرأة فى السجود قبل رأس الزوج جازت صلاتهما لان العبرة للقدم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۲) ظفير.

**په دَرْ کي ددريدونکي مقتدي څه حکم دی؟ سوال:** (۱۱۷۵) په يو جامع مسجد کي څو درونه (يعني دستنو مينځونه) دي. دجمعي په وخت کي په هر درکي مقتديان ودريږي. غرض دادي چي کم مقتديان په دَرْکي ودريږي اودجُمعي لمونځ اودجماعت لمونځ ادا کوی دهغوی هم هغومره ثواب دی کم چي په مخکي صف کي دی اولمونځ ادا کوی اوکه دجماعت دثواب څخه محرومه سول، دجماعت لمونځ خويي په کراهت سره اداء نسو؟ آيا دلمانځه په کيدلو کي احتمال سته؟

که چيری دلمر دتاؤ په وجهي سره ددر څخه دباندی په صحن کي لمونځ دزړه په اطمينان سره نسي اداء کيدی اوپه دي وجهي سره دجومات په درونو کي په دريدلو سره دجمعي لمونځ اداء سي نوپه دي صورة کي څه حکم دی؟

**جواب:** قال الشامي والاصح ماروی عن ابی حنيفة رحمه الله انه قال اکره ان يقوم بين الساريتين. ددی روايت څخه صفا معلومه سوه چي امام ته ددوو ستنو په مينځ کي ددريدلو څخه ځان ساتل لازم دی. نومعلومه سوه چي بي ضرورته په ستنو يعني درونو کي دريدل مکروه دی، خولمونځ کيږی اودجمعي ثواب هم ورته حاصليږی. اوکه چيری په يودرکي ډير سړی دريدی سی چي کوچنی غوندی صف دهغوی څخه جوړسی اوددی ضرورت وی نوپه دی کي به کراهت هم په ظاهره نه وی. فقط والله تعالٰی اعلم. کتبه عزيز الرحمٰن. (والاصطفاف بين الاسطوانتين غير مکروه لانه صف فی حق کل فريق الخ مبسوط ص ۳۵ ج۲).

**دمنبر په وجهي سره که چيری په صف کي فاصله پاته سي نوڅه وکړی؟ سوال:** (۱۱۷۶) د جومات په مخکني صف کي منبر حائل اوسی په دی وجهي سره په مخکني صف کي تقريبًا دوه لاسه دمنبر په اندازه ځای خالی اوسی. نودا فصل باعث دکراهت دی اوکه نه؟ او که چيری ټول صف مخ ته سی نودبعضو سجده به پردغه منبر باندی کيږی. آيا دا صحيح ده؟

**جواب:** دافصل ضروری باعث دکراهت نه دی اودسجدی ځای که چيری دنيم ذراع په مقدار لوړ وی نوداهم درست دی اودضرورت په وجه ددی څخه په زيات لوړوالی کي هم حرج نسته. ولوکان موضع سجوده ارفع من موضع القدمين بمقدار لبنتين منصوبتين جاز وان اکثر لا الا لزحمة الخ درمختار. (۲) فقط

**که چيری مقتدي خپله خاص مصلي وغوړوی نوڅه حکم دی؟ سوال:** (۱۱۷۷) دسهار دلمانځه

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايکره فيها ص ۲۰۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۶۴۲ . ظفير

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار. باب صفة الصلاة فصل تاليف الصلاة ، ج۱ ص۴۷۰ ، ط.س. ج۱ ص ۵۰۸ . ظ

تکبیر وسو، یوسړی په صف کی ځان ته خپله مصلّی وغوړوله، کمه چی ددری وه حالانکی امام اوټول لمونځ گذارو پر چټائی باندی لمونځ کوی. په همدی وجه یوسړی هغه منع کی، دهغه په جواب کی هغه وویل چی داجائز دی اومصلّی یی لوړه کړه اوجلا یی وغوړوله او (یوازی یی) لمونځ وکی. چی مصلی یی بیله وغوړوله اولمونځ یی وکی نو دامام توهین خو ونسو؟

**جواب**: په دی کی هیڅ حرج نسته اوڅه ضرورت هم نسته، بعضو فقهاوو احتیاط داسی لیکلی دی چی خپله مصلی په یوازی ساتلو کی څه حرج نسته. اودامام په دی کی هیڅ توهین نه دی. دادمنع کونکی غلطی ده اونا خبریت دی چی اعتراض یی باندی وکی او هغه یی دجمع څخه محرومه کی. په درمختار کی دی: حمل السجادة فی زماننا اولی احتیاطًا ﷺ. نو په داسی کار باندی کم چی بعضو عالمانو جائز لیکلی دی انکار او اعتراض کول مناسب نه دی. که څه هم هغه ته ددی څه ضرورت هم نسته ولی چی دجومات ځینی پاکی دی هغه پاکی گڼل پکاردی، او دعامو لمونځ گذارو برابر خپل ځان لرل پکاردی. ([1]) فقط

**دصف څخه وروسته یوازی دریدل اولمونځ کول څنگه دی؟ سوال**: (۱۱۷۸) دصف څخه بیل دریدل اولمونځ کول درست دی اوکه نه؟ اولمونځ صحیح سو اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ صحیح سو خوبی عذره یوازی دریدل مکروه دی. ([2])

**دمخکنی صف دخالی ځای ډکولو دپاره پرچا لوړ اوښتل څنگه دی؟ سوال**: (۱۱۷۹) یوسړی په صف کی خالی ځای پریښووی او وروسته کښېښستی اوبل سړی ترهغه لوړ واوښتی اوپه خالی ځای باندی کښې نستی نوڅه حرج خو پکښی نسته؟

**جواب**: کم سړی چی مخ ته خالی ځای ولیدی اوپربل لوړ واوښتی اوهلته کښېښستی په هغه باندی هیڅ گناه نسته. اوچاچی سره ددی چی مخکی خالی ځای وو او وروسته کښې نستل یی اختیار کړل نوهغه خلافِ اولی کار وکی ([3]).

---

([1]). ایضاً الدر المختار علی هامش ردالمحتار.

([2]). وکذا یکره للمقتدی ان یقوم خلف الصفوف وحده اذا وجد فرجة فی الصفوف (عـالمگیری کشوری ص ۱۰۲ ج۱ ، ط. م. ج۱ ص ۱۰۷). ظفیر

([3]). ولو وجد فرجة في الاول لا الثاني له خرق الثاني لتقصيرهم، وفي الحديث من سد فرجة غفرله (درمختار) وَفِي الْقُنْيَةِ قَامَ فِي آخِرِ صَفٍّ وَبَيْنَهُ وَبَيْنَ الصُّفُوفِ مَوَاضِعُ خَالِيَةٌ فَلِلدَّاخِلِ أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ لِيَصِلَ الصُّفُوفَ لِأَنَّهُ أَسْقَطَ حُرْمَةَ نَفْسِهِ فَلَا يَأْثَمُ الْمَارّ بَيْنَ يَدَيْهِ ، دَلَّ عَلَيْهِ مَا فِي الْفِرْدَوْسِ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " [ مَنْ نَظَرَ إلَى فُرْجَةٍ فِي صَفٍّ فَلْيَسُدَّهَا بِنَفْسِهِ ؛ فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ فَمَرَّ مَارٌّ فَلْيَتَخَطَّ عَلَى رَقَبَتِهِ فَإِنَّهُ لَا حُرْمَةَ لَهُ ] " أَيْ فَلْيَتَخَطَّ الْمَارّ عَلَى رَقَبَةِ مَنْ لَمْ يَسُدَّ الْفُرْجَةَ. اهـ (رد =

**مقتدي ته دامام په صف کی لږ وروسته دریدل څنګه دي؟ سوال**: (۱۱۸۰) زید داختر امام دی، کم وخت چی زید داختر لمونځ ورکوی نودزید راسته اړخ ته بکر یوه لویشت وروسته اوعمر دزید چپه طرف ته یوه لویشت وروسته، اوباقی لمونځ ګذار په سمه طریقه دریږی، نولمونځ کیږی اوکه نه؟

**جواب**: په دی صورة کی لمونځ کیږی خو داهیئت دسنت څخه خلاف دی اومکروه دی. په درمختار کی دی فلو توسط اثنين كره تنزيهًا، بیامخ ته لیکی: ولوقام واحد بجنب الامام وخلفه صف كره اجماعًا. (۱)

**په صف کی دامام راسته اوچپه طرف ته ناهمواری او دانتقالاتو په تکبیرونو په جهر اوسر کی توازن**: **سوال**: (۱۱۸۱) یوامام چپه طرف ته زیات مقتدیان ساتی اوراسته طرف ته کم. اوپه لمانځه ورکولو کی یی داحالت دی چی کله خو دانتقالاتو تکبیرونه په داشان اداء کوی چی ټول جومات خوپریږده ټوله محله وګړنګیږی اوکله داسی په کراره اونزاکت سره آخری سلام وګرزوی چی مقتدیان باندی خبر هم نسی. په داسی حالت کی شرعًا څه حکم دی؟

**جواب**: امام ته په مینځ کی دریدل پکاردی اودواړه طرف ته برابر مقتدی درول پکاردی، چپه طرف ته زیات مقتدیان درول دسنتو خلاف دی، سنت طریقه داده چی کم وخت جمع دریږی نودواړه طرف ته دی برابر مقتدیان (۲) وی. بیا چی څوك وروسته راسی اوشریك سی نوهغوی ته هم دالحاظ ساتل پکاردی چی حتى الوسع دی دواړو طرفونو ته یوډول په جمعه کی شریك سی. اوامام ته دحد څخه زیات جهر یا دحد څخه زیاته اخفاء دواړی خبری خلاف دسنتو (۳) دی. فقط

**دمقتدي او امام تر مینځه فاصله** : **سوال** : (۱۱۸۲) د مقتدی د سجدی د ځای څخه د امام

---

= المحتار باب الامامة ص ۵۳۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۷۰) ظفير.

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۶۶ . ظفير

(۲). وينبغي للامام ان يقف بازاء الوسط فان وقف في ميمنة الوسط او في ميسرته فقد اساء لمخالفة السنة هكذا في التبيين الخ فان تساوت المواضع ففي يمين الامام وهو الاحسن (عالمگيری الباب الخامس فی الامامة فصل خامس ص ۸۳ ج۱، ط. م. ج۱ ص ۸۹) ظفير.

(۳). ويجهر الامام بتكبيرة ركوع وغيره وهو ظاهر الرواية (عالمگيری مصری، الباب الرابع فی صفة الصلوة ص ۲۹ ج۱، ط. م. ج۱ ص ۷۲. وجهر الامام بالتكبير بقدر حاجته للاعلام بالدخول والانتقال وكذا بالتسميع والسلام (درمختار) قوله بقدر حاجته للاعلام الخ اوكره اه قلت هذا اذا لم يفحش الخ واشار بقوله والانتقال الى ان المراد بالتكبير هنا مايشمل تكبير الاحرام وغيره وبه صرح في الضياء (ردالمحتار باب صفة الصلاة مطلب سنن الصلاة ص ۴۴۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۴۷۵). ظفير

ددریدلو دځای ترمینځ څومره فاصله ساتل پکاردی؟

**جواب**: په مینځ کی دصف فاصله پریږدی، اوځه تحدید یی نسته. (۱) فقط

**په اخترونو کی دامام سره برابر لږ وروسته دریدل څنګه دی**: **سوال**: (۱۱۸۳) یوسړی داختر په لمونځونوکی قصداً دامام سره برابر لږ قدر وروسته دریږی اولمونځ کوی دهغه په لمانځه کی او دمقتدیانو په لمانځه کی به څه خرابی وی اوکه نه؟

**جواب**: ددغه برابر دریدونکی سړی په لمانځه کی کله چی هغه دامام څخه څه وروسته وی اودنورو مقتدیانو په لمانځه کی څه فساد اوخلل نه راځی. لمونځ دټولو صحیح دی لیکن بغیر دخاص ضرورته لکه دځای وغیره تنګوالی څخه یوسړی ته دجمعی څخه جلا کیدل اویوازی دامام سره برابر دریدل مکروه دی، ښه نه دی. (۲)

**دنابالغو صف دی کم ځای وی؟** **سوال**: (۱۱۸۴) که چیری دوه دری بالغان وی اودری څلور نابالغه هلکان وی نوپه یوصف کی دی علی الترتیب ودریږی اوکه بالغان په یوصف کی اوهلکان په بل صف کی وروسته ودریږی؟

**جواب**: نابالغه هلکان چی ډیری وی نودبالغانو څخه وروسته دی ودریږی په یو صف کی دی نه دریږی (۳). فقط

**دیومقتدی دبل مقتدی سره پښی یوځای کول څنګه دی؟** **سوال**: (۱۱۸۵) پښی یوځای کول چی دراسته طرف دمقتدی چپه پښه دچپه طرف مقتدی دراسته پښی سره ولګیږی په دی سره لمونځ فاسدیږی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ خوپه دی سره نه فاسدیږی لیکن داکار دهغوی خلافِ سنت دی (۴). فقط

**صف پوره وو یوسړی راغی او وروسته یوازی ودریدی نوڅه حکم دی؟** **سوال**: (۱۱۸۶) دجمعی په لمونځ کی پوره صف ډك وو، یولمونځ ګذار ته په صف کی ځای پیدانه سو، هغه یوازی ودریدی، لمونځ وسو اوکه نه؟ یاهغه په جمعه کی شامل سو اوکه نه؟ که

---

(۱). والزائد یقف خلفه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۷) دومره فاصله دی وی چی رکوع اوسجدی ته دتللو په وخت کی دی دمقتدی سر دامام سره نه ټکریږی والله اعلم. ظ

(۲). ویقف الواحد محاذیا أي مساویا لیمین إمامه، ولا عبرة بالرأس بل بالقدم، فلو صغیرا فالاصح ما لم یتقدم أکثر قدم المؤتم لا تفسد ﷺ والزائد یقف خلفه ولو قام واحد بجنب الامام وخلفه صف کره اجماعا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۹ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۶). ظفیر

(۳). ولو اجتمع الرجال والصبیان الخ یقوم الرجال مایلی الامام ثم الصبیان (عالمگیری مصری باب خامس فصل خامس ص ۸۳ ج۱ ، ط. ماجدیه. ج۱ ص ۸۸ – ۸۹ ). ظفیر

(۴). وما روی انهم الصقوا الکعاب بالکعاب ارید به الجماعة ای قام کل واحد بجانب الاخر (رد المحتار باب صفة الصلوة بحث القیام ص ۴۱۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۴۴) ظفیر.

چیری دصف څخه بل سړی دخپلی ملګرتیا دپاره اخیستل وغواړی نودکم اړخ څخه دی واخلی؟

**جواب**: که چیری هغه یوازی وروسته ودریدی په دی وجه چی په مخکنی صف کی ځای نه وو نودهغه لمونځ بی کراهته وسو لیکن ښه داده چی دمخکنی صف څخه څوك راکش کړی اودځان سره یوځای یی ودروی په دی شرط چی دچا دلمونځ فاسدکیدلو بیره نه وی مثلاً داچی کم سړی راکش کړی هغه ددی مسئلی څخه خبر وی او دهغه په راکشولو سره پوه سی چی ماته وروسته کیدل مناسب دی اواختیار یی دی چی دصف دکم ځای څخه غواړی راکش دی کړی لیکن دنژدی څخه ښه دی اوپه دی زمانه کی په دی وجه چی عمومًا خلګ دمسائلو څخه ناخبره دی که چیری راکشول مناسب ونه ګڼی نونه دی را کشوی ولی چی لمونځ دیوازی (سړی) هم کیږی (¹). فقط

**نابالغ چی یوازی وی دبالغو په صف کی به ودریږی**: **سوال**: (۱۱۸۷) که چیری دزید عمر دیارلس کاله سوی وی نوهغه ته په مخکی صف کی دریدلو سره کله چی په دوهم صف کی بل څوك موجودنه وی دچاپه لمانځه کی خوبه څه نقصان نه راځی؟

**جواب**: په دی صورة کی کله چی دغه هلك یوازی دی هغه ته دمخ په صف کی شاملیدل پکاردی. په دی سره به دچاپه لمانځه کی څه نقصان نه راځی. کذافی الشامی (²). فقط

**په صف کی کم ځای ثواب زیات دی؟** **سوال**: (۱۱۱۱۸۸) په صف کی داړخونو په اعتبار سره په ثواب کی کمی زیاتی سته اوکه برابر ثواب ورکول کیږی؟ اوڅوك چی امام ته مخامخ ولاړوی هغه ته زیات ثواب ورکول کیږی اوکه څنګه؟ اوامام سره نژدی عالمانو ته دریدل پکار دی اوکه جاهل هم دریدی سی؟ جاهل به امام ته دنژدی ځای څخه ولاړول کیږی اوکه نه؟

---

(¹). وقدمنا كراهة القيام في صف خلف صف فيه فرجة للنهي، وكذا القيام منفردا، وإن لم يجد فرجة، بل يجذب أحدا من الصف. ذكره ابن الكمال، لكن قالوا: في زماننا: تركه أولى، فلذا قال في البحر: يكره وحده إلا إذا لم يجد فرجة (درمختار) وَالْأَصَحُّ مَا رَوَى هِشَامٌ عَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ يَنْتَظِرُ إلَى الرُّكُوعِ، فَإِنْ جَاءَ رَجُلٌ وَإِلَّا جَذَبَ إلَيْهِ رَجُلًا أَوْ دَخَلَ فِي الصَّفِّ، ثُمَّ قَالَ فِي الْقُنْيَةِ: وَالْقِيَامُ وَحْدَهُ أَوْلَى فِي زَمَانِنَا لِغَلَبَةِ الْجَهْلِ عَلَى الْعَوَامّ فَإِذَا جَرَّهُ تَفْسُدُ صَلَاتُهُ اهـ قَالَ فِي الْخَزَائِنِ قُلْت: وَيَنْبَغِي التَّفْوِيضُ إلَى رَأْيِ الْمُبْتَلَى، فَإِنْ رَأَى مَنْ لَا يَتَأَذَّى لِدِينٍ أَوْ صَدَاقَةٍ زَاحَمَهُ أَوْ عَالِمًا جَذَبَهُ وَإِلَّا انْفَرَدَ. اهـ قُلْت: وَهُوَ تَوْفِيقٌ حَسَنٌ اخْتَارَهُ ابْنُ وَهْبَانَ فِي شَرْحِ مَنْظُومَتِهِ (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ص ۲۰۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۲۴۵ - ۲۴۲). ظفير

(²). ثم الصبيان ظاهره تعددهم فلو واحد دخل الصف الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۷۱) ظفير.

**په جومات کې دځای حاصلولو حکم**: **سوال**: (۲\۱۱۸۹) په جومات کی دمخکی څخه په جامه دستمال وغیره اینبوولو سره قبضه کول درست دی اوکه نه؟ که چیری یو سړی دجومات څخه ولاړسی اودضروری حوائجو دپاره دجومات څخه دباندی ووزی اوپه خپل ځای باندی دستمال پریږدی نودی به ددغه ځای مستحق وی اوکه نه؟ اوکه په دغه ځای باندی څوك کښېنستی نوهغه سړی دی ولاړ کړل سی اوکه نه؟

**جومات ته دمخکی راتللو زيات ثواب به وی اوکه نه؟** **سوال**: (۳\۱۱۹۰) څوك چی جومات ته مخکی راسی هغه ته به ثواب ورکول کیږی اوکه چاته؟

**معتکف چی ضرورت دپاره دباندی ولاړ سی نو کم ځای دی کښینی؟** **سوال**: (۴\۱۱۹۱) که چیری یومعتکف دحوائج ضروریه ؤ دپاره دمسجد څخه دباندی ولاړسی، دبیرته راتللو څخه وروسته دی پرمقرر ځای باندی کښېني یاپرکم ځای چی غواړی هلته کښېنستلی سی؟

**راسته طرفته داذان اوچپه طرفته داقامت کولو هيڅ ثبوت نسته**: **سوال**: (۵\۱۱۹۲) راسته طرفته داذان اوچپه طرفته داقامت کولو شرعی ثبوت سته اوکه نه؟

**جواب**: (۱) په شامی کی دی: قوله وخير صفوف الرجل اولها الخ لانه روی فی الاخبار ان الله تعالى اذا انزل الرحمة على الجماعة ينزلها اولا على الامام يتجاوز عنه الى من بحذائه فی الصف الاول ثم الى الميامن ثم الى المياسر ثم الى الصف الثانی الخ. بيا ددی څخه وروسته يی وفرمايل: قال فی المعراج ان الافضل ان يقف فی الصف الآخر اذا خاف ايذاء احد الخ. ([1])

ددی عباراتو څخه معلومه سوه چی په مخکی صف کی هم په اعتبار دجوانبو په ثواب کی کمی او زیاتی سته. کم سړی چی امام ته مخامخ دی په هغه باندی درحمت نزول زیات دی. خوکه نورو لمونځ ګذارو ته تکليف وی نوبيا ښه داده چی دغه ځای پريږدی اوښه داده چی نژدی عالمان، صالحان ولاړوی ليکن جاهل هم ولاړول نه دی پکار. اوهغه ته تکليف ورکول نه دی پکار ([2]).

(۲) په شامی کی دی وينبغی تقييده بما اذا لم يقم عنه على نية العود بلا مهلة کما لو قام للوضوء مثلاً ولاسيما اذا وضع فيه ثوبه لتحقق سبق يده ([3]).

---

([1]). وګوری رد المحتار مطلب فی جواز الايثار بالقرب ص ۵۳۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۹ . ظفير

([2]). نبوی ارشاد دی: ليلنی منکم اولو الاحلام والنهی ثم الذين يلونهم ثم الذين يلونهم (مشکوٰة ص ۹۸) . ظفير

([3]). ردالمحتار باب مايفسده الصلوة ومايکره فيها مطلب فيمن سبقت يده الى مباح ص ۲۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۲۲۲ . ظفير

ددی څخه معلومه سوه چی که چیری یو سړی دمخکی څخه راغی اوپه جومات کی پریو ځای باندی کښېنستی او بیا داودس وغیره په ضرورت سره دهغه ځای څخه ولاړیدی او په هغه ځای کی یی خپله کپړه کښېښوولـه نوهغه ددغه ځای زیات مستحق دی. نوکه چیری بل څوك په دغه ځای باندی کښېنستی نوهغه یی پاڅولی سی. او ددی ذکر سوی حالت څخه بغیر په یوځای کی دستمال ایښوول اوقبضه کول ښه نه دی.

(۳) څوك چی مخکی راسی هغه ته به ثواب زیات ورکول کیږی.

(۴) په جومات کی چی کم ځای غواړی کښېنستی سی.

(۵) ددی هیڅ ثبوت نسته. فقط

**دباران په وجه صرف څلور ګوتی وروسته صف درست دی اوکه نه؟ سوال:** (۱۱۹۳) دامام په برابری کی څلور ګوتی وروسته څنګه چی یو مقتدی ولاړ وی، صف جوړول دباران یا د ګرمی دعذر په وجهی سره، حالانکی صحن فراخه دی، داکار څنګه دی؟

**جواب:** درست دی. (۱) فقط

**که چیری دننه ځای باقی پاته نسی نو مقتدیان دی په درونو کی ودریږی اوکه نه؟ سوال:** (۱۱۹۴) که چیری دننه جومات ډك سی نو باقی لمونځ ګذار دی دجومات په درونو (دستنو مینځ) کی ودریږی، اوکه دباندی پرفرش باندی، غوره څنګه دی؟

**جواب:** په درونو کی دریدل ښه نه دی کله چی دباندی دجومات په فرش کی ځای موجود وی. (۲) فقط

**چی صفونه کم پلن وی نوسجده په فرش باندی کولی سی؟ سوال:** (۱۱۹۵) که چیری دمصلی اوصف پلنوالی کم وی چی سجده ورباندی نه سی کیدی نوبیا دی پرصف او مصلی باندی وی اوکه لاندی؟

**جواب:** چی څه رکم غواړی ودی کړی برابره خبره ده که پښی یی په صف اومصلی باندی وی اوسجده یی په فرش باندی وی یاپښی یی لاندی وی اوسجده یی په صف باندی وی. فقط (دځای پاکوالی شرط دی. دمصلی موجودوالی ضروری نه دی. ظفیر)

**په در یامحراب کی دامام دریدل څنګه دی کله چی هغه مقتدی ته ښکاری؟ سوال:** (۱۱۹۶)

---

(۱). فلوقاموا علی الرخوف والامام علی الارض اوفی المحراب لضیق المکان لم یکره کما لوکان معه بعض القوم فی الاصح وبه جرت العادة فی جوامع المسلمین (درمختار) وظاهره انه لایکره ولو بلاعذر (ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ویکره فیها ص ۲۰۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۶۴۲). ظفیر

(۲). ولهٰذا قال فی الولوالجیة وغیرها اذا لم یضق المسجد من خلف الامام لاینبغی له ذالك. (رد المحتار باب مایفسد الصلوة ویکره فیها ص ۲۰۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۶۴۲) ظفیر.

دیو جومات در اوستنه داسی ده چی که چیری امام په دغه دواړو ځایونو کی ودریږی اولمونځ ورکوی نومقتدیان په ښه ډول خپل امام ته کتلی سی نوپه داسی دواړو ځایونو کی لمونځ کول څنګه دی. آیا مکروه تنزیهی دی اوکه تحریمی؟

**جواب**: قال الشامی والاصح ماروی عن ابی حنیفة انه قال اکره ان یقوم بین الساریتین (۱) الخ ددی څخه معلومه سوه چی امام ته په در یا په محراب کی په دې ډول دریدل چی قدمونه یی هم دباندی نه وی، مکروه دی اومراد دمکروه څخه کراهت تنزیهی دی. ددی حاصل خلاف اولی دی. فقط

**دوو کسانو لمونځ کوی چی دریم راغی نو امام مخ ته ولاړ سی اوکه مقتدیان وروسته سی؟**

**سوال**: (۱۱۹۷) امام اومقتدی صرف دوه سړیان وی ددی وجه برابر دریږی. اوس دریم سړی بل راغی نواوس امام مخ ته سی اوکه مقتدیان را وروسته سی؟

**جواب**: په دی حالت کی که امام مخ ته ځی اوکه مقتدیان را وروسته کیږی دواړی خبری جائزدی. لیکن دمقتدی راوروسته کیدل ښه دی په نسبت دامام دمخکی کیدلو څخه. کما فی الشامی: وهو اولی من تقدمه لانه متبوع. (۲) الخ

**آیا په جمعه کی دیو مقتدی دبل سره په دریدلو کی پښی یوځای کول ضروری دی؟** **سوال**: (۱۱۹۸) غیرمقلدین په جمعه کی دیوبل سره پښی یوځای کوی اوحدیث څخه استنباط کوی، دحنفیه وو په نزد څه حکم دی؟

**جواب**: غیر مقلدین غلط وایی. صرف دقدمونو اواوږو وغیره دمحاذاتو حکم دی. همدا حنفیان هم وایی. (۳) فقط

**مخنث دسړیو په جماعت کی شاملیدی سی اوکه نه؟** **سوال**: (۱۱۹۹) مخنث (یعنی نرښځی) دسړیو په جماعت کی په شاملیدلو سره لمونځ کولی سی اوکه نه؟ اوچی هغوی په جمعه کی شامل سی نودنورو مسلمانانو لمونځ کیدی سی اوکه نه؟ او هغوی چی دثواب په نیت کمی روپی وغیره په جومات کی ورکړی، نوهغه دجومات په ضروریاتو کی لګیدلی

---

(۱). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۸ . ظفیر

(۲). وَفِيهِ إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّ الزَّائِدَ لَوْ جَاءَ بَعْدَ الشُّرُوعِ يَقُومُ خَلْفَ الْإِمَامِ وَيَتَأَخَّرُ الْمُقْتَدِي الْأَوَّلُ ﷺ وَالَّذِي يَظْهَرُ أَنَّهُ يَنْبَغِي لِلْمُقْتَدِي التَّأَخُّرُ إذَا جَاءَ ثَالِثٌ ﷺ فَإِنْ اقْتَدَى عَنْ يَسَارِ الْإِمَامِ يُشِيرُ إلَيْهِمَا بِالتَّأَخُّرِ ، وَهُوَ أَوْلَى مِنْ تَقَدُّمِهِ لِأَنَّهُ مَتْبُوعٌ وَلِأَنَّ الِاصْطِفَافَ خَلْفَ الْإِمَامِ مِنْ فِعْلِ الْمُقْتَدِينَ لَا الْإِمَامِ ، فَالْأَوْلَى ثَبَاتُهُ فِي مَكَانِهِ وَتَأَخُّرُ الْمُقْتَدِي ﷺ (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۲). ظفیر

(۳). وماروی انهم الصقوا الکعاب بالکعاب ارید به الجماعة ای قام کل واحد بجانب الآخر (ردالمحتار باب صفة الصلوة ص ۴۱۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۴۴) ظفیر.

سی او که نه؟

**جواب**: مخنثان دسړیو په جمعه کی شاملیدی سی خو هغوی دی دسړیو دصف څخه وروسته ودریږی (۱). اوپه جمعه کی دهغوی په شاملیدلو سره دنورو مسلمانانو لمونځ صحیح دی. او دهغوی روپی په جومات کی لګول درست (۲) دی. فقط

**چی په مخکی صف کی ځای وی نو په وروسته صفونو څیرلو سره هلته تلی سی اوکه نه؟**

**سوال**: (۱۲۰۰) چی جمعه ولاړه وی اوبهولو خلګ نیت تړلی وی یوسړی اودس وکی، او راغی اوپه مخکنی صف کی ځای سته نوداسی سړی دغاړی په صفونه څیری کولو سره په مخکنی یامینځ والا صف کی دریدی سی اوکه نه؟ اوګنهګار خوبه نه وی؟

**جواب**: دریدی سی اوهیڅ ګناه به نه وی. (۳) فقط

**دماشومانو دصف څخه په ورتیریدلو سره مخ ته تلی سی اوکه نه؟ سوال**: (۱۲۰۱) په مخکنی صف کی پنځه یاشپږ سړی دی اودوهم صف دماشومانو دی په کم کی چی پنځلس یا شپاړس هلکان دی یعنی دهلکانو صف دسړیو صف دراسته اوچپه طرف څخه ګیر کړی دی. اوس چی کم سړی راځی هغه دهلکانو دصف مخ ته دتیریدلو څخه ماسوا په مخکنی صف کی شاملیدی نه سی. نوهغه ته څه کول پکار دی؟

**جواب**: راتلونکی سړی دی په دی صورة کی دهلکانو دصف مخ ته تیرسی، او دسړیو په صف کی دی شامل سی (۴). فقط

**په جمعه کی مقتدیان داوړی په یو ځای کولو سره ودریږی اوکه په پښو یو ځای کولو سره؟**

**سوال**: (۱۲۰۲) په لمانځه کی مقتدیان داوړی سره په اوږه یو ځای کولو سره خو دریږی. لیکن یوصاحب فرمایی چی دپښو سره پښې هم یوځای کول پکاردی. آیاپه حنفی مذهب

---

(۱). یصف الرجال الخ الصبیان الخ ثم الخناثی، ثم النساء (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۱). ظفیر

(۲). که څه هم چی ګټه یې جائزه وی ځکه چی هغوی هم مسلمانان دی. ظفیر

(۳). ولووجد فرجة فی الاول لاالثانی له فرق الثانی لتقصیرهم وفی الحدیث من سد فرجة غفرله (درمختار) مَنْ قَامَ فِي آخِرِ صَفٍّ وَبَيْنَهُ وَبَيْنَ الصُّفُوفِ مَوَاضِعُ خَالِيَةٌ فَلِلدَّاخِلِ أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ لِيَصِلَ الصُّفُوفَ لِأَنَّهُ أَسْقَطَ حُرْمَةَ نَفْسِهِ فَلَا يَأْثَمُ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَيْهِ ، دَلَّ عَلَيْهِ مَا فِي الْفِرْدَوْسِ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " [ مَنْ نَظَرَ إلَى فُرْجَةٍ فِي صَفٍّ فَلْيَسُدَّهَا بِنَفْسِهِ ؛ فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ فَمَرَّ مَارٌّ فَلْيَتَخَطَّ عَلَى رَقَبَتِهِ فَإِنَّهُ لَا حُرْمَةَ لَهُ ] " أَيْ فَلْيَتَخَطَّ الْمَارُّ عَلَى رَقَبَةِ مَنْ لَمْ يَسُدَّ الْفُرْجَةَ. (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۰). ظفیر

(۴). لووجد فرجة فی الاولو لاالثانی وله فرق الثانی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۰) ظفیر.

کی ددی حکم سته اوکه نه؟

**جواب**: په حدیث شریف کی حضور ﷺ داوړو یو ځای کولو او دصفونو برابرولو حکم فرمایلی دی او په بجلکوکی دسیده کولو حکم دی، ددی څخه غیر مقلدینو دبجلکو سره دبجلکو یوځای کولو حکم مستنبط ګڼلی دی، داپه ظاهره دهغوی څخه غلط فهمی سوی ده اواصل دادی چی داوړو یوځای کولو حکم په صحیح حدیث کی وارد سوی دی لهٰذا دا سنت دی اوکله چی ټول سړی اوږی یوځای کړی نو دټولو بجلکی یوځای کیدی نسی څنګه چی تجربه پردی شاهده ده. ددی وجه دبعضو صحابه ؤ ﷺ څخه خوالصاقِ کعاب منقول دی. ددی معنٰی برابرول اوسیده کول دی یعنی دټول صف سړی دی یو رکم سیده وی، نه داچی قدمونه او بجلکی دی مخکی او وروسته (١) وی.

**داقتداء شرعی حدود څه دی؟** **سوال**: (١٢٠٣ \١) داقتداء دپاره شرعی څه حدود مقرردی. په لاندینو قلمی صورتونو کی کم یوصورة جائزدی اوکم یونه دی؟

سوال: (١٢٠٧ \٢) امام پرلوړ ځای دی اومقتدیان کښته دی برابره خبره ده که راسته طرف ته وی اوکه چپه طرف ته اوکه وروسته. ددی بیادوه صورتونه دی یوداچی امام ته نژدی وی برابره خبره ده که په مینځ کی دیوال وغیره حائل وی یا نه وی. دوهم دا چی دامام څخه لیری وی برابره خبره ده که دیوال وغیره حائل وی یانه وی.

سوال: (١٢٠٨ \٣) امام په لاندی ځای کی دی اومقتدیان لوړدی. ددی برابر لوړ څلور شکلونه.

سوال: (١٢٠٩ \۴) دافریقی په دی علاقو کی داکثرو کورونو لاندینی حصه فرش او دلرګی وی او دهغه تر لاندی مزکی پوری دانسانی قد هومره کم اوبیش مجوف (یعنی خالی) وی په داسی صورتونو کی دجماعت خانی په لاندینی حصه کی هم مقتدیان دریدی سی اوکه نه؟

سوال: (١٢١٠ \۵) دجومات سره متصل اوسیدونکی یا لیری اوسیدونکی خوداسی چی دانتقالاتو تکبیرونه وغیره اوریدی سی. داسی سړی په خپل کور کی اقتداء کولی سی اوکه نه؟ مریض، ناجوړی، معذور یا مقیم په دی کی کم یو صورة دجواز دی؟

---

(١). عن النعمان بن بشیر قال : کان رسول الله ﷺ یسوي صفوفنا حتی کأنما یسوي بها القداح حتی رأی أنا قد عقلنا عنه ثم خرج یوما فقام حتی کاد أن یکبر فرأی رجلا بادیا صدره من الصف فقال: عباد الله لتسون صفوفکم أو لیخالفن الله بین وجوهکم. رواه مسلم (مشکوٰة باب تسویة الصف ص ٩٧) وعن ابی مسعود الانصاری قال کان رسول الله ﷺ یسمح مناکبنا فی الصلاة ویقول استووا (ایضاً) وما روی الصقوا الکعاب اريد به الجماعة ای قام کل واحد بجانب الاخر (ردالمحتار باب صفة الصلوة ص ۴١۴ ج١ ، ط.س. ج١ ص ۴۴۴) ظفیر.

**جواب**: (۱،۳،۲) که چیری امام یوازی په لوړ یا لاندی مقام باندی وی، نومکروه دی اوکه چیری دامام سره څه مقتدیان وی نوبیا په هیڅ حال کی کراهت نسته، لیری اونژدی کله چی صفونه متصل وی دواړه درست دی. ([1]) په درمختار کی دی: کما لوکان معه بعض القوم فی الاصح ([2]).

(۴) په دی کی هم همدا جواب دی چی که چیری دامام سره بعضی مقتدیان وی نو په لاندی حصه کی دریدل اواقتداء کول درست دی. (وګورئ حواله ماقبل. ظفیر)

(۵) دکور څخه دامام اقتداء کم چی په جومات کی دی نسی کولی، خوپه صورة داتصال دصفونو چی دجومات څخه ترکوره پوری برابر صفونه دمقتدیانو وی نوپه دی صورة کی اقتداء درسته ده. ([3]) فقط

**<u>په امام پسی دی څنګه خلک ودریږی؟</u> سوال**: (۱۲۰۴) په امام پسی څنګه مقتدیانو ته دریدل پکار دی، څوك چی مخکی راغی؟ برابره خبره ده که ددین علم څخه خبر وی یا نا خبره وی؟

**جواب**: امام ته نژدی داهلِ علمو اواهل عقلو دریدل ښه دی لیکن که چیری امام ته نژدی نور خلګ لمونځ ګذاره راغلی وی نو دهغوی دلیری کولو ضرورت نسته ولی چی لمونځ په هر رکم کیږی. ([4]) فقط

**<u>دالصاق کعبین مطلب څه دی؟</u> سوال**: (۱۲۰۵) الصاقِ کعبین یعنی دیوی پښی بجلکی د

---

([1]). الا اذا اتصلت الصفوف فیصح مطلقا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۸ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۸۵). ظفیر

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ص۲۰۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۶۴۵) ددی څخه مخکی داعبارت دی: وکره تربع ﴿ وانفراد الامام علی الدکان لنهی وقدر الارتفاع بذراع ولا باس بما دونه ﴿ وکره عکسه فی الاصح وهذا کله عند عدم العذر ﴿ فلو قاموا علی الرفوف والامام علی الارض او فی المحراب لضیق المکان لم یکره کما لوکان معه بعض القوم ایضاً. ط.س. ج۱ ص ۶۴۲.

([3]). ویمنع من الاقتداء صف النساء ﴿ وطریق تجری فیه عجلة ﴿ اونهر تجری فیه السفن او خلاء فی الصحراء لیسع صفین فاکثر الا اذا اتصلت الصفوف فیصح مطلقا (ایضًا ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۴). ظفیر

([4]). په امام پسی ددریدلو حق خو قانونًا دهغه چادی څوك چی مخکی راسی ځکه چی دامام په وسط کی دلرلو حکم دی قال ﷺ توسطوا الامام وسدوا الخلل ومتی استوی جانباه یقوم عن یمین الامام ان امکنه، اوبیا چی صف کله پوره سی نوبل صف به هم دامام دمخامخ څخه شروع کیږی، ولولم یجد عالما یقف خلف الصف بحذاء الامام للضرورة ، لیکن که چیری اهل علمو ته نور خلګ ترجیح ورکړی اوپرخپل ځای یې په امام پسی ودروی نو دافعل هم درست بلکی مطلوب دی، وان سبق احد الی الصف الاول فدخل رجل اکبر سنا اواهل علم ینبغی ان یتاخر ویقدمه تعظیما له اهـ. داعبارت اودنور تفصیل دپاره وګوری (ردالمحتار باب الامامة مطلب فی جواز الایثار بالقرب ص ۵۳۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۹). ظفیر

بلی پښی دبجلکی سره یوځای کول مراد دی اوکه په محاذاتو کی لرل، غرض داچی دالصاق کعبین څه مطلب دی اوڅه مراد دی؟

**جواب**: په شامی باب صفة الصلٰوة کی داعبارت هم موجود دی دکم څخه چی مطلب دالصاق کعبین حاصلیږی: وینبغی ان یکون بینهما مقدار اربع اصابع الید لانه اقرب الی الخشوع هکذا روی عن ابی نصر الدبوسی انه کان یفعله کذا فی الکبرٰی وماروی انهم الصقوا الکعاب بالکعاب ارید به الجماعة ای قال کل واحد بجانب الاخر کذا فی فتاوٰی سمرقند. [1] الخ، نوکیدی سی چی مراد دالصاق کعبین څخه په محاذات کی لرل دیوی بجلکی دبلی سره وی څنګه چی الصاق کعب بالکعب دمقتدیانو په باره کی په آثارِ صحابهؤ کی وارد دی. فقط

**که دامام سره یوسړی وی اوبیا بل راسی، نوڅه وکړی؟ سوال**: (۱۲۰۲) که چیری دامام سره صرف یومقتدی لمونځ کوی اویوبل راسی، یا دجمعی پوره صف ډك سی اویو لمونځ گذار وروسته راسی نو هغه ته دمخکنی صف څخه یو مقتدی راکشول ضروری دی اوکه صرف جائزدی؟

**جواب**: که چیری دامام سره یومقتدی وی بیا بل راسی نوښهٔ دادی چی مخکی مقتدی را وروسته سی اودواړه په امام پسی ودریږی. اوپه دی کی یی داشرط لیکلی دی، چی که چیری ددغه مقتدی دلمونځ فاسد کیدلو اندیښنه نه وی نوهغه دی راوروسته کړی کنی نه دی راوروسته کوی. ددی څخه معلومه سوه چی درا وروسته کولو ضرورت هغه وخت دی چی دامعلومه وی چی هغه به راوروسته سی. اوهغه ته دامسئله معلومه وی. همدغه رکم دصف څخه وروسته دیوازی دریدلو حکم دی، که چیری دصف څخه یو سړی دده په راوروسته کولو سره بی تکلیفه راوروسته سی نوداسی دی وکړی کنې یوازی دی ودریږی څنګه چی په شامی کی ددی تفصیل مذکوردی فلیراجع. والذی یظهر انه ینبغی للمقتدی التاخر اذا جاء ثالث فان تاخر والا جذبه الثالث ان لم یخش افساد صلوته فان اقتدی عن یسار الامام یشیر الیهما بالتأخیر وهو اولی من تقدمه لانه متبوع (الی) وهٰذا کله عند الامکان والا تعین الممکن [2] الخ. وفی الدر المختار. ولو صلی علی رفوف المسجدان وجد فی صحنه مکانًا کره کقیامه فی صف خلف صفٍ فیه فرجَةٌ. الخ. ددر

---

[1]. ردالمحتار باب صفة الصلوة بحث قیام ص ۴۱۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۴۴. ظفیر

[2]. ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۸، داچی وی ویل هٰذا کله عند الامکان والا تعین الممکن، ددی دامطلب دی چی که چیری دمقتدی وروسته تراتللو ځای وی بیا خودی مقتدی را وروسته سی اوکه چیری دوروسته کیدو ځای نه وی نوبیا امام مخکی بیول پکاردی. اوکه چیری ددی هم ګنجائش نه وی نو بل مقتدی دی دامام چپه طرف ته ودریږی، لږڅه راوروسته، لکه څنګه چی مخکی مقتدی ولاړدی. والله اعلم. ظ

مختار (۱) دعبارت څخه داواضحه ده چې دیومقتدي دصف څخه وروسته یوازې دریدل هغه وخت مکروه دي چې په مخکنی صف کی ځای وی. ددی مفهوم دادی چې که چیری مخکنی صف ډك وی نو وروسته یوازې دریدی سی. ها! او ښه دادی چې دصف څخه یو سړی وروسته ولاړ سی. اوکه چیری داراتلونکی سړی یوسړی دمخکی څخه راکش کړی نوداهم جائزدی، ددی سره لمونځ نه فاسدیږی. فی الشامی: لوجذبه آخر فتأخر الاصح لا تفسد صلوته (۲). الخ

**دمجبوریٔ په وجه په لاندې مدرسه کی اقتداء درسته ده اوکه نه؟ سوال**: (۱۲۰۷) په جامع مسجد کی امام دلمونځ ورکولو دپاره ودریدی اوټول جومات دلمانځه ګذارو څخه ډك سو اویو صف دباندی پرفرش باندی هم جوړسو. باران شروع سو. وروسته چې کم کسان پاته سوه هغوی دباران په وجه جومات پرینښووی اوپه مدرسه کی ودریدل کمه چې دجومات ترفرش لاندی واقع ده، ګویادنورو مقتدیانوڅخه دهغوی فاصله راغله، دهغوی لمونځ صحیح سو اوکه نه؟ دداسی مجبوری په حالت کی به داعذر قابل دسماعت وی اوکه نه؟

**جواب**: په درمختار کی داروایت دی چې ډیر لوی جومات کم چې دصحرا حکم لری که چیری په هغه کی دیوصف یازیاته فاصله راسی نو دوروستنیو لمونځ ګذارو لمونځ به نه کیږی. لیکن شامی نقل کړی دی چې داحکم دلوی جومات دی. دمعمولی جامع مسجد داحکم نه دی په هغه کی به په ذکرسوی حالت کی دهغه خلګو لمونځ صحیح سی چاچی په ذکرسوی مدرسه کی لمونځ کړی دی اوډیر روایتونه یی داسی نقل فرمایلی دی دکمو څخه چې جواز معلومیږی. لهٰذا دداسی مجبوری په حالت کی به په همدغه روایتونو باندی عمل کول کیږی اودلمانځه دصحت حکم به کول کیږی البته بی ضرورته دی داسی ونه سی اوپه دی کی دی احتیاط وسی. فقط

**آیا دمحراب دمخ څخه لیری جمع کول مکروه ده: سوال**: (۱۲۰۸) دجومات پربهرنی فرش باندی چې کم ځای غواړی فرض جمع دی اداء کړی. مثلاً دلوی جومات پرفرش لوړ دګرمی په موسم کی دسایې طرفته اوپه ژمی کی په لمر کی. یوصاحب داوایی چې دجومات پر صحن اوفرش باندی محراب ته مخامخ فرض جمعه اداء کول پکاردی. دمحراب دمحاذ څخه خلاف دفرضو جماعت اداء کول صحیح نه دی.

**جواب**: په شامی کی دی: السنة ان یقوم فی المحراب لیعتدل الطرفان ولو قام فی احد جانب الصف

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۰. ظفیر
(۲). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۰ . ظفیر

یکره ولو کان المسجد الصیفی بجنب الشتوی واملاء المسجد یقوم الامام فی جانب الحائط لیستوی القوم من جانبیه والاصح ما روی عن ابی حنیفة رحمه الله انه قال اکره ان یقوم بین الساریتین اوفی زاویة اوفی ناحیة المسجد او الی ساریة لانه خلاف عمل الامة. (۱) الخ ددی ټولو عبارتونو څخه معلومیږي چې دامام دپاره سنت په محراب کې اودقوم په مینځ کې دریدل دي. لهٰذا که چیرې دبهر صحن په فرش باندې ودریږي نو هم دې محراب ته مخامخ ودریږي. نور نولمونځ خوپه هرډول کیږي لیکن سنت (طریقه) همدغه ده، کمه چې ذکر سوه.

**په جمعه کې دې صفونه دامام دواړو طرفونو ته برابروي:** **سوال:** (۱۲۰۹) مشهوره ده چې په جمعه کې دې مقتدیان زیات تره راسته طرفته ودریږي. ددې څه ثبوت سته اوکه دواړه طرف ته دې برابر ودریږي.

**چې صحن یوطرف ته زیات وي نودصحن دمینځ لحاظ ساتل پکاردي:** **سوال:** (۱۲۱۰ \۲) که چرته دجومات صحن لس دولس لاسه یوطرف ته زیات سوی وي، نواوس امام ته دصحن په اعتبار سره په منځ کې دریدل پکاردي اوکه دجومات دمحراب لحاظ ساتل پکاردي.

**که دباندې جمعه کیږي نو آیا دننه بندول ضروري دي:** **سوال:** (۱۲۱۱ \۳) په پنجاب کې په ډیرو ځایونو کې لیدل سوي دي چې که چیرې جمعه په صحن کې کیږي، نودننه دجومات دروازې په لازمي طور سره بندوي. شرعًا ددې هم څه ثبوت سته اوکه نه؟

**جواب:** (۱) دواړه طرفته مقتدیان برابر اوسیدل پکاردي. (۲)

(۲) چې دباندې ولاړوي نودصحن دمینځ خیال دې وسي (۳).

(۳) ددننه دروازو بندول په دغه وخت کې ضروري نه دي.

**دجومات څخه اخواته ددرختې په سایه کې اقتداء درسته ده اوکه نه؟** **سوال:** (۱۲۱۲) په یو کلي کې په جومات کې په سایه کې لمونځ کیږي، اوچونکې پرفرش باندې لمروي لهٰذا

---

(۱). اوخلاء ای فضاء فی الصحراء اوفی مسجد کبیر جدا کمسجد القدس یسع صفین فاکثر (در مختار) والمسجد وان کبر لایمنع الفاصل الا فی الجامع القدیم بخوارزم فانه ربعه کان علی اربعة الاف اسطوانة وجامع القدس الشریف (ردالمحتار باب الامامة ص **۵۳۷** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۸۵**). ظفیر

(۲). ردالمحتار مطلب فی کراهة قیام الامام فی غیر المحراب ص **۵۳۱** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۲۸** . ظفیر

(۳).۳. ویقف وسطا (درمختار) وفی مبسوط بکر: السنة ان یقوم فی المحراب لیعتدل الطرفان ولو قام فی احد جانبی الصف یکره ولو کان المسجد الصیفی بجنب الشتوی وامتلأ المسجد یقوم الإمام فی جانب الحائط لیستوی القوم من جانبیه رضی الله عنه قال ﷺ توسطوا الامام رضی الله عنه فی موضع اخر السنة ان یقوم الامام ازاء وسط الصف (رد المحتار باب الامامة ص **۵۳۱** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۲۸**) وکیفیته ان یقف احدهما بحذائه والاخر بیمینه اذاکان الزائد اثنین ولوجاء ثالث وقف عن یسار الاول والرابع عن یمین الثانی والخامس عن یسار الثالث وهٰکذا اهـ (ایضًا ص **۵۳۰** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۲۸**). ظفیر

څه خلګ ټول فرش پرېږدي اوډخوارلس پنځلس ګزه پرفاصله باندی ددرختو په سايو کی په لمونځ کی شريکيږی اونيت تړی. په دی صورة کی دهغوی لمونځ کيږی اوکه نه؟

**جواب**: دهغوی لمونځ صحيح [1] دی. فقط (خوداسی کول نه دی پکار صفونه دی متصل وی. خودلمر څخه دځان ساتلو انتظام پکاردی دپاره ددی چی لمونځ ګذاروته تکليف نه وی. ظفير)

**<u>چی دکم امام حال نه وی دهغه اقتداء درسته ده اوکه نه؟</u> سوال**: (۱۲۱۳) په خلاصة الفتاوٰی اول جلد ص **۱۵۳** کی دی: ولو اقتدٰی بالامام ولا يدری انه مقيم اومسافر لا يصح اقتداءه. دامسئله معمول بها ده اوکه څنګه؟

**جواب**: په درمختار کی يی دخانيه وغيره څخه چی څه نقل کړی دی هغه هم ددی روايت دخلاصی موافق دی ليکن دهغه جواب يی داورکړی دی چی دامام حال په ټول لمونځ کی يو وخت معلوميدل پکاردی، په ابتداء کی معلوميدل شرط نه دی. په همدی وجه دامام داخبرداری کول چی زه مسافريم مستحب يی ليکلی دی. ددرمختار عبارت دادی: وندب للامام ان يقول بعد التسليمتين فی الاصح اتموا صلوتکم فانی مسافر، هذا يخالف الخانية وغيره ، ان العلم باحوال الامام شرط لکن فی حاشية الهداية للهندی الشرط العلم بحاله فی الجملة لا فی حال الابتداء [2] الخ

**<u>په مخکنی صف کی دبی ږيری هلکانو شرکت</u>**: **سوال**: (۱۲۱۴) په مخکنی صف کی دبی ږيری هلکانو دريدل څنګه دی؟

**جواب**: نابالغه هلکانو ته دسړيو څخه وروسته دريدل پکاردی. ليکن که چيری يوهلك وی نوهغه ته دسړيو په صف کی دريدل درست دی. په درمختار کی دی: ثم الصبيان ظاهره تعددهم لو واحدا دخل الصف وهٰکذا فی الشامی [3].

**<u>خپله ښځه يامحرمه ښځه په برابر کی دريدی سی اوکه نه؟</u> سوال**: (۱۲۱۵) کمی ښځی چی دمحرماتو څخه دی، هغوی ياخپله بی بی چی په برابر کی اقتداء وکړی نولمونځ مکروه کيږی اوکه نه؟

---

(۱). مراد دادی چی دا درختی دکمو په سايو کی چی لمونځ اقتداءاً دپنځلس ګزه فاصله په پريښوولو سره کوی. که چيری په جومات کی يا دجومات په فناء (يعنی حدودو) کی وی نولمونځ درست دی. فناء المسجد کالمسجد فيصح الاقتداء وان لم يتصل الصفوف (الاشباه والنظائر فن ثانی، کتاب الصلاة ص ۱۹۷). ظفير

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة المسافر ص ۷۴۰ ، ط.س. ج۲ ص ۲۹، په عبارت نقل کولو کی تقديم اوتاخيردی او دايې دمطلب واضح کولو دپاره کړی دی. ظفير.

(۳). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۳۴** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۷۱** . ظفير

**جواب**: ښځې که څه هم دمحرماتو څخه وي، په جمعه کې دې هغوی هم برابرې نه دریږي ددې سره دسړي لمونځ فاسدیږي (۱).

**چې امام په دالان کې وي اومقتدیان په صحن کې وي نوآیا دامکروه دي؟ سوال**: (۱۲ ۱۲)

زید وایي چې که چیرې امام دمخکنې چت په درونو کې دمحراب په محاذاتو کې ولاړ وي اومقتدیان په صحن کې ولاړ وي نولمونځ به مکروه وي ولې چې امام اوماموم ته په مقام واحد کې کیدل پکاردي اودلته دشتوی اوصیفی فرق دی (چې یوځای دژمي اوبل ځای ددوبي دپاره دی)، بکر وایي چې بې له کراهته درست دی ولې چې صحن دمسجد عین مسجد دی. شتوی اوصیفي کَبُقْعةٍ واحده دي، اوددرمختار دعبارت مفهوم هم همدا دی. ولم یختلف المکان حقیقة کمسجد. اودعالمګیری څخه هم همدا مفهوم کیږي، وانما قام علی الجدار الذی بین داره وبین المسجد ولایشتبه حال الامام صح الاقتداء ایضً جاز الاقتداء لمن فی بیته بامام المسجد ، نوشرعًا څه حکم دی؟

**جواب**: په شامي جلد اول باب الامامة کې دي والاصح ماروی عن ابی حنیفة رحمه الله انه قال اکره ان یقوم بین الساریتین (۲) الخ. نوکه چیرې امام په در کې په داشان ولاړوي چې قدمونه یې هم دننه وي اومقتدیان په فرش باندې وي نودا مکروه دی څنګه چې امام ته په محراب کې دننه دریدل مکروه دي، اوکه چیرې قدمونه یې بهر په فرش باندې وي نو کراهت مرتفع دی. اودا صحیح ده چې مسجد سقف اوغیر سقف یعنی فرش دمسجد دا ټول مسجد دی. اوامام که چیرې محراب ته محاذي په فرش غیر مسقف کې ولاړوي او مقتدیان هم په فرش باندې ولاړوي نوپه دې کې څه کراهت نسته کما هو معمول الائمة فی الصیف. نوامام ته په بیروني درکې په دریدلو کې کراهت هغه وخت دی چې امام بالکل په درکې دننه وي نوپه دې حالت کې به هغه در په حکم دمحراب کې وي اوپه محراب کې دننه امام ته دریدل مکروه دي، که څه هم اشتباه نه وي، ولې چې په دې کې تشبیه داهل کتابو سره ده اودا دکراهت دوهم علت دی اوددې علت په بنا باندې دامام داشتباه اوعدم اشتباه حال مساوي دی (۳).

---

(۱). واذا حاذته ولو بعضو واحد امرأة ولو أمة مشتهاة الخ ولا حائل بینهما الخ فی صلاة مطلقة مشترکة الخ تحریمة واداء فسدت صلاته لو مکلفا والا لا، (درمختار) قوله ولو أمة الخ ولعلها ولو أمه وعبارته فی الخزائن ولو محرمة اوزوجته (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۲ - ۵۷۳). ظفیر

(۲). ردالمحتار باب الامامة مطلب فی کراهة الامام فی غیر المحراب ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۴۵ . ظفیر

(۳). وکره الخ قیام الامام فی المحراب لاسجوده فیه وقدماه خارجه لان العبرة للقدم مطلقًا وان لم یشتبه حال الامام ان علل بالتشبه وان بالاشتباه فلا اشتباه فی نفی الکراهة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ص .... ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۲۴۵) ظفیر.

**دلمانځه په آخره کي يوسړي راغي اوپه صف کي ځای نسته نو هغه څه وکړي؟ سوال**:
(۱۲۱۷) څه فرمايي ددين عالمان په دی مسئله کي چي زيد اودس وکی اوپه جمعه کي دشريکيدلو دپاره ولاړی. په صف کي ځای باقي نسته اونژدی ده چي امام دواړه طرفته سلام وګرزوی. زيد په دی حالت کي څه وکړی؟
**جواب**: وروسته دی ودريږي اوپه جمعه کي دی شريك سی (۱).
**چي مقتديان دامام صرف يوطرفته ودريږي، اوبل طرف ته ونه دريږي، نوڅه حکم دی؟ سوال**:
(۱۲۱۸) که چيری مقتديان دامام راسته طرفته ودريږي اوچپه طرف ته هيڅوك نه وی. علیٰ هٰذا القياس هم دغه چپه طرف ته (اوسی) نوپه لمانځه کي خوبه قصور نه راځی؟
**جواب**: امام دی دصف په منځ کي ودريږي، داسنت دی. که چيری مقتديان ټول يوطرف ته دريدل نولمونځ صحيح سو، خوسره دکراهته. السنة ان يقوم فی المحراب ليعدل الطرفان ولو قام فی احد جانبی الصف يكره كذا فی الشامی (۲).
**دجومات دامام اقتداء په داسي ځای کي چي دهغه ترمينځه لاره حائله وي درسته نه ده**:
**سوال**: (۱۲۱۹) دجومات اودهغه کور کم چي دجومات دپاره وقف دی دهغه ترمينځه دمحلي دسړيو دتګ راتګ دپاره کوڅه واقع ده، نوپه مذکوره کورکي لمونځ کيدی سی؟ يعني چي په جمعي سره لمونځ کيږي نوکم لمونځ ګذار چي په دغه کور کي دی دهغوی اقتداء دجومات دامام سره درسته ده اوکه نه؟
**جواب**: ددغه کور اوجومات ترمينځ که چيری لاره حائله وی اوپه لاره کي صف قائم نه وی نواقتداء درسته نه ده. لاختلاف المكان كذا فی الشامی (۳). فقط
**دستنو ترمينځه امام ته دريدل ښنګه دي**: **سوال**: (۱۲۲۰) که چيری امام دجومات دستنو تر مينځ ودريږي اولمونځ ورکوی نوآيا په وجه دمشابهت دقيام فی المحراب په لمونځ کي به کراهت وی اوکه نه؟
**جواب**: په شامي کي دی. فی معراج الدراية من باب الامام الاصح ما روی عن ابی حنيفة انه قال اكره للامام ان يقوم بين الساريتين . الخ ، ددی څخه معلومه سوه چي ددوو ستنو

---

(۱). وان لم يجيئ حتی ركع الامام يختار اعلم الناس بهذه المسئلة فيجذبه ويقفان خلفه ولولم يجد عالماً يقف خلف الصف بحذاء الامام للضرورة، ولو وقف منفردا بغير عذر تصح صلوته عندنا . شامی ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۸. ظفير
(۲). ردالمحتار المحتار باب الامامة ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۸. ظفير
(۳). ولواقتدی من سطح داره المتصلة بالمسجد لم يجز لاختلاف المكان. ددی څخه مخکي دی : ويمنع من الاقتداء الخ فی طريق تجری فيه عجلة الخ اونهر تجری فيه السفن الخ اوخلاء فی الصحراء الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۲) ظفير .

تر مینځه دریدل مکروه دی. (۱) فقط

**پردې ښځه دبورقې سره اقتداء کولی سی اوکه نه؟ سوال:** (۱۲۲۱ \۱) دخپلی بی بی سره په جمعی سره لمونځ کول درست دی اوکه نه؟

(۱۲۲۲\۲) پردی ښځه دبورقی سره اقتداء کولی سی، اوکه نه؟

**جواب:** (۱) درست دی. فی الدر المختار اما اذا کان معهن واحد ممن ذکر اوامهن فی المسجد لایکره (۲). لیکن هغه دی وروسته ودروی دځان سره برابره دی نه دروی (۳).

(۲) که چیری یوځوك محرمه ښځه هم وی لکه خپله ښځه یاخور وغیره. نوغیر (یعنی پردی) ښځه هم دبورقی سره اقتداء کولی سی (۴). فقط

**صفونه سیده کول څنګه دی؟ سوال:** (۱۲۲۳)صفونه سیده کول څنګه دی؟

**جواب:** صفونه سیده کول سنت دی، ددی ډیر تاکید راغلی دی. (۵) فقط

**مقتدی به رکوع اوسجده دامام سره سمه کوی اوکه په توقف سره؟ سوال:** (۱۲۲۴) مقتدی به دامام سره (سم) خپل هیئت په رکوع اوسجدی وغیره کی بدلوی اوکه دامام څخه وروسته. یعنی کله چی امام دقومی څخه سجدی ته ولاړی نومقتدی به هم دامام سره سجده کوی اوکه وروسته. یعنی مقتدی ته انتظار کول پکاردی اوکه نه؟

**جواب:** مقتدی ته توقف کول پکاردی، دپاره ددی چی دمقتدی تکبیر وغیره دامام دتکبیر وغیره څخه مخکی ونسی (۶). کما هو مشاهد. فقط

**دامام سره په یوځای دریدلو سره لمونځ کیږی اوکه نه؟ سوال:** (۱۲۲۵) یوسړی دصف څخه اخواته سو اودامام سره برابر ودریدی، په دی صورة کی لمونځ کیږی اوکه نه؟

**جواب:** لمونځ دهغه سړی هم کیږی ځوك چی دامام سره برابر ولاړوی، په دی شرط چی دامام څخه مخکی نسی قدمونه یې لږ وروسته وی . لیکن بی ضرورته داسی کول ښه نه

(۱). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۸ . ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۹ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۶ . ظفیر

(۳). المرأة اذا صلت مع زوجها فی البیت ان کان قدمها بحذاء قدم الزوج لا تجوز صلاتهما بالجماعة وان کان قدماها خلف قدم الزوج الا انها طویلة تقع رأس المرأة فی السجود قبل رأس الزوج جازت صلاتهما لان العبرة للقدم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۳) ظفیر.

(۴). کما تکره امامة الرجل لهن فی بیت لیس معهم رجل غیره ولامحرم منه کاخته اوزوجته اوامته، اما اذا کان معهن واحد ممن ذکر اوامهن فی المسجد لایکره (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۹ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۶). ظفیر

(۵). قال رسول الله ﷺ سووا صفوفکم فان تسویة الصفوف من اقامة الصلوة وفی روایته عباد الله لتسون صفوفکم اولیخالفن الله بین وجوهکم (مشکوٰة باب تسویة الصفوف فصل اول ص ۹۸). ظفیر

(۶). قال النبی ﷺ، انما جعل الامام لیؤتم به (مسلم). ظفیر.

دی چې دصف څخه ووزی اویوازی دامام سره برابر ودریږی. (1) فقط

**اقتداء په بل کور کې درسته ده اوکه نه؟** **سوال:** (۱۲۲۶) دجامع مسجد په احاطه کې دوکانونه دی اوترهغه لوړ مدرسه ده. مدرسه دجومات دغولی سره متصل ده اویوه کړکۍ یې دجومات په محاذاتو کې ده. په دی صورة کې دباران اوګرمی په وجه چې دمسجد غولۍ پرېږدی، په مدرسه کې دلمونځ کوونکو اقتداء صحیح ده اوکه نه؟

**جواب:** په شامی کې یې ددی مسئلې په تحقیق کې دطویل کلام اواختلافاتو نقل کولو څخه وروسته لیکلی دی: ویؤیده ما فی البدائع حیث قال لو کان علی سطح بجنب المسجد متصل به لیس بینهما طریق فاقتدی به صح اقتداءه عندنا لانه اذا کان متصلاً به صار تبعًا لسطح المسجد (2). الخ ددی روایت څخه واضحه سوه چې په صورة مسئوله کې په مدرسه مذکوره کې دلمانځه کونکو اقتداء صحیح ده. فقط

**دلمانځه ورکولو څخه وروسته امام ته معلومه سوه چې دغسل ضرورت وو، اوس څه وکړی؟**

**سوال:** (۱۲۲۷) یوامام ته دسهار لمونځ ورکولو څخه وروسته معلومه سوه چې هغه ته دغسل ضرورت وو. اوس وخت وتلی وو نواوس څه کول پکاردی؟

**جواب:** دغسل کولو څخه وروسته دی پخپله هم لمونځ وکړی اوپه خپلو مقتدیانوکی چې څوك خبر کولی سی خبر دی کړی چې هغوی هم دلمانځه اعاده وکړی. (3)

## فصل خامس

### د امام پیروی او نور مسائل

**مقتدیان ددرود اودعاء پوره کولو څخه وروسته سلام وګرزوی اوکه دامام سره فوراً:** **سوال:** (۱۲۲۸) په آخری قعده کې دامام دسلام سره سمدستی مقتدیان سلام وګرزوی اوکه مقتدیان دخپل باقی مانده درود اودعاء پوره کولو څخه وروسته سلام وګرزوی؟

**جواب:** یوځای دی ورسره وګرزوی، البته که دیو مقتدی تشهد یعنی التحیات څه باقی پاته سی نودهغه پوره کولوڅخه وروسته دی سلام وګرزوی. په شامی کې دی: والحاصل

---

(1). ولوقام واحد بجنب الامام وخلفه صف کره اجماعا (درمختار) ای للمؤتم لیس علی الامام منها شیئ ویتخلص من الکراهة بالقهقری الی خلف لم یکن ضیقا علی ظاهر الخ ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۲۷ . ظفیر

(2). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۹ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۶ . ظفیر

(3). اذا اظهر حدث امامه وکذاکل مفسد فی رأی مقتد بطلت فیلزم اعادتها لتضمنها صلاة المؤتم صحة وفسادا کما یلزم الامام اخبار القوم اذا امهم وهد محدث اوجنب الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامت قبیل المواضع التی تفسد صلاة الامام دون المؤتم ص ۵۵۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۱). ظفیر

ان متابعة الامام فی الفرائض والواجبات من غیر تاخیر واجبة فان عارضها واجب لا ینبغی ان یفوت. بل یاتی به ثم یتابعه کما لوقام الامام قبل ان یتم المقتدی التشهد فانه یتمه ثم یقوم الخ بخلاف ما اذا عارضها [۱] سنة الخ.

**دامام دخپل مخالف دپاره بددعاء کول څنګه دي؟ سوال**: (۱۲۲۹) دیوجومات امام دفرض لمونځ څخه وروسته په دعاء کی دخپلو ذاتی مقدماتو مختلف فیه پربناء باندی فریق ثانی ته بده دعاء (یعنی ښرا) کوی اوپه مقتدیانو باندی آمین وایی. دافعل دهغه څنګه دی اوداسړی اولٰی بالامامت دی اوکه نه؟

**جواب**: که چیری ماثوره دعاګانی داقسم وایی چی په هغه کی بالاجمال ددښمنانو دپاره بددعاء وی نوپه دی کی څه حرج نسته اوپه خاص نوم اخستلوسره علی الاعلان اوبالجهر دعاء کول ښه نه دی. مقتدیانوته پکاردی چی پرهغه باندی آمین نه وایی. اوداسی سړی دچا څخه چی خلګ نفرت کوی. احق بالامامت نه دی. بلکی دفقهی په کتابونو کی دی چی که چیری دیوامام دبدو افعالو په وجهی سره لمونځ ګذار دهغه دامامت څخه کراهت کوی نوهغه ته امام کیدل مکروه دی اوپه هغه پسی لمونځ مکروه دی. لحدیث ابی داود: لا یقبل الله صلٰوة من تقدم قومًا وهم له کارهون الحدیث. کذا فی الدر المختار. ([۲]) فقط

**په یوجومات کی دوه امامان**: **سوال**: (۱۲۳۰) دجګړی په حالت کی په یوجومات کی ددوو امامانو کیدل جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: که چیری دوه امامان ددی دپاره وی چی یوامام څه خلګوته لمونځ ورکړی اوبیابل امام همدغه لمونځ نورو خلګوته ورکړی نودا مکروه دی ([۳]). فقط

(اوکه چیری دامنشاء وی چی دواړه امامان به وساتل سی کله به یولمونځ ورکوی اوکله دضرورت په وجه بل، نو ددی ګنجائش سته. ظفیر)

**په ناپاکو جاموکی لمونځ**: **سوال**: (۱۲۳۱) زید خپله ناپاکه جامه یوسړی ته دپاکولو دپاره ورکړه، کله چی هغه پاکه کړه اورایی وړه نوزید هغه واغوسته او دماخستن لمونځ یی ورکی دفارغ کیدلو څخه وروسته یی وکتل نوجامه هم هغه شان ناپاکه وه لیکن زید دشرم په وجه هیڅ ونه ویل. یوڅوکاله وروسته زیدته فکر ورغی چی دفلانی وخت لمونځ باطل سوی وو اوپه هغه کی مقتدیان هم ډیر وه، نواوس زید ته څه کول پکار دی؟

---

([۱]). ردالمحتار باب صفة الصلاة مطلب مهم فی تحقیق المتابعة للامام ص ۴۳۹ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۷۹. ظ

([۲]). الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامت ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ . ظفیر

([۳]). ولوصلی بعض اهل المسجد باقامة وجماعة ثم دخل المؤذن والامام وبقیة الجماعة فالجماعة المستحبة لهم والکراهة للاولی (عالمګیری الباب الثانی فی الاذان ص ۵۱ ج۱ ، ط. ماجدیه. ج۱ ص ۵۴). ظفیر

**جواب**: که چیری هغه پلیتی دپری مینځلو څخه پاته سوی وه اوپه مقدار کی مانع عن الصلوة وه نودهغه لمونځ اعاده ضروری (١) ده. اوکم مقتدیان چی ورته یادیږی هغوی ته اطلاع ورکول پکاردی. فقط

**دناپاکی په حالت کی امامت او دهغه متعلق احکام**: **سوال**: (١٢٣٢) په یوسړی باندی غسل واجب وو هغه امام جوړسو اولمونځ یی ورکی، دځه وخت تیریدلو څخه وروسته ورته یاد سو. امام دلمانځه قضاء راوګرځوله، اومقتدیانو ته یی اطلاع ورنه کړه. نودمقتدیانو لمونځ صحیح سو اوکه نه؟

**جواب**: قال فی الدر المختار: کما یلزم الامام اخبار القوم اذا امهم وهو محدث اوجنبٌ اوفاقدُ شرطٍ اورکنٍ وهل علیهم اعادتها ان عدلا نعم (٢) الخ. نومعلومه سوه چی امام ته په داسی حالت کی لازم دی چی مقتدیانو ته اطلاع وکړی اوداطلاع څخه وروسته هغوی ته ددغه لمونځ راګرځول پکاردی. که چیری اطلاع ونسوه نومقتدیان معذوره دی په هغوی باندی هیڅ مؤاخذه نسته. فقط

**دتشهدپه باره کی دامام متابعت**: **سوال**: (١٢٣٣) که چیری امام په مخکنی قعده کی دمقتدی فارغ کیدلو څخه مخکی دتشهد څخه ولاړسی نومقتدی ته دتشهد پوره کولو څخه وروسته دریدل پکاردی. او دوترو په قنوت کی که چیری امام دقنوت پوره کیدلو څخه مخکی رکوع ته ولاړسی نودهغه متابعت کول وی. په دی دواړو صورتونو کی وجه دفرق څه ده؟

**جواب**: وجه دفرق داده چی دعاءِ قنوت چی هرڅومره هم وسوه نوواجب اداء سو اوتشهد ټول واجب دی. اودا فرق علامه شامیؒ دمتابعت په تحقیق اوباب الوتر کی بیان کړی هم دی. رکع الامام قبل فراغ المقتدی من القنوت قطعه وتابعه. درمختار. قوله قطعه وتابعه لان المراد بالقنوت هٰهنا الدعاء الصادق علی القلیل والکثیر واتٰی به کافٍ فی سقوط الواجب وتکمیله مندوب (٣) الخ. وفی بحث المتابعة فان عارضها واجب لا ینبغی ان یفوته بل یاتی به ثم یتابع کما لو قام الامام قبل ان یتم المقتدی التشهد فانه یتمه ثم

(١). النجاسة انکانت غلیظة وهی اکثر من قدر الدرهم فغسلها فریضه والصلوة فیها باطلة (عالمگیری کشوری ص ٥٢ ج١ ، ط. س. ج١ ص ٤٢) کما یلزم الامام اخبار القوم اذا امهم وهو محدث اوجنب اوفاقد شرط اورکن وهل علیهم اعادتها ان عدلا نعم والا ندبت (الدر المختار مجتبایی. باب الامامة ص ٨٢ ج١ ، ط.س. ج١ ص ٥٩١). ظفیر

(٢). الدر المختار باب الامامة ص ٨٢ ج١ ، ط.س. ج١ ص ٥٩١. ظفیر

(٣). ردالمحتار باب الوتر ص ٢٢٧ ج١ ، ط.س. ج٢ ص ١٠ . ظفیر

يقوم (الى ان قال) فكان تاخير احد الواجبين مع الاتيان بهما اولى من ترك احدهما بالكلية ([1]) الخ. فقط

**كم امام چي د آخري قعدي پريښوولو په وجهي سره دلمانځه اعاده وكړه، نوپه هغه كي بُول شريكيدي سي: سوال:** (۱۲۳۴) امام آخري قاعده ونه كړه اودپنځه ركعاته كولو څخه وروسته يي سلام وګرزوی. ددی وجه لمونځ راګرځوی نواوس چي په مخكي لمونځ كي څوك شريك نه وو هغه په دی كي شريكيدی سي اوكه نه؟

**آخري قعده يي هم وكړه خو دواجب ترك كولو په وجهي سره اعاده كوی نوپه دي كي شركت دعامو خلكو دپاره درست دي اوكه نه؟ سوال:** (۱۲۳۵ \ ۲۱) كه چيری امام د آخري قعدي څخه وروسته پنځم ركعات وكی اودسجده سهوی څخه بغير يي سلام وګرزوی. او لمونځ بيا راګرزوی نواوس داسی سړی شريكيدی سی كم چي مخكي شريك نه وو؟

جواب: (۱) په دی صورة كي دهغه لمونځ كيږي ولي چي داخوظاهره ده چي د آخري قعدي په ترك كولو سره دهغه دجمعي فرض نه وو اداء سوی اوپر هغوی باندی دلمانځه اعاده ضروری ده. اوس په دغه اعاده كي كه چيری بل څوك شريك سی نو دهغوی دفرضو په شان دده فرض به هم ادا سی. ([2])

(۲) په دی صورة كي به دهغه لمونځ صحيح نه وی، ولی چي په دی صورة كي ددغه جماعت فرض كه څه هم ناقص دی. خوپه مخكي وار اداء سول. لهٰذا اوس به دا دوهم لمونځ نفل وی، دمفترض اقتداء په نفل كونكي پسی صحيح نه ده. ([3]) فقط

**دوفات سوی امام ديتيمانو بچيانو امداد: سوال:** (۱۲۳۲) يو امام دمحلي په جومات كي دمحلي والاوو په اتفاق سره مقرر سو تر ډيری مودی پوری يي دمحلي امامت كوی. په خدايي تقدير سره دامامت په حالت كي وفات سو. اويوڅو يتيمان بچي ځيني پاته سوه. اوس چي كمه وظيفه به دهغوی پلار ته دبيت المال څخه يادمحلي دخلګو دطرف څخه وركول كيدله شرعًا دهغه وظيفي حقدار دغه يتيمان بچي دی اوكه نه ؟

**جواب:** اقول وبالله التوفيق. دبيت المال همداحكم دی كم چي مذكورسوچي ددغه ماشومانو

---

([1]). ردالمحتار باب صفة الصلوة ص ۴۳۹ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۷۰. ظفير

([2]). ولو سها عن القعود الاول الخ مالم يقيد ها بسجدة الخ وان قيدها بسجدة عامدًا اوناسيًا اوساهيًا اومخطأً تحول فرضه نفلاً برفعه الجبهة عند محمد وبه يفتٰى (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ص ۲۹۸ ج۱ ، ط.س. ج۲ ص ۸۳). ظفير

([3]). ولها واجبات لاتفسد بتركها وتعاد وجوبًا الخ وكذا كل صلاة اديت مع كراهةِ التحريم تجب اعادتها والمختار انه جابر للاول لان الفرض لايتكرر (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلاة مطلب فى واجبات الصلاة ص ۴۲۴ ج۱ ، ط.س. ج۲ ص ۴۵۲). ظفير

امداد دی دهغوی دپلار دوظیفی څخه وسی اودمحلی خلګو به چی دخپلی چندی څخه کم څه امداد مرحوم ته ورکوی پرهغوی باندی هم دیتیمانو امداد لازم دی چی دوس مطابق دهغوی امداد وکړی. که څه هم دوی ته به دنوی امام ضرورت هم وی او غالبًا دهغه دتنخواه انتظام به هم کول وی. که چیری یوڅوك امام بی تنخواه پیدا نسی نوبیا هم دذکر سوو یتیمانو امداد دی هم پرخپل ځان باندی لازم وګڼی اودثواب کار دی وګڼی او أخروی ثواب دی حاصل کړی. (۱)

**چی په لمانځه کی دامام اودس مات سو اوهغه چاته ونه ویل نوددغه لمونځ اعاده په هریوه باندی ضروری ده: سوال:** (۱۲۳۷) که دامام اودس مات سواوپه دغه وخت کی هغه خلګو ته ونه ویل بلکی دلمونځ ګذارو دتللو څخه وروسته یی پخپله اعاده وکړه نو آیا دمقتدیانو دطرف څخه هم اعاده وسوه؟

**جواب:** ټول مقتدیان اوامام دی دهغه اعاده وکړی یوازی دامام په اعادی سره دمقتدیانو لمونځ نه صحیح کیږی. (۲)

**که چیری دجماعت لمونځ په څه وجهی سره باطل سی نوصرف دامام اعاده به دټولو دطرف څخه کافی نه وی: سوال:** (۱۲۳۸) امام دجمعی لمونځ ورکی، سهوًایی قرآئت غلط ووایه یابی اودسه وو یابی غسله وو په دی ټولو صورتونو کی دغلطی څخه دخبر کیدلو څخه وروسته ددغه لمونځ اعاده صرف دامام په ذمه ده اوکه دمقتدیانو په ذمه هم ده؟

**جواب:** په درمختار کی دی: واذا ظهر حدث امامه وکذا کل مفسد فی رأی مقتد بطلت فیلزم اعادتها الخ کما یلزم الامام اخبار القوم اذا امهم وهو محدث اوجنب. (۳) درمختار ددی عبارت څخه واضحه ده چی که چیری دامام لمونځ صحیح نه سو نو دمقتدیانو لمونځ هم نه کیږی. په ټولو باندی اعاده لازمه ده.

**که مقتدی دامام څخه مخکی سلام وګرزوی نوڅه حکم دی؟ سوال:** (۱۲۳۹) په تذکرة الرشید کی دی، چی که چیری مقتدی دامام څخه مخکی سلام وګرزوی اوفارغه سو نو دمقتدی لمونځ به فاسد سی. اودشامی، عالمګیری، بحر الرائق وغیره نه معلومیږی چی دمقتدی لمونځ به په دی صورة کی وسی خو سره د کراهته . دا مسئله دی مصرحه تحریر

---

(۱). قال رسول الله ﷺ من مسح رأس یتیم لم یمسحه الا لله کان له بکل شعرة یمر علیها یده حسنات ومن احسن الی یتیمة اویتیم عنده کنت انا وهو فی الجنة کهاتین وقرن بین اصبعیه رواه احمد (مشکوٰة باب الشفقة ص ۴۲۳). ظفیر

(۲). واذا ظهر حدیث امام وکل مفسد فی رأی مقتد بطلت فیلزم اعادتها لتضمنها صلاة المؤتم صحة وفسادا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۳۵۳ ج ۱ ، ط.س. ج ۱ ص ۵۹۱). ظفیر

(۳). وګوری الدر المختار مجتبایی باب الامامة ص ۸۲ ج ۱، ط. س. ج ۱ ص ۵۹۱. ظفیر

وفرمايل سي.

**جواب**: دامسئله کمه چي مو دتذکرة الرشيد څخه نقل کړيده دافرع ده. دامام دمتابعت دوجوب. ولې چي دمتابعت معنٰی داده چي دامام سره دی ارکان او واجبات اداء کوی یا دی دهغه څخه وروسته اداء کوی. مخکی دی نه کوی یعنی تقدیم ممنوع دی څنګه چي په شامی کی یی دمتابعت په تحقیق کی نقل فرمایلی دی. نعم تکون المتابعة فرضاً بمعنی ان یاتی بالفرض معه امامه اوبعده کما لو رکع امامه فرکع معه مقارناً او معاقباً (الی ان قال) والحاصل ان المتابعة فی ثلثة انواع مقارنة لفعل الامام مثل ان یقارن احرامه لاحرامه ورکوعه لرکوعه وسلامه لسلامه الخ اوچونکی په دی کی دوه قوله دی چي مقتدی دامام داقتداء څخه کوم وخت خارجیږی. په درمختار کی یی مشهوره مذهب دا لیکلی دی چي امام کم وخت السلام ووایه نو اقتداء ختمه سی نو ددی قول موافق خوپه لفظ السلام کی تقدیم کول نه دی پکار، کنی لمونځ به فاسد سی. اودوهم قول دا دی چي په دوهم سلام سره اقتداء ختمه سی. نوددی قول موافق پوره السلام علیکم ورحمة الله، دامام سره یا وروسته کیدل پکاردی. که چیری مخکی یی ختم کړی نو د مقتدی لمونځ به ددی قول موافق فاسد سی. نوپه تذکرة الرشید کی به یی احتیاطًا دا قول اختیار فرمایلی وی. وتنقضی قدوة بالاول قبل علیکم علی المشهور عندنا وعلیه الشافعیة خلافًا للتکملة (درمختار) حیث صحح ان التحریمة انما تنقطع بالسلام الثانی ([1]). شامی. اوکه چیری څه بل عبارت موپه مخکی وی نودهغه څخه موخبر کړی. فقط

**<u>دامام پر غیر حاضری باندی تنخواه پرې کول</u>**: **سوال**: (۱۲۴۰) دبمبئ دجامع مسجد امام صاحب په باره کی دجومات متولیانو داطریقه رائج لرلی ده چي دکم وخت په لمانځه کی هغه رانسی نوحساب ولګوی اودهغه وخت تنخواه ورڅخه کاټ کړی. آیا عند الشرع دا جائزدی؟

**جواب**: داسی کول جائزنه دی. اوداکار دعرف اوشرعی (دواړو) څخه خلاف ([2]) دی.

❊ ❊ ❊

---

([1]). ردالمحتار باب صفة الصلوة مطلب مهم فی تحقیق متابعة الامام ص ۴۳۹ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۷۰. ظفیر

([2]). وهل یاخذ ایام البطالة کعید ورمضان لم اره وینبغی الحاقه بباطلة القاضی واختلفوا فیها والاصح انه یاخذ لانها للاستراحة . اشباه من قاعدة العادة محکمة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الوقف ص ۵۲۵ ج۳ ، ط.س. ج۴ ص ۳۷۲) وفی القنیة من باب الامامة امام یترك الامامة لزیارة اقربائه فی الرساتیق اسبوعا او نحوه اولمصیبة اولاستراحة لاباس به ومثله عفو فی العادة والشرع (رد المحتار. کتاب الوقف مطلب فی الغیبة التی مستحق بها العزل عن الوظیفة وما لایستحق ص ۵۲۴ ج۳ ، ط.س. ج۴ ص ۴۲۰). ظفیر

# شپږم فصل

## دمدرک ، لاحق او مسبوق احکام

**مقتدیان په غلطی سره په دریم رکعات کښېنستل اوامام ولاړ وو لمونځ یی کوی: سوال**:
(۱۲۴۱) زید نابینا دی اوخالد بینادی اودواړه په جماعت کی شامل سوه چی کله امام دریم رکعات وکی او ودریدی نو دادواړه پوه سوه چی څلورم رکعات دی اوپه قعده کی کښېنستل. کله چی امام دڅلورم رکعات رکوع وکړه نوهلته دوی پوه سوه چی زموږ څخه غلطی وسوه، هغه وخت ولاړیدل قیام یی وکی اورکوع یی وکړه او دامام سره په سجده کی شامل سوه، دامام سره په قیام او رکوع کی شامل نه سول، ددوی دپاره څه حکم دی؟
**جواب**: که چیری زید اوخالد (ځان ته) رکوع وکړه اوبیا په سجده کی دامام سره شامل سوه او بیایی دامام دلمونځ ختمولو څخه وروسته خپل باقیمانده رکعتونه یې پوره کړل نو لمونځ ددوی صحیح سو. (۱) فقط

**دمسبوق امامت**: **سوال**: (۱۲۴۲) دمسبوق امامت درست دی اوکه نه؟ مثلاً زید لمونځ ورکوی، بکر په دوهم یادریم رکعات کی شریك سو. کله چی زید دلمانځه څخه فارغ سو نوبکر دباقی لمونځ پوره کولو دپاره ودریدی نوخالد راغی، اودهغه شاته یی لمونځ شروع کی نو دخالد لمونځ درست دی اوکه نه؟
**جواب**: دمسبوق اقتداء درسته نه ده هغه دانفراد په حالت کی دامام فارغه کیدلو څخه وروسته دنورو امام نسی جوړیدی کما فی الدر المختار: لایجوز الاقتداء به (۲). فقط

**لاحق څه رکم لمونځ پوره کړی**: **سوال**: (۱۲۴۳) ددین علماء څه فرمایی په دی مسئله کی چی کله یوسړی دمازیگردوه رکعاته دامام سره وکړل نواودس یی مات سو، فوراً داودس دپاره ولاړی او داودس څخه وروسته دامام سره په آخری قعده کی یوځای سو اوس به هغه آخری دوه رکعاته څه رکم پوره کوی؟ اوکه چیری هغه په دریم رکعات کی یوځای سو نوڅه رکم به یې پوره کوی؟
جواب: حکم ددی داوو چی کله هغه داودس څخه دفارغه کیدلو څخه وروسته راغلی وو اول یی هغه دواړه رکعاته دقرآئت څخه بغیر کړی وای کم چی دبی اودسه کیدلو په وجهی سره فوت سوی وه. بیا که چیری امام په لمانځه کی وی نو دهغه سره به شامل

(۱). اذا کبر مع الامام ثم نام حتی صلی الامام رکعة ثم انتبه فانه یصلی الرکعة الاولی وان کان الامام یصلی الرکعة الثانیة ولو لم یشتغل بقضاء ما سبقه الامام ولکن یتابع الامام اولا ثم قضی ما سبقه الامام بعد تسلیم الامام جازت صلوته عندنا (عالمگیری مصری فی المسبوق اللاحق ص ۸۷ ج۱ ، ط. م. ج۱ ص ۹۲) ظفیر.
(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ص۵۵۸ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۷. ظفیر

سوی وای، اوباقی ارکان به یی پوره کړی وای. لیکن داسی یی وکړل چی داودس کولو څخه وروسته دامام سره یوځای سو نواوس دی دامام دسلام ګرځولو څخه وروسته دغه دواړه رکعاتونه دقرآئت څخه بغیر پوره کړی اودا صورة فقهاوو مکروه لیکلی دی اوپه دی کی ګنهګاریږی.

په درمختار ص ۵۵۲ کی دی: والاحق من فاتته الرکعات کلها اوبعضها لکن بعد اقتداء بعذر کغفلة وزحمة وسبق حدث الخ وحکمه کموتم فلایاتی بقرآءة ویبدء الخ بقضاء ما فاته عکس المسبوق ثم یتابع امامه (الی قوله) ولوعکس صح واثم الخ. اوهمدا حکم په دریم رکعات کی دشریکیدلو دی. (۱) فقط کتبه عزیز الرحمٰن.

**<u>که چیری امام لاحق خلیفه جوړ کړی نوهغه به لمونځ څه رکم پوره کوی</u>: سوال**: (۱۲۴۴) اگر امام را درنماز حدث لاحق شود ومقتدی لاحق راخلیفه سازد پس این خلیفه نماز را چگونه تمام کند؟

**جواب**: امام را اگر حدث لاحق شود ولاحق راخلیفه سازد او بعد تمام صلوٰة قوم مدرك را خلیفه سازد که سلام دهد ولاحق نماز خود راتمام کند (استخلف لاحقًا الی قوله مضی علی صلوٰة الامام واخر ما علیه حتی انتهٰی الی موضع السلام واستخلف من سلم بهم جاز عندنا، فتاوٰی عالمګیری ص ۹۵ ج۱ نولکشوری، محمد جمیل الرحمٰن)

**<u>کله چی امام سورة ناس ووایه نو مسبوق مقتدی به کم سورة وایی</u>: سوال**: (۱۲۴۵) یوسړی دماښام په لمانځه کی په دوهم رکعات کی راغی شامل سو، اوامام په دوهم رکعات کی قل اعوذ برب الناس ووایه نواوس دی مقتدی ته دجمعی پوره کیدلو څخه وروسته کم سورة ویل پکاردی؟

**جواب**: په دی صورة کی دی مقتدی ته اختیار دی چی کم سورة غواړی ودی وایی، دټول قرآن کریم څخه یی اختیار (۲) دی. (ځکه چی دقرآئت په باب کی فوت سوی رکعتونه دابتداء په حکم کی دی. ظفیر)

**<u>مسبوق خپل باقی لمونځ څنګه پوره کړی؟</u> سوال**: (۱۲۴۶) که چیری امام مقیم وی او مقتدی په څلور رکعاته لمونځ کی په آخری رکعات کی شریك سو. نومقتدی به دامام دسلام ګرځولو څخه وروسته په دری واړو رکعاتونو کی څه وایی. آیادری واړه رکعاتونه

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص فی احکام المسبوق المدرك واللاحق ص ۵۵۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۴. ظفیر

(۲). والمسبوق من سبقه الامام بها اوببعضها وهو منفرد فیما یقضیه ؒ ویقضی اول صلاته فی حق قرآءة واخرها فی حق تشهد (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۵۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۲) ظفیر.

به دقرآت څخه بغير په خاموش اوسيدلو سره ختموی يادوه رکعاته په الحمد اوسورة سره اويو رکعات به صرف په الحمد سره وايی؟

**جواب**: کم سړی چی يورکعات دامام سره کړی دی هغه مسبوق دی. که چيری لمونځ څلور رکعاته وی نوباقی به په داشان سره وايی چی په دوو رکعاتونو کی دی فاتحه ووايی او سورة دی هم ورسره يوځای کړی اوپه يورکعات کی دی صرف فاتحه ووايی. والمسبوق من سبقه الامام بها او ببعضها وهو منفرد حتی يثنی ويتعوذ الخ (درمختار) ، ويقرأ لانه يقضی اول صلاته فی حق القراءة كما يأتی حتٰی لوترك القراءة لفسدت ([1]) كذا فی الشامی (وفی الفيض عن المستصفی لو ادركه فی ركعة الرباعی يقضی ركعتين بفاتحة وسورة ثم يتشهد ثم باقی بالثالثة بفاتحة خاصة عند ابی حنيفة رحمه الله وقالا ركعة بفاتحة وسورة وتشهد ثم ركعتين اولاهما بفاتحة وسورة وثانيهما بفاتحة خاصة ([2]) اهـ. ظفير)

<u>**چی امام مسافر وی نومسبوق به خپل لمونځ څه رکم پوره کوی**</u>: **سوال**: (۱۲۴۷) مقيم دماپښين په وخت کی دمسافر اقتداء وکړه اوهغه يورکعات ونيوی. مسافر چی دوه رکعاته وکړل نوسلام يی وګرزوی. اوس هغه مقيم کم چی مسبوق دی دری رکعاته څنګه اداء کړی. يعنی په دی رکعاتونو کی الحمد اوسورة ووايی اوکه څنګه؟

**جواب**: ددرمختار اوشامی دروايت څخه معلوميږی چی داسړی لاحق اومسبوق دی. مخکی دوه رکعاته دی دقرآئت څخه بغير اداء کړی اوآخری رکعات دی دقرآئت سره اداء کړی. ([3]) فقط

---

([1]). وګوری الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۵۷ - ۵۵۸** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۹۷**. ظفير

([2]). رد المحتار باب الامامة ص **۵۵۸** ج۱ ، ط. س. ج۱ ص **۵۹۷**. ظفير

([3]). واللاحق من فاتته الركعات كلها أو بعضها لكن بعد اقتدائه بعذر كغفلة وزحمة وسبق حدث ومقيم ائتم بمسافر ﷺ وحكمه كمؤتم ﷺ يبدأ بقضاء ما فاته عكس المسبوق، ثم يتابع إمامه إن أمكنه إدراكه، وإلا تابعه، ثم صلى ما نام فيه بلا قراءة ثم ما سبق به بها إن كان مسبوقا أيضا ، ولو عكس صح وأثم، لترك الترتيب (درمختار) قَوْلُهُ ثُمّ مَا سُبِقَ بِهِ بِهَا إلَخْ أَيْ ثُمّ صَلّى اللّاحِقُ مَا سُبِقَ بِهِ بِقِرَاءَةٍ إنْ كَانَ مَسْبُوقًا أَيْضًا ، بِأَنْ اقْتَدَى فِي أَثْنَاءِ صَلَاةِ الْإِمَامِ ثُمّ نَامَ مَثَلًا . وَهَذَا بَيَانٌ لِلْقِسْمِ الرّابِعِ وَهُوَ الْمَسْبُوقُ اللّاحِقُ. وَحُكْمُهُ أَنّهُ يُصَلّي إذَا اسْتَيْقَظَ مَثَلًا مَا نَامَ فِيهِ ثُمّ يَتَابِعُ الْإِمَامَ فِيمَا أَدْرَكَ ثُمّ يَقْضِي مَا فَاتَهُ . اهـ . بَيَانُهُ انه لو سبق بركعة من ذوات الاربع ونام فِي رَكْعَتَيْنِ يُصَلّي أَوّلًا مَا نَامَ فِيهِ ثُمّ مَا أَدْرَكَهُ مَعَ الْإِمَامِ ثُمّ مَا سُبِقَ بِهِ فَيُصَلّي رَكْعَةً مِمّا نَامَ فِيهِ مَعَ الْإِمَامِ وَيَقْعُدُ مُتَابَعَةً لَهُ لِأَنّهَا ثَانِيَةُ إمَامِهِ ثُمّ يُصَلّي الْأُخْرَى مِمّا نَامَ فِيهِ ، وَيَقْعُدُ لِأَنّهَا ثَانِيَتُهُ ثُمّ يُصَلّي الّتِي انْتَبَهَ فِيهَا ، وَيَقْعُدُ مُتَابَعَةً لِإِمَامِهِ لِأَنّهَا رَابِعَةٌ ، وَكُلّ ذَلِكَ بِغَيْرِ قِرَاءَةٍ لِأَنّهُ مُقْتَدٍ ثُمّ يُصَلّي الرّكْعَةَ الّتِي سُبِقَ بِهَا بِقِرَاءَةِ الْفَاتِحَةِ وَسُورَةٍ وَالْأَصْلُ أَنّ اللّاحِقَ يُصَلّي عَلَى تَرْتِيبِ صَلَاةِ الْإِمَامِ ، وَالْمَسْبُوقُ يَقْضِي مَا سُبِقَ بِهِ بَعْدَ فَرَاغِ الْإِمَامِ . **ردالمحتار باب الامامة** =

**دامام دقرآءت کولو په حالت کی چی کم مقتدی شریک سی هغه ته ثناء ویل نه دی پکار**:

**سوال**: (۱۲۴۸) په جمعه کی دامام دقرآئت دشروع کولو ځخه وروسته که چیری ځوك شریك سو، نوهغه ته ثنا ویل پکاردی اوکه نه؟

**جواب**: هغه ته ثناویل نه دی [1] پکار.

**ځوک چی په رکوع کی شریک سی دهغه دپاره ثنا نسته**: **سوال**: (۱۲۴۹) کم سړی چی په رکوع کی شریك سو، دهغه ځخه ثنا ساقطه سوه اوکه نه؟

**جواب**: ثناء دهغه ځخه ساقطه سوه. [2] فقط

**مسبوق دی دسجدی سهوی په سلام کی دامام اقتداء نه کوی خوسجده دی وکړی**: **سوال**: (۱۲۵۰) چی امام دسجده سهوی دپاره سلام گرزوی نومسبوق دی دامام سره سلام وگرزوی اوکه بغیر دسلام گرځولو ځخه په سجده سهوه کی شریك سی؟

**جواب**: مسبوق دی امام سره سلام نه گرزوی لیکن په سجده سهوه کی دی شریك اوسی. په درمختار کی دی: والمسبوق یسجد مع امامه. قال فی الشامی قید بالسجود لانه لا یتابعه فی السلام بل یسجد معه ویتشهد فاذا سلم الامام قام الی القضاء [3]. فقط

**دسلام ځخه لږ مخکی په جمعه کی شریکیدونکی تشهد پوره کړی اوکه دسلام ځخه وروسته فوراً ودریږی**: **سوال**: (۱۲۵۱) امام راسته طرف ته سلام گرځوونکی وو چی مسبوق راغی، اوشامل سو. اوس به مسبوق خپل تشهد پوره کوی او ولاړیږی به. اوکه دسلام ځخه وروسته فوراً ودریږی. په امداد الفتاویٰ کی حضرت مولانا اشرف علی صاحب تحریر فرمایلی دی چی مسبوق دی دتشهد پوره کولو ځخه وروسته ولاړیږی.

**جواب**: دغه سړی دی دتشهد پوره کولو ځخه وروسته ولاړیږی. ځنگه چی حضرت مولانا اشرف علی صاحب په امداد الفتاویٰ کی لیکلی [4] دی. فقط

---

= مطلب فی احکام المسبوق والمدرك واللاحق ص ۵۵۲ – ۵۵۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۴) ظفیر.

(1). وقرأ سبحانك اللهم ﷻ الا اذا شرع الامام فی القراءة سواء کان مسبوقا اومدرکاً وسواء کان امامه یجهر بالقراءة اولا، فانه لا یاتی به لما فی النهر عن الصغری ادرك الامام فی القیام یثنی ما لم یبدأ القراءة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلاة ص ۴۵۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۸۸). ظفیر

(2). وقرأ سبحانك اللهم ﷻ الا اذا شرع الامام فی القراءة ﷻ فلا یأتی به ولو ادرکه راکعا اوساجدا ان کبر رأیه انه یدرکه اتی به (ایضاً ، ط.س. ج۱ ص ۴۸۸). ظفیر

(3). ردالمحتار باب سجود السهو ص ۲۹۲ ج۱ ، ط.س. ج۲ ص ۸۲. ظفیر

(4). بخلاف سلامه اوقیامه لثالثة قبل إتمام المؤتم التشهد فانه لایتابعه بل یتمه لوجوبه ولم یتم جاز (درمختار) وشمل باطلاقه ما لواقتدی به اثناء التشهد الاول او الاخیر فحین قعد قام امامه اوسلم ومقتضاه انه یتم التشهد ثم یقوم ولم اره صریحاً ثم رأیته فی الذخیرة ناقلا عن ابی اللیث المختار عندی انه یتم التشهد وان لم یفعل اجزأه اهـ (ردالمحتار باب صفة الصلاة ص۴۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۹۲). ظفیر

**چې مسبوق دامام سره په هيره سلام وګرزوی بيا دياديدلو څخه وروسته ودريږی نو پر هغه باندي سجده سهوه سته**: **سوال**: (١٢٥٢) دامام سره مسبوق سلام وګرځوی بيا ورته راياد سو چې ستا په ذمه خو يورکعات دی، او ولاړ سو. نوپه دی صورة کی دمسبوق په ذمه سجده سهوه لازمه ده اوکه نه؟

**جواب**: په دی صورة کی سجده سهوه دمسبوق په ذمه لازمه ده فی الدر المختار: ولوسلم ساهيًا بعد امامه لزمه السهو والا لا ۱ھ (درمختار) قوله والا لا ای وان سلم معه اوقبله لا يلزمه لانه مقتد فی هاتين الحالتين الی ان قال قلت يشير الی ان الغالب لزوم السجود لان الاغلب عدم (١) المعية. ۱ھ شامی جلد اول ص ۴٠٢ فقط.

**دامام دلمانځه په باطليدلوسره دمسبوق لمونځ هم باطل دی**: **سوال**: (١٢٥٣) امام دماپښين په لمانځه کی آخری قعده بالکل ونه کړه اوپه هيره يې پنځم رکعات هم وکی. اوس دکم مسبوق چې يورکعات تللی وو هغه په دی خيال چې زما آخری قعده خو دامام په پنځم رکعات کی ده، دامام اقتداء يې ماته کړه. امام خو دشپږم رکعات دپاره ودريدی اوهغه خپل څلور رکعاته وکړل اوسلام يې وګرزوی. اوس مسبوق وايي چې زما څلور رکعاته اداء سول ولی چې ما آخری قعده پرې ايښی نه ده اوامام آخره قعده پرې ښوولە دهغه لمونځ نفل سو. آيا عندالله دمسبوق فرض په دی حالت کی اداء سوه اوکه دامام په شان دهغه لمونځ هم نفل سو. او داقتداء ماتولو په وجهی سره نفل صحيح سول اوکه نه؟ په داسی حالت کی مسبوق ته اقتداء ماتول جائز وو اوکه نه؟

**جواب**: کله چې دامام لمونځ دآخری قعدی نه کيدلو په وجه ونسو، اوفرضيت دهغه باطل سو نودمسبوق لمونځ هم باطل سو يعنی فرضيت دهغه اداء نسو هغه ته لمونځ کول پکار دی. (٢) فقط

**که مسبوق په زيات رکعات کی اقتداء وکړه، نو دهغه لمونځ باطل دی**: **سوال**: (١٢٥۴) دماښام په لمانځه کی يو سړی په آخری قعده کی شامل سو اوهغه ته داعلم وسو چې دا آخری قعده ده، خوامام ته سهوه وسوه چې شايد دامخکنی قعده ده. امام په دی خيال سره دخپل لمونځ دپوره کولو دپاره ولاړسو، امام سجده سهوه هم وکړه، چونکه آخری

---

(١). ردالمحتار باب الامامة مطلب احکام المسبوق ص ۵٢٠ ج١ ، ط.س. ج١ ص ۴٩٢. ظفير

(٢). من فرائضها التی لاتصح بدونها التحريمة الخ منها القعود الاخير (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ص ۴١٧ ج١ ، ط.س. ج١ ص ۴۴٢) واذا ظهر حدث امامه وکذا کل مفسد فی رأی مقتد بطلت فيلزم اعادتها لتضمنها صلاة المؤتم صحة وفسادا کما يلزم الامام اخبار القوم اذا أمهم وهو محدث او جنب او فاقد شرط او رکن (ايضًا باب الامامة ص ٣۵٣ ج١ ، ط.س. ج١ ص ۵٩١). ظفير

رکعت دامام زائد رکعت یانفل رکعت وو. اوس کم سړی چی په آخری قعده کی په جمعه کی شامل سوی ووهغه یورکعت دجمعی سره وکی اوس به داسړی دری رکعاته اداء کوی اوکه دوه رکعاته. که چیری ددری رکعاتو داداء کولو حکم وی نوددی وضاحت دی وسی چی په کم رکعت کی قعده وسی. اوپه کم رکعت کی نه. اوکه چیری یوسړی په دی زائد رکعت کی شامل سو چاته چی داعلم نه وو چی کم یورکعت دی نودهغه دپاره څه حکم دی؟

**جواب**: که چیری دغه مسبوق په هغه زائد رکعات کی کم چی نفل وه دخپل امام تابع پاته وو نودهغه لمونځ فاسد سو هغه دی مات کړی اودنوی سره دی لمونځ وکړی. ولوقام امامه فی الخامسة فتابعه ان بعد القعود تفسد (۱) الخ درمختار. اوپه دغه زائد نفل رکعات کی چی کم سړی شامل سی دهغه به هم فرض نه کیږی هغه دی بیا لمونځ وکړی. فقط

**<u>چی مسبوق په هیره دسلام ګرځولو څخه وروسته دعاء وکړی بیا ورته یادسی، نوڅه وکړی؟</u>**

**سوال**: (۱۲۵۵) یوسړی په لمانځه کی په داسی وخت کی شامل سو چی یو رکعات سوی وو. هغه دامام سره سلام وګرزوی بیایی لاسونه پورته کړل اوپه عربی ژبه کی یی دعا هم وغوښته بیا ورپه یادسو چی ستاخو یویا دوه رکعاته باقی دی. دهغه دپاره څه حکم دی؟

**جواب**: بغیر دڅه کلام اوخبری کولو څخه که چیری ولاړ سو که څه هم سلام یی وګرزوی اولاسونه یی پورته کړل دعایی هم وغوښته. دهغه لمونځ صحیح سو په آخره کی دی سجده سهوه وکړی. (۲) فقط

**<u>مسبوق دی دامام په آخره قعده کی صرف التحیات ووایی</u>**: **سوال**: (۱۲۵۶) که چیری مسبوق دامام سره دمازیګر یاماښام په دوهم رکعات کی شریك سی نوپه امام پسی په اوله قعده کی صرف التحیات، اوپه دوهمه قعده کی به التحیات اودرود اودعاءِ ماثوره وایی اوکه نه؟

**جواب**: ویل نه دی پکار بلکی التحیات دی داسی په کرار کرار ووایی چی دامام ترسلام ګرځولو پوری ختمه سی اوکه مخکی ختمه سی نوده ته اختیار دی که خوښه یی وی چپ دی ناست اوسی اوکه خوښه یی وی دتشهد کلمه دی ووایی اوکه خوښه یی وی التحیات

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة مطلب فی احکام المسبوق اهـ ص ۵۲۰ ج۱ قبیل باب الاستخلاف. ظفیر

(۲). لوسلم ساهیًا ان بعد امامه لزمه السهو والا لا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار، قبل باب الاستخلاف ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۹). ظفیر

دی دوباره (۱) ووایی.

**<u>مسبوق دی دامام سره التحیات وایی</u>**: **سوال**: (۱۲۵۷) که چیری مسبوق دمابنام په دریم رکعات کی دامام سره شریك سی نوپه آخری قعده کی به دامام سره التحیات اودرود اودعا وایی اوکه نه؟

**جواب**: التحیات ویل پکاردی. نه درود اودعا (۲). فقط

**<u>دامام دالسلام ویلو څخه وروسته اقتداء درسته نه ده</u>**: **سوال**: (۱۲۵۸) دامام دمخکنی سلام ګرځولو په وخت کی یوسړی دأَلسَّلَامُ په ختمیدلو باندی اودوهم دالسلام (علیکم) په ختمیدلو باندی اودریم په أَلسلام علیکم ورحمة الله باندی شامل سو. نوهغوی ته دجمع ثواب حاصل سو اوکه نه؟ اوداسړی په جمعه کی شریك سو اوکه نه؟

**جواب**: په درمختار کی دی وتنقضی قدوة بالاول قبل علیکم (۳). الخ ددی څخه معلومه سوه چی امام کله لفظ دأَلسَّلَامُ ووایه، نودهغه څخه وروسته اقتداء درسته نه ده اودغه سړی دامام سره شامل نسو، خپل لمونځ دی یوازی وکړی او تحریمه دی یوازی ووایی او لمونځ دی شروع کړی خپل ځان دی دامام مقتدی نه ګڼی (۴). فقط

**<u>په جهری لمانځه کی به مسبوق جهری قرآئت وایی اوکه سری</u>**: **سوال**: (۱۲۵۹) په کم لمانځه کی چی قرآئت جهراً دی په هغه کی که چیری څوك دیو یادوه رکعاتونو دکیدلو څخه وروسته شریك سو نودامام دسلام ګرځولو څخه وروسته به په فوت سوی رکعات کی قرآئت جهراً کوی اوکه نه؟

**جواب**: هغه ته په جهریه (لمونځ) کی قرآئت بالجهر ویل ښه دی اوکرار ویل هم درست دی. اوکه جهراً کوی نوپه ادنٰی جهر دی اکتفاء وکړی ځکه چی هغه په قضاء دماسبق کی منفرد دی. اومنفرد ته په جهر اوسرکی اختیار وی. ویخیر المنفرد فی الجهر وهو افضل ویکتفی بادناه ان ادی الخ. درمختار. (۵) فقط

---

(۱). ومن جملتها انه قیل انه اذافرغ (المسبوق) من التشهد قبل سلام الامام یکرره من اوله وقیل یکرر کلمة الشهادة وقیل یسکت وقیل یاتی بالصلاة والدعاء والصحیح ان یترسل لیفرغ من التشهد عند سلام الامام (غنیة المستملی ص ۴۴۱) ظفیر.

(۲). حواله سابق. ظفیر

(۳). الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب واجبات الصلاة ص ۴۳۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۴۲۸. ظفیر

(۴). قوله وتنقضی قدوة بالاول ای بالسلام الاول قال فی التجنیس الامام اذافرغ من صلاته فلما قال السلام جاء رجل واقتدی به قبل ان یقول علیکم لایصیر داخلا فی صلاته لان هٰذا سلام (ردالمحتار باب صفة الصلاة مطلب واجبات الصلاة ص ۴۳۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۲۸) ظفیر.

(۵). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلاة فصل فی القرآئت ص ۴۹۸ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص =

**په ځلور رکعاته لمانځه کي يو رکعات نيوونکي په باقي رکعاتونو کي قرآئت کم ځاي وکړي،**

**سوال**: (۱۳۲۰) مقتدی په ځلور رکعاته لمانځه کی په جمعی سره يورکعات لاندی کی. دامام دسلام څخه وروسته چی دی کم دری رکعاته کوی نو په هغه کی قرآئت په کم يو رکعات کی کوی؟

**جواب**: په در المختار احکام المسبوق کی دی: ویقضی اول صلوته فی حق قرآء ة واٰخرها فی حق تشهد [1] الخ. ددی روايت څخه معلومه سوه چی مسبوق به په صورة مسئوله کی دامام دسلام څخه وروسته په مخکنيو دوو رکعاتوکی قرآئت وايی اوپه آخری يورکعات کی دی صرف الحمد ووايی. فقط

(وفی رد المحتار عن المستصفی لو ادرکه فی رکعة الرباعی يقضی رکعتين بفاتحة وسورة ثم يتشهد ثم باقی بالثالثة بفاتحة خاصة عند ابی حنيفة رحمه الله وقالا رکعة بفاتحة وسورة وتشهد ثم رکعتين اولاهما بفاتحة وسورة وثانيهما بفاتحة خاصة [2] اهـ. ظفير)

**مقيم مقتديان په مسافر امام پسي باقي لمونځ څنګه پوره کړي؟** **سوال**: (۱۲۲۱) امام مسافر دی اومقتدی مقيم دی، که چيری مقتدی مذکور دامام مذکور سره په ځلور رکعاته لمانځه کی په اول رکعات کی شريك سوی وی، نوڅه رکم لمونځ پوره کړی؟

**سوال**: (۱۲۲۲ \۲) اوڅوك چی په دوهم رکعت کی شريك سوی وی نولمونځ به څه رنګه پوره کوی ؟

**سوال**: (۱۲۲۳ \۳) اوڅوك چی په التحيات کی شريك سوی وی نو خپل لمونځ څه رکم وکړی؟

**جواب**: (۱) نوټ: ددی اولنی جواب مفتی عنايت الٰهی ليکلی وو. دمفتی عنايت الٰهی جواب: په مخکنی صورة کی مقتدی لاحق دی. دامام سره دلمونځ دپوره کولو څخه وروسته دی باقی مانده دوه رکعاته دقرآئت څخه بغير وکړی.

(۳،۲) په آخری دواړو صورتونو کی مقتدی مسبوق دی. په دوهم صورة کی دامام دسلام څخه وروسته دی ودريږی په مخکی رکعات کی دی فاتحة الکتاب ووايی. اوپه دريم صورة کی مقتدی په ځلورو واړو رکعاتونوکی مسبوق دی لهٰذاامام سلام څخه وروسته دی په مخکنيو دوو رکعاتونوکی الحمد اوسورة ووايی اوددوهم رکعات په آخره کی دی

---

= **۵۳۳**. ظفير.

(1). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة مطلب فی المسبوق واللاحق ص **۵۵۸** ج۱ ، ط. س. ج۱ ص **۵۹۷**. ظفير.

(2). وګوری الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۵۷** – **۵۵۸** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۹۷**. ظفير

صرف الحمد ووایي. فقط حرره عنایت الٰهی، وأملاه خلیل احمد.

**جواب**: (دحضرت مفتی صاحب دار العلوم څخه)

دفقهی دکتابونو دتفصیل مطابق اولنی جواب صحیح دی او ددوهم اودریم سوال جواب دادی چی په دواړو صورتونو کی مقتدی لاحق اومسبوق دی. اوحکم دداسی مقتدی دا دی چی مخکښی دوه رکعاته دی بغیر دقرآئته اداء کړی په کم کی چی لاحق دی. او وروسته دی هغه رکعت اداء کړی په کم کی چی مسبوق دی. نو په دوهم صورة کی دی مخکښی دوه رکعاته بغیر قرائته اداء کړی اوبیادی دوه رکعاته دقرآئت سره اداء کړی.

ومقیم ائتم بمسافر قوله ومقیم ای فهو لاحق بالنظر للاخیرتین وقد یکون مسبوقًا ایضًا کما اذا فاته اول صلاة امامه المسافر. شامی (۱). وحکمه کمؤتم فلا یاتی بقراءة الخ ویبدء بقضاء ما فات عکس المسبوق الخ قوله ثم ماسبق به بها الخ ای ثم صلی اللاحق ماسبق به بقرآئة وان کان مسبوق ایضًا. الخ شامی (۲)

په دوهم او دریم رکعات کی مقتدی مقیم محض مسبوق ګرځول دفقهاوو دتصریحاتو څخه خلاف دی اوټول رکعاتونه دقرآئت سره اداء کول هم دفقهاوو دمقرری قاعدی څخه خلاف دی.

**<u>دکم لاحق چی اودس مات سی نو هغه په اودس کی مسواک کولی سی اوکه نه؟</u> سوال**:

(۱۲۲۴) کله چی په لمانځه کی اودس مات سی اولاحق داودس اراده وکړی نوپه دغه اودس کی مسواك کولی سی اوکه نه؟

**جواب**: کولی یې سی (۳). فقط (واذا ساغ له البناء توضا فورًا بکل سببه (در مختار) ای من سنن الوضوء لان ذلك من باب اکماله فکان من توابعه فیحتمل کما یحتمل الاصل بدائع (رد المحتار. باب الاستخلاف ص ۵۲۲ - ۵۲۷ ج۱. ظفیر)

**<u>مسبوق په هیره سلام وګرزوی چی ورپاد سو نو باقی رکعات یی پوره کی، نولمونځ صحیح سو</u>: سوال**: (۱۲۲۵) یومسبوق سهوًا دامام سره سلام وګرزوی. مقتدی مسبوق ته وویل چی ته یورکعات بل وکړه په دی سره مسبوق ته هغه رکعات ورپاد سو اومسبوق غلی ولاړ سو اورکعات یی وکی. نودهغه لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ دهغه صحیح سو. هٰذا هو الاصح (۱). فقط (خوهغه ته سجده سهوه کول پکار دی. احتیاط په همدی کی دی. (۲) ظفیر)

---

(۱). ردالمحتار. باب الامامة مطلب فی احکام المسبوق الخ ص ۵۵۲ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۹۴. ظفیر

(۲). ایضًا ص ۵۵۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۲. ظفیر

(۳). ومنها السواك ای من سنن الوضوء (عالمگیری مصری سنن وضو ص۷) ظفیر.

**که لاحق خپل تللی رکعات دمسبوق په شان پوره کړي نوڅه حکم دی؟ سوال:** (۱۲۲۶) دماخستن په لمانځه کې مقتدی په دریم رکعات کې په ولاړه ولاړه بیده سو، کله چې امام یورکعات پوره کې نوهلته دخوب څخه ولاړسو. نوهغه دامام دسلام څخه وروسته دمسبوق په شان باقی لمونځ اداء کې. نودا لمونځ درست سو اوکه نه؟

**جواب:** لمونځ صحیح سو اوهغه ته دلاحق په شان دقرآئت څخه بغیر دغه رکعات کول پکار دی ([3]). فقط

**کم امام چې بی اودسه سو اوخلیفه یې جوړکې نواوس چې هغه راسی نواقتداء وکړي اوکه امام جوړسی؟ سوال:** (۱۲۲۷) امام بی اودسه سو اوبل ثوك یې امام جوړکې، ولاړی اودس یې وکې، اوس چې راغی نومقتدی جوړسی اولمونځ وکړي اوکه امام سی. که چیری امام اودس کوی اوخلیفه سلام وګرزوی نوامام څه رکم لمونځ پوره کړي؟

**جواب:** مقتدی دی جوړسی اولمونځ دی پوره کړي. اوکه چیری خلیفه سلام وګرزوی، نو هم دی باقی مانده لمونځ پوره کړي، دنوی سره دکولو ضرورت نسته. ([4]) فقط

**دمسافر امام اقتداء کونکی مسبوق به خپل لمونځ څنګه پوره کوي؟ سوال:** (۱۲۲۸) امام مسافردی، ددوهم رکعات په التحیات کې یوسړی مقیم په لمانځه کې شریك سو. امام خپل دوه رکعاته پوره کړل اوسلام یې وګرزوی. نومقتدی ته په ټولو څلورو رکعاتونو کې دالحمد په اندازه دریدلوسره لمونځ پوره کول پکاردی اوکه په دواړو آخری رکعاتونو

---

([1]). حتی لوامتثل امر غیره فقیل له تقدم فتقدم اودخل فرجة الصف فوسع له فسدت بل یمکث ساعة ثم یتقدم برائه (درمختار قوله اودخل فرجة الخ المعتمد فیه عدم الفساد (ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ص ۵۸۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۲۲۲) ددی څخه معلومه سوه چې دمقتدی دوینا څخه وروسته دی یوه لمحه تم سی بیادی ولاړسی اوپوره دی کړي اوکه چیری دوینا سره سمدستی ولاړسو نوهم به دمعتمد قول په بنیاد باندی لمونځ نه فاسدیږي. بلکی اداء سو. والله اعلم ظفیر مفتاحی

([2]). ولوسلم ساهیا ان بعد امامه لزمه السهو والا، لا (درمختار) أَيْ وَإِنْ سَلَّمَ مَعَهُ أَوْ قَبْلَهُ لَا يَلْزَمُهُ لِأَنَّهُ مُقْتَدٍ فِي هَاتَيْنِ الْحَالَتَيْنِ. وَفِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ عَنْ الْمُحِيطِ إنْ سَلَّمَ فِي الْأُولَى مُقَارِنًا لِسَلَامِهِ فَلَا سَهْوَ عَلَيْهِ لِأَنَّهُ مُقْتَدٍ بِهِ ، وَبَعْدَهُ يَلْزَمُ لِأَنَّهُ مُنْفَرِدٌ ا هـ ثُمَّ قَالَ : فَعَلَى هَذَا يُرَادُ بِالْمَعِيَّةِ حَقِيقَتُهَا وَهُوَ نَادِرُ الْوُقُوعِ . ا هـ قُلْت : يُشِيرُ إلَى أَنَّ الْغَالِبَ لُزُومُ السُّجُودِ لِأَنَّ الْأَغْلَبَ عَدَمُ الْمَعِيَّةِ، وَهَذَا مِمَّا يَغْفُلُ عَنْهُ كَثِيرٌ مِنْ النَّاسِ فَلْيُتَنَبَّهْ لَهُ (ردالمحتار باب الامامة مطلب فی المسبوق والمدرك واللاحق ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۸). ظ

([3]). واللاحق من فاتته الرکعات کلها اوبعضها لکن بعد اقتدائه بعذر کعقله الخ وحکمه کمؤتم فلایاتی بقرائت ولاسهو (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة مطلب فی احکام المسبوق واللاحق المدرك ص ۵۵۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۴). ظفیر

([4]). ومن سبقه الحدث فی الصلوة انصرف فان کان اماما استخلف وتوضا وبنی (هدایه باب الحدث فی الصلوة ص ۱۱۵ ج۱). ظفیر

کی هغه ته الحمد ویل پکار دی.

**چې دامام سره دچا څخه دوه رکعاته تللي وي، نو هغه دي په هغه کی الحمد اوسورة دواړه ووايي:** **سوال:** (۱۲۶۹ \ ۲) امام مقیم دی، مقیم مقتدی ددوو رکعاتونو وروسته په التحیات کی شریك سو، نومقتدی ته په خپلو باقی مانده رکعاتونو کی کم چی به دامام دلمونځ ختمولو څخه وروسته پوره کوی الحمد ویل پکاردی اوکه دالحمد په اندازه ده ته چوپ دریدل پکاردی؟

**جواب:** (۱) ددرمختار اوشامی دعبارت څخه معلومیږی چی دغه مقتدی مقیم مسبوق هم دی اولاحق هم دی. نومخکنی دوه رکعاته دی دقرآئت څخه بغیر ووایی او وروسته دوه رکعاته دی دقرآئت سره ووایی یعنی په هغه کی دی الحمد اوسورة دواړه ووایی. ([1])
(۲) الحمد اوسورة دواړه ویل پکاردی. ([2]) فقط

**دسهار په لمانځه کی مسبوق باقی رکعت په جهری قرائت سره پوره کړی، نو دا درست دی؟**

**سوال:** (۱۲۷۰) دسهار په وخت کی زه جومات ته په داسی وخت کی ورسیدم چی دفرضو یورکعات دجمعی سره ما ونیولای سوای. کله چی امام سلام وګرزوی نوما خپل باقی مانده رکعات په ولاړه جهری قرآئت سره پوره کی نوپه دی کی څه حرج خونسته.

**جواب:** په دی کی هیڅ ([3]) حرج نسته. فقط

**که درکوع څخه مخکی شریک سو نودی مسبوق نه دی:** **سوال:** (۱۲۷۱) که چیری مسبوق دقیام په رکعاتونو کی شامل سو لیکن فاتحه یی ونه ویل نودهغه رکعاتونه پوره سوه، اوکه نه؟

**جواب:** دهغه لمونځ صحیح سو، اوهغه رکعات هم صحیح سو. ([1]) فقط

---

([1]). واللاحق من فاتته رکعات ؒ بعد اقتدائه بعذر ؒ مقیم ائتم بمسافر ؒ حکمه کمؤتم فلاياتي بقراءة ويبدأ بقضاء ما فاته عكس المسبوق، ثم يتابع إمامه إن أمكنه إدراكه، وإلا تابعه، ثم صلى ما نام فيه بلا قراءة ثم ما سبق به بها إن كان مسبوقا أيضا (درمختار) هٰذا بیان للقسم الرابع وهو المسبوق اللاحق الخ ثم یصلی الرکعة التی سبق بها بقرائت الفاتحة وسورة (ردالمحتار باب الامامة مطلب فی احکام المسبوق واللاحق والمدرك ص ۵۵۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۴). ظفیر

([2]). والمسبوق من سبقه الامام بها اوببعضها وهو منفرد حتی یثنی ویتعوذ ویقرأ ؒ فیما یقضیه ؒ اول صلاته فی حق قراءة واخرها فی حق تشهد ؒ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة مطلب فی المسبوق. الخ ص ۵۵۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۹). ظفیر

([3]). ویخیر المنفرد فی الجهر الخ کمن سبق برکعة من الجمعة فقام یقضیها یخیر (درمختار) وبهذا التقریر ظهر وجه اقتصاره علی الجمعة وان کان الحکم کذلك لو سبق برکعة من العشاء ونحوه لان المقصود اثبات الجهر فی القضاء فی وقت المخافتة لا مطلقا فافهم. (ردالمحتار فصل فی القرآئت ص ۴۹۸ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص۵۳۳) ظ

**په مخکنی قعده کی مقتدی تشهد نه وو پوره کړی چی امام ولاړیدی، نو مقتدی څه وکړی؟**

**سوال**: (۱۲۷۲) که چیری مسبوق دامام سره په مخکنی قعده کی شریك سی نو دامام دفوراً ولاړیدلو سره دی دهغه پیروی وکړی اوکه تشهد پوره کړی بیا ولاړیږی. که تشهد پوره نه کړی نوپه لمانځه کی فساد راځی اوکه نه؟

**جواب**: درد المحتار شامی دعبارت مذکوره څخه وروسته داهم مذکور دی: ثم رأیته فی الذخیرة ناقلا عن ابی اللیث المختار عندی انه یتم التشهد وان لم یفعل (۲) اجزاه الخ. ددی آخری عبارت وان لم یفعل اجزاه څخه معلومه سوه چی که چیری مقتدی تشهد پوره نه کړی اودامام سره ولاړسی نولمونځ صحیح دی. اوپه دی کی اختلاف دی چی په دی کی کراهت سته اوکه نه؟ حاصل داچی دتشهد نه پوره کولو په صورة کی لمونځ کیږی دلمانځه دفساد هیڅوك قائل نه دی. فقط

**دامام سره صرف یورکعات نیونکی به قاعده کله کوی؟** **سوال**: (۱۲۷۳) که څوك مقتدی دماپښین یامازیگر په لمانځه کی هغه وخت شریك سو چی یورکعات باقی وو نودامام دسلام گرځولو څخه وروسته به دغه مقتدی دیورکعات څخه وروسته قعده کوی اوکه ددوو رکعاتونو وروسته؟

**جواب**: دیورکعات څخه وروسته قعده کول پکاردی. (۳) فقط

**که دمسبوق په سابقه رکعات کی یوفرض پاته سی نوهغه به څه کوی؟** **سوال**: (۱۲۷۴) که چیری دمسبوق څخه په سابقه رکعات کی فرض پاته سی نوټول لمونځ دنوی سره وکړی اوکه سجده سهوه وکړی؟

---

(۱). وحاصله ان الاقتداء لا یثبت فی الابتداء علی وجه یدرك به الرکعة مع الامام الا بادراك جزء من القیام او مما فی حکمه وهو الرکوع لوجود المشارکة فی اکثرها فاذا تحقق منه ذلك لا یضره التخلف بعده (ردالمحتار باب ادراك الفریضة تحت قوله لان المشارکة ص ۲۷۵ ج۱ ، ط.س. ج۲ ص ۴۱). ظفیر

(۲). ټول عبارت داسی دی. وشمل باطلاقه مالو اقتدی به فی اثناء التشهد الاول او الاخیر فحین فقد قام امامه اوسلم ومقتضاه انه یتم التشهد ثم یقول ولم اره صریحا ثم رایته فی الذخیرة ناقلا الخ (ردالمحتار باب صفة الصلاة فصل تالیف الصلوة تحت قوله بخلاف سلامه الخ قبل اتمام المؤتم التشهد فانه لا یتابعه ص ۴۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۹۲) ظفیر.

(۳). والمسبوق من سبقه الامام بها اوببعضها وهو منفرد ؒ ویقضی اول صلاته فی حق قراءة واخرها فی حق تشهد فمدرك رکعة من غیر فجر یاتی برکعتین بفاتحة وسودة وتشهد بینهما وبرابعة الرباعی بفاتحة فقط ولا یقعد قبلها (درمختار) وفی الفیض عن المستصفی لوادرکه فی رکعة الرباعی یقضی رکعتین بفاتحة وسورة ثم یتشهد ثم یاتی بالثالثة بفاتحة خاصة عند ابی حنیفة ؒ وقالا رکعة بفاتحة وسورة وتشهد ثم رکعتین اولاهما بفاتحة وسورة وثانیتها بفاتحة خاصة آهـ وظاهر کلامهم اعتماد قول محمد (رد المحتار باب الامامة مطلب فی المسبوق واللاحق ص ۵۵۷ – ۵۵۸ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۹۲) ظفیر.

**جواب**: که چیری هغه دفرض اعاده ونه کړه نولمونځ دی بیا دسره وکړی. ([1]) فقط

**په سجده کی شامليدونکی مسبوق به ثناء کله وايي؟ سوال**: (۱۲۷۵) یوسړی دمابنام په لمانځه کی ددوهم رکعات په سجده کی شریك سو، آیاهغه ته په دریم رکعات کی ثناویل پکاردی؟

**جواب**: هغه ته هم هغه وخت یعنی دتکبیر تحریمه څخه وروسته ثناء ویل پکاردی. ولو ادرکه راکعا اوساجداً ان اکبر رایه ان یدرکه اتی به . درمختار ([2]). فقط

**کم مسبوق چي په آخري رکعات کی لاحق جوړسو، هغه به لمونځ څنګه پوره کوي؟ سوال**: (۱۲۷۶) شخصی مسبوق درنماز چهار گانه خلف امام در رکعت اخیر لاحق شد بعد از سلام امام بچه طور باقی نماز اداء خواهد ساخت؟

**جواب**: مذکور مسبوق بقیه نماز رابعد فراغ امام بدین طریق اداء کند که در رکعات اولی ازسه رکعات باقیه فاتحه وسورة بخواند واین رکعات راتمام کرده قعده اولی بکند بعده قیام کرده رکعات ثانیه بفاتحه وسورة تمام کرده رکعات اخیره سویمی را از قرآئت سورة خالی داشته صرف بفاتحه اکتفاء کرده آن رکعات راتمام کرده قعده بکند وسلام کند. قال فی الدر المختار فی حکم المسبوق ویقضی اول صلاته فی حق قرآئت واٰخرها فی حق تشهد فمدرك رکعة من غیر فجر یاتی برکعتین بفاتحة وسورة وتشهد بینهما وبرابعة الرباعی ([3]) بفاتحه الخ . فقط

**دمسبوق لمونځ دامام دلمانځه پرصحت باندی موقوف دی؟ سوال**: (۱۲۷۷) یوسړی دسهار په لمانځه کی په التحیات کی شامل سو، دامام سلام ګرځولو څخه وروسته هغه لمونځ پوره کی اوفارغه سو. اوپه یو سبب سره دامام لمونځ نه وو شوی نو دمسبوق لمونځ صحیح سو اوکه نه؟

**جواب**: په دغه صورة کی ددی مسبوق لمونځ هم ونسو ([4]). فقط

---

([1]). ومن فرائضها التی لا تصح بدونها (درمختار) اذ لا شيء من الفروض ما تصح الصلاة بدونه بلا عذر (رد المحتار باب صفة الصلاة ج۱ ص ۴۱۱ ، ط. س. ج۱ ص ۴۴۲). ظفیر

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة بعد الفصل ص ۴۵۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص۴۸۸. ظفیر

([3]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۵۸ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۶. ظفیر

